# د خوست ولایت په اوسیدونکو کې د جیاردیالمبالیا د پیښو موندنه

لیکونکي: پوهندوی طاهرشاه نیکمل او پوهنیار سلطان محمد خواجه، شیخ زاید پوهنتون طب پوهنځي استادان
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال ډاکټر مغفرت الله عمل د طب پوهنځي استاد

**لنډیز**

موخې: د خوست ولایت په اوسیدونکو کی جیاردیا لمبالیا د پیښو د کچې معلومول. د یاد پرازیت په اړه د هیوادوالو د پوهاوي د کچې لوړول او د یاد انتان د درملني او مخنوي په اړه د دولتي مسولو چارواکو او روغتیایي کاروکونکو پام رااړول. کړنلاره او توکي: دغه څیړنه یوه توصیفي (Descriptive) مطالعه ده، ددغې تحقیقي پروژې طرحه په Cross sectional design تکیه لري. پایلې: دا څیړنه د خوست ولایت په مرکزي تخصصي روغتون کې په ۳۶۸ هغو ناروغانو باندې ترسره شویده چې په ۱۴۰۰ هجري شمسي کال کې یې د نس ناستې او نس ناارامتیا له امله د خوست ولایت د مرکز او مختلفو ولسوالیو څخه نوموړي روغتون ته مراجعه کړې وه. د نوموړو ۳۶۸ ناروغانو د ډلې څخه ټولو ۳۴ تنو ناروغانو په غایطه موادو کې د جیاردیالمبالیا پرازیت سیست، تروفوزویت یا هم دواړه شکلونه ولیدل شول چې د ټولیزې سلنې ۹،۲ سلنه کیږي.۳۴ تنو (۹،۲ سلنې) څخه ۱۱ تنه (۲،۹۷ سلنه) د مرکز څخه ۲۳ تنه د (۶،۲۲ سلنه) ولسوالیو څخه راغلي ناروغان وو. د جنس له پلوه ۲۵ تنه نارینه چې د ټولیزې سلنې (۶،۷۶ سلنه) جوړوي او د ناروغۍ (۷۰ سلنه ) جوړوي، پاتې ۹ تنه ښځینه چې د ټولیزې سلنې (۲،۴۴ سلنه) او د ناروغۍ (۳۰سلنه ) جوړوي . وروستی پایلې: د وروستی پایلی په توګه ویلی شو چې په خوست ولایت کې د جیاردیا لمبالیا انتان خپریدنه د نړۍ د پرمختللي هیوادونو د خپروۍ د کچې (۸-۱ سلنه) څخه لږ څه زیاته ولې د مخ پرودې هیوادونو د خپروي د کچې (۸-۳۰ سلنه) په اندازه ده.

**کلیدي ټکي:** جیاردیا لمبالیا، جیاردیاسیس، خوست میشتي، ځاني روغتیا ساتنه

**سریزه**

د جیاردیا لمبالیا پرازیت شتون په ټولنه کې یو له هغو ځانګړو ستونزو له ډلې څخه دې چې، د نړۍ د پرمخ تللي او مخ پر ودې هیوادونو دواړو لپاره یو روغتیایي ګواښ او د روغتیا نړیوال سازمان لپاره یې مخنیوی او درملنه د پام وړ ټکی ګرځیدلی دی، په همدې موخه د نړۍ په زیاتو هیوادونو کې د یوشمېر څیړنې ترسره کیږي چې کولی شي د یاد انتان خپروی وارزوي . څرنګه چې د خوست ولایت یوسرحدي ولایت دی، چې کیدای شي د پاکو اوبو، ډاډمن روغتیایي پروګرامونو، د پام وړ ټولنیز پوهاوی او ډاډمنې درملنې نه شتون یاد انتان خپروي ته لاره هواره کړې وي، دغې ستونزې ته په کتو سره د شیخ زاید پوهنتون د طب پوهنځی

دمایکروبیولوژي دیپارتمنت دا اړینه وګڼله چې د یوې څیړنې له مخې د خوست په اوسیدونکو کې د جیاریالمبالیا پرازیت د خپروي کچه وارزوي.

جاردیا لمبالیا په نړۍ کې د کولمو عام او د پام وړ انتان ګڼل کیږي. د اټکل له مخې نوموړی پرازیت په نړۍ کې ۲۰۰ میلیونه د ځنډني انتان پیښې لري او هر کال ۵۰ میلیونه نوي پیښې وربانديې اضافه کیږي [۳].

G. lambalia چې د G. intestinalis او د G. duodonalis په نومونو هم یادیږي د انسان د واړو کولمو د منتن کولو د تولو څخه ډیر عام پرازیت دی. د نوموړي پرازیت لوړ خپروی د هغو ټولنو په وګړو کې لیدل شویدی چې کمزوری اقتصادي او اجتماعی حالت ولری، د ژوند د اوسیدو کچه یې ټیټه وي، د وګړو شمیر یې زیات وي، کمزوری سنیتیشن ولري، د فاضله موادو د ساتنی ځایونه یی غیرمناسب وي، د اوبو د رسونې سیستم یې غیرصحی وي او د ځاني روغتیا ساتنی عادتونه یی غیرصحي وي [ ۵].

داچې د جیاردیالمبالیا په ټوله کې د ټولنې د وګړو په روغتیا باندې ډیره ناوړه اغیزه لري ځکه چې دا ډول ډیری خلک د کوم عرض څخه پرته خپل ورځني ژوند ته ادامه ورکوي ولې په دوامدار شکل سره چاپیریال ته سیستونه خپروي چې د چاپیریال د ککړیدو له امله نوموړي سیستونه بیرته د ککړې غذا یا اوبو د لارې عضویت ته داخل، په فعال شکل بدل او د ناروغۍ د رامنځته کیدو لامل کیږي. نو له همدې امله ددې څیړنې پایلې او وړاندیزونه ټولو هیوادوالو، روغتیايي کارکونکو ته ښایي د پام وړ ټکي وګرځي ترڅو د ښوونځیو زده کوونکو،روغتیايي مرکزونو ته راتلونکو او لرو پرتو سیمو اوسیدونکو ته د جیاردیا ضد درملو په تطبیق او د مخنیوي او کنترول د عامه پوهاوي په لاره کې لاهم ډیرې هڅې وکړي.

**تیرو اثارو ته کتنه**

د نړۍ روغتیايي سازمان د ۲۰۱۵ کال د څیړنې له مخې په اسیا، افریقا او لاطین امریکا کې ۲۰۰ میلیونه وګړو کې د جیاردیاسیس غرضي پیښی ثبت شوي دي د دغه څیړنی له مخی د انتان خپروی د نړۍ د مخ پرودې هیوادونو کې لوړ ( ۸—۳۰ سلنه) او پرمختللي هیوادونو کې ( ۱-۷ سلنه) ښودل شویدې د بلی خوا د جیاردیاسیس پیښې په کوچنیانو او غټانو دواړو کې یو شان ښودل شویدي [۱۱].

د کابل د فرانسویانو د کوچنیانو انستیتیوټ د ۲۰۱۳ کال د څیړنې له مخی د جیاردیاسیس پیښی ۹ سلنه ثبت شویده. که څه هم د ناروغانو او د نمونو په شمیر کې توپیر وو خوبیاهم د ناروغۍ سلنه نږدې مساوي ګڼل کیږي [ ۱۰] .

یوه بله څیړنه د د پاکسان د بنو په ښار کې ترسره شویده د جیاردیالمبالیا د خپروي کچه په کې ۷ سلنه ښودل شویده، لاملونه یی ممکن د خوست ولایت اوسیدونکو د اقتصادي او اجتماعي حالت کمزوري، د روغتیايي تعلیماتو کمزوي، د سنیتیشن یانې چاپیریالي روغتیا پالنې کمزوري، هاییجین یانې ځاني روغتیا پالنې


کمزوري، د روغتیایي مرکزونو کموالي یا نشتوالی او روغتیایي مرکزونو ته د لاس رسي نشتوالي او داسې نور وي[ ۷].

**د جیاردیا لمبالیا پیژندګلوی**

جیاردیاسیس د بشر د کولمو یوه ډیره عامه ناروغي ده، د نړۍ روغتیایي سازمان د اټکل له مخې په اسیا، افریقا او لاطین امریکا کې ۲۰۰ میلونه وګړي غرضي انتان لري( ۱). نوموړي پرازیت نړیوال خپروی لري، لاکن د نړۍ د مخ پرودې هیوادونو کې یې خپروی زیات دی، چیرته چې جیاردیاسیس ناروغي په کوچنیانو او غټانو دواړو کې عامه ده ( ۳ ). د انتان د خپروي کچه مخ پرودې ( ۸-۳۰ سلنه) او پرمختللي هیوادونو ( ۱-۸ سلنه) دواړو کې راپور شویده ( ۲).

د کولمو پرازیتونه د ټولې نړۍ وګړي اخته کوي، لاکن لوړ خپروی یې په هغه ټولنو کې موندل کیږي چې په یو ځای کې زیات وګړي د ټیټ اجتماعي او اقتصادي حالت سره ژوند کوي، د چاپیریال د روغتیا ساتنې شرایط یې کمزوري وي او د خزلو د ساتلو لپاره غیرمناسب ځایونه ولري، د څښاک اوبه یې ناپاکې وي او د ژوند ډول یې غیر صحي وي ( ۱) جیاردیالمبالیا په ټوله نړۍ کې د کولمو د ناروغیو یو بیابیا پیښیدونکی پرازیت دی. د ښاري او مخ پر تللي سیمو په پرتله چیریته چې سنیتیشن ښه وي د کلیوالي یا هم مخ پردوې سیمو کې خلکو کې د پرازیت د اخستل زیات وي (۱۲).

د ناروغۍ تشخیص د کلینیکی نښو او نښانو، فزیکي معاینې او په غایطه موادو له مخې ترسره کېږي. ولې د ناروغۍ قطعي تشخیص په غایطه موادو د یاد پرازیت د سیست او تروفوزویت په لیدلو سره ترسره کېږي. څرنګه چې د یاد ارګانیزم اطراح په غایطه موادو کې غیرمنظم شکل سره وي نو اړینه ده، چې د غایطه موادو څو نمونې د څو ورځو په فاصله کې وکتل شي [ ۴] .






د جیاردیالمبالیا سیست او تروفوزویت شکل          د جیاردیا لمبالیا سیست شکل

**موخې**

- د خوست ولایت په اوسیدونکو کې جیاردیا لمبالیا د پیښو د کچې معلومول.
- د یاد پرازیت په اړه د هیوادوالو د پوهاوي د کچې لوړول.
- د یاد انتان د درملني او مخنوي په اړه د دولتي مسولو چاراواکو او روغتیايي کاروکونکو پام رااړول.

**کړنلاره او توکي**

دغه څېړنه ګړنلاره یوه توصیفي (Descriptive) مطالعه ده.

د پروژې طرحه: ددغې تحقیقي پروژې طرحه په Cross sectional design تکیه لري.

د څېړنې ځای او نیټه: د څېړنې ځای د خوست ولایت ملکی تخصصي روغتون کال ۱۴۰۰ هجري شمسي دی.

د مطالعې وګړي: د مطالعې وګړي د خوست ولایت د مرکز او بیلا بیل ولسوالیو څخه راغلي ناروغان دي د مطالعې واحد: د مطالعې واحد د غایطه موادو نمونه ده.

د مطالعې ګړنلاره: د مطالعې کړنلاره د مایکروسکوپ په مرسته د غایطه موادو معاینه کول دي.

د نمونې اخستلو ګړنلاره: نمونې اخستلو ګړنلاره Random بڼه لري پدې مانا چې هغه ناروغان چی نس نس او د نس ناارامتیا څخه شکایت لري پدی څېړنه کې شامل دي. څرنګه چې د خوست ولایتي تخصصي روغتون د خوست ولایت په کچه تر ټولو لوی روغتیایي روغتیایي مرکز دی. د مرکز اړوند او ټولو ولسوالیو ناروغان نوموړي مرکز ته مراجعه کوي په رانډوم بڼه د ټولو ناروغانو څخه د غایطه موادو نموني ټولې او د یاد پرازیت د پیښو کچه پکې ارزول شویده. په لمړي کې د کاغذ پرمخ یو جدول تیار شو چی په هغه کې د رجسټر شماره، د ناروغ نوم، د پلار نوم، عمر، جنس او د ناروغ د اوسیدو ځای ولیکل شول. کله به چې د ناروغ څخه د غایطه موادو نمونه واخستل شوه نو د اخستل شوي بوتل پرمخ به د ناروغ د رجسټر شماره ولیکل شوه، مثبتې پیښې به د همدغه ناروغ په نوم رجسټر کې ولیکل شوه. پدي ډول نوموړو ۳۶۸ ناروغانو د غایطه موادو د نمونو څخه څخه د ۳۴ تنو ناروغانو په غایطه موادو کې د جیاردیالمبالیا پرازیت سیست، تروفوزویت یا هم دواړه شکلونه ولیدل شول.

هغه سامان الات چی پدغه څېړنو کې ورڅخه کټه اخستل شویده په لاندې دول تری یادونه کیږي.

- مایکروسکوپ
- سلایډونه ۳۶۸ دانې
- کاور سلایډونه ۳۶۸ دانې
- یوځل کاریدونکي لاسموغان ۳۶۸ دانې
- د سلایډ د نیولو الې ۴ دانې
- رنګه محلول (لوګول ایوډین) ۵۰۰ ملي لیتره ۲ بوتلونه
- ۱۰۰ ملي لیتره ظرفیت لرونکي کوچني پلاستیکي بوتلونه ۳۸۰ دانې
- د نښې وهلو لپاره مارکر قلمونه ۵ دانې
- د ثبت کتاب یو دانه

**پایلې**


جدول ۱.۱: د مایکروسکوپ په مرسته د کتل شویو وګړو په غایطه موادو کې د جیاردیالمبالیا د تروفوزویت، سیست یا دواړو د لیدلو او نه لیدلو له پلوه د ناروغانو شمیر او تولیزه سلنه راښيي.

| وګړي | شمیر | سلنه |
|---|---|---|
| د وګړو هغه شمیر چې د جیاردیا لمبالیا تروفوزویت، سیست یا دواړه لري | ۳۴ | ۹،۲ |
| د وګړو هغه شمیر چې د جیاردیا لمبالیا تروفوزویت یا سیست نه لري | ۳۳۴ | ۹۰،۸ |
| ټول | ۳۶۸ | ۱۰۰٪ |

ګراف ۱.۱: د مایکروسکوپ په مرسته د کتل شویو وګړو په غایطه موادو کې د جیاردیا لمبالیا د سیست، تروفوزویت یا دواړو د لیدلو او نه لیدلو د پلوه سلنه راښيي.

ګراف ۱.۱

د مایکروسکوپ په مرسته د کتل شویو وګړو په غایطه موادو کې د جیاردیالمبالیا د سیست، تروفوزویت یا دواړو د لیدلو او نه لیدلو د پلوه سلنه راښيي




جدول ۱.۲: د جنس له مخې د کتل شویو وګړو شمیر، تولیزه سلنه او د ناروغی سلنه راښيي.

| جنس | د وګړو شمیر | ناروغانو شمیر | تولیزه سلنه | د ناروغی سلنه |
|---|---|---|---|---|
| نارینه | ۲۵۸ | ۲۵ | ۷۰ | ۶،۷۶ |
| ښځینه | ۱۱۰ | ۹ | ۳۰ | ۲،۴۴ |
| ټول | ۳۶۸ | ۳۴ | ۱۰۰ | ۹،۲ |

جدول ۱.۳: د عمر له مخې د کتل شویو ناروغانو شمیر او سلنه راښيي.

| جنس | د وګړو شمیر | تولیزه سلنه | د ناروغانو شمیر | د ناروغی سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ماشومان | ۲۳۵ | ۶۳،۸۵ | ۲۶ | ٪۷،۰۴ |
| لویان | ۱۳۳ | ۳۶،۱۵ | ۸ | ٪ ۲،۱۶ |
| ټول | ۳۶۸ | ۱۰۰ | ۳۴ | ٪۹،۲ |

جدول ۱.۴: د عمري ګروپ له مخې د کتل شویو وګړو شمیر، ټولیزه سلنه ،ناروغانو شمیر او د ناروغۍ سلنه

| | شمیر | ټولیزه سلنه | د ناروغانو شمیر | د ناروغۍ سلنه |
|---|---|---|---|---|
| تر ۱۰ کلنۍ پورې | ۱۳۵ | ۳۶،۶۸ | ۱۸ | ٪۴،۹ |
| ۱۰-۱۷ کلنۍ پورې | ۱۰۰ | ۲۷،۱۷ | ۸ | ٪۲،۱۶ |
| ۱۷ کلنۍ څخه لوړ | ۱۳۳ | ۳۶،۱۵ | ۸ | ٪۲،۱۷ |
| ټول | ۳۶۸ | ۱۰۰ | ۳۴ | ۹،۲٪ |

جدول ۱.۴: د جیارډیالمبالیا مثبتو نارینه او ښځینه ناروغانو شمیر، د ناروغۍ سلنه او ټولیزه سلنه راښيي .

| ناروغان | نارینه | | | ښځینه | |
|---|---|---|---|---|---|
| | شمیر | ناروغی سلنه | ټولیزه سلنه | شمیر | ناروغی سلنه |
| ناروغان چې غایطه موادو نمونې يې د جیاردیا لمبالیا لپاره مثبتې دي | ۲۵ | ۶،۱ | ۶۵ | ۹ | ۳،۱ |
| ټول | ۲۵ | ۶،۱ | ۶۵ | ۹ | ۳،۱ |

جدول ۱.۵: د جعرافیایي موقعیت له مخې په مرکز او ولسوالیو کې د جیاردیالمبالیا مثبتو ناروغانو شمیر له مخې د نارینه، ښځینه، ماشومانو او لویانو سلنه راښيي.

| ناروغان | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | شمیر سلنه | نارینه سلنه | ښځینه سلنه | ماشومان سلنه | لویان سلنه |
| مرکز | ۱۱ (٪۲،۹) | ۹ (٪۲،۴۵) | ۲ (٪۰،۵۴) | ۸ (٪۲،۱۷) | ۳ (٪۰،۸۱) |
| ولسوالۍ | ۲۳(٪۶،۲۵) | ۱۶ (٪۴،۳۵) | ۷ ٪۱،۹) | ۱۸ (٪۴،۹) | ۵ (٪۱،۳۶) |
| ټول | ۳۴ (٪۹،۲) | ۲۵ (٪۶،۱) | ۹ (٪۳،۱) | ۲۶ (٪۷،۰۶) | ۸ (٪۲،۱۷) |

**مناقشه**

جدول ۱.۵: په پرتلیز ډول د څیړنې پرتله کول د هیواد د ننه د کابل په ښار کې ترسره شوي څیړنې سره راښيي.

| و لایت نوم | د جیاردیا لمبالیا د کتل شویو نمونو کچه | د جیاردیا لمبالیا د کتل شوي مثبتې نمونې | سلنه |
|---|---|---|---|
| افغانستان خوست ولایت | ۳۶۸ | ۳۴ | ۹،۲ سلنه |
| افغانسان کابل ولایت | ۲۰۰۴۰ | ۱۸۰۴ | ۹ سلنه |

ددې دواړو څېړنو پایلو ته په کتو چې په کابل کې د فرانسویانو روغتون کې په ناروغانو او د خوست ولایت په تخصصي روغتون کې د بستر په ناروغانو باندې ترسره شوي دي زیات توپیرنه لیدل کیږي که څه هم د نروغانو او د نمونو په شمیر کې توپیرشته خوبیاهم د ناروغۍ سلنه نږدې مساوي ګڼل کیږي،په دې مانا چې

په رښتوني توګه په افغانستان کې د یاد انتان پېښې خوارا د پام وړ دي چې، درملنې او وقایوي تدبیرونه ته یې باید په وخت پاملرنه وشي [ ۱۰ ] .

جدول ۱.۶: په ټولیز ډول د ځیږنی پرتله کول د مخ پرودي نړۍ سره راښیی.

| په ناروغۍ اخته سلنه | نړۍ ( مخ پرودې هیوادونه) | خوست |
|---|---|---|
| | ۸ــــ ۳۰ سلنه | ۹،۲ سلنه |

د نړۍ روغتیایي سازمان د اټکل له مخې په اسیا، افریقا او لاطین امریکا کې ۲۰۰ میلیونه وګړي د جیاردیاسیس غرضي پیښی لري لاکن د د انتان خپروۍ د نړۍ د مخ پرودې هیوادونو کې لوړ دې او د جیاردیاسیس پیښې په کوچنیانو او غټانو دواړو کې عامې دي چې د خپروي کچه یې ۸ــــ ۳۰ سلنې ته رسیږي چې د خوست په ولایت کې د موندل شویو پیښو سره ورته والی لری [ ۹ ] .

جدول ۱.۷: په پرتلیز ډول د ځیږنې پرتله کول د پاکستان د بنو په ښار کې د ترسره شوي ځیږنې سره.

| هیواد نوم | د جیاردیا لمبالیا خپروۍ | |
|---|---|---|
| افغانستان خوست ولایت | ۹،۲ سلنه | |
| پاکستان بنو ښار | ۷ سلنه | |

پورته ځیږنه چې د پاکسان د بنو په ښار کې ترسره شویده د جیاردیالمبالیا د خپروي کچه په کې ۷ سلنه ښودل شویده، چې کچه یې په پرتلیز ډول د خوست په ولایت کې د ترسره شوي ځیړنی څخه په لوړه اندازه سره کموالی ښیي چې، لاملونه یې ممکن د خوست ولایت اوسیدونکو د اقتصادي او اجتماعي حالت کمزوري، د روغتیایی تعلیماتو کمزوي، د سنیټیشن یانې چاپیریالي روغتیا پالنې کمزوري، هاییجین یانې ځاني روغتیا پالنې کمزوري، د روغتیایی مرکزونو کموالي یا نشتوالی او روغتیایي مرکزونو ته د لاس رسي نشتوالي او داسی نور وي[ ۷].

**وروستۍ پایله**

دځیږنې پایلو او پرتلو ته په کتو،ددې سره سره چې د خوست ولایت یوه لري پرته سیمه او سرحدي ولایت دی، د زیاتو ستونزو او مشکلاتو سره مخ دی،د ځیړنو پایلو دا اوښودله چې په خوست کې د یاد انتان خپریدنه د هغه کچې په اندازه یا لږ څه د هغې څخه زیات دې کوم چې په نوره دنیا کې دی، خو د پیښوکنترول او مخنیوي ته یې پوره هیله شته،او د ځیړنې د پیښو ارزونه په لاندې ډول د ځیړنو د وروستۍ پایلو په توګه وړاندې کیږي.

1. د خوست ولایت ګرم او مرطوب اقلیم لري په کوم کې چې، د جیاردیالمبالیا پرازیت د اوږد وخت لپاره ژوندۍ پاتې کیدای شي.

2. چون جیاریاسیس یو خپریدونکې Feco-oral ناروغي ده او نوموړی پرازیت د ککړو اوبو او یا خواړو سره بدن ته داخلیږي او د خوست په ولایت کی د ځان ساتنې یاني هاییجین او چاپیریال ساتنې یاني بسنیټیشن

شرایط په ښه شان نه مراعات کیږي نولدې امله نوموړی پرازیت په لوړه سلنه د ککړې اوبو او خواړو د دلارې لیږدیدای شي.

3. د ټولنې د پوهې کچې کموالی له امله هغه روغتیایي عادتونو لکه د ډکو متیازو کولو څخه وروسته لاسونو په پاکو اوبو او صابون سره مینځل د نوموړي پرازیت لیږد ته زمینه برابروي.

4. د خلکو کمزوری اقتصادي او اجتماعې حالت لکه پاکو اوبو ته نه لاس رسي، صحي کناربونو (فلش سیستم لرونکي) نه درلودلو له امله خپل حاجت په پټیو یا نورو ازادو ځایونو کې رفع کول هم ددغې پرازیت لیږد ته زمینه برابریږي.

5. فصلونو خصوصآ سبزیو ته د انسان فاضله مواد د سرې په صفت کارول هم د نوموړي پرازیت د سیست په لیږدولو کې عمده رول لبوي.

6. د میندو د پوهې د کچې د کموالي له امله د ماشومانو پاکوالی ته نه پاملرنه لکه د لوبو یا حاجت د پوره کولو څخه وروسته په صابون او پاکو اوبو سره د هغوی لاسونه او د بدن ککړ ځایونو منیځل ، د خوراک او څښاک څخه مخکې او وروسته د هغوی لاسونه په پاکو اوبو او صابون سره مینځل د پرازیت د لیږد نور عمده لاملونه ګڼل کیدای شي.

7. بی پوسته میوې او شنه سبزی په مالګینو اوبو یا کلورین سره د مینځلو څخه پرته خواړل کیږي.

**وړاندیزونه**

ددې انتان د خپروې په کنترول، مخنیوي او درملنه کې په ټولیزه توګه د دولت اړوند چارواکو په ځانګړې ډول د عامې روغتیا چارواکو ته سپارښتنه ده چې لاندې وړاندیزونه ته پاملرنه وکړي.

- د رسنیو د لارې لکه ملي راډیو تلویزیون پواسطه د روغتیایي پیغامونو د خپرولو د لارې د میندو د روغتیایي پوهې د کچې لوړوالي ته باید جدي پاملرنه وشي.
- د عامه پوهاوي له لارې د پاکوالي په اړه باید د هیوادوالو په عموم کې د خوست میشتو د پوهاوي کچه لوړه شي.
- د دولت اړوند چارواکو ته وړاندیز کیږي چې ټول خوست میشتي باید د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسی ولري.
- د دولت اړوند چارواکو ته وړندیزکیږي چې د ښار ټول څټلې خزلې په لرې او خوندي ځای کې چې خوست میشتي خصوصآ کوچنیان هغې ته لاس رسی ونلري ځآی په ځای کړي.
- د عامې روغتیا وزارت ته وړاندیز کیږي چې خپله د روغتیایي مراکزو د پوښښ ساحه پراخه کړي ترڅو د لرو پراتو سیمو اوسیدونکي روغتیایي خدماتو ته لاس رسی پیدا کړي او د بلې خوا په جیاردیاسیس باندې اخته وګړي په وخت تشخیص او درملنه یې ترسره شي.

**اخځلیکونه**

1. Adjei AA, Armah H, Rodrigues O, Renner L, Borketey P, Ayeh-Kumi P, Adiku T, Sifah E, Lartey M. 2004. Cryptosporidium spp., a frequent cause of diarrhea among children at the Korle-Bu Teaching Hospital, Accra, Ghana. Japanese Journal of Infectious Diseases. 57(5), 216-219.

2. Cacciò, S.M. 2015. Giardiasis: a zoonotic infection or not?. Zoonoses-infections affecting humans and animals. (Sing, A., ed.). Springer Wien. New York. pp. 821–848.

3. Cacciò, S.M. and Sprong, H. 2014 Epidemiology of giardiasis in humans. Giardia: a model organism. (Lujan, H.D. and Svard, S., ed.). Springer Wien. New York. pp. 16–28.

4. CK Jayaram Paniker MD 2013. Director and Professor of Microbiology and Principal, Medical C college calicut Dean, Faculty of Medicine, Calicut University, Kerala, India Indian Council of Medical Research, New Delhi, India. pages 30-33 www.jaypeebrothers.com

5. J.A Yasoon and W.L Rivera, 2007. Genotyping of Giaridia duodenalis Wolates among resident of slun area in manilla, Phillpines, Parasitology Research 101, PP 681-687. http://doi.org/10.14321waterpathogen.35

6. .Muhammad Yousaf & Sadullah Jan 2018. Prevalence of Giardia lamblia in stool samples of diarrhea patients in Quetta, Pakistan International Journal of Biosciences | IJB | - PP 116-121 http://www.pakmedinet.com/PPJ

7. Mohammad Shoaib khan, Shah jehan, Mohammad Akram, Rabnawaz, Malik zaib, Zahina latif, Fida Hussian, Mohammad Naeem 2012. prevalence of intestinal protozoan and worm infestation in school Going children of 5-10 year age, page 243 http://www.apims.net/volumes/vol8-4

8. Sabil Afzal1 & Syed Shakeel Shah 2018. Review of Giardiasisin Punjab, Pakistan. International Journal of Scientific & Engineering Research Volume 9, Issue 10, October-2018. PP 1975-1977. www.ijser.org/researcherpaper

9. SM Caccio 2015. Giardiasis a Zoonotic infection affecting human and animal (Sing, A.ed) springer wein. New York. PP 821-848. http://www.Apim.net.

10. TARIQ MAHMUD TARIQ 2013 Prevalence of Giardiasis in Afghan Population. A JOURNAL OF PAKISTAN PEDIATRIC ASSOCIATION. PP- 181. http://www.pakmedinet.com/PPJ

11. WHO 1996. The World Health Report. World Health Organization. Geneva. World Health Organization. Guidelines for Drinking-water quality. 3rd Edition, Geneva. pp. 121-144.

12. Wongjindanon N, Suksrichavalit T, Subsutti W, Sarachart T, Worapisuttiwong U, Norramatha 2005. Current infection rate of Giardia lamblia in two provinces of Thailand. Southeast Asian journal of tropical medicine and public health 36 (suppl 4), 21-25.

## C- reactive Protein: کلینیکي توصیه او د منطقي کارونې لپاره وړ اندیزونه

لیکوال : Francisco J.B. Aguiar او همکاران
ژباړن : پوهندوی ولي ګل مخلص ،د طب پوهنځي د ماشومانو داخله څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی : پوهنوال ډاکټر جهان شاه تنی د طب پوهنځي استاد

**لنډیز**

C- reactive Protein یو Acute Phase پروټین دی چې د برازیل په شمول ، په ډیرو هیوادو کې یې غوښتنه او توصیه کیدنه مخ پر زیاتیدو ده. پدې مطالعه کې ، په مختلفو کلینیکي حالاتو کې د C- reactive Protein کاریدنه د ډاکترانو د یو ګروپ لخوا چې په هغه کې د داخله ناروغیو ، طبي بیړنیو حالاتو ، جدي مراقبت ، سکرینینګ او لابراتوار متخصصین شامل وو ، بیا غور وشو ، تر څو پلې کیدونی لیټراتور تحلیل کړي او ددې لابراتواري ټیسټ د لا زیات منطقي او پرځای کاریدنې لپاره لارښود وړاندې کړي . په پایله کې Flow charts چې د CRP د تقاضا پر لور یې لارښوونه کوله ، برابر او د Health Care په څلورو محیطونو لکه د جدي مراقبت خونه ، بیړنۍ خونه ، وارډونه او OPD کې تنظیم شول . پدې مطالعه کې ددې فلوچارټونو او همداراز ددې ټیسټ د کلینیکي استعمال په اړوند د سپارښتنو په هکله په تفصیل سره بحث کیږي .

**کلیدي ټکي :** CRP ، C- reactive Protein ، لابراتواري ټیسټونه ، کلینیکي کاریدنه

### د C- reactive Protein او Erythrocyte Sedimentation Rate کاریدنه

C- reactive Protein یا CRP د Acute phase protein یا PPs له جملې څخه دی چې په التهابي حالاتو کې د ۲۵٪ په اندازه یې دسیروم کچه لوړیږي یا ټیټوالی مومي . خو د نوم سره سره ، په مزمنو التهابي پروسو کې هم تغییر کوي . Perrakos او Vincent د ۱۷۸ مختلفو APPs چې د Sepsis د بیومارکر په توګه ترې ګټه اخیستل کیده ، کلینیکي او تجربوي مطالعاتو په شمول ، ۳۳۷۰ مأخذونه وپیژندل .[۱] ددې سره سره ،یوازې دوه ټیسټونه چې نن ورځ په پراخه توګه ترې استفاده کیږي او د APPs پر اندازه ګیري متکي دي ، د Erythrocyte Sedimentation Rate (ESR) او CRP څخه عبارت دي .

ESR چې په پلازما کې د اریتروسایټونو له کیناستو څخه عبارت دی ، د فیبرینوجن ( چې یو APP دی ) د غلظت سره تړاؤ لري او ددې غلظت غیرمستقیمه اندازه ګیري ده . دا د اریتروسایټونو د شکل ، جسامت ، شمیر او همداراز د پلازما د اجزاو لکه امیونوګلوبولین له امله متاثره کیږي. دا ممکن د عدم دقت او اشتباه سبب هم شي .[۲]

CRP په ۱۹۳۰ کال کشف شو ، داچې د نموکوکال نمونیا په حاد مرحله کې یې د نموکوکس د -C polysaccharide پر وړاندې غبرګون ښوده ، نو له همدې امله يدې نوم ونومول شو . د CRP اندازه ګيري د يو APP مستقيم تعين دی ، د التهابي پروسې په ترڅ کې يې کچه په چټکتيا سره بدلون مومي او تنوع يې د ESR په پرتله پراخه ده . د عملياتو څخه وروسته ( Postoperative ) موده کې يې حساسيت، د ESR، لوکوسيټونو ، د زړه ضربان يا تبه کې زياتوالي (چې اختلاطات په ګوته کوي ) په پرتله لوړ دی .[۳]
د ESR پر خلاف ، CRP په انيميا ، پولي سايتيميا ، سپيروسيټوزس ،ماکروسيټوزس ، د زړه احتقاني عدم کفايه يا هايپرګاماګلوبولينيميا کې تغيير نکوي .[۳] دې ځانګړنو ته په کتو ، د CRP کاريدنه د ESR په پرتله ، ددې سره سره چې د ESR تجارب او ورسره بلدتيا زياته ده ، ورځ په ورځ زياتيږي . که څه هم دا ټستونه زيات استعماليږي ، خو يو يې هم د مهم کلينيکي حالت په ارزونه کې ګټور ندی . په هر صورت ، دا ټيسټونه بايد په غيرعرضي افرادو کې د التهاب د ارزولو لپاره ( د قلبي وعايي ناروغيو د خطر د طبقه بندي په استثنأ ) بايد توصيه نشي . د کلينيکي شواهدو په شتون کې ، دا ښه ده چې التهابي حالات وارزول شي، خو د کره ايټيولوژيک ميکانيزم ترمنځ تفکيک نشي کولای . يوازې په انتاناتو کې نه زياتيږي ، بلکه د Rheumatoid Arthritis ، قلبي احتشأ ، Necrotizing Pancreatitis ، متعددو ترضيضاتو ، نيو پلازيا ، Vasculitis او حتی د سيروټونين د ځينو سندرومونو له امله په سيستميک التهاب کې هم زياتيږي .
اکثره وخت CRP او ESR د Baseline د تأسيس په موخه او له هغې وروسته د انتاناتو اړواميون او نورو ناروغيو د ارتقأ د مانيټور په موخه استعماليږي .

### CRP ډينامیک

CRP عمدتاً له تنبيه ۴ ساعته وروسته ، د ينې لخوا افراز ، هرو اتو ساعتو کې بيا توليديږي او ۳۰-۵۰ ساعته وروسته اعظمي حد ته رسيږي . په پلازما کې د CRP نيم ژوند ۱۹ ساعته دی ، حتی د يوې منفردې تنبيه وروسته لکه په ترضيض يا جراحي کې ، ممکن څو ورځې وروسته بيزلاين ته راوګرځي .[۴] همدا لامل دی چې د ورځو په ترڅ کې يې لړۍ ايز اندازه ګيری د منفردو پايلو په پرتله ګټورې دي.[۵] د وخيمو ناروغانو د مانيټورينګ لپاره ، د CRP محدوديتونه د پام وړ دي ، ځکه په انتاني پروسو کې په لومړنيو ۱۲ ساعتونو کې ممکن ښکته يا نارمل وي . برعکس ، د اوږد نيم ژوند له امله ، ممکن CRP د ريکوري په ابتدايي مرحله کې لوړ پاتې شي ، خو ددې سره سره ، ځينې مؤلفين وايي چې که تر درملنې يا بعدالعملياتي مودوې ۴۸-۷۲ ساعته وروسته هم کمښت پکې رانغی ، نو بيا ارزونې ته اړتيا ده .

**کلینیکي حالات او د پروفایلونو تغییرات**

عموماً حفیف التهابات او ویروسي انتانات د CRP کچه د 10-40mg/L رنج پورې لوړوي ، خو زیات شدید التهابات او باکتریایي انتانات، بیا دا کچه د 40 – 200mg/L پورې رسوي .[۶] پدې مطالعه کې د CRP غلظت په mg/L سره ښودل کیږي ، خو ممکن په mg/dl سره هم وښودل شي . ځینې څیړنې داسې شواهد وړاندې کوي چې د CRP 100mg/L کچه ، د ۸۰-۸۵٪ پورې د باکتریایي انتان لپاره حساسیت ( Sensitivity ) لري ،[۲] خو شدید ویروسي انتانات هم ممکن دا کچه لوړه کړي .[۵]

ځینې مؤلفین د سیستمیک التهابي عکس العمل سنډروم (SIRS ) څخه د Sepsis د جلا کولو په موخه د سیروم 50-100mg/L اپتیمل کچې وړاندیز کوي .[۴] Povoa [۷] شواهد وړاندې کوي چې د 50mg/L په اندازه د سیروم کچه ، د Sepsis احتمال څلور برابره زیاتوي . Pierrakos [۱] بیا CRP د Sepsis او التهابي حالاتو د جلا کولو لپاره سپارښتنه نکوي ، او پدې باور دی چې ددې هدف لپاره دا سم کار ندی . لکه مخکې چې ذکر شول، ستونزه یوازې د CRP د ډینامیک په تنوع کې نده ، بلکه د Sepsis د تشخیص لپاره ، چې د کلینیکي او لابراتواري ډاټا د اړیکو پر بنسټ تعریف کیږي ، د طلایی معیاراتو نشتوالی دی . په عموم کې دا ددې کلینیکي حالت د بیومارکر د حساسیت او وصفیت تعین له ستونزې سره مخامخ کوي . په حقیقت کې ځینې څیړنې مثبت کلچرونه د Sepsis د تشخیص لپاره طلایي معیار ګڼي خو پدې هکله هم ځینې پوښتنې شته ځکه منفي کلچر Sepsis [۱] پیښې هم زیاتې دي . که څه هم CRP په Rheumatoid Arthritis کې په پراخه پیمانه کارول کیږي ، خو د مشخصو ځانګړنو په درلودلو سره په SLE کې یې کوم زیاتوالی نه لیدل کیږي ، یوازې په هغه صورت کې زیاتیږي چې Serositis [۸] ، Chronic polyarthritis یا Vasculitis د نسجي انتان سره یو ځای موجود وي .[۹] ددې ځانګړو حالاتو په نشتون کې ، د CRP زیاتوالی انتان په ګوته کوي او د ناروغۍ د فعالیت د معلومولو لپاره باید د ESR څخه استفاده وشي . دا ډول اختلافات ، د فعال فیز شواهدو د تنوع ترمنځ نادر ندي. ددې توقع هم کیږي ، ځکه چې Cytokines د Hepatocytes پواسطه د APP پر سنتیز اغیزه کوي . د Cytokines او نورو التهابي عکس العملونو د Moderators د سیروم کچه ، نظر د ناروغۍ د کلینیکي ارتقأ مرحلې ته متنوع ده . نور حالات چې په هغو کې CRP شاید 10-20mg/L یا حتی هیڅ زیاتوالی پکې رانشي ، د Scleroderma، Dermatomyositis او Ulcerative colitis څخه عبارت دي .[۵]

لنډه داچې د التهاب د معلومولو لپاره واحد ټیست نشته، د CRP او ESR څو ځلې اندازه ګیري په زیاته پیمانه کارول کیږي . په تفسیر کې څو عوامل له هغې جملې د تنوعاتو د وخت پروفایل او کلینیکي Context په نظر کې نیول کیږي . اوس وخت کې د CRP د اندازه کولو لپاره ( High – Sensitivity (HS متود موجود دی . دا CRP عیناً د دودیز ټیست غوندې اندازه کوي ، د CRP د ډیر کم غلظت د معلومولو وړتیا هم لري ( د معلومولو حد یې 0.03mg/L دی ). د نوې متودولوژي عملي پایلې په JUPITER (

Justification for the Use of Statins in Primary prevention : an Intervention Trial Evaluating Rosuvastatin ) مطالعه کې چې په ۲۰۰۸ کې خپره شوه ، په ډاګه شوې دي.[۱۰] دا مداخلوي ازموینه تقریباً پر ۸۰۰۰ افرادو اجرأ شوه او ولیدل شول چې Statins په هغو اشخاصو کې چې د زړه ناروغي او Hypercholetrolemia نه درلودې ، اختشأ او Cardiovascular Accidents را کم کړل خو د سیروم په کچه تغییرات د HS-CRP په مرسته لاسته راغلل . د مناقشوي شواهدو په نظر کې نیولو څخه پرته ، د HS-measurement استعمال لري، تر څو په Primary prevention کې د Statin د استعمال پریکړه تقویه کړي . د درملو جوړولو هغو کمپنیو چې Rosuvastatin یې تولیدول ، نوموړې څیړنه په مالي لحاظ تمویل کړه او مهم لیکوال یې د لابراتوار سره وصل شو. علاوه لدې یې د زړه د ناروغیو التهابي بیومارکرونو او د قلبي وعایي خطراتو د ارزونې لپاره د HS-method په شمول ، د کاروني حقوق ترلاسه کړل.[۹] د HS-method د اکلیلي ثابتو ناروغیو او حاد اکلیلي سنډروم د اختلاطاتو د معلوملو لپاره استعمالیږي ، خو دا پایلې تر اوسه تر پوښتنې لاندې دي.[۱۹]

دا داتاوې دا په ګوته کوي چې د CRP اندازه ګیري ، که په پراخه توګه وکارول شي ، د فزیشن ( داخله ناروغیو طبیب ) لپاره ګټوره ده . د CRP dynamics پوهه او همداراز یې محدودیتونه د پایلو د تفسیر لپاره اړین دي . د CRP د استعمال لپاره کلینیکي استطبابات او همداراز ځینې محدودیتونه په لومړي بکس کې موندلی شو.

**د جدي مر اقبت خونې ، وارډونو ، بیړنیو خونو او عمومي سر اپا کلینیکونو د روغتیایي خدماتو ځانګړنې**

د جدي مراقبت خونو ( ICUs یا Intense Care Units ) ، بیړنیو خونو ( Emergency Rooms یا ERs ) او OPDs مختلف چاپیریالونه دي چې زیات شمیر خدمات ، په ICUs کې د وخیمو ناروغانو څخه نیولې ، په OPD کې تر طبي چک اپ پورې ، سرته رسوي . پدې ځایونو کې د ناروغیو شیوع او شدت ډیر زیات توپیر کوي . دا حقیقت د ټیستونو لپاره پر تقاضأ او د هغوی پر تفسیر اغیزې لري ، د بیلګې په توګه څومره چې د ناروغۍ احتمال کم وي ، هغومره د ټیستونو د False positive د راښکاره کیدو امکان زیات وي ، چې دا حالت په غیرعرضي OPD ناروغانو کې عمومیت لري . برعکس ، هغه ناروغان چې د جدي حالاتو سره مراجعه کوي او د Co morbidities احتمال پکې زیات وي ، د ټیسټ منفي والی د False Negative امکان سره یوځای وي . دا اصول د هر ټیسټ پر تفسیر ( د هغو غیرمعمول ټیستونو چې حساسیت او /یا وصفیت یې ۱۰۰٪ وي ، په استثنأ ) پلي کیږي .

| لومړی بکس : د CRP د استعمال کلینیکي استطبابات او محدودیتونه | |
|---|---|
| احتمالي کلینیکي حالات | حاد انتانات<br>مزمن انتانات<br>پس عملیاتي موده<br>نیوپلازیا<br>حادې قلبي وعایي ناروغۍ<br>غیر انتاني سیستمیک التهاب (لکه Rheumatoid Arthritis ، لوپوس د سیروزیټ سره یو ځای یا واسکولیټ ، متعدد ترضیضات ، Necrotizing pancreatitis ) |
| د Analyte کارونه | کلینیکي تشخیص حمایه کوي<br>د کلینیکي پرمختګ پر مهال د التهابي فعالیت مانیټور<br>د انتاني یا التهابي ضد درملنې د مؤثریت څارنه<br>د پس عملیاتي انتاني اختلاطاتو معلومول<br>د اکلیلي ناروغیو لپاره احتمالي انزاري شاخص |
| متوقع پایلې | حفیف التهابات او ویروسي انتانات : 10-20mg/L<br>شدید التهابات او باکتریایي انتانات 40-200mg/L<br>Sepsis : د 50-mg/L څخه پورته |
| د کارېدنې محدودیتونه | دا په غیرعرضي ناروغانو کې یا مبهمو اعراضو کې د ناروغۍ د تشخیص لپاره استطباب نلري. په زیاتوالي کې یې ځنې ممکن د تفسیر د اشتباه سبب شي او د انتي بیوتیک او التهاب ضد درملنه بطي کړي .<br>ټیټه کچه (10-20mg/L) یې په Scleroderma ، Ulcerative colitis، Dermatomyositis ، او همداراز په Lupus کې چې Serositis یا Vasculitis ورسره مل نه وي ، لیدل کېږي. |

لړۍ ایز اندازه ګیري( لږ تر لږه د وخت په ۲۴ ساعته انتروال کې) باید تر وخیمو ناروغانو پورې محدوده شي.دا ډول ځینې ناروغان په کوما کې وي او / یا پر میخانیکي تهویه متکي وي ، یعنې په هغو ناروغانو کې چې کلینیکي ارزونه ستونزمنه وي ، پداسې چاپېریال کې د انتاناتو خطر د پروسجرونو سره مل وي ، نو کلینیکي حالات ددې Initiative په هکله ښه قضاوت کولای شي .

د پورته ذکر شوو محدودیتونو سره سره ، په San Paulo کې د San Paulo پوهنتون د طب پوهنځي په روغتون کې چې د Tertiary کچې یو روغتون دی ، څو چاپېریالونه لکه او پي ډي ، وارډ او بیړنۍ خونه کې د CRP د غوښتنې شمېرې سره پرتله شوې دي چې په کال ۲۰۰۶ کې دا شمېرې ۵۰۳۶۵ خو په کال ۲۰۱۱ کې بیا دا شمېرې ۲۵۴۸۱۷ ته ختلې دي چې ۴۰۵٪ زیاتوالی ښیي . تر ټولو زیات کلنی نسبي زیاتوالی (۷۰٪ ) د ۲۰۰۷-۲۰۰۶ پورې راغلی دی چې دا د JUPITER د مطالعې څخه د مخه دی او دې مطالعې سپارښتنو د HS-CRP په اندازه ګیري کې زیاتوالی راؤست . تر ټولو زیاته د CRP غوښتنه په بیړنۍ خونه او د جدي

مراقبت خونه کې کیږي . ددې زیاتوالي یوه برخه د یوه ځانګړي کلینیکي استطباب لخوا نه حمایه کیږي چې علت یې د زیات لګښت او ناروغ ته د ګټې نه درلودل په ګوته کوي .په یوه څېړنه کې چې د Santos او همکارانو لخوا یې د پوهنتون د یو روغتون په بیړنۍ خونه کې د CRP د تقاضأ په هکله تر سره کړې ، چې په هغه کې د پام وړ زیاتوالی ( Significant ) هم تصدیق شوی دی ، څرګندوي چې ۲۵٪ غوښتنې د نمونیا د تشخیص او ۱۳،۵٪ د تبې د علت د معلومولو د تشخیص په موخه شوې دي .(۲۰)

**توجیهات (پر حق ثابتونه ) او موخې**

دا چې د سیروم د CRP د اندازه ګیري غوښتنې زیاتې او اکثره وخت نامناسبې وي ، د بیو د لوړوالي سره سره ، د ناروغانو د اضطراب او خطراتو سبب ګرځي ، پریکړه شوې چې دا مطالعه د لاندو اهدافو د لاسته راوړلو په صورت کې اجرأ شي :

- د وینې د را جمع کولو په پابله کې د راټوکیدنې اضطراب او False Positive پایلو د چانس په کمولو او د غلطو تشخیصیه او درملیزو پایلو په محدودولو سره ،د ناروغانو د علاج کیفیت اصلاح کړي.
- د CRP د استطباب په هکله د لارښود ونو ( Guidelines ) په وړاندې کولو او د CRP د زیاتې تقاضا په راکمولو سره ، تر څو دا پریکټیس لازیات منطقي او اغیزمن کړي ، طبي پوهه اصلاح کړي.
- پدې Analyte سره د لابراتوار لګښتونه کم کړي، تر څو نورو تشخیصیه پارامترونو ته ، چې د التهاب او انتان شواهد ولري ، د تطبیق زمینه برابره کړي .

**متود او پروسجر**

په سپتمبر ۲۰۱۰ کې Hc- FMUSP د مرکزي لابراتواري ډویژن ( Divisao de Laboratorio Central –DLC )د څودسپلیني لکه داخله ، طبي ایمرجنسي ، جدي مراقبت ، اوپی ډي او لابراتوار ي طب د متخصصینو یو ګروپ یو ځای کړ چې د لابراتواري ټیستونو د تقاضأ بنه اصلاح کړي ، ترڅو پدې توګه د هغو خطراتو چې ددې ټیسټونو د نامناسب استعمال سره مل وي ، لکه د ناروغانو Spoliation ، Overdiagnose ، غلط تشخیص ( False positive ، False negative ) ، Overtreatment ، د ناروغ ډیپریشن او اضطراب ، ضعیف Cost-effective متودونه او د مالي منابعو ضیاع ، مخنیوی وکړي . د DLC د رئس لخوا د ډاکترانو اته کسیزه ډله چې په HC- FMUSP کې یې کار کاوه او په خپلو اړوندو ځانګو کې یې پوره تجربه درلوده ، وګمارله او د دوی د ملاتړ لپاره یې د داخله لابراتواري طب درېې Residents هم ورسره کړل ، تر څو د کلینیکي لابراتوار منطقي کارونې پروژه سرته ورسوي . د پروژې د پراختیا په موخه ، نوموړې ډلې هره اونۍ د ۲۰۱۱ کال د جنوري میاشتې څخه تر دسمبر پورې غونډې کولې ، ترڅو په ملي او نړیوالو علمي لیټراتورونو کې نشر شوې څېړنې ، سپارښتې او لارښودونه تحلیل

او تجزیه کړي او همداراز د عملي معیاراتو چې په هغې کې په لومړي سر کې د لاندو پنځو ټیستونو لپاره غوښتنه شامله وه ، په هکله بحث وکړي .

۱- HS او ریګولر CRP ۲- ایونیک او مجموعي کلسیم ۳- TSH او Free $T_4$ ۴- ویټامین ډي ۵- د ایروبیک او انایروبیک میکروارګانیزمونو لپاره د وینې کلچر .

پورتني ټیسټونه ځکه غوره شول چې په HC-FMUSP کې به تر نورو په زیاته اندازه توصیه کیدل ، د A منحني یوه برخه وو، چې A منحني ټول هغه ټیسټونه چې د هغو تعداد د DLC د تقاضا سره ۸۰٪ سمون خوري ، په بر کې نیسي، خو ددې مطالعې همده هدف دا ؤ چې تحلیل او فلوچارټونه جوړ کړي ، ترڅو د HS-CRP یا عادي CRP د منطقي استعمال لارښودنه وکړي . پاتې نور ټیسټونه چې پورته ذکر شول ، د وروستیو ملاحظاتو په موخه مطالعه شول .

پدې توګه مطالعې پر هغو نشراتو چې د CRP د عادي او HS اندازه کولو سره اړوند وو ، او لاندې جهتونو ته متوجه وو ، تکیه درلوده .

- کلینیکي پریکټیس د بیړنۍ خارنې ، ایمرجنسي او Ambulatory طب په چوکاټ کې طبي کومکونه یا وقایوي طب
- Undergraduate او Postgraduate طب پوهنځي
- د توصیه شوو تیستونو د مالي اړخ تحلیل

دا د لیتراتورونو یوه غیرسیستمیکه بیاکتنه وه چې لاندې کلیدي ټکي پکې کارول شوي وو :

C-Reactive protein ، CRP ، High sensitivity ، انتان ، التهاب ، د اکلیلي شرایینو ناروغۍ.

۷۶ مطالعات غوره شول او د ګروپونو ترمنځ وویشل شول . پداسې حال کې چې د دوی موندنې د لابراتواري طب د ریزیدینټ لخوا ثبت او Systemize کیدې ، په اونیزو دوه ساعته غونډو کې وړاندې او بحث پرې کیده . د پریکړو فلوچارټ له مخې به ګروپ د خپل کار د پایلو د تغلیظ او وړاندې کولو تصمیم نیوه . د دا ډول پریکړو دلایل عبارت وو له :

الف – د هغو حالاتو چې په هغو کې CRP توصیه کیږي ،او هغو حالاتو چې د CRP تکرار مجاز وي / سپارښتنه کیږي ، په اسانۍ سره معلومول

ب – په مختلفو طبي چوکاټونو ( OPD, Ward, ER, ICU ) کې د کارونې سره تطابق

ج- په یوه واحد فلوچارټ کې احتمالي سمون یا Detailing چې پر کلینیکي حالاتو ، دواړو عمومي او وصفي – باندې اتکا لري .


د- ډینامیزم او تشریحي پوتنشیل چې inclusion of alerts او د بریښنایي لارې د غیرضروري تکرار بلاک کولو ته اجازه ورکوي . علاوه لدې ، د پریکړو فلوچارټ چې توحید شوې او خپرې شوې رسمي علمي زده کړې

او په کاري ګروپونو کې د برخه والو کلینیکي تجربې دواړه خلاصه کوي ، ممکن د نورو ساحاتو پرسونل ته چې د ټیسټ په تقاضاً کې ښکیل دي لکه IT، منجمنټ ، د کلینیکي لابراتوار د Cost control ځانګې ته هم د ډیالوګ زمینه برابره کړي .

د فلوچارټ د هر ګام ترسیم په اختیاط سره پلان شوی دی ، انالیز شوی او د ګروپ لخوا ورباندې بحث شوی او ددې د موجوده فرمټ تعریف چې دلته وړاندې شوی ، د Internal consensus سره سمون خوري کوم چې د شته علمي شواهدو چې د برخه والو پر کلینیکي پرکټیس باندې متکي دي ، په رڼا کې لاسته راغلې .د هغو تجاربو اهمیت چې پر شواهدو متکي وي (۲۰،۲۱) او د لارښودونو تأسیس (۲۲) ، ترڅو د ټیسټ تقاضاً منطقي کړي او په پایله کې د ټسیټ غیرضروري توصیې کچه را کمه کړي ، په ځینو ځیړنو کې تشریح شویدي . همداراز په تدریسي روغتون کې ، د فلوچارټ د تدریسي پوتنشیل څخه علاوه ، کاري ګروپ ددې فلوچارټ د تطبیق ، استعمال او تفسیر په اړه ، د طب پوهنځي د محصلینو ، Residents او طبي پرسول سره بحث کړیدی .

**پایلې او تبصرې**

لومړۍ او دوهم انځور د طبي خدماتو په مختلفو چوکاټونو لکه OPD, Ward, ER, ICU کې د CRP د غوښتنې فلوچارټونه په ګوته کوي .لومړی انځور د ICU په ناروغانو کې د اندازه ګیري لپاره سپارښتنې ښيي .ددې ناروغانو څخه د ځینو د کلینیکي اسیب پذیرۍ او د ځانګړو پروسجرونو د ریسک ( خطر ) په نظر کې نیولو سره ، د حاد انتاناتو د تشخیص لپاره د CRP روزانه سپارښتنه ګټه لري . د روزانه مونیټورینګ ( کم تر کمه په ۲۴ ساعته انټروال کې ) د کمښت او زیادښت میلان یا ټرینډ په تایید سره ، د ناروغ روزانه ارزونې معلومات زیاتوي . د ۲۴ ساعتو څخه په کم وخت کې باید اندازه ګیري توصیه نشي . HS- CRP- اندازه ګیري هیڅکله د احتمالي انتاني اختلاطاتو لپاره استطباب نلري . پدې وروستیو کې HS- CRP په هغو اشخاصو کې چې Stable coronary Disease ( SCD) یا Acute Coronary Syndrome (ACS) ولري،د قلبي دهانې د شاخص په توګه وړاندیز کیده. اوسني علمي شواهد ددې د سپارښتنې لپاره کفایت نکوي، ترڅو د ACS د ثانوي وقایې په موخه د مشخصې درملنې تطبیق تعین کړي او پدې ډول پیښو کې د CRP توصیه د پوښتنې لاندې ده.(۲۳) هغه حالات چې په هغو کې د ER په چوکاټ کې ممکن د CRP اندازه کول ، ګټور وي ، په لومړي انځور کې ښودل شویدي .په ERsکې د CRP د استعمال په هکله ډیر څه خپاره شویدي ، دلته یې پدې محیط کې د ارزښت څو شواهد شته (۲۴،۲۷).دا تحلیل به په مشخصو حالاتو کې چې دا ځیړنې پکې سرته رسیدلې دي ، وارزول شي :




لومړی شکل – په بیړنۍ خونه او جدي مراقبت خونه کې د C-reactive protein د غوښتنې فلوچارټ.

CRP, C reactive protein     HS-CRP, high –sensitivity C reactive protein

**د ګیډې غیرترضیضي درد**: په ۲۰۰۷ کال کې Bundy او همکارانو [۲۸] یې په ماشومانو کې د حاد اپنډیسټ د تشخیصیه متودونو په هکله Literature Review خپاره کړه ، په هغه کې د CRP ارقام د ناموفوقو ارقامو په توګه تصنیف بندي شوي وو. Retrospective مطالعات ، د بیلګې په توګه هغه چې د Chen او Wang [۲۹] او Wu او همکارانو [۳۰] لخوا سرته رسیدلي ، د CRP پریکنده ارقام د جراحي د موندنو پر وړاندې تحلیل کړیدي، چې یوه ښه اړیکه ( Correlation ) په ګوته کوي ، خو دې خپرونو د CRP

جراحي د استطباب لپاره د یو متحول ( Variable ) په توګه ندی منلی . په کاهلانو کې د اپنډیسټ څخه علاوه ، نور تشخیصونه ممکن د حاد التهابي بطن لکه د جراحي پرته غیراختلاطي Diverticulitis سبب شي . لنډه داچې طبي تاریخچه ، فزیکي معاینه او تصویري ( Imaging ) متودونه ، پدې کلینیکي حالت کې تر نورو زیات تشخیصي پروسجرونه شمېرل کیږي . که د CRP اندازه ګیري غوره کیږي ، نو د ورځنۍ منحني ارتقأ لازماً باید تفسیر شي .

**د مړینې د وړاندوینکي په توګه** : د هغو ناروغانو لپاره چې د شدت د واضحو معیاراتو ( Criteria ) سره وړاندې کیږي ، ابتدایي CRP چې ورځنۍ منحني یې تعقیب کړي ، د نورو مخکې له مخکې مطالعه شوو شاخصونو په منځ کې د یوه اضافي شاخص استازیتوب کوي . موږ وینو چې دلته CRP د بستر کیدو په موخه د توپیرکوونکي فکتور په توګه نه مطالعه کیږي ، خو په هغه نفوس کې چې د بسترکیدو پریکړه یې مخکې له مخکې شوې وي ، د انزار د فکتور په توګه مطالعه کیږي . ددې سره سره ، هغه مطالعه چې د Lee او همکارانو [۸] لخوا سرته رسیدلې ، په ګوته کوي چې CRP د کلینیکي Score په ټاکنه کې دومره رول نلري څومره چې ورته توقع وه .

**سینه بغل( Pneumonia )** : که څه هم د Community Acquired Pneumonia د ناروغانو د ارزونې په لارښودونو کې شامل دی ، خو د CRP ارقام د مهمو ځانګړو پریکړو لکه بسترکیدنه ، په کور کې د درملنې پر وړاندې ، د یوه توپیرکوونکي فکتور په توګه مطالعه شوی ندی . د یادونې وړ ده چې دغه معیار تر اوسه یو کلینیکي Score تصور کیږي . Gonzales او همکارانو [۹] یې هغو ناروغانو ته چې د توخي څخه شاکي دي ، د انتي بیوتیکو د توصیې لپاره د طبیبانو د پریکړې په موخه د CRP کارونه ارزولې ده . د دوی موندنه داده چې د CRP استعمال پر دې پریکړه اغیزه نکوي . یو ځل بیا ددې مطالعې وړاندیز دادی چې CRP باید هغو د سینه بغل ناروغانو ته توصیه شي چې د دودیزې Criteria له مخې بستر شوي وي . د یادونې وړ ده چې د نمونیا د تشخیص لپاره تضویري معایناتو ته اړتیا ده .

**تبه لرونکي ناروغان چې محراق یې معلوم نه وي** : Lee او همکارانو [۳۱،۳۲] یې د CRP د پایلو د ارزونې پر مهال د CRP پر ډینامیک د پوهیدلو اړتیا په ګوته کړې ده ، پدې ډول چې هغه ناروغان چې د تبې اعراض یې د ۱۲ ساعتو څخه کم وي ، ممکن د CRP کچه یې ښکته وي ، خو دا د حفیف حالت مانا نه ورکوي . پدې حالاتو کې ممکن د لابراتوار تر تخمین لوړې پایلې شاید غلطي ولري . لکه مخکې وویل شول ، یوازې د CRP د ارقامو په پرتله کلینیکي نمرات د ناروغۍ د شدت په ارزونه کې غوره کړنه ده .


باالاخره وړاندیز کیږي چې په ERs کې د CRP د اندازه ګیرۍ کارونه ، د حاد انتاني سنډرومونو لپاره چې د بستر کیدنې لپاره کلینکي استطباب ښیي ، خوندي کیږي . دداخله په وارډ کې کې د بستر ناروغانو لپاره (دوهم انځور ) په تیره بیا چې د د سیستمیک التهابي ناروغۍ یا ناپیژندل شوی حاد انتان (لکه تبه چې منشأ یې معلومه نه وي ) د تشخیصي معایناتو په مرحله کې وي ، خطري فکتورونه وي یا د پیژندل شوو خطري فکتورونو

پرته وي ( لکه د Airway له لارې اسپايرشن يا د مرکزي وريدي کتيتر خطر ) ، د CRP روزانه اندازه ګيري شايد ګټوره وي ، خصوصاً هغه وخت چې کلينيکي حالت تشخيص نه وي يا غير ثابت وي . که چيري تشخيص وضع شوی وي يا ناروغ د ثبات حالت ولري ، د CRP تکرار کچه را ښکته يا يې د فريکونسي کچه د طبيب د پريکړې سره سم راکمه شي ، پدې حالاتو کې د HS- CRP د اندازه ګيري متود مناسب ندی .

باالاخره ويلی شو چې دوهم انځور هغه کلينيکي حالات خلاصه کوي چې په هغو کې د CRP اندازه ګيري د تشخيصيه معاينې په توګه يا د OPD په کلينيک کې د اوږدمهاله څارنې لپاره استطباب لري . د سيستميک التهابي ناروغۍ يا حاد يا مزمن انتان د قوي شک په صورت کې ، د CRP لوړوالی د ناروغۍ يو غيروصفي متممه شاخص ګڼل کيږي ، خو د اوسني علم سره سم ، ممکنه نده چې مشخصاً د التهابي او انتاني ناروغيو او همداراز د باکتريايي او ويروسي ناروغيو ترمنځ د يوه توپيروونکي معيار په توګه تعريف شي.(۵) ( لومړی بکس ). د التهابي يا مزمن انتاني ناروغيو په صورت کې چې مخکې له مخکې تشخيص شوې وي ، د CRP دوراني تکرار ( مثلاً په هر ځل کتنه يا ويزيټ کې په OPD کې ) ممکن د ناروغۍ د شتون يا د درملنې د اغيز د معلومولو لپاره مرسته وکړي .

پدې نږدې وختونو کې ، د اکليلي شراينو د ناروغيو او د HS-CRP د لوړوالي (۳و ۰ ملي ګرام /ليتر نارمل اندازه ) يو ځای والی ، او د قلبي وعايي خطر چې د Predictive ( لکه Framingham Score ) پواسطه مهيا شوې د طبقه بندې د يو اضافي شاخص په توګه د CRP احتمالي رول ، په OPD کلينيکونو کې د هغې تقاضا زياته کړې ده . خو داچې د سيروم د CRP کچې ټيټوالی د ثانوي

په داخله وارډونو کې د پخوا څخه د پيژندل شوو Stable Coronary Diseases ناروغانو بستر کول د HS-CRP اندازه کولو استطباب نه توجيه کوي .(۲۳)



دوهم انځور : د OPD کلینیکونو او وارډونو لپاره د CRP د غوښتنې فلوچارټ،.– HS-CRP, high sensitivity C reactive protein;CAD,Coronary artery disease; CRP, C reactive protein

اکلیلي حوادثو مخنیوی کوي ، کوم چې علمي شواهد پدې هکله نشته ، نو همدا سبب دی چې غوښتنه یې حتی په هغو ناروغانو کې چې ښه تشخیص شوي قلبي وعایي ناروغۍ ولري ، تر پوښتنې لاندې ده . د HS-CRP د اندازه کولو په هکله هم پریکنده شواهد نشته چې وښیي چې د قلبي وعایي ناروغیو ابتدایي سکرینینګ د عمومي نفوس په مړینه او وفیاتو کې تغییر راوستلی شي .

**مناقشه:** د اوسني عصر د تشخیصیه او کلینیکي Follow up د ټسټونو د متممه مهارتونو تنوع او ددې په څنګ کې پرمختللې او پیچلې تیکنولوژي د طبي څارنې سره مرسته کړې ده . برعکس ، په ډیرو حالاتو کې د لابراتواري ټیسټونو له حده زیاته توصیه د نورو صحي ستونزو او د مالي زیان سبب ګرځي . د لابراتواري ټیسټونو د زیاتیدونکې غوښتنې لاملونه عبارت دي له :

۱- د فزیکې معاینې او تاریخچې په پرتله لابراتواري معاینات زیات مهم ګڼل

۲- دفاعي طبي حالت

۳- د اساسي اصولو سره عدم تطابق : د ټسیټ تر توصیه مخکې باید طبیب دا وارزوي چې توصیه کیدونکی ټیسټ به کوم اضافي معلومات مهیا کړي .

۴- مسلکي بي اعتمادي او د تجربې نشتوالی

۵- د طبي کتنې (Medical Check Up ) معیاري کیدل ( هرې پیښې یا Case ته باید ټیسټ د روټین معیار پر اساس توصیه شي ، نه پر انتخابي بنیاد )

۶- د طبي ژمنې (Appointment ) د وخت کمښت

۷- د نړۍ د نفوسو زیاتوالی چې د Comorbidities د زیاتوالي سبب ګرځي

۸- په غیرعرضي افرادو کې د لوړې مړینې لرونکو او مزمنو ناروغیو د تشخیص لپاره ( سکرینینګ یا Check up ) د نوو ټیسټونو رامنځته کیدل

۹- د میډیا اغیزې او د ګټو ټکر

۱۰- په تعلیمي ادارو کې د لارښودونو نشتوالی

۱۱- د پروسجرونو د بیو په هکله د پوهې نشتوالی .

د پوهنتون په تدریسي روغتونونو او په ځانګړو روغتیایي مراکزو ( یوازې روغتونونو ) کې د CRP د اندازه کولو غوښتنې زیاتې دي ، خو تر اوسه پورې یې پروسه په انتقادي ډول نده ارزول شوې . پدې اړوند ، دا ممکنه ده چې د Hs-Method شتون د سیروم د CRP ټیټه کچه هم معلوموي ، ممکن طبیبانو ته یو کاذب احساس چې ګنې د پخواني په پرتله زیات دقیق دی ، پیدا کړي او پدې توګه په هغو حالاتو کې چې

استطباب نلري لکه لکه د حاد مزمن التهابي یا انتاني ناروغیو په تشخیص او مونیټورینګ کې ددې متود څخه استفاده وکړي .

د HS- CRP اندازه ګیري چې پدې نږدې وختو کې کلینیکي تمرین ته د معرفي کیدو په حال کې دي ، تر اوسه یو لږ شواهدو ته چې هغه یې د استعمال لپاره پایلیزې سپارښتنې او لارښودونه حمایه کوي ، اړتیا لري په تیره بیا هغه وخت چې د اکلیلي شریینو ناروغیو پیښې موجودې وي ، چې پدې صورت کې د تعریف د ابهام سره سره، په زیاته اندازه استعمالیږي .

په ICU، ER ، وارډ او OPD کې د CRP د توصیه کیدو په موخه ددې فلوچارټونو د پریکړو وړاندې کول ، ممکن د CRP د توصیه کیدو د لارښودونو په جوړیدو کې نوښتونه واوسي . دا به طبیبان ، د طب پوهنځي محصلان او پر تخصص بوخت ډاکټران د ټیسټ د عمده استطباباتو او فریکونسي پر لور رهنمایي کړي .عموماً که ډیر امکان ددې موجود و چې لارښود د ټیسټ نتیجې ته پاملرنه نکوي ، د دوی له توصیه کیدو باید ډډه وشي ، پدې توګه په کلینیکي استدلال کې هم د اشتباهاتو مخنیوی کیږي .د لارښود سره سم د CRP استطبابات شاید د کلینیکي واقعاتو پر پرمختګ او صحت باندې ټاکونکی اغیز ولري ، څکه پدې توګه د تفسیر د اشتباهاتو او نامناسبو مداخلو (لکه د ۲۴ ساعتو څخه په کم انټروال کې په ICU یا ER ناروغانو کې چې التهابي او انتاني ناروغۍ ولري ، د CRP توصیه یا حتی په عمومي نفوس کې د CVD د سکرین په موخه د HS-measurement کارونه ) په مخنیوي کې مرسته کوي .د یادونې وړ ده چې هغه معاینات چې اشتباهاً نارمل تفسیر شي (کاذب منفي ) ، طبیب او ناروغ ته د مصؤنیت غلط احساس ورکوي ، خو که معاینات اشتباهاً غیرنارمل تفسیر شي (کاذب مثبت ) ممکن د نورو تشخیصیه پروسجرونو چې زیاتره یې مهاجم وي او صحت ته ممکنه خطرات متوجه کوي ، یو انبار رامنځته کړي .همدا حالت ممکن هغه وخت هم تکرار شي کله چې د کلینیکي قضاوت پرته ، چې یوازې د التهابي فعالیت پر غیرمهمو شاخصونو متکي وي ، په درملنه کې بلون راشي .

په پای کې ویلی شو چې د روغتیا په برخه کې د خدماتو وړاندې کولو لپاره چې د مراجعینو لپاره یې د ښو او باکیفیته خدماتو وړاندې کول او د مالي منابعو سپما یې هدف وي ، د فلوچارټونو کارونه ګټوره ده . په ساده شکل محاسبه کیدای شي ، پدې توګه چې د HS-CRP بیه په متوسطه توګه د Regular CRP پنځه برابره ده . همدا لامل دی ، که چیرې په نامناسب ډول په لوړه کچه توصیه شي ، د کلینیک پر ټولو لګښتونو به یې اغیزه زیاته وي او ممکن په چټکۍ سره د بسترکیدو یا OPD مراقبت موده زیاته کړي . که چیرې دې ته هغه غیر اړین لګښتونه چې د نورو تشخیصیه یا معالجوي پروسجرونو چې د کاذبې مثبتې پایلې له امله یې استطباب پیداکړی وي ، یا د اشتباهي معایناتو یا درملنو لګښتونه ور اضافه شي ، نو مصارف ډیرې لوړې کچې ته رسیږي . دا مطالعه د CRP د لابراتواري اندازه ګیرۍ د منطقي استعمال لپاره چې پر موجوده علمي

شواهدو او د ځو دسپليني طبيبانو د يو ګروپ چې د عنوان سره بلد وي ، پر کلينيکي تجاربو متکي وي ، يوه لومړنۍ هڅه ده .

د پريکړه کوونکو فلوچارټونو چې دلته وړاندې شول ، د موجوده مراحلو محدوديتونه عبارت دي له :

۱- د ليټراتورونو د سيستماتيک او بشپړې بياکتنې ( Review ) نشتوالی ، که څه هم تقاضا يې شته خو د مطالعاتو وضاحت د هغوی د پيچلتيا له امله په زياتيدونکي توګه څنډمن کيږي .

۲- تر اوسه په کلينيکي کار لکه په ICU ، ER ، داخله وارډونو، OPD او به عامه او شخصي صحي مراکزو، پوهنتون يا امدادي خدماتو کې د فلوچارټونو د ازمويلو ناشونتيا چې ممکن د تطبيق لپاره يې مانع رامنځته شي .

برخلاف ، د فلوچارټونو افشأ ددوی په موجوده پراختيا کې ، ممکن طبي مسلکي پرسونل ددې جوګه کړي چې پخپل مشخص مسلکي چوکاټ کې يې وازمويي او د خپلو تجاربو په رڼا کې يې اصلاح کړي.

## REFERENCES


1. Pierrakos C, Vincent JL. Sepsis biomarkers: a review. Crit Care. 2010;14:R15.
2. Gabay C, Kushner I. Acute-phase proteins and other systemicresponses to inflammation N Engl J Med. 1999;340:448-54.
3. Wallach J. Interpretação de testes laboratoriais. 7ª ed. Rio de Janeiro: Guanabara Koogan; 2000.
4. Mitaka C. Clinical laboratory differentiation of infectious versus non-infectious systemic inflammatory response syndrome. Clin Chim Acta. 2005;351:17-29.
5. Ho KM. An update on C-reactive protein for intensivists. Anaesth Intensive Care. 2009;37:234-41.
6. Clyne B, Olsaker JS. The C-reactive protein. J Emerg Med. 1999;17:1019-25.
7. Póvoa P. C-reactive protein: a valuable marker of sepsis.Intensive Care Med. 2002;28:235-43.
8. Borg EJT, Horst G, Limburg PC, van Rijswijk MH, Kallenberg CG. C-reactive protein levels during disease exacerbations and infections in systemic lupus erythematosus: a prospective longitudinal study. J Rheumatol. 1990;17:1642-8.
9. Moutsopoulos HM, Mavridis AK, Acritidis NC, Avgerinos PC.High C-reactive protein response in lupus polyarthritis. Clin Exp Rheumatol. 1983;1:53-5.
10. Ridker PM, Danielson E, Fonseca FAH, Genest F, Gotto AM Jr, Kastelein JJP, et al.; the JUPITER Study Group. Rosuvastatin to prevent vascular events in men and women with elevated C-reactive protein. N Engl J Med. 2008;359:2195-207.

11. Kuller LH, Tracy RP, Shaten J, Meilahn EN; the MRFIT Research Group. Relation of C-reactive protein and coronary heart disease in the MRFIT nested case-control study. Am J Epidemiol. 1996;144:537-47.
12. Koenig W, Sund M, Frohlich M, Fischer HG, Lowel H, Doring A, et al. C-reactive protein, a sensitive marker of inflammation, predicts future risk of coronary heart disease in initially healthy middle-aged men results from the MONICA (Monitoring Trends and Determinants in Cardiovascular Disease) Augsburg Cohort Study, 1984 to 1992.Circulation. 1999;99:237-42.
13. Haverkatea E, Thompsonb SG, Pykeb SDM, Gallimorec JR, Pepys MB. Production of C-reactive protein and risk of coronary events in stable and unstable angina. Lancet.1997;349:462-66.
14. Haverkate F, Thompson SG, Pyke SDM, Gallimore JR, Pepys MB; the European Concerted Action on Thrombosis and Disabilities Angina Pectoris Study Group. Production of C-reactive protein and risk of coronary events in stable and unstable angina. Lancet. 1997;349:462-6.
15. Liuzzo G, Biasucci LM, Gallimore JR, Grillo Rl, Rebuzzi AG, Pepys MB, et al. Prognostic value of C-reactive protein and plasma amyloid A protein in severe unstable angina. N Engl J Med. 1994;331:417-24.
16. Buckley DI, Fu R, Freeman M, Rogers K, Mark Helfand M. C-reactive protein as a risk factor for coronary heart disease: a systematic review and meta-analyses for the U.S. Preventive Services Task Force. Ann Intern Med. 2009;151:483-95.
17. Danesh J, Collins R, Appleby P, Peto R. Association of fibrinogen, C-reactive protein, albumin, or leukocyte count with coronary heart disease meta-analyses of prospective studies. JAMA. 1998;279:1477-82.
18. Casas JP, Shah T, Hingorani AD, Danesh J, Pepys MB. C-reactive protein and coronary heart disease: a critical review. J Intern Med. 2008;264:295-314.
19. Hemingway H, Philipson P, Chen R, Fitzpatrick NK, Damant J, Shipley M, et al. Evaluating the quality of research into a single prognostic biomarker: a systematic review and meta analysis of 83 studies of C-reactive protein in stable coronary artery disease. PLoS Medicine. 2010;7(6):e1000286.
20. Santos IS, Benseñor IM, Machado JB, Fedeli LM, Lotufo PA. Intervention to reduce C-reactive protein determinatio request for acute infections at an emergency department. Emerg Med J. 2012. [Epub ahead of print].
21. Ward PCJ, Harris IB, Burke MD, Horwitz C. Systematic instruction in interpretive aspects of laboratory medicine. J Med Educ. 1976;51:648-56.
22. Prat G, Lefrève M, Nowak E, Tonnelier JM, Renault A, L'Her E, et al. Impact of clinical guidelines to improve appropriateness of laboratory tests and chest radiographs. Intensive Care Med. 2009;35:1047-53.
23. Pearson TA, Mensah GA, Alexander RW, Anderson JL, Cannon RO III, Criqui M, et al. Markers of inflammation and cardiovascular disease: application to clinical and public health practice: a statement for healthcare professionals from the Centers for Disease Control and Prevention and the American Heart Association. Circulation. 2003;107:499-511.

24. Adams NG. Diagnostic use of C-reactive protein in bacteraemic emergency department patients. Emerg Med Austral. 2005;17:371-5.
25. Antonescu-Turcu AL, Tomic R. C-reactive protein and copeptin: prognostic predictors in chronic obstructive pulmonary disease exacerbations. Curr Opin Pulmon Med. 2009;15:120-5.
26. Stolz D, Christ-Crain M, Morgenthaler NG, Leuppi J, Miedinger D, Bingisser R, et al. Copeptin, C-reactive protein and procalcitonin as prognostic biomarkers in acute exacerbation of COPD. Chest. 2007;131:1058-67.
27. Flanders SA, Stein J, Shochat G, Sellers K, Holland M, Maselli J, et al. Performance of a bedside C-reactive protein test in the diagnosis of community-acquired pneumonia in adults with acute cough. Am J Med. 2004;116:529-35.
28. Bundy DG, Byerley JS, Liles EA, Perrin EM, Katznelson J, Rice HE. Does this child have appendicitis?. JAMA. 2007;298:438-51.
29. Chen SC, Wang SM. C-Reactive protein in the diagnosis of acute appendicitis. Am J Emerg Med. 1996;14:101-3.
30. Wu HP, Lin CY, Chang CF, Changc YJ, Huang CY. Predictive value of C-reactive protein at different cutoff levels in acute appendicitis. Am J Emerg Med. 2005;23:449-53.
31. Lee CC, Hong MY, Lee NY, Chen PL, Chang CM, Ko WC. Pitfalls in using serum C-reactive protein to predict bacteremia in febrile adults in the ED. Am J Emerg Med. 2012;30:562-9.
32. Gonzales AEM, Camargo CA, Ma J, Plautz M, Maselli JH, McCulloch CE, et al. C-Reactive protein testing does not decrease antibiotic use for acute cough illness when compared to a clinical algorithm. J Emerg Med. 2011;41:1-7.
33. Buckley DI, Fu R, Freeman M, Rogers K, Helfand M. C-Reactive protein as a risk factor for coronary heart disease. A systematic review and meta-analyses for the US Preventive Services Task Force. Ann Intern Med. 2009;151:483-95.
34. Michael E. A persistently elevated C-reactive protein level in pneumonia may indicate empyema. Critical Care.2008;12:409.

# د اسلامي شریعت له آنده د بدل خېښي

لیکونکی: پوهنمل عاشق الله احمدزی، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځي د اسلامي تعلیماتو څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی زروالي صدیقي، د ټولنیزو علومو د پوهنځي استاد

**لنډیز**

د اسلام مقدس دین د انساني نسل د بقا په موخه د نر او ښځې ترمنځ تړون ته جواز ورکړی تر څو د توالد او تناسل په نتیجه کې د انسانانو ژوند تر قیامته پورې په سالمه توګه دوام پیدا کړي. د نر او ښځې د تړون په پایله کې به سالمه ټولنه رامنځته شي څکه د ټولنې د رامنځته کېدو او بقا لومړی لامل د نر او ښځې شرعي تړون دی؛ خو متأسفانه چې زمونږ دټولنې ډېری وګړي یا د اسلام له احکامو څخه نا خبره دي او یا د یو لړ منطقوي، کلتوري او سلیقوي موضوعاتو څخه متأثره دي چې یاد اصل ته یې شاه کړې ده. یو له دغو څخه د بدل یعنې د شغار خېښي دی. یاده خېښی له ځان سره ډېرې منفي اغېزې لري. تر ټولو مهمه داده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښکاره الفاظو له دې خېښی څخه منع کړې او امیر المومنین معاویه رضی الله عنه په خپل دور کې د داسې نکاح د له منځه وړلو او فسخ کولو حکم کړی، حال دا چې هغه په عربیت ښه پوهېده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وحي لیکونکی ؤ، دارنګه ټولنه کې د یادې خېښی ډېرې بدې اغېزې شتون لري، دې خېښی سره د ښځې انساني کرامت تر پښو لاندې کېږي؛ څکه لکه څرنګه چې د نارینه بدلول او خرڅول د اسلام مقدس دین منع کړي دي، دارنګه یې د ښځې خرڅول او بدلول هم منع کړي دي. د دې ترڅنګ په نکاح کې د ښځې نظر ډېر اړین او مهم دی. په دې خېښی کې د ښځې څخه د نظر غوښتنه نه کېږي؛ بلکې د خپلو غوښتنو د پوره کولو په موخه د هغې غوښتنې تر پښو لاندې کېږي، چې کله یوه بدلیزه د ناوړوه کړنو له امله د مېړه له خوا ووهل شي، هغه بله بې ګناه بدون د کوم جرم څخه وهل کېږي او زورول کېږي، چې د هغې بې ګناه په حقوقو باندې بر ملا تېری دی. دې ته ورته نورې بدې اغېزې هم لري چې زمونږ ټولنه یې عیني شاهده ده؛ له همدې امله مناسب دي چې د دې خېښی په اړه یوه څېړنیزه مقاله کې چې په پښتو مورنۍ ژبه لیکل شوي وي بحث وشي، تر څو عام مسلمانان د داسې خېښی څخه ځانونه وژغوري او د اسلامي اصولو په بنسټونو ولاړه سالمه ټولنه رامنځته شي.

**کلیدي ټکي:** سالمه ټولنه، ښځه، شغار(بدل)، شریعت، مهر، خېښي.

**سریزه**

اسلامي شریعت د ټول بشریت لپاره د ژوند په هر اړخ کې د یو ځانګړي چوکاټ په درلودلو سره بشري ژوند تنظیموي، چې یو هم لدې څخه د یوې سالمې ټولنې رامنځته کېدل دي او دا راز د یو مشروع (روا) کورني نظام په اصل ولاړ دی.

پدې اصل کې ښځه او خاوند د شرعي نکاح په وسیله نوی راتلونکی ژوند په شریکه پر مخ بیايي، چې ایجاب او قبول، مهر، ګواهان او د دواړو طرفونو خوښه او رضایت د دې مشروع تړون د اړینو شرطونو څخه ګڼل کېږي؛ خو په تأسف سره کله یو لړ منطقوي، کلتوري او سلیقوي موضوعات د یاد اصل واقعي بڼه تر خپل منفي اغېز لاندې راولي، چې یو هم پدې برخه کې د بدل (شغار) موضوع ده، چې پدې څېړنیزه مقاله کې به پرې بحث وشي او د اسلامي شریعت له لید لوري به یې اړوند ټول اړخونه واضح او روښانه شي.

پدې اړه د حدیثو په شرحو او د فقهې په کتابونو کې د یادې موضوع په اړه ځانګړي بابونه کېښودل شوي او نوموړې موضوع په کې په تفصیل سره روښانه شوې؛ خو په دې کتابونو کې د دې موضوع تشریح په عربې ژبه باندې شوې ده. ما مناسبه وګڼله چې د نوموړې موضوع اړوند په پښتو مورنۍ ژبه باندې څېړنه تر سره شي تر څو عام او خاص ټول ور څخه ګټه پورته کړي.

بل دا چې په پخوانیو کتابونو کې یې یوازې شرعي اړخ بیان کړی د ټولنې د ستونزو او مشکلاتو څخه یادونه نه ده شوې؛ نو مناسبه مې وګڼله چې د ټولنیزو ستونزو او مشکلاتو څخه یې هم یادونه وشي.

آیا اسلامي شریعت د بدل خېښۍ ته اجازه ور کوي؟ د دې خېښۍ د جواز په اړه د علماو تر منځ اختلاف شتون لري امام ابو حنیفه رحمه الله وايي، چې کله هرې یوې ښځې ته جلا مهر تعین شي؛ نو نوموړې نکاح روا دی او که د تړون پر مهال مهر تعین شوی نه ؤ بیا نکاح صحیح دی؛ خو مهر مثل به ورکوي. د جمهورو علماو په آند دغه خېښۍ ناروا ده. د لائلو ته په کتو د جمهورو علماو وینا غوره ده؛ ځکه چې د عباس بن عبدالله بن عباس او د عبدالرحمن بن الحکم تر منځ د بدل (شغار) نکاح شوې وه او هرې یوې ته یې د تړون پر مهال مهر هم تعین کړی ؤ؛ خو د دې باوجود امیر معاویة رضی الله عنه مروان بن الحکم ته حکم وکړ، چې د دوی تر منځ تفریق وکړي (نکاح یې فسخ کړی)؛ ځکه دا هغه د شغار نکاح ده، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ور څخه منع کړې ده.

له بله اړخه په نوموړې خېښۍ کې د ښځې حقوق تر پښو لاندې کېږي او د نکاح په شرعي تړون کې باید د ښځې شرعي حقوق ټول پوره ورکړل شي او حقوق یې ضایع نه شي.

بل دا چې په نوموړې خېښۍ کې د ښځې رضا او خوښه نشته او په شرعي نکاح کې د نر او ښځې خوښه شرط ده. له همدې امله د ایمانی مسئولیت د درک کولو او د دغو نیمګړتیاو د له منځه وړلو په موخه مې دا مناسبه وګڼله، چې په دې اړه یوه علمي څېړنه "دبدل (شِغَار ) خېښې د اسلامي شریعت له آنده" تر عنوان لاندې چې د بدل خېښۍ نیمګړتیاو څخه یې یادونه کړې وي ولیکل شي تر څو عام مسلمانان نارینه او ښځې،

چې د واده کولو اراده لري د دې مقالې په لوستلو سره به د ښځې او مېړه والدين او نور مسئول وګړي خپل مسئوليتونه درک کړي. او د هغه تړون او خپنې کولو هڅه او کوښښ به وکړي، چې د اسلامي شريعت له أصولو سره په ټکر کې نه وي تر څو د قرآنکريم او نبوي احاديثو په پيروی سره د نېکمرغه او هوسا ژوند او په پای کې به د يو سالم او مطمئين کورني نظام او ټولنې خاوندان شي.

**موخې**

د مهر اهميت پېژندنه.

د ښځې انساني کرامت پېژندل او مراعت کول.

د يوې سالمې کورنۍ د را منځته کېدو په ګټو پوهېدل.

په سالمه او معقوله توګه د انساني نسل د بقا اهميت پېژندل.

**کړنلاره**: دا يوه کتابتوني څېړنه ده، چې په ليکلو کې يې د نبوي حديثو، معتبرو شرحو او د فقهې کتابونو څخه ګټه اخيستل شوې ده.

**د بدل يعنې شغَار خپنې**

د بدل خپنې له پخوا راهيسې په مختلفو سيمو او قومونوکې لرغونې ريښې لري، چې زمونږ په هېوادکې هم دغه د ښځو زېږښونکې پديده موجوده ده. دا چې بدل څه شی دی؟ ان شاءالله په هکله به يې پدې مقاله کې لازمه تشريح وشي.

**د بدل (شِغار) لغوي پېژندګلوي**

بدل يعنې شِغَار د لومړي توري په زېر سره په دوه معناګانو کارول شوی دی.

الف . ياده کلمه له(شَغَرَالبَلَدُ) څخه اخيستل شوی ده. معنی دا چې ښار خالي شوی دی. ديته شغار ځکه وايې چې دا نکاح ( خپنې) له مهر څخه خالي وي.

ب . دا کلمه له(شَغَرَالكَلبُ) څخه اخيستل شوی ده.يعنې سپي خپله خپه اوچته کړه. چې دلته هم کنايه ده له جماع او يوځای والي د مېړه له خپلې ښځې سره؛ ځکه چې د جماع پر مهال هم د ښځې خپه اوچته کېږي.

**د بدل (شِغَار) اصطلاحي پېژندنه**

د (شِغَار) بدل په هکله الانباري ليکلی دي

( فَالشّغَارُ تَفسِيرُهُ أَن الرَّجُل فِي الجَاهِلِيَّةِ كَانَ يَقُولُ لِلرَّجُلِ زَّوجنِي ابنتك عَلَى أَن أزوجك ابنَتِي فَلَا يَكُونُ بَينَهُمَا مَهر سِوَى هذَا ،وَكَذلِكَ زَوجنِي أُختك عَلَى أَن أُزَوجك أُختِي وَ زوِّجنِي المَرأُة التِي أَنتَ وَليها عَلَى أَن أزَوّجكَ المَرأَةَ الَّتِي أَنَا وَلِيّهَا فَحَرَّمَ رسول الله هذَا، وَسمِّي الشّغَارُ شِغَاراً مِن قَولِ العَرَبِ قَد شَغَرَ الكَلبُ يَشغَرُ إِذَا رَفَعَ رِجلَهُ وَبَالَ فَكَنَّى بِه عَن هذَا الجِمَاع)(۱: ۱۳۶)

ژباړه: پس د بدل تشریح داسې ده، چې د جاهلیت په دور او زمانه کې به یو سړي بل ته وویل: ستا لور په نکاح راکړه په دې شرط، چې زه به خپله لور تا ته په نکاح درکړم او ترمنځ به یې له همدغې خبرې پرته نور څه مهر نه و. همدارنګه یو به بل ته وویل: چې ماته دې خور په نکاح راکړه په داسې توګه، چې زه به خپله خور تاته په نکاح درکړم او یا دا چې ماته هغه ښځه په نکاح راکړه، چې ته یې سرپرست یې په داسې توګه، چې زه به په نکاح درکړم هغه ښځه چې زه یې سرپرست یم؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دا کړنه ناروا وګرځوله.

او شغار ته د عربانو په ژبدود کې؛ ځکه شغار وېلی شوی دی، چې کله سپی متیازې کوي؛ نو خپه اوچته کړي او متیازې وکړي. پس دا کنایه شوه له کوروالي څخه؛ ځکه د کوروالي پر مهال هم د ښځې خپه اوچته کېږي. البته دیته ورته نظر د زبیدي، ابن الجزري، ابوالفرج او نورو هم دی.( ۷: ۲۰۳)

**د بدل د خپلولۍ په اړه شرعي څېړنه او د دیني پوهانو د نظرونو اختلاف**

د بدل د خېښۍ په هکله له اسلامي پوهانو څخه مختلف اقوال او نظریات نقل شوي دي، چې د بېلګې په توګه یې له ځینو هغو څخه پدې توګه یادونه کېږي.

۱.د اسلامي امت د اهل سنت والجماعت د ګردو دیني پوهانو په نزد له قرآن کریم څخه وروسته تر ټولو صحیح او درست کتاب بخاري شریف دی، په دې جامع او صحیح کتاب کې پدې رابطه ځانګړی باب کېښودل شوی دی چې: [بَاب الشِّغَارِ]یعنې د بدل د خېښۍ باب.

البته پدې هکله د بېلګې په توګه د راتلونکي حدیث شریف یادونه کولی شو چې: [عَن ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَن الشِّغَارِ وَ الشِّغَارُ أَن يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابنَتَهُ عَلَى أَن يُزَوِّجَهُ الآخَرُ ابنَتَهُ لَيسَ بَينَهُمَا صَدَاقٌ]. (۵: ۱۲، د حدیث نمبر:۵۱۱۲، او ۹: ۱۰۳۴، د حدیث نمبر۱۴۱۵).

ژباړه: له عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې بېشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدل کولو له خېښۍ څخه منع کړی ده. اوشغار دېته وایې چې یوسړی بل ته خپله لور پدې شرط په نکاح ورکړي، چـــــې هغه به خپله لور ده ته په نکاح ورکـــــــــوي او د دواړو تـــــــــرمنځ به دیوې لپاره هم مـــــــهرنه وي؛ بلکې یوه به د هـــــــغې بلې مهر وي.

پداسې حال کې چې د پورتني حدیث له مخې یوه مسلمانه اصیله ښځه د هغې بلې لپاره مبیعه او ثمن(عوض د مهر) ګرځول حرام دي. دیادونې وړده چې پورتنی حدیث د احادیثو په زیات شمېر کتابونو کې روایت شوی دی.

۲. په بل حدیث کې راځي: [عَن أَنَسِ بنِ مَالك قَال قَالَ رَسُولُ الله صلی الله علیه و سلم (لَاشِغَارَ فِي الإِسلَامِ)].(۸: ۶۰۶ ، دحدیث نمبر:۱۸۸۵) او مسلم د ابن عمر په روایت سره په (ج۲ص۱۰۳۵)کې نقل کړی دی.

ژباړه: له انس د مالک زوی څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې: بدل په اسلام کې نشته. دپورتني حدیث په هکله البانی صاحب ویلي دي چې داحدیث صحیح دي.(۸: ۶۰۶)

۳.په بل حديث کې راځي: وروى أحمد (۱۶۸۵۶) وأبو داود (۲۰۷۵) بإسناد صحيح عن عَبْدالرَّحْمَنِ بْن هُرْمُزَ أَنَّ الْعَبَّاسَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنْكَحَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْحَكَمِ ابْنَتَهُ وَأَنْكَحَهُ عَبْدُالرَّحْمَنِ ابْنَتَهُ ، وَقَدْ كَانَا جَعَلا صَدَاقًا ، فَكَتَبَ مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ وَهُوَ خَلِيفَةٌ إِلَى مَرْوَانَ يَأْمُرُهُ بِالتَّفْرِيقِ بَيْنَهُمَا ، وَقَالَ فِي كِتَابِهِ : هَذَا الشِّغَارُ الَّذِي نَهَى عَنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

ژباړه: امام أحمد بن حنبل او أبوداود په صحيح سند سره د عبدالرحمن د هرمز زوی څخه روايت کړی، چې عباس د عبد الله بن عباس زوی خپله لور عبدالرحمن بن الحکم ته په نکاح ور کړه او عبدالرحمن بن الحکم خپله لور عباس د عبد الله بن عباس زوی ته په نکاح ور کړه ( دواړو شغار يعني د بدل خېښې و کړه) او دواړو هرې يوې ښځې ته جلا جلا مهر هم تعين کړ؛ نو معاوية د أبو سفيان زوی، چې خليفه و مروان ته يې خط وليکه او أمر يې ورته و کړ، چې د دوی تر منځ تفريق (جدايي) وکړه، معاويه رضی الله عنه په خپل ليک کې داسې و ويل: دا هغه شغار (د بدل خېښې) دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ور څخه منع کړې ده.

دا هغه واقعه ده، چې د أمير المومنين معاوية رضی الله عنه زمانه کې پېښه شوې، مونږ ته د هغه شعار مانا ښکاره کوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ور څخه په پورتنيو حديثونو کې منع کړې او د تړون پر مهال د مهر په تعينولو (مسمی کولو) سره نکاح نه صحيح کېږي او نه يې د شغار کېدو څخه و باسي؛ ځکه چې عباس بن عبدالله او عبدالرحمن بن الحکم دواړو تسميه د مهر کړې وه (مهر يې تعين کړی و)؛ خو معاوية رضی الله عنه دې تعين د مهر ته و نه کتل او د دوی تر منځ يې په جلا کولو سره أمر (حکم) وکړ او و يې ويل: ( دا هغه شغار دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ور څخه منع کړې ده). او معاوية رضي الله عنه په عربي ژبه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حديثونو په ماناګانو باندې د نافع مولی ابن عمر رضي الله او د ټولو خلکو څخه ښه پوهېدو.

(۸ : ۴۱۹) او( ۹: ۷۰).

د بحث د اوږديدو د مخنيوي له کبله په همدغو درې احاديثو باندې بسنه کېږي سره لدې، چې پدې برخه کې ګڼ شمېر احاديث او د حديث پوهانو نظرونه شتون لري.

داسلامی امت فقهاؤ او مفتيانو، چې ديادې موضوع په اړه کوم نظريات وړاندې کړی دي؛ نو له هغو څخه يې د مشهورو ائمه و څو نظريات د بيلګې په ډول رانقل کوو.

۱. امام ابن رشد چې دشپږمې هجري پېړۍ د اندلس پياوړی مفتي او ديني عالم دی په خپله فتاوی کې يې داسې ليکلی چې:

( فَأَمَّا نِكَاحُ الشِّغَارِ فَإِنَّهُمُ اتَّفَقُوا عَلَى أَنَّ صِفَتَهُ هُوَ: أَن يُنكِحَ الرَّجُلُ وَلِيَّتَهُ رَجُلًا آخَرَ عَلَى أَن يُنكِحَهُ الآخَرُ وَلِيَّتَهُ،وَلَا صَدَاقَ بَينَهُمَا إِلَّا بُضعَ هَذِهِ بِبُضعِ الْأُخْرَى. وَاتَّفَقُوا عَلَى أَنَّهُ نِكَاحٌ غَيرُ جَائِزٍ لِثُبُوتِ النَّهْيِ عَنْهُ. وَاختَلَفُوا إِذَا وَقَعَ هَل يُصَحَّحُ بِمَهرِ المِثلِ أَم لَا ؟ فَقَالَ مَالِكٌ : لَا يُصَحَّحُ، وَيُفسَخُ أَبَدًا قَبلَ الدُّخُولِ وَبَعدَهُ، وَبِهِ قَالَ الشَّافِعِيُّ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: إِن سَمَّى لِأَحَدِهِمَا صَدَاقًا أَو لَهُمَا مَعًا فَالنِّكَاحُ ثَابِتٌ بِمَهرِ المِثلِ، وَالمَهرُ الَّذِي

سَمَّيَاهُ فَاسِدٌ . وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: نِكَاحُ الشِّغَارِ يَصِحُّ بِفَرضِ صَدَاقِ المِثلِ،وَبِهِ قَالَ اللَّيثُ،وَ أَحمَدُ ، وَ إِسحَاقُ،وَ أَبُو ثَورٍ،وَ الطَّبَرِيُّ.وَ سَبَبُ اختِلَافِهِم:هَلِ النَّهيُ المُعَلَّقُ بِذَلِكَ مُعَلَّلٌ بِعَدَمِ العِوَضِ أَو غَيرُ مُعَلَّلٍ؟فَإِن قُلنَا:غَيرُ مُعَلَّلٍ لَزِمَ الْفَسخُ عَلَى الإِطلَاقِ.وَ إِن قُلنَا العِلَّةُ عَدَمُ الصَّدَاقِ صَحَّ بِفَرضِ صَدَاقِ المِثلِ.(۲: ۴۶ )

ژباړه: د شغار واده په هکله فقهاؤ اتفاق کړی دی، چې طریقه اوصفت یې داسي دی چې: یو سړی خپله ولیه(خور، لور، لمسۍ او داسې نورې)، چې واک یې له ده سره وی، بل سړي ته پدې شرط واده کړی، چې هغه به ده ته خپله ولیه په بدل کې واده کوي او د دواړو ترمنځ به مهرنه وي مګر دا چې د یوې ښځې(شرم ځای به دبلې د شرم ځای) بدل اوعوض وي. پدې باندې هم فقهاؤ اتفاق کړی دی، چې دغه ډول واده په اسلامي شریعت کې روا نه دی؛ ځکه چې منع ورځخه راغلي ده او دا په شرعي دلائلوثابته ده.

البته پدې کې دفقهاؤ ترمنځ اختلاف دی، چې کچېرې دغه ډول واده کړی شوئ وي؛ نو آیا په بدل ورکړی شوې هرې یوې ښځې ته د مهر په ورکولو سره نکاح صحیح کیږی اوکه نه؟

امام مالک رحمة الله ویلي دي، چې د شغار واده په هیڅ صورت کې نه صحیح کیږی نه له هغوی دواړو سره له کوروالي کولو څخه د مخه د مهر مثل په ورکولو سره اونه له کوروالي کولو څخه وروسته؛بلکې د تل لپاره دغه ډول واده فسخ او باطل دی.

د امام شافعي رحمة الله علیه نظر او فتوی هم همداسې ده؛ خو په دومره توپیر سره، چې هغه ویلي دی، چې که چیري د نکاح د تړون پر مهال له دغو دواړو بدلیزو څخه کومې یوې ته مهر ټاکل شوی وي یا دواړو ته؛ نو نکاح یې د مهرمثل په ورکولو سره ثابته او صحیح کیږي او هغه مهر چې د مخه ورته ټاکل شوی وي فاسد او باطل ګڼل کیږي، یعنې هغه تعین شوی مهر یې فاسد دی.

امام ابوحنیفه رحمه الله ویلی دي، چې د شغار نکاح د مهر مثل په ورکولو سره صحیح کیږي. همدغه فتوا او نظر د ابولیث سمرقندي، امام احمد، اسحاق بن راهویه، امام ابوثور او د امام طبري رحمهم الله هم دی.

د فقهاؤ ترمنځ دبدل په واده کې دپورتني اختلاف لامل دادی، چې آیا د بدل له واده څخه د ممانعت شرعي حکم معلق کېدل د مهر په نه ورکولو سره معلل دی او که غیرمعلل دی؟ که چیرې مونږ ووایو چې د مهر مثل نه ورکول یې د ممانعت علت نه دی؛ نو په دې صورت کې دبدل واده په مطلق ډول فسخ او باطل دی. او که چیرې ووایو چې د ممانعت علت یې د مهر نه ورکول دی؛ نو پدې صورت کې هرې یوې ته د مهر مثل په ورکولو سره د بدل واده صحیح کیږي.

۲.د مصر نامتو حنفي فقیه امام زین الدین ابراهیم بن محمد المعروف بابن نجیم المصري (مړ ۹۷۰هـ ) دشغار په هکله داسې نقل کړي دي چې: (وَيَجِبُ مَهرُ المِثلِ فِي الشِّغَارِ )لِأَنَّهُ سَمَّى ما لَا يَصِحُّ صَدَاقًا فَيَصِحُّ العَقدُ وَيَجِبُ مَهرُ المِثلِ). ( ۴: ۱۶۷)

ژباړه: د بدل په واده کې مهر مثل لازميږي؛ ځکه چې دې کې داسې شئ مهر ګرزېدلی دی، چې مهر ګرزول يې نه صحيح کيږي (چې هغه يوه ښځه دبلې بدل دي)؛ نو عقد خوصحيح دی اما مهرمثل لازميږي.
۳. علامه ابن عابدين رحمه الله په دې هکله داسې ليکلی چې: (وَ وَجَبَ مَهرُ المِثلِ فِي الشِّغَارِ) هُوَ أَن يُزَوِّجَهُ بِنتَهُ عَلَى أَن يُزَوِّجَهُ الآخَرُ بِنتَهُ أَو أُختَهُ مُعَاوَضَة بِالعَقدَينِ، وَهُوَ مَنهِيّ عَنهُ لِخُلُوِّهِ عَن المَهرِ) . (۳:۱۱۶)
ژباړه: (او واجبيږی مهرمثل په بدل کې) د بدل واده عبارت دی لدې څخه، چې يو سړی بل ته لور په دې شرط په نکاح ورکړي، چې هغه به هم ده ته خپله لور ياخور په نکاح سره ورکوي، چې په عقد کې به يوه دبلې په عوض راشي؛ نو داسې کول منع دي له دې امله چې مهر په کې شتون نه لري. ديته ورته نظر د کاساني هم دی.(۱۰: ۲۷۸)
۴. مشهورعـــــالم علامه عبـــــدالرحمن الجـــــزيري په خـــپل کتاب کې په دې اړه تفصـــــيلي بـــحث کـــــړی او پـــــدې کې يې داهم وېلي دي چې:
(وَ قَداعتَرَضَ عَلَى الحَنفيّةِ بِأَنَّ الشِّغَارَ مَنهِيّ عَنهُ بِحَدِيثِ الصَّحِيحَينِ وَ النَّهيُ يَقتَضِي فَسَادَ المَنهِيّ عَنهُ فَأَجَابُوا عَن هذَا بِوَجهَينِ:
أَحَدُهُمَا:أَن المَنهِي عَنهُ حُصُولُ حَقِيقَةِ الشِّغَارِ . وَنَحنُ نَقُولُ: إِنَّ هذِهِ الحَقِيقَة المَنهِيُّ عَنهَا غَير نَافِذَة عِندَنا. وَ إِنَّما الّذِي نَقُولُ بِحلِّهِ وَ نفَاذِه إِنَّمَا هُوَ العَقدُ بِمَهرِ المِثلِ. ثَانِيهما: أَنَّ النَّهيَ لِلكَرَاهَةِ لَا لِلفَسَادِ).( ۶،ص ۶۷)
ژباړه: په احنافو اعتراض وا رديږي، هغه داسې چې: د صحيحينو په حديث کې له بدل نکاح څخه منع شوې ده او نهي تقاضا د منهي عنه(له کوم څيز څخه چې منع شوي وي) د فساد کوي؟؛ نو احنافو يې دوه ځوابونه کړي دي.
اول ځواب: له کوم څيز څخه چې منع راغلې ده هغه حاصلول د بدل د حقيقت دي په داسې حال کې، چې مونږ وايو دا حقيقت چې منع ترينه شوي ده زمونږ په آند باندې هم نافذ ندی. البته هغه څه چې مونږ يې په حلالوالي او نافذيدو باندې قائل يو، هغه عقد (تړون د نکاح) دی چې په مهر مثل بنا وي).
دويم ځواب: داچې دلته نهي دکراهت لپاره دی نه دفساد لپاره.
دافغانستان مدني قانون«۶۹» ماده د امام ابوحنيفه «رحمه الله» نظرتائيدوي اوحکم کوي چې د بدل واده په عقد کې يوه ښځه دبلې په بدل کې نه واقع کيږي؛ بلکې هرې يوې ته مهر مثل لازميږي.( ۱۴: ۲۰)
د صحيح حديثونو څخه ثابته شوه چې د شغار نکاح ناروا دی؛ خو که چېرته داسې نکاح واقع شي پداسې حال کې، چې مېړه خپلې منکوحې (ښځې) سره مينه لري او ښځه مېړه سره مينه لري د دواړو ميلان يو بل ته زيات وي؛ نو علاج يې دادی چې: د ښځې د ولي (سرپرست) په شتون کې د نکاح نوي (تجديد) کول، د نوي مهر تعينول، د عادلانو ګواهانو په وړاندې؛ ځکه چې دې سره به د دواړو ذمه خلاصه (بري) شي او منکوحه به د مېړه لپاره روا شي، سره له توبې کولو الله تعالی ته د مخکښې کړنې څخه(۱۰، ج۵۴۷).

**پایله**

هغه مهم ټکي او مسئلې چې د نتیجې د اخیستنې په نوم کېدی شي او د دې علمي مقالې په پای کې د لوستونکو او مینه والو خدمت ته وړاندې شي په لاندې ډول دي.

۱: د بدل په خیښۍ کې که یوه کورنۍ له ښځې سره کوم ډول کړنه سرته رسوي؛ نو ډېری وختونه په ورته توګه هماغسې عکس العمل لدې بلې سره هم سرته رسېږي پداسې حال کې، چې داسې کول د ښځو په حقوقو بر ملا (ښکاره) تېری اوظلم دی.

۲: په اسلامي ټولنیزنظام کې د ښځو بنسټیز شرعي حق د ازدواج په صورت کې د مهر ورکول دي پداسې توګه چې نکاح بې له مهر څخه نه صحیح کېږي او د عفوې حق یې بې له همدغې انجلۍ څخه بل هیڅوک نه لري. سره لدې، چې زمونږه په وګړو کې ډېرې داسې ژوندۍ نمونې شته، چې د بدل خېښۍ په پایله کې یې په کلونو کلونو مهرونه خپلو بیبیانوته نه دي ورکړي او د غه شرعي حق یې له پښو لاندې کېږي، چې په دې اړه کاساني پخپله فتاوی بدائع الصنائع کې داسې لیکلی دي:

(وَمِنهَا وُجُوبُ المَهرِ على الزَّوجِ وَأَنَّهُ حُكمٌ أَصلِيٌّ لِلنِّكَاحِ عِندَنَا لَا وُجُودَ له بِدُونِهِ شَرعًا). (۱۰: ۳۳۱)

ژباړه: یو د نکاح له مسئلو څخه پر مېړه باندې د مېرمن د مهر فرض والی دی، چې دا زمونږ په نزد باندې په اسلامي شریعت کې اصلي او بنسټیز حکم دی، چې لدې څخه پرته په شرعي اعتبار سره ازدواج صورت نه نیسي.

۳: لکه څرنګه چې الله تعالی نارینه عزتمند ګرځولی دی په همدې توګه یې ښځه هم عزتمنده ګرزولې ده. لکه څرنګه چې د نارینه بدلول یا خرڅول ناروا دي په ورته شکل د ښځې بدلول یا خرڅول هم ناروا دي.

۴: کله کله داسې هم کېږي، چې دوه کسان یو بل ته لورګانې یاخویندې په نکاح ورکوي؛ نو که یوه ښایسته اوبله بدرنګه وي یایوه په بلې باندې د عمر په لحاظ مشره او هغه بله پېغله او کم عمره وي یا داسې کوم بل امتیاز ولري، د امتیاز لرونکې ښځې ولي دا شرط وړاندې کوي، چې ماته به دومره روپۍ سر راکوې؛ نو دلته د ښځو په حق کې ښکاره ظلم او تجاوزدی.

۵: د نورو پښتنو په څیر په افغاني ټولنه کې داسې هم پېښېږي، چې د بدل په واده کې د یو څه امتیاز په بدل کې لکه د عمر، ښایست یا داسې نورو امتیازونو په درلودلو سره له هغه بل لوري څخه دیوې انجلۍ په عوض کې د دوه انجونو مطالبه کېږي، په پایله کې په همدې باندې سره سلاکېږي، پدې معنی چې دیوې ښې(امتیاز لرونکې) انجلۍ په عوض کې دوه انجونې بدلېږي، چې پدې صورت کې هم دیوې لوېې ګناه اوجنایت ارتکاب منځته راځي او د مظلومو انجونو انساني کرامت اوحیثیت له پښو لاندې کېږي او زیات وختونه د سپکاوي لامل کېږي؛ ځکه چې دیوې په مقابل کې دوه واده شوي وي.

۶: په دې ډول خېښۍ کې زیاتره وخت نفرت او کینه هم راپیدا کېږي، چې دا هم ګناه ده.

۷: یاده نکاح د جمهورو علماو(امام شافعي، احمدبن حنبل او امام مالک رحمة الله علیهم) په آند ناروا ده؛ خو امام ابوحنیفه رحمه الله او حنفي علماو د بدل نکاح روا بللی ده په دې شرط چې هرې یوې انجلۍ ته جلا جلا مهر وټاکل شي. او د حدیث څخه یې ځواب داسې کړی دی، چې په حدیث کې د جاهلیت د زمانې د بدل د هغې مشهورې نکاح څخه منع راغلي ده، چې یوه ښځه به دبلې لپاره د بدل پرمهال مهر وګرځېده.

۹: د بدل په خپښۍ کې که انجلۍ له واده کېدو د مخه وفات شي؛ نو مقابل لوري بدلیزه بیا ترهغې پورې له واده ورکولو څخه ستنوي چې د ژوندۍ پیغلې کورنۍ ته بله ستره یا وړوکې نجلۍ ورنه کړي او د انجلۍ د نه شتون په صورت کې معلومې پیسې تعین او ور نه کړي. پداسې حال کې چې دغسې تصادفي پېښېدونکي مسائل هم زیاتره وختونه د خفګانونو او پرېشانیو سبب ګرځیدلي دي او د دواړوخپلوانو کورنیو خپلولي مینه او صمیمیت یې په خفګانونو او بدبینیو بدل کړی دی.

۱۰: سره لدې چې امام ابوحنیفه رحمه الله او احنافو دبدل نکاح د مهر د شتون په صورت کې روا ګڼلې؛ خو هغه ځانګړې،کورنۍ اوټولنیزې ستونزې، چې نن ورځ یې زمونږ په ټولنه کې منځته راوړي دي ویلی شو، چې نوموړې نکاح ښې پایلې نه لري او له ګټې څخه یې په هر اړخیزه توګه زیانونه زیات لیدل کیږي. پورته دلائلو ته په کتو هم د جمهورو علماو نظر غوره ښکاره کیږي؛ له همدې امله باید و وایو، چې که چېرته د داسې خپښۍ په اړه کوم عالم نکاح ته ور و بلل شي هغه باید عام مسلمانان دې نیمګړتیاو ته متوجه کړي تر څو خلک ور څخه ځان وژغوري.

**وړاندیزونه**

۱.د یني عالمان دې په خپلو بیاناتو کې د بدل خپښۍ د نیمګړتیاو په رابطه رڼا واچوي.

۲.مساجدو او دیني حلقاتو کې دې د قرآن او حدیث په رڼا کې د دې خپښۍ شرعي حیثیت روښانه شي.

۳.لیکوالانو ته په کار دې خبرې ته خاصه پاملرنه و کړي.

۴.قومي مشران دې په دې اړه خیل ایمانی مسئولیت درک کړي او هغه څه چې دوی ته د دې خپښۍ په اړه ښکاره شوي خلکو ته یې ښکاره کړي او خلک ور څخه وژغورول شي.

۵.رسنۍ دې د خلکو توجه دې خبرې ته را واړوي او پایلې یې ورته روښانه کړي.

۶.علماو ته په کار دي چې داسې نکاح (خپښۍ) کې شرکت و نه کړي.

۷.علماو ته په کار دي، چې په خپله هم د ځان لپاره داسې نکاح و نه کړي او هغه انجونې چې دوی یې سر پرستي په غاړه لري باید بل ته یې په داسې نکاح باندې ور نه کړي؛ ځکه چې زمونږ ټولنه کې د عالم کړنو ته دیني رنګ ور کول کیږي.

**ماخذونه**


۱ـ انباری، أبو بکر محمد بن القاسم.(۱۴۱۲هـ-۱۹۹۲). الزاهر فی معانی کلمات الناس. ج ۲. بیروت: مؤسسة الرسالة.

۲ـ اندلسي، أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي. (۱۴۱۵ هـ - ۱۹۹۵ م) بداية المجتهد و نهاية المقتصد. ج ۲، بيروت : لبنان.

۳ـ ابن عابدين، خاتمة المحققين محمد امين الشهير بابن عابدين.(ب ت). حاشية على الدر المختار شرح تنوير الابصار في فقه مذهب الامام ابي حنيفة النعمان و يليه تكملة ابن عابدين لنجل المؤلف. ج ۳. دار الفكر: للطباعة والنشر والتوزيع.

۴ـ ابن نجيم، زين الدين الحنفي. (ب ت). البحر الرائق شرح كنز الدقائق. ج۳. دار المعرفة: بيروت.

۵. بخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي (۱۴۲۲هـ ). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخارى. ج ۷ ، د حديث نمبر،۵۱۱۲. دار طوق النجاة.

۶. جزيري، عبد الرحمن بن محمدعوض الجزيري.(۱۴۲۴هـ ـ ۲۰۰۳م). الفقه على المذاهب الأربعة. ج۴. بيروت، لبنان: دارالكتب العلمية.

۷ـ زبيدي، محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني،أبوالفيض، الملقّب بمرتضى، الزَّبيدي.(ب ت). تاج العروس من جواهر القاموس. ج۱۲. دار الهداية.

۸ـ السِّجِسْتاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي. (۱۴۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م). سنن أبي داود. ج۳. دار الرسالة العالمية.

۹ـ الشيباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد (۱۴۲۱ هـ - ۲۰۰۱ م). مسند الإمام أحمد بن حنبل. ج۲۸. مؤسسة الرسالة.

۱۰ـ القحطاني، أبو يوسف. (ب ت). فتاوى الإسلام سؤال وجواب. ج۱.www.islam-qa.com، او ملتقى أهل الحديث www.ahlalhdeeth.com .

۱۱ـ قزويني، محمد بن يزيد أبو عبدالله. (ب ت). سنن ابن ماجه. ج۱. بيروت: دار الفكر.

۱۲ـ قشيري، أبو الحسين مسلم بن الحجاج النيسا بوري (ب ت). صحيح مسلم. ج ۲. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

۱۳ـ کاسانی، امام علاؤ الدين ابوبکر بن مسعود کاسانی حنفی « ملک العلماء »(۱۹۸۲م). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. ج۲. بيروت: دار الكتاب العربي.

۱۴ـ مدني قانون، د افغانستان مدني قانون . ج۱. تمهيدی باب.

# د مشکو کاروان او کاظم خان شیدا

لیکونکی: پوهنمل ظاهرشاه زهیر، شیخ زاید پوهنتون، ژبو ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی میاولي شاه میاخېل، د ژبو ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې استاد

**لنډیز**

د متني کره کتنې (نقد) ساحه د متونو کره‌والی دی، په دې کره کتنه کې کره‌کتونکی هڅه کوي، هغه متنونه چې د ګډوډیو ښکار شوي، بېرته اصلاح کړي او د لیکوال اصلي متن له تېروتنو پاک کړي. دغه ګډوډۍ زیاتره په پخوانیو متونو کې شوې او د دغو ګډوډیو بېلابېل علتونه دي. پرعلتونو یې بحث کول لیکنه اوږدوي، ځکه پرې خبرې نه کوو، خو زیان یې باید د راتلونکي لپاره ډاګیز شي، ترڅو د اصلاح هڅه یې وشي.

پخواني متون د تېر تاریخ په غبار کې پټ وي او د هغه وخت بشپړ حالات په اوس کې پوره څرګند نه دي. کله کله د لیکوال او شاعر په ژوند کې دا امکان برابر نه شي، چې اثار په خپل لاس ترتیب او تدوین کړي، نو دا کار یې وروسته د ده سره نېږدې کسان وکړي او هغه پکې له ځانه ځیني کلمې یاترکیبونه کم او زیات کړي. ځیني وخت لیکوال او شاعر ته معتقد کسان د خپل ذوق له مخې یو نیم بیت یاد کړي، چې د وخت په تربېدو یې اصلي بڼه بدله شي او کلمې پکې کمې او زیاتې یا تغیر شي.

د معاصرو متن‌څېړونکو لومړۍ دنده دا ده چې د دغسې ګډوډیو مخه ونیسي، خو په معاصره لیکوالۍ کې ځیني کسان بیا داسې هم وي چې په پخوانیو متونو کې دقت نه کوي او په سطحي توګه پرهغې کار کوي، چې دغه د نه دقت کار یې په متونو کې د ګډوډۍ سبب شي. د دغو سطحي تحقیقاتو یوه ښه بېلګه د مشکو کاروان په نوم اثر دی چې وتلي شاعر او لیکوال عبد الباري جهاني لیکلی. په دې لیکنه کې ما د مشکو کاروان د کتاب پریوې لیکنې بحث کړی دی، چې هغه لیکنه د کاظم خان شیدا په هلکه ده. په دې لیکنه کې پرکاظم خان شیدا له دوو اړخونو بحث شوی، چې یو یې د ده شخصي ژوند دی او بل یې شاعري. په دې دواړو برخو کې لیکوال د ژبې او منځپانګې له مخې تېروتنې کړې او دغه تېر وتنې ما د متني کره کتنې په رڼا کې لومړی شنلې او بیا ترنېوکې لاندې نېولې.

**کلیدي ټکي**: شیدا، شاعري، څېړنه، تېروتنې، متني کره کتنه او سمونه

**سریزه**

لیکوال او څېړونکي عبد الباري جهاني په یو کتاب (د مشکو کاروان) کې د پښتو ژبې ځیني مشهور شاعران معرفي کړي او د معرفۍ تر څنګ یې د هغو پرشعر هم لنډې تبصرې کړې. په کتاب کې د بښتو ژبې نازکخیال او د هندي سبک پیرو شاعر کاظم خان شیدا هم معرفي شوی، چې زما دغه لیکنه د کتاب پر همدغې برخې راټوله ده. پرلیکنه د موضوع او شکل له مخې ربا اچول شوې ده، مثبتې او منفي خواوې یې په ډاګه شوي دي. یاده چاپي نسخه درېیم چاپ دی او پنځوس بیلا بېل شاعران د دوی د شعري محتوا د تحلیل ترڅنګ لنډ معرفي شوي دي او د کتاب پر پښتې د لیکوال د چاپي اثارو په لړکې (د مشکوکاروان) ترڅنګ (تحقیقيتذکره) هم لیکل شوې. لیکوال د کتاب په سرکې په خپلو خبرو کې زیاته کړې  چې دا د امریکا غږ راډیو ځیني پروګرامونه وو او ما پردې پروګرامونو د دویم او درېیم ځل لپاره کار کړی دی چې او س یې سرې د راډیو پروګرامونه نه شي بللی. زما په فکر د جهاني صیب مطلب به دا وي چې دغه پروګرامونه د تحقیق چوکاټ ته لوېدلي او د یوې تحقیقي رسالې بڼه یې غوره کړې. د تاریخي کره کتنې په هکله یو نظر دا دی چې د کره کتونکي لپاره (د هغو متونو په هکله چې معلومات یې ګونګ دي) مناسبه ده چې لیکوال او کره کتونکی د داخلي شهاداتونو پربنیاد معلومات وړاندې کړي او ورپسې بهرني شهاداتونه راوړي، خو هغه شهاداتونه چې له ده سره کومک کوي. (۹: ۱۳۳)

**د څېړنې د اختیارلاملونه:** د دې لیکنې نه یو هدف دا دی چې زمونږ پخوانیو مشرانو که نثر ویلی او که شعر یا نظم، باید د اقتباس په توګه یې کټ مټ نقل کړو، ترڅو د پخوانیو متونو د ګډوډۍ او پرهغه د بې‌اعتبارۍ مخه ونېول شي. دویم دا چې که یو څوک داسې تېروتنې وکړي، نو پکار ده چې هغه ډاګیزې شي، چې په دې سره به لومړی لیکوال خپلو تېروتنو متوجه شي او دویم به لوستونکو ته څرګنده شي او د هغو د اصلاح هڅه به وشي. د تعجب وړ خبره خو دا ده چې (د مشکو کاروان) درې ځلې چاپ شوی، خو بیا هم لیکوال خپلې تېروتنې نه دي پکې اصلاح کړې. که نور هېڅ نه وي زما دغه لیکنه به هرومرو دومره ارزښت ولري چې لوستونکي او له ادبیاتو سره تړلي کسان به د متني کره کتنې دنده وپېژني.

**د ستونزې وړاندې کول:** که یو لیکوال یا څېړونکی د خپل لیدلوري له مخې د تېرو اثارو په هکله لیکل وکړي او د تېرو اثارو تاریخي، ژبني او کلتوري شرایط له پامه وغورځوي، څرګنده ده چې څېړونکي د پخوانیو اثارو له اصل منځپانګې سره ظلم کړی او راتلونکي ځوان نسل ته یې نا کره معلومات وړاندې کړي. دغسې څېړنې او لیکنې په راتلونکي کې ډېرې ستونزې پیدا کولی شي او د تېرو اثارو په هکله لوستونکي او له پښتو ژبې او ادب سره تړلي کسان په شک کې اچوي. نو اوس پوښتنه دا ده چې د دغسې تېروتنو لپاره کومې لارې چارې باید په پام کې ونېول شي؟ د دې پوښتنې ساده ځواب دا دی چې مونږ باید دغسې اثار د متني کره کتنې په چوکاټ کې مطالعه او پکې شته ستونزې لوستونکو ته ډاګیزې کړو.

**د څېړنې معرفي:** دغه څېړنيزه ليکنه ما د متني کره کتنې له مخې کړې او د متني کره کتنې بحث د پخوانيو اثارو د نسخو پرتېروتنه راڅرخي او دا تېروتنې زياتره معاصرو څېړونکو کړي. دغه تېروتنې له دوو لارو نه منځ ته راځي، يو دا چې مداونين، مؤلفين د تېرو ديوانونو نسخې په ناپامۍ کې غلطې چاپ کړي. بله دا چې د تېرو اثاو په هکله چې څوک څېړنه کوي، د خپل ذوق او ژبې تر تأثير لاندې راشي او معلومات په اصلي بڼه نه، بلکې په نا اصلي بڼه وړاندې کړي، نو د ګټې پرځای اثر ته تاوان واړوي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

په دې کتاب کې چې د کاظم خان شيدا په هکله څه ويل شوي دي په يوې لنډې پېژندنې پيلېږي، کاظم خان شيدا يې د افضل خان زوی بللی، خو د زيږيدو نېټه يې نه ده راوړې. ليکوال د شيدا د شعر په محتوا کې پرمحدودو اړخونو بحث کړی دی او داسې څه نه پکې ليدل کېږي چې د شيدا د شعر عظمت پوره ترې څرګند شي او لوستونکي شيدا د خپلو شعري ځانګړتياو او خوبيو له مخې د نورو سره په توپير کې تريوې اندازې وپېژني. کومې خبرې چې ليکوال د شيدا د څو محدودو بيتونو په تشريح کې کړي دي، هغه يې له خپله ديده کړي دي، خو هغه خبرې چې نوموړي د شيدا د ژوند په هکله کړي دي هغه يې هم د يو نامعلوم روايت له مخې کړي دي او د هېڅ کومې منبع يادونه يې نه ده کړې. لاندې جملې يې لولو

«روايت کېږي چې سعدالله خان د کاظم خان شيدا په ازار او تحقير لاس پورې کړ او مځکه يې ورته سره تبۍ کړه. کاظم خان شيدا غوښتل چې خپل ورور د هغه اشتباه ته متوجه کړي او ورته ووايي چې که چېرې لويان پرکشرانو حق لري، نو کشران هم بايد تحقير او سپک نه شي.

ګرداب وګوره درياب حلقه بګوش کا

هېڅ تحقير د صغير مه کوه کبيره

(۱: ۱۳۵)

له پورتني اقتباسه داسې برېښي چې د جهاني صيب معلومات په نسبي توګه د شيدا په هکله سطحي او ګونګ دي. مونږ دا منو چې دا معرفي لنډه ده، خو بياهم د يوې منبع له مخې خبره کول تردې چې (روايت کېږي) پخه او درنه معلومېږي. بله دا چې کوم بيت سعدالله خان ته د اشتباه د ورښودلو په هکله راوړل شوی، د ليکوال له جملو داسې معلومېږي چې دغه بيت په همغه حاضر حالت کې ويل شوی دی، خو داڅرګنده نه ده چې شاعر دا بيت په کوم وخت کې ويلی دی، په خپل وطن کې يا په هند کې. بله دا چې د شيدا ورور په ځينو اثارو کې چې نسبتاً مستند دي د (اسدالله خان) په نوم ياد شوی. ډاکټر حنيف خليل د شيدا پرديوان اووه‌دېرش مخه تحقيقي سريزه ليکلې او په هغه کې نوموړی د ميسټر راورټي له قوله وايي: «د هغه د پلار تروفات وروسته د ختيزو هېوادونو د راويت ترمخه مشري د هغه مشر ورور اسدالله خان په برخه شوه. اسدالله خان

محفوظه طریقه دا اختیار کړه، چې خپلو ورونو او نورو نارینه رشته‌دارو سره یې خپله چلن سخت کړ او کاظم خان شیدا په خپله ځوانۍ کې دغه سخت چلن و نه زغملی شو» (۲: ۷)

د بیت په هکله زما مطلب دا نه دی چې بیت له جملو سره سل فیصده په ټکر کې دی، بلکې دلته یو داسې احتیاط اړین ؤ چې د لوستونکي فکر د حاضر حالت سره سره، راتلونکي ته هم کش کړي. له دې وروسته جهاني صیب د شیدا پرانساني غرور او عالي همت بحث کړی دی او په مثالونو کې یې پرځای او مناسب بیتونه راوړي دي.

چې همت مې نه کا وير په هسکولو
لکه موج نه کړمه بيم له پرېوتلو

خو بېرته بیا په یوځای کې د لیکوال جملې د بیتونو سره مناسبې او پرځای نه برېښي. د بیلګې په توګه کله چې دی د شیدا له خولې د شعر پرشکل او مضمون خبره کوي او وایي چې شیدا د شعر له پاره رنګین الفاظ رحت و زیور بولي او زیاتوي چې که څوک د ښه شعر د لیکلو ارزو لري، نو په کارده چې مضمون او هم شکل ته متوجه وي. له دې جملو وروسته یې دابیتونه، چې پوره غزل دی راوړي دي.

دريده مې ګريبان ستړګې خونبارې
په ما وکړې خپل افتاب د سحر چارې

تر پایه .... دلته بیتونه د لیکوال د جملو سره پوره اړخ نه لګوي او ترڅنګ یې که دا بیتونه ورسره راوړي وای، چې د جملو محتوا سره سم او پرځای بیتونه دي.

«مضمون د شعر لکه پیکر وي
رنګین الفاظ یې رحت وزیور وي
ورته په کار دي دا دواړه توکه
مضمون که هرڅو دلربا تر وي»
(۲: ۶۷)

د لیکوال په خبره شیدا خپل شرین عمر د بل لپاره قرباني بولي او لکه شمع به د بل لپاره خپل ځان سوزوې او بل ته به رڼا ورکوې. شیدا د خپل ځان په یو رنګۍ دومره باوري دی چې سیده د خپل هدف پرلوري روان وي او بلې خوا ته مخ نه ګرځوي. د دې تشریح لپاره چې کوم بیتونه راوړل شوي دي ډېر په زړه پورې او مناسب برېښي، خو له هغو بیتونو دوه بیتونه داسې دي، چې په دې بیتونو کې د دویم بیت دویمې مسرې سرکې (هرطرف) ترکیب کې اشتباه شوې او په دیوان کې د (هرطرف) پرځای (لور په لور) ترکیب راغلی.

زه په سل رنګه یم مړ په ژوندانه کې
هرنفس مې لکه شمع سربازي ده

راست ګویان لکه مرأت شیداحیران دی

لور په لور د زمانې سخن سازي ده

د لیکنې په وروستۍ برخه کې جهاني صیب د شیدا د شعر یو خصوصیت دا ښودلی دی چې د شیدا شعر د نورو کلاسیکو شاعرانو په خلاف (معمولاً د کلاسیک غزل) چې بیتونه یې له یو بل سره په ارتباط کې نه وي او یوه موضوع نه تعقیبوي. زه په دې نه پوهېږم چې دا خبره به تر کومه سمه وي، خو ادبپوهان د نورو فورمونو څخه د غزل په بېلښت کې د نورو تر څنګ یوه ځانګړتیا دا هم خودلې ده چې د غزل بیتونه بیلابېل موضوعات تعقیبوي اوکیدای شي داکار د غزل په تغزلي اړخ پورې اړه ولري. په همدې اساس زه په دې برخه کې قضاوت نه شم کولی چې دا به د شیدا د غزل ښیګڼه وي او که نه، خو دومره ویلی شم چې که د غزل بیتونه هر یو بېله موضوع را ونغاړي ، خوند او رنګ یې لاسېوا کېږي. ډاکټر اقبال نسیم خټک د شیدا دغزل خصوصیات ترعنوان لاندې لیکلي«د شیدا په غزل کې هغه ټول خصوصیات په نظر راځي، چې په غزل کې یې موجودګي ضروري ګڼلی شي» (۸: ۲۷۱)

پوښتنه دا ده، چې په علمي توګه د یوې ژبې او ادب لپاره د کره او ناکره معلوماتو ګټې او زیانونه کوم دي؟ ژبه او ادب د ژوند له شرایطو سره سم یون کوي او د انساني ژوند په هکله هره نوې خبره د یوې زړې او پخوانۍ خبرې یا نظریې پربنسټ منځ ته راځي. همدا اوس چې په پښتو ژبه او ادب کې نوي بدلونونه وینو، سرچینه یې پخواني اثار او نظریات دي. که مونږ هماغه پخواني نظریات او معلومات په دقیق ډول راواخلو، نو زمونږ نوي معلومات به د پخواني فرهنګ اصلي انځور نورو ته په لاس ورکړي. که زمونږ لیکوال او څېړونکي د پخوانیو اثارو په هکله بې‌تفاوته پاتې شي او دقت و نه کړي؛ یو زیان یې دا دی چې پخواني معلومات به له ګډوډیو سره مخ شي او د څېړونکو ترمنځ به مخالفتونو ته لاره هواره شي. دویم زیان یې په خپله همغه اصلي لیکوال یا شاعر ته دی، چې دا د ده په حق کې ښکاره ظلم دی. د دې لپاره پکار ده چې دغسې متون د متني کره کتنې لاندې ونیول شي او د اصلاح هڅه یې وشي. «متني کره کتنه لوستونکی د متن له روموزو، معناګانو او قرینو سره اشنا کوي او د یو اثر د صحت او سقم په بارکې ژوره څېړنه کوي.» (۳: ۱۵۲)

**د څېړنې مېتود یا کړنلاره:** زما د څېړنې مېتود کتابي دی او ټو ل هغه مهم اثار چې زما د څېړنې اړوند وو، ما له خپل پلان سره سم کتلي او له هغو نه په استفاده مې د دې لیکنې منځپانګه ترتیب کړې. د مشکو کاروان په هلکه یا د یې ادبي تحقیقي تذکرې په هکله دا لومړۍ ځل دی چې له داسې یو کتاب سره مخ کېږم، داسې یو کتاب چې د تېروتنو په هکله یې کومه کره کتنیزه لیکنه یا خو شته نه، که بیا وي نو ماته په نظر نه ده راغلې. همدا وجه ده چې په دې لیکنه کې ما زیاتره له عمومي کره‌کتنیزو اثارو استفاده کړې

**پایله**

په پایله کې پرهغو بیتونو تم کېږو چې جهاني صیب په خپل کتاب کې د خپل نظر د پخلي لپاره راوړي دي. دا بیتونه بېلابېل دي، خو په شکلي لحاظ ډېرې تېروتنې پکې شوي دي، چې دغه تېروتنې په دوو برخو وېشلی شو.

۱ - هغه کلمات چې نوموړي د دیوان خلاف په خپله لهجه راوړي دي.

۲ - هغه کلمات چې لیکوال بیخي په بېله بڼه لیکلي دي.

دلته د همدغو بیتونو مسلسلې نمونې راړو او له اضافي خبرو څخه صرف‌نظر کوو، خو دومره باید ووایو چې د لیکوالو په لیکنو او د شاعرانو په شعرونو کې د متني تحقیق د اصولو له مخې دا اجازه نشته چې مونږ خپله سلیقه او خپله لهجه پرهغو وروتپو او په هغه کې دومره بدلون راولو چې د اثارو تاریخي ارزښت ته تاوان پېښ کړو، ځکه کېدی شي د پښتو ژبې او ادب څوانو لارویانو ته ګرانه شي، چې د یو لیکوال یا شاعر پر اصلي متن په راتلونکي قناعت وکړي او ووایي چې دا د هغه شاعر یا لیکوال اثر دی، چې په همغه وخت او شرایطو کې یې لیکلی، په کوم وخت کې هغه ژوند کړی. لاندې بېلګې یې ولولئ

دیوان

اعتماد نشته په کار د اسمان ځکه
چې له اوجه یې نمر وویشته په مزکه

کتاب

اعتماد نشته په کار د اسمان ځکه
چې له اوجه یې غر وویشتی په مځکه

په پورته بیتونو کې لیکوال (وویشته) کلمه په خپله لهجه (وویشتی) راوړې او همدا رنګه د (مزکه) کلمه یې په (مځکه) لیکلې ده، چې دلته لیکوال خپله لهجه کارولې ده او هم یې د (نمر) کلمه په (غر) اړولې ده چې دا په څېړنه کې د اصولو خلاف کار دی، ځکه چې د متن اصلي څېره زموږ نه پټه شي او له لوستونکي د شاعر سبک او دهغه ځانګړنې ورکې شي. استاد اجمل ښکلی په خپل کتاب (ادبستان) کې د متن املایي بدلون ترعنوان لاندې لیکي: «تاریخي اصالت د متن د تاریخي ماهیت نمایندګي کوي. په تاریخي اصالت کې د متن د ایجاد د مهال ټولې ځانګړنې راتلی شي مثلاً: نېټې اشخاص، د ځایونو نومونه، موضوعات، د هغه مهال مروجه ژبه، لهجه، ګرامري رغښتونه، سبک او ... که د متن په دغو تاریخي ځانګړنو کې ګوتې ووهل شي، د متن اصالت به له شک سره مخ شي. (۵: ۱۹۳)

دلته د مشکو کاروان ځيني بيتونه د شيدا له ديوان سره پرتله شوې او وېې لولئ

ديوان

په هرلور لکه حباب خانه بدوش ځي

که شيدا شو آوره له خان و مانه

کتاب

په هر لور لکه حباب خانه بردوش ځي

که شيدا شو اوره له خان و مانه

ديوان

د سيلاب په دوش روان لکه حباب شوې

اې زما کوره ترما آوره تر يې

کتاب

د حباب په څېر د سيل په دوش روان شوې

اې زما کوره ترما آوره تر يې

ديوان

لايې ژبه په هردم له تندي وځي

که هر څو دي ستا د ملا تورې ابدارې

کتاب

لايې ژبې په هر دم له تندي وزي

که هر څو دي ستا د ملا ثورې ابدارې

ديوان

پرې مې سترګې منورې لکه نمر شوې

خط دې واړه شعاعي وه خوشنکارې

کتاب

منوريې لکه لمر زما چشمان کړل

خط دې واړه شعاعي و خوشنکارې

د ښاغلي عبد الباري جهاني دغه کتاب چې د تحقيقي تذکرې نوم هم ورکړی شوی دی، پنځوس مختلف شاعران يې معرفي کړي دي چې يو پکې کاظم خان شيدا هم دی. په دې کتاب کې ما يوازې د شيدا په هکله چې کوم معلومات وړاندې شوي، ولوستل. په ليکنه کې موضوعي او شکلي تېروتنې شوي دي، چې موضوعي تېروتنې يې د شيدا د ژوند په معلوماتو پورې تړلې دي. په دې مانا چې دغه معلومات سطحي او ګونګ دي، بله

دا چې معلومات مستند نه دي او هیڅ کومې منبع ته پکې اشاره نه ده شوې، په داسې حال کې چې د شیدا د بشپړې پیژند ګلوۍ خبره تراوسه نهایي حل نه لري او مختلفو پوهانو یې په هکله بېل بېل نظریات لري.

که څه هم د (مشکو کاروان) کتاب کې چې د شیدا په هکله څه ویل شوي هغه په خپله د شیدا دیوان تدوین نه دی چې لیکوال هرڅه پرشیدا ورتوان کړي دي، بلکې دا د شیدا په هکله د یو ادبپوه خبرې دي او خلک یې په مینه او پوره باور لولي، نو موږ ویلی شو چې د کلاسیکو متونو هره یوه ټوټه چې لیکو، باید دقیق واوسو او په همغه بڼه یې ولیکو، ځکه ژبه د لیکوال یا شاعر سبک ته تشخص ورکوي. «د توریو تلفظ، متلونه او شعرونه ویل ویناوال طبقبه‌بندي کوي او موږ ته ښیي چې له کومې طبقې سره تړاو لري»(۷: ۷۵)

په کتاب کې چې کوم بیتونه نقل شوي دي د شکل له مخې یې په ځینو الفاظو کې څرګند ټکر لیدل کېږي، د ځینو بیتونو الفظ یې د خپلې لهجې په تأثر لیکلي دي، لکه: (وویشته) (وویشتی) (مزکه) (مځکه)(نمر) (لمر)....
د ځینو بیتونو نیم بیتي په بشپړ ډول په یوۀ تغیر سره راغلي دي. لکه لاندې نیم بیتي

دیوان

«پرې مې سترګې منورې لکه نمر شوې»

کتاب

«منورېې لکه لمر زما چشمان کړل»

**وړاندیزونه**

۱ - کتاب د شکل او موضوع له مخې ځیني نیمګړتیاوې لري او په راتلونکي کې یې سمون ته اړتیا لیدل کېږي. که څه هم په دې کتاب کې ما یوه لیکنه ولوسته، خو داسې بریښي چې کتاب به په ځینو برخو کې هم هرومرو تېروتنې ولري.

۲ - متني کره کتنه مونږ ته دا رازده‌کوي چې د لویو لیکوالو او شاعرانو له متونو سره باید انصاف وشي او د تألیف، تدوین او څېړنې پروخت باید اصل متن لوستونکو ته وړاندې شي. «متني کرکتنه د تاریخي کره کتنې په څېر متون د وخت له شرایطو سره سم تر مطالعې لاندې نیسي او په هغه کې د یو متن د اصل په باره کې څېړنه کوي.» (۴: ۷۶)

۳ - بله مهمه خبره دا ده چې که زمونږ مشران معاصر لیکوالان په دې برخه کې دقیق نه شي، نو په راتلونکي به د کره معلوماتو پرځای ناکره معلومات ځوان نسل ته په میراث پاتې شي او د پښتو ادب اصلي څېره به د زمانې په غبار کې پټه او د اختلافاتو ښکار شي. د استاد اسدالله غضنفر د سمې زده‌کړې دوه شرطونه ترعنوان لاندې د یوې لیکنې د سر جمله داسې ده: «توماس جفرسن د امریکا د خپلواکۍ د اعلامیې یو لیکونکی او د دغه هېواد دریم ولسمشرۀ ده ویلي وو هغه سړی چې هېڅوخت مطالعه نه کوي، ترهغه چا تعلیم‌یافته راښکاري چې یوازې اخبارونه لولي» (۶: ۳۰۴)

۴ - جهاني صيب زمونږ د هېواد لپاره نه يوازې يو ښه شاعر دی، بلکې يو وتلی ادبپوه او ژورنالېست هم دی. دی د ځوان نسل لپاره يوه لاره ده، نو په کار ده، هغه اثار چې نوموړي د بوختياوو پرمهال ليکلي، بايد له سره پرې کتنه وشي او تېروتنې يې اصلاح شي.

**مأخذونه**


۱ – جهاني، عبدالباري. (۱۳۹۶ل.ل. د مشکو کاروان، (درېيم چاپ). کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

۲ – حنيف، خليل. (۱۳۹۳ل.ل). د کاظم خان شيدا ديوان. کابل: داشن خپرندويه ټولنه

۳ – روهي، محمدصديق. (۱۳۸۶ل.ل). ادبي څېړنې. پېښور: داشن خپرندويه ټولنه

۴ – زهير ظاهرشاه. (ناچاپ). په پښتو ادب کې د کره کتنې پرتليز جاج

۵ – ښکلی، اجمل. (۱۳۹۶ل.ل). ادبستان. جلال اباد: کلاسيک خپرندويه ټولنه

۶ – غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۶ل.ل). څراغ. جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه

۷ – مبارک علي. (۱۳۹۵ل.ل). علم او تاريخ. ژباړن: بارکوال مياخېل. کابل: دانش خپرندويه ټولنه

۸ – نسيم ختک، اقبال. (۱۹۹۱م). د رنګ‌اوبو قافله. پېښور: يونيورسيټي بک ايجنسي

۹ – همکار، محمد ابراهيم. (۱۳۹۳ل.ل). ادبي کره کتنه. جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه

# په پښتو ژبه کې د پورويزونو کارېدنګ اړتيا

ليکونکی: پوهنمل ګل احمد محبت، شيخ زايد پوهنتون، ژبو او ادبياتو پوهنځي، پښتو څانګې استاد
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی مياولي شاه مياخېل د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې استاد

**لنډيز**

په دغه څېړنه کې جوتېږي، چې په پښتو ژبه کې د پورويزو کارولو ته څومره اړتيا ده. پښتو ژبه چې په کور دننه توليد نه لري او د علم ژبه نه ده، نو د اړتيا تر کچې بايد د نورو ژبو ويونه وکاروي، چې خپل وجود پرې غني کړي. ياده څېړنه موږ ته ښيي، چې د اړتيا تر کچې بايد په پښتو ژبه کې د بلې ژبې ويونه وکاروو او په دغه برخه کې افراط او تفريط ونه کړو.  که موږ په خپلو زړو متونو کې يا د پښتو ژبې په مختلفو ګړدودونو کې پښتو ويی لرو، بايد ويې کاروو، خو کله چې مناسب پښتو ويی ونه لرو، مجبور يو د بلې ژبې ويې په پور واخلو. په دې څېړنه کې دا خبره واضحه کېږي، چې بايد په پښتو ژبه کې د بلې ژبې ويونه په داسې قانوني او معياري کچه وکارول شي، چې نه سيخ وسوزي او نه کباب. دا يوه ساحوي څېړنه ده، چې د مرکې له ميتوده پکې ګټنه شوې ده.

**کليدي ټکي**

پښتو ژبه، پورويزی، پښتو ژبې اړتيا، ګرويزی، تېرويزی.

**سريزه**

د نړۍ هيڅ يوه ژبه که هر څومره پرمختللې وي، بيا هم په خپل ځان بسيا او متکي نه ده  او اړه ده، چې له خپلو ګاونډيو ژبو يو څه واخلي او يو څه ورکړي [۱].

زما په اند څنګه چې پښتانه د علم، تخنيک او اقتصاد له اړخه وروسته پاتې دي او تل د نورو لاس ته ناست وي، په همدې ډول يې ژبه هم د نړۍ د نورو پرمختللو ژبو لاس ته ناسته ده او د خپل وجود د علمي او مانيزې غنا لپاره له يادو ژبو ويونه اخلي.  خو په پښتو کې کله کله له نورو ژبو د ويونو اخيستل په دومره کچه وي، چې له اړتيا واوړي او کله کله يې پر وړاندې دومره عنادي چلند کېږي، چې د اړتيا تر کچې هم اجازه نه ورکول کېږي. نو اړينه ده، پوه شو چې په پښتو ژبه کې د تر کومې کچې د بلې ژبې ويونه کارولې شو  او په دغه برخه کې بايد د افراط او تفريط مخه ډپ کړو. که په پښتو ژبه کې له اړتيا پرته د بلې ژبې ويي کارېږي او يا د اړتيا په صورت کې په پښتو ژبه کې د بلې ژبې د ويي کارېدنګ مخه په عنادي ډول نيول کېږي، دا چلند معياري نه دی او بايد پر وړاندې يې مسلکي او معياري چلند وشي.

**د څېړنې د اختیارلاملونه**

۱: په پښتو ژبه کې لیکوال له پورویزونو سره ناسم چلند کوي. د دې لپاره چې څرګنده شي، د پردیو ژبو ویونو ته زموږ په ژبه کې اړتیا ده، نو ځکه مې وغوښتل چې دا څېړنه وکړم.

۲: پښتو ژبه له پورویزونو پرته خواره او کمزورې ده، نو باید ثابته کړو، چې ژبه پورویزونو ته اړتیا لري، په همدې پار دا څېړنه ترسره شوه.

۳: دا څېړنه نوې ده، ځکه د حالاتو د غوښتنې مطابق د ژبې له متخصصینو سره ترسره شوې ده.

**د ستونزې وړاندې کول**

په پښتو ژبه کې د پورویزو کاریدنګ پر وړاندې د کاروونکو چلند معیاري او علمي نه دی. یو شمېر د پښتو ژبې خواخوږي، په غیر علمي او غیر معیاري ډول د خپل شخصي عناد له مخې، له پښتو ژبې د نورو ژبو ویې وباسي، چې له دې سره ژبه خوارېږي او منزوي کېږي، په داسې حال کې چې د نړۍ پرمختللې ژبه چې انګلیسي ده، په خپل ځان کې یې د نورو ژبو خورا ډېر ویونه حل کړي دي[۱].

**موخې**

له دغې څېړنې موخه دا ده، چې په پښتو ژبه کې د نورو ژبو ویونو د کارېدنګ اړتیا ثابته کړو. یعنې چې پښتو ژبه اړتیا لري، چې د نورو ژبو ویونه واخلي، که نه پر خپل ځان بسیا ده؟

**تېرو لیکنو ته کتنه**

پورویزونه، مستعارلغتونه او دخیل ویونه هغه ویونه دي، چې له نورو ژبو یوې ژبې ته راننوتي وي. له دغه ډول ویونو څخه د نړۍ هیڅ یوه ژبه هم خوندي نه ده. د قومونو او قبیلو ترمنځ اړیکي، تګ راتګ، تجارتي روابط او نور نږدېکتونه په ژبه کې د دغه ډول ویونو د راتلو سبب او دلیل کېدای شي. په پښتو ژبه کې هم دا ډول ویونه په پرېمانه کچه موندی شي[۲].

د نړۍ هیڅ یوه ژبه په مجرد ډول د ویلو او پایښت قابله نه ده. قومونه او قبیلې چې په جغرافیایي ډول یو د بل تر څنګ اوسي، د دوی د اړیکو او راشې درشې په پایله کې یې ژبې یو له بله اغېزمنې کېږي. د دغو اغیزو او تاثیراتو پایله دا وي، چې له یوې ژبې بلې هغې ته ویونه ورځي، چې د یوې ژبې ویونه په بلې هغې کې د پورویزي په ډول کارېږي. په دغو جغرافیایي مجاورتونو کې بیا هغه ژبې له نورو ژبو ډېر ویې یا پورویزي اخلي، چې یوه متفقه واحده معیاري ژبه ونه لري او ویونکي یې نالوستي وي[۳].

پورویزونه له نورو ژبو پښتو هغې ته په درې ډوله راننوتي دي. لومړی ډول یې هغه دی، چې له یوې ژبې موږ کټ مټ را اخیستي او هیڅ جولیز او مانیز بدلون مو نه وي ورکړی لکه؛ د انګرېزي Democracy چې موږ یې

په پښتو کې هم کټ مټ ډیموکراسي او په همدې مانا کاروو. یو شمېر بیا داسې دي، چې خپله مانا یې ساتلې وي؛ خو شکل او جوړښت یې بدلون موندلی وي، لکه د عربي ژبې صلح، چې موږ د همدې مانا لپاره د سولې ویی کاروو. دریم ډول یې هغه دي، چې شکل او مانا یې دواړه موږ کړلي دي، لکه په عربي ژبه کې معصوم د پاک او بې ګناه لپاره کارول کېږي؛ خو موږ په پښتو ژبه کې دغه معصوم د ماشوم په شکل د کوچني لپاره کاروو او یا حیوان په عربي کې د چارپای لپاره کارول کېږي؛ خو موږ یې په پښتو ژبه کې د ماشوم لپاره د ایوان په بڼه کاروو[۴].

د نړۍ هیڅ یوه ژبه له پوروېزونو څخه خوندي او بې نیازه نه ده. هغه څوک چې فکر کوي، په یوې ژبې کې دې د بلې ژبې ویی نه وي، محاله خبره ده. یعنې که د یوې ژبې پیکر له څلورو لویو اندامونو رغېدلی وي، په هغو څلورو کې یې له نورو سره یو مساوي اندام پوروېزونه دي. هر څومره چې په یوه ژبه کې د پوروېزونو شتون او کارېدنګ اړین دی، همدومره یې په اړه مسلکي چلند ته هم اړتیا ده. په دې معنا چې په ژبه کې د پوروېزونو کارېدنګ د اړتیا تر کچې په کار ده، نه چې له خپل حد او اندازې واوړي او اصلي ژبه تر خپل سیوري لاندې راولي.

د هیڅ یوې ژبې له پوروېزونو پرته نه رغېږي او بویه چې د ژبې په اډانه کې د پوروېزونو تشه ډکه شي؛ خو پوروېزونه هم د وخت او مهال په تېرېدو سره په ژبه کې راټوکېږي او مري. د بېلګې په توګه یو وخت په پښتو ژبه کې د عربي ویونو کارېدنګ ډېر و، چې یا د ذوق له مخې کېده او یا د مهال اړتیا وه، وروسته د انګرېزي، روسي، اردو، هندي او نورو ژبو ویونو په قراره قراره خپل ګراف په پښتو ژبه کې لوړ کړ.

ښه دا خبره دقیقه او کره ده، چې په هرې ژبې کې د نورو ژبو ویونو ته قانون جواز ورکړی او هیڅوک نه شي کولی، چې له مسلکي چلند ورهاخوا دغه ویونه د خپلې ژبې له کروندې وشړي؛ خو کله چې په یوې ژبې کې د نورو ژبو ویونو ته ځای ورکول کېږي، پوښتنه پیدا کېږي، چې په ژبه کې به دغه ویونه کټ مټ خپل لفظي او معنوي ارزښت ساتي که به یې بایلي؟ لکه مخکې مو چې وویل، ډېر شمېر ویونه له یوې ژبې بلې هغې ته له لفظي او معنوي امانتدارۍ سره راننوځي او یو شمېر یې د دغې ژبې د ویونکو له لوري تراشل کېږي او تر ډېره یې لفظي جوړښت او معنوي پیکر صیقل کېږي.

پښتانه چې کابو سل سلنه مسلمانان دي او د دین او مذهب ژبې (عربي) سره دیني اړیکي لري، په پښتو کې یې هم د پوروېزونو غوښنه برخه د عربي ژبې ویونه دي. څه ډول چې په پښتو کې د عربي ژبې یو شمېر فونیمونه نه شته، نو پښتنو د خپلو پښتو غږنونو لباس وراغوستی دی، لکه قران ته کران ویل، حق ته حک ویل، ثواب ته سواب ویل، اصطلاح ته ایستلا ویل، عاق ته حق یا حک ویل، طلاق ته تلاک ویل ...، چې دا چار تر ډېره د پښتو د ګړدودونو په ګړنۍ برخه کې تر سترګو کېږي، خو په لیکنۍ برخه کې بیا د ژبې متخصصینو ورته یو شمېر ارونه معیارونه ټاکلي، چې باید پاملرنه ورته وشي.

هغه عربي کلمې چې مذهبي ارزښت لري، باید هماغسې ولیکل شي، لکه څنګه چې په عربي ژبه کې لیکل کېږي. ځکه د دغه ډول ویونو تغیر مانیز بدلون رامنځته کوي او هغه تقدس چې لري، زیانمنوي یې. لکه ایمان، حج، قرباني، حق، صدقه، مسحه، اذان، سجده، رکوع، طلاق، عاق، قبله، رسول، قران او نور.... بل له عربي څخه راغلي هغه ډول پورویزونه دي، چې پښتو پرې خپل فونولوژیک قانون عملي کړی او اړول یې ګناه نه لري. دا ډول ویونه که له منل شوي فونولوژیک بدلون سره ولیکل شي، بده نه ده. لکه: خلق، قمیص، معنی او معنوي؛ چې پښتو شوي شکلونه یې خلک، کمیس، مانا او مانیز دي[۵].

په ورته ډول د عربي او پارسي ژبو یو شمېر نور پورویزي کټ مټ له یادو ژبو زموږ ژبې ته راننوتي دي او موږ په عادي محاوره کې دغه ویونه په خپل اصلي عربي او پارسي شکل نه شو ادا کولی؛ که د خپلې ژبې فونولوژیک ژغ پرې کښېږدو، ښه ده او لازمه ده چې په لیکنه کې یې هم په هغه شکل ولیکو، چې، څنګه یې په عامه محاوره کې وایو. لکه معلوم، خوشحال، تسبیح، ګناه، ګمان، هنر د مالوم، خوشال، تسبې یا تسپې، ګونا، ګومان، هونر، دوښمن په شان و وایو او ولیکو[۶].

خو له عربي ژبې سره زموږ د مذهبي تړښت له امله، یو شمېر څېړونکي دې ته زړه نه ښه کوي، چې په پښتو ژبه کې عربي کارېدونکي پورویزي د پښتو ژبې فونولوژیک ژغ ومني. د دوی په اند چې دغه ویونه په عربي ژبه کې څنګه ویل کېږي، باید په پښتو ژبه کې هم کټ مټ وویل شي، برابره خبره ده، که هغه مذهبي او دیني تقدس لري او که یې نه لري. لکه په عربي کې غصه، معنی، صحیح، صلح، خفه او قبر باید په دې بڼې ونه لیکو: غوسه، مانا، سیي، سوله، خپه او کبر[۷].

له عربي ورهاخوا یو شمېر پورویونه چې له نورو ژبو راغلي، سر بېره پر دې چې په یوه مانا کارول کېږي؛ خو په وینګ کې یې ستونزې دي. د بېلګې په ډول هغه ویونه چې له انګلیسي ژبې پښتو ته راغلي، د پښتنو ترمنځ یې په اداینه کې توپیرونه لیدل کېږي او لازمه ده، چې په دې برخه کې یووالی راشي. د بېلګې په ډول موږ یې انتي بیوتیک، کلتور، ډیموکرات، سوسیالیزم او انټرناسیونالیزم بولو؛ خو د لرې پښتونخوا پښتانه یې انټي بیاټیک، کلچر، ډیموکرېټ، سوشیلیزم او انټرنشنلزم بولي[۵].

له پورتني لنډ بحث وروسته بېرته دې خبرې ته ورګرځو، چې په پښتو ژبه کې پورویونو ته د څومره کارېدنګ اجازه ورکړو؟ په هغه صورت کې چې زموږ د ژبې له پورویونو پرته نه رغېږي، اړینه ده، چې له پوروېزونو څخه کار واخلو او دا خبره کره ده، چې له پوروېزونو پرته د پښتو نه رغېږي. هوتک په ۱۳۹۰ کې د رشاد له قوله وویل: نه په دنیا کې مجرد قوم شته او نه کومه مجرده ژبه، عربي ژبې ته وګورئ، چې قران پکې نازل دی؛ خو بیا هم پکې اتلس توري غیر عربي دي[۸].

کله چې په ژبه کې د نورو ژبو ویونو کارولو ته اړتیا موجوده ده او دا خبره سپینه شوه، نو بیا دا پوښتنه پیدا کېږي، چې په یوې ژبې کې د بلې ژبې ویونه څومره او په کومه کچه کارول جواز دي؟ په دې اړه علمی نظر دا دی، چې یوه ژبه کولی شي، چې تر پنځه ویشت دېرش سلنې (۲۵٪ - ۳۰٪) د بلې ژبې ویونه وکاروي[۹].

**د څېړنې کړنلار**

دا یوه کیفي څېړنه ده، چې له (Purposive) یا قضاوتي او نمونې اخیستلو میتوده پکې کار اخیستل شوی دی. د معلوماتو د راټولولو په پار د مرکې له تکتیک څخه ګټنه شوې ده. د څېړنې موخو ته په کتو دوه یم لاس معلومات په سیستماتیک ډول د تېرو اثارو له کتنې ترلاسه شوي او د لومړي لاس معلوماتو تر لاسلو په پار د ژبې له شلو تنو مسلکیانو سره مخامخ، په موبایل او سکایپ مرکې شوې دي. د څېړنې دغه شل تنه ګډونوال هغه کسان غوره شوي وو، چې د هېواد په کچه په پوهنتونو کې د پښتو ژبې استادان دي. د مرکې پر مټ دغه راټول شوي او ثبت شوي معلومات ( Qualitative Contents analysis) تحلیل او تجزیه شول چې د اندازه کولو واحد یې خبره وه. د څېړنې ګډنوالو د معلوماتو په تحلیل کې د هر ګډونوال لپاره د (ګ) توری کارول شوی دی.

**د څېړنې پایله**

شلو تنو ګډونوالو په یوه خوله وویل، چې په هغه صورت کې چې موږ د خپلې ژبې په مختلفو لهجو او زړو متونو کې د مفاهیمو د ارایې لپاره مناسب ویونه لرو، نو نه ده په کار، چې د بلې ژبې ویونه په پور وکاروو. باید له خپلو لهجوي او د زړو متونو له ویونو ګټنه وکړو. د بېلګې په توګه (ګ۱: لومړی باید موږ خپله ژبه وپلټو، کله چې زموږ په ژبه کې خپل ویونه وي، باید هماغه وکاروو. ګ۲: لومړی باید زاړه متون او لهجې ولټوو. مثلا کله چې موږ په زړو متونو کې د ممبر او موقف لپاره د دریځ کلمه لرو، بیا څه اړتیا ده، چې موږ دې د ممبر او موقف پورویزي کاروو؟ ګ۳: کله چې موږ د خپلې ژبې په زړو متونو او ګړدودونو کې خپل آر او اصیل پښتو ویې لرو، مناسبه نه ده، چې پر ځای یې پورویزي وکاروو. زه به یو مثال درکم. که زما په کور کې د واده پروګرام وي او زه د مېلمنو د سمبالښت لپاره بسترې او لوښي لرم، نو ولې یې له خپل ګاونډي په پور وغواړم؟ ګ۴: په هغه صورت کې چې موږ په خپلو زړو متونو او لهجو کې د پښتو ژبې خپل ویې ولرو، پکار ده، چې د پورویزي پر ځای هماغه ویې وکاروو. ځکه دا زموږ د ژبې له اډآنې او ګرامري جوړښت سره ډېر ښه اړخ لګوي. ګ۷: موږ خپله هم په زړو متون او مختلفو لهجو کې ډېر خواږه ویونه لرو، خو بدبختانه یو شمېر خلک چې غواړي ځان نورو ته ماډرن او تعلیم‌یافته وښیي، په لوی لاس د خپلو اصیلو ویونو پر ځای د بلې ژبې ویونه کاروي، چې دا ښه کار نه دی. ګ۸: موږ په خپلو لهجو کې ښه ویونه لرو. لکه موږ د ښهرک پر ځای ، ولې له خپلو لهجو د مېنې کلمه نه کاروو؟ ګ۱۸: مثلا موږ د پښتو ژبې په لهجو کې یو ښکلی پښتو نوم لرو، نو مناسبه نه ده، چې پر ځای یې د بلې ژبې پورویزی وکاروو. د بېلګې په توګه د سوات د خلکو په لهجه کې د الوویرا لپاره د کمال پاڼې نوم کارېږي، نو څومره ښه ده، چې موږ پښتانه د الوویرا پر ځای ورته کمال پاڼه ووایو؟

په هغه صورت کې چې موږ د خپلې ژبې خزانې ته سر ورښکاره کړو او بیا هم خپل اصیل ویی ونه مومو، نو بیا به څه کوو؟ ایا د نورو ژبو ویونه به کاروو، که به په خپله ژبه کې د نیولوجیزم لمن نیسو؟ د شلو تنو ګډونوالو له ډلې یې دوه تنه په مطلق ډول د پردیو ژبو له ویونو یا په پښتو کې د پورویزونو له کارولو سره مخالف دي. د دوی په اند چې په پښتو ژبه کې د پردیو ژبو ویونه کارول نامناسب او غیر معیاري چلند دی چې باید مخه یې ونیسو. ګ ۵: اوس مهال په پښتو ژبه کې د پردیو لغتونو کارېدنه په ډېره بې رحمي او سپین سترګي سره مخ په وړاندې روانه ده. زموږ خلګ په شعوري او لاشعوري ډول دپردیو لغتونو یادول او په ژبه کې کارول کمال بولي. په اوس وخت کې د پردیو لغتونو سیلاب زموږ په ژبه راروان شوی دی، چې مخنیوی یې زموږ او تاسو دنده ده. ګ ۸: په اوس خو بېخي ګډوډې ده. زموږ په ژبه کې د پردیو ژبو ویونه ډېر کارېږي.

خو په ورته وخت کې بیا اتلسو ګډونوالو ویلي؛ کله چې موږ په پښتو ژبه کې خپل خوږ، ار او اصیل ویی نه لرو، نو اړینه ده، چې له نورو ژبو پورونه وکړو. لکه چې زموږ په ژبه کې د نورو ژبو ډېرو ویونو ځان ته ځای موندلی دی. دغه ویونه زموږ په ژبه کې خپل ارزښت لري او ورته اړتیا ده چې وکارول شي. د پورویزو پر وړاندې عنادي چلند کول، علمي چلند نه دی او نه د ژبې له اډانې د پورویزو په شړلو زموږ ژبه غني کېږي. په هغه صورت کې چې موږ د بلې ژبې ویونو ته اړتیا لرو، باید ویې کاروو. دوی په دې اند دي، چې پښتو ژبه د پردیو ژبو پر ویونو غني او سرشاره ده او که دغه ویونه ترې یو مخ وباسو، ژبه به ډېره خواره او ډنګره شي، نو لازمه ده، چې په پښتو ژبه کې د نورو ژبو ویونه د اړتیا تر کچې وکاروو. د بېلګې په توګه:

ګ۱: په پښتو ژبه کې ډېره اړتیا ده، چې پردي لغات خپل کړي. د بېلګې په توګه: په علمي ډګر کې یو شمېر مفاهیم دي، چې موږ یې د ارایې لپاره په پښتو کې لازم او مناسب ویی نه لرو. ګ۴: زموږ په ژبه کې د پورویزو د کارېدنګ خورا ډېره اړتیا ده. ځکه زموږ ژبه د علم، اقتصاد او سیاست ژبه نه ده. کله چې موږ وروسته پاتې یو، نو ژبه مو هم وروسته پاتې ده او باید چې د پرمختللو ژبو ویونه پکې وکاروو. ځکه له دې پرته زموږ ژبه نیمګړې ده. ګ ۱۰: په پښتو کې هم د نورو ویونو کارېدنه، له ګلوبلایزېشنه ډېره متاثره ده. زموږ اقتصادي حالت هم خراب دی. موږ تولېدوونکي نه یو. اړینه ده، چې موږ دې د نورو ژبو پورویزي وکاروو. ګ ۱۳: د ټولو ژبو ویونکي په علمي، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي لحاظ له یو بل سره روابط لري، نو پښتانه هم د دغو روابطو په رڼا کې مجبور دي، چې په خپله ژبه کې پورویزي وکاروي. یعنې چې دا زموږ اړتیا ده او ځکه مو اړتیا ده، چې که موږ پورویزی ونه کاروو، زموږ ژبه منزوي کېږي او له منځه ځي ګ ۱۵: په انساني ټولنو کې اړیکي او ارتباطات تل یو پر بل اغېزې لري. د نړۍ په ټولو ژبو کې پورویزي دود دي، نو پښتو ژبه هم اړه ده، چې په خپله اډانه کې د نورو ژبو ویونو ته ځای ورکړي او خپل وجود پرې غني کړي، ځکه دا زموږ د ژبې اړتیا ده او د نړۍ هیڅ یوه ژبه له دغې اړتیا بې نیازه نه ده. ګ ۱۶: هره ژبه اړه ده، چې د نورو ژبو ویونه په خپل ځان کې حل کړي او د خپل وجود اندامونه ترې ورغوي. یعنې په پښتو ژبه کې د پورویزونو کارول اړتیا ده او که موږ یې پر وړاندې عنادي چلند وکړو، ژبه زیانمنه کېږي. ګ ۱۷: د ساینس او تخنیک له دومره پرمختګ سره اړتیا ده،

چې په پښتو ژبه کې موږ پوروېزي وکاروو. ځکه نړۍ د پرمختګ په حال کې ده او موږ تر د نورې نړۍ له پرمختګه اغېزمن کېږو، نو ژبه مو هم اغېزمنه کېږي.

**مناقشه**

د نړۍ هیڅ یوه ژبه پر خپل ځان بسیا او له پورویزونو بې نیازه نه ده. پښتانه چې د تولید او صنعت له پلوه وروسته پاتې قام دی او د ژوند په هر ډګر کې د نورو لاس ته ناست دي، همدغسې یې ژبه هم وروسته پاتې او د نورو ژبو تر تاثیر او اغېز لاندې ده. موږ پر خپل کور تولید نه لرو، نو مجبور یو چې د نورو تولیداتو ته کېنو او هغوی یې له خپلو نومونو سره پر موږ ومني. له دې ورهاخو موږ دومره علمي خلک نه یو او نه مو ژبه علمي ده، چې پر ځان دې بسیا وي. پښتو ژبه د نړۍ پرمختللو ژبو ته محتاجه ده او باید چې د دغو ژبو ویونه په خپل ځان کې حل کړي. خو دا هر څه د اړتیا تر کچې پورې جواز دي. یعنې که موږ په خپله ژبه کې د یوې پدیدې لپاره مناسب ویی نه لرو، په کار ده چې له بلې ژبې یې واخلو، که یې وانه خلو، زموږ ژبه نیمګړې ده.

خو کله کله داسې کېږي، چې موږ دې په خپله ژبه کې ښه او مناسب خواږه ویونه ولرو، بیا هم یو څوک په لوی لاس د بلې ژبې ویونو ته د پور لاس غزوي، چې دا له خپلې ژبې سره جفا او غیر معیاري کار دی. دا کار تر ډېره زموږ له یو شمېر لوستو او قلموالو سر وهي. چې فکر کوي، دوی ژبې ته خدمت کوي، خو دې ته یې پام نه دی، چې دا کار یې د ژبې لپاره زهر قاتل دی. لودین په ۱۳۹۵ل یو سرلیک داسې کښلی دی. ( د ژبې او تفکر د تناسب پرابلم) [۱۰] اوس فکر وکړئ! که د پرابلم پر ځای ستونزه لیکل شوې وه، ښه به وه. موږ منو؛ چې په ژبه کې پورویزونو ته اړتیا شته؛ خو د دغه ډول پوروېونو کارول ، چې د ژبې اصیل او آر مال له منځه وړي او ځای یې دغسې نامانوسې او بېخونده کلمې نیسي مناسب کار نه دی. بویه چې لیکوال خپلې لیکنې په ډېر دقت او ځیرنې سره وکړي، ځکه له دقت او ځیرنې پرته په لوی لاس خپله ژبه د فرهنګي یرغلونو په سېلاب لاهو کول دي او بس!

کله چې موږ په خپله خوږه پښتو کې خوږ او پوست ویی لرو او په ژبه کې یې نه کاروو او پر ځای یې د بلې ژبې ویی کاروو، داسې ده لکه د چا د کور په المارۍ کې چې کاچوغه ایښې وي او دی خپل زوی په کلي کې ګرځوي چې له خلکو ورته په پور کاچوغه راپیدا کړي. خو دا خبره هم باید ومنو، چې ژبه له پورویزونو پرته هیڅ نه ده او د نړۍ هیڅ یوه ژبه نه شته ده، چې د نورو ژبو ویونه دې پکې نه وي

د پوروېزونو په برخه کې، که د هرې ژبې وي، پر وړاندې یې عنادي چلند نه دی پکار، باید د اعتدال او برابرۍ لار ونیول شي. نه دې ژبه یو مخ د پوروېزونو سېلاب ته ورپرېښودل کېږي او نه دې په عنادي ډول له ژبې د نورو ژبو ویونه شړل کېږي. د مسلکي پوهانو او د متخصصینو پرېکړو ته دې احترام وشي ، چې ۲۵٪ شاوخوا دې په پښتو کې د پوروېزونو کارېدنګ قانوني او مجوز وي[۹].

پښتو ژبه د نړۍ د یوې ژوندۍ ژبې په توګه اړتیا لري، چې له نورو ژبو ویونه په پور واخلي. له نورو ژبو د ویونو پور کول د ژبې په کمزورۍ او ضعف دلالت نه کوي، بلکه دغه چار دیوې داسې اړتیا له مخې کېږي، چې له دې پرته ژبه د تجرید په تنګنا ورګډېږي. له نورو ژبو د ویونو په پور اخیستل، زموږ د ژبې یوه اړتیا ده او دا داسې اړتیا ده، چې زموږ ژبه ورسره غني کېږي.

د نړۍ په ډېرو پرمختللو ژبو کې دا پورویزونو اخیستلو بهیر ګړندی روان دی. زه به یې انګلیسي ژبه د بېلګې په دود یاده کړم. هغه ژبه چې اوس مهال یې پر ټولې نړۍ د ویونکو راج چلېږي او یاده ژبه د ساینس، ټیکنالوژي، اقتصاد، پرمختګ او سیاست ژبه ده؛ خو لا هم د نورو ژبو له اغېزه روغه نه ده پاتې، تر دې چې د یادې ژبې متخصصین ادعا کوي، چې په انګلیسي ژبه کې تر اتیا سلنه ویونه د نورو ژبو دي او دغه ویونه په مستقیم او غیر مستقیم ډول انګلیسي ژبې ته راننوتي دي. داسې چې شپږویشت سلنه یې له جرمني، شپږ سلنه یې له یوناني، شپږ سلنه یې له نورو ژبو، څلور سلنه یې له خاصو نومونو مشتقات، نهه ویشت سلنه یې له لاتین ژبې او نهه ویشت سلنه یې له فرانسوي ژبې را اخیستي دي.

شاید تاسو حیران شوي یاست یا یې ونه منئ! وګورئ په انګلیسي کې مشهور ویونه چې له فرانسوي اخیستل شوي: (Resume, Government, Person, very) په ترتیب سره (ډېر، شخص، حکومت او اسناد یا د تجربو لنډیز). دارنګه هغه ویونه چې انګلیسي ژبې له ایټالوي پور کړي عبارت دي: (Piano, studio, Umbrella) چې ژباړه یې (چترۍ، دثبت او خپرونو خونه، د موسیقۍ آله). هغه ویونه چې انګلیسي له اسپانوي ژبې قرض کړي هغه څه دا دي: (Breeze, Tornado, alligator...) د یادو ویونو پښتو مانا ده: تمساح یا نهنګ، تود او دوړن باد، نسیم یا نرم باد). همدارنګه به د عربي ژبې یادونه هم وکړو، چې انګلیسي ته یې په پور ویونه ورکړي دي. د انګلیسي ژبې Alcohol د عربي ژبې الکول دی، چې له زړې عربي یې انګلیسي ته سرایت کړی دی او اوس په انګلیسي ژبه کې عام دی. همدارنګه (They, Their, Them, sky, leg, skin, slaughter) هغه ویونه دي، چې له زړې اسکانډیناویایي ژبې څخه انګلیسي ته راغلي دي[۱].

موږ له یادو ژبو ګوتشمېر ویونه د بېلګې په ډول یاد کړل، خو دا ویونه دومره ډېر دي، چې شمار به یې ستونزمن شي. دا خبره هم باید وکړو، چې انګلیسي یوازې له دغو ژبو ویونه نه دي پور کړي، بلکه له نورو ډېرو یې هم اخیستي چې موږ یې پورته یادونه کړې ده او له هرې ژبې یې د لغتونو پور په تفصیل سره دلته ذکر کول د بحث له حوصلې لوړه ده. دغه دعوه چې د انګلیسي په اړه موجوده او موږ یې دلته یاده وکړه، موخه مو دا ده چې یاد چار د انګلیسي ژبې اړتیا ده او هره ژبه اړه ده چې له نورو ژبو ویونه واخلي، ځکه هېڅ یوه ژبه په ګوښې ډول پر ځان‌بسیا نه ده. ژبه هله پر ځان بسیا کېږي، چې ویونکي یې د تجرید په توره جزیره کې داسې را ایسار شي، چې هر چا سره یې هر ډول اړیکي پرې شي او دا کار په ژوند کې ستونزمن څه چې ناممکن دی.

د پوروېزونو اخيستل او په خپل ځان کې حلول، ژبه غني کوي. زه يې بېلګه کې لاتيني ژبه راوړم، چې څنګه دايمي ژوندۍ او د علم ژبه شوه، چې تر ننه يې په هر علمي ډګر کې له اصطلاحاتو ګټنه کېږي. هغه مهال چې رومي ادبيات له يوناني ادبياتو اغېزمن شول، ورسره لاتيني ژبې هم د يوناني ژبې اغېز ته ځان وسپاره. ليکوالو او شاعرانو د يوناني او نورو ژبو ويونه او اصطلاحات په لوی لاس لاتيني ژبې ته ننوېستل. همدا و، چې لاتيني ژبه تر ننه د علم او پوهې ژبه ده[۱۱].

په ژبه کې د پوروېزو بله ښېګڼه دا ده چې د ژبې لغوي ذخيره ورسره پياوړې کېږي او د مفاهيمو د اړايې لپاره په يوې ژبې کې د ويونو ډېرښت د هغې ژبې په غنا دلالت کوي. په دې صورت کې ليکوال د مانا رسونې په پار د لفظونو او کلماتو له وچکالۍ سره نه مخامخېږي. کله چې په يوې ژبې کې د بلې ژبې ويونه کارول کېږي، دا د دې مانا لري، چې ياده ژبه له بلې هغې سره نږدې ده او که بل څوک غواړي دغه ژبه زده کړي، نو به په بشپړ ډول پردۍ نه ورته برېښي. بله ښېګڼه يې دا ده، چې په ليکنه کې د ويونو له تکراره مخنيوي کېږي او د مترادفاتو کارول ليکنه خوندوره کوي. کله چې يوه ژبه دومره تجريد شي، چې له يوې مخې ترې د بلې ژبې ويونه و ايستل شي، نو په هغه صورت کې د نورو ژبو لوستونکو ته د يادې ژبې زده کول ستونزمن کېږي. دغو اړتياو ته په کتو؛ ژبپوهان هم مني چې د اړتيا تر بريده دې په يوه ژبه کې د نورو ژبو ويونه وکارېږي. خو دا چار بايد له خپلو حدودو او ټاکلو پولو وانه وړي. که له خپلو ټاکلو پولو واوښت؛ بيا يې د ګټې پر ځای ژبې ته زيان اوړي. په يوې ژبې کې پوروېزي تر ډېره خپل ځان ته ډېر ښه او مناسب ځای انتخابوي. داسې چې د مانارسونې قوت به يې دومره ډېر وي، چې د آرې ژبې ويی به ورسره سيالي نه شي کولی. پر دې ښېګڼو سر بېره کله کله داسې کېږي، چې پوروېزی دې ډېر لنډ او ډېر مناسب وي، خو که پر ځای د خپلې ارې ژبې ويی وکارول شي، اوږد به وي. لکه په پښتو ژبه کې د مثلاً پر ځای د بېلګې په توګه عبارت کارول خبره اوږدوي او د وخت، قلم او کاغذ ضياع ده. ښه ده په پښتو ژبه کې خپل ويونه وکاروو، خو کله اړتيا پيدا کېږي، د نورو ژبو ويونو ته د پور لاس وغزوو.

**وروستۍ پايله**

لومړی بايد د پښتو ژبې په مختلفو لهجو او زړو متونو کې آر او اصيل ويونه ولټوو او ويې کاروو. که مو ونه موندل په کار ده، چې د ژبې د غنا لپاره له نورو ژبو ويونه په پور واخلو. د پوروېزونو په کارېدنګ سره ژبه کمزورې کېږي نه، بلکه لا ورسره غني کېږي، چې بايد د اړتيا تر بريده په پښتو ژبه کې وکارول شي او پر وړاندې يې عنادي چلند ونه شي.

**وړاندیزونه**

۱: په پښتو ژبه کې د دې د پورویزونو د کارېدنګ پر وړاندې عنادي چلند نه کېږي. ځکه که عنادي چلند وشي، ژبه خوارېږي او له منځه ځي.

۲: که موږ د خپلې ژبې په زړو متونو او ګړدودونو کې خپل آر او اصیل ویی ولرو، باید ویې کاروو او سم له واره، بلې ژبې ته د پور لاس ونه غزوو.

۳: کله چې موږ د بلې ژبې ویي ته اړ کېږو، باید د همغې ژبې په اصلي شکل یې وکاروو. ځکه دا کار بیا په وینګ او تلفظ کې ګډوډي رامنځته کوي.

۴: په ژبه کې د پورویزو کارول باید د علم او معیار تر کچې وي او دا کار باید د اړتیا تر اندازې وشي.

۵: له اړتیا پرته ددې لپاره چې ځان له نورو ژبو سره بلد وښیو، د بلې ژبې ویی په پښتو کې کارول، د پښتو په زیان تمامېږي، چې باید ځان ترې وساتو.

**ماخذونه**

۱ : Alison. Cambridge Coaching.2017. *Why Does English Borrow So Many Words from Other Languages?* Available online: http://blog.cambridgecoaching.com/why-does-english-borrow-so-many-words-from-other-languages (Accessed on 13 March 2022).

۲: رښتین. ص.ا.(۱۳۸۹ل). د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه. (۱۰مخ)

۳: پالوال،ع.(۱۳۸۴ل). معیاري پښتو. شال: یونایتید پرېس. (۲۹۱مخ)

۴: زیار، م.ا.(۱۳۹۳ل). پښتو وییپوهنه او ویېرغاونه. جلال اباد: مومند خپرندیوه ټولنه. (۶۲مخ)

۵: یون، م.ا(۱۳۸۷ل). پښتو لیکنۍ سمون. کابل: یون کلتوري ټولنه. (۹۴. ۹۶مخونه)

۶: شعشعي، هـ خ.(۲۰۰۷ز). د پښتو ژبې نۍ مسالې. لندن: لر او بر انلاین کتابتون. (۲۲مخ)

۷: حکمتیار، ګ.(۱۳۸۸ل). پښتو لیکدود. چاپ ځای نه لري: خپرندویه ټولنه نه لري. (۱۷مخ)

۸: هوتک، م. م.(۱۳۹۰ل). پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه. (۳۶.۳۷مخونه)

۹: زیار، م. ا.(۱۳۸۶ل). لیکلارښود(یوه پښتو، کره پښتو). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه. (۱۴مخ)

۱۰: لودین،د.م.(۱۳۹۵ل). ژبه او ټولنه. جلالکوټ: ختیځ ادبي بهیر. (۵۰مخ)

۱۱: ښکلی،ا.(۱۳۹۴ل). د نړۍ ادب. چاپ ځای نه لري: جهان دانش خپرندویه ټولنه. (۹۲ـ۹۳مخونه

# مشاع ملکيت او د هغې وېش

ليکونکی: پوهنيار عبدالوهاب ايوبي، شيخ زايد پوهنتون، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د قضا او څارنوالي څانګې استاد
تقريظ ورکونکی: پوهندوی امان الله څدراڼ د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي اداري او ديپلوماسي څانګې استاد

**لنډيز**

د افغانستان حقوقي سيستم مطابق، که څه هم د ملکيت اصلي حالت مفرز ملکيت دی. خو ځينې وختونه نوموړی اصلي حالت په اختياري او يا غير اختياري ډول، د قانون د حکمونو مطابق، مشاع او مشترک ګرځي او په دې ترتيب سره مشاع ملکيت رامنځته کيږي. پس کله چې د دوو يا د هغې څخه د زياتو اشخاصو ترمنځ ملکيت مشاع او مشترک وګرځي؛ نو د نوموړي مشاع ملکيت د ترميم او اصلاح او همدارنګه په هغې کې د تصرف کولو په هکله، د تام ملکيت په نسبت، ځينې قيودات او محدوديتونه رامنځته کيږي، چې د ذکر شوو قيوداتو او محدوديتونو نه رعايت کول ځينې وختونه د ضمان او جبران موجب هم ګرځي. څرنګه چې د ملکيت د مشاع کېدو په حالت کې، ټول شريکان د مشاع ملکيت د هرې برخې مالکين ګڼل کيږي؛ نو په دې حالت کې شريکان کولی شي، د زماني او مکاني او همدارنګه د رضايي او جبري ګټو او عين د وېش له لارې د هغې څخه ګټه اخيستنه ترسره کړي. په هر صورت، دا چې مشاع ملکيت استثنايي حالت دی او بېرته خپل اصلي حالت ته د هغې تبديل کول يا د مشاع ملکيت رفع کول هغې د وېش له لارې ممکنه ده، چې نوموړی وېش، ممکن د شريکانو د رضايت په صورت کې د رضايي وېش او يا هم ممکن د شريکان څخه د يوه يا څو د غوښتنې په اثر د محکمې له لورې د قضايي وېش تر عنوان لاندې ترسره شي او په دې ترتيب سره د مشاع ملکيت په وېش سره، د مشاع ملکيت د مفرز کېدو او د تعرض او استحقاق د ضمان اثرونه هم مرتب کيږي.

**کليدي ټکي:** تصرف، مشترک ملکيت، ملکيت، وېش.

**سريزه**

ملکيت او په هغې کې مالکانه تصرف، د انساني ټولنې د مهمو اړتياوو څخه ګڼل کيږي، چې په داسې مشروع طريقو سره بايد مشبوع شي چې، د نورو د حقوقو د پايمال کيدو سبب نشي. څرنګه چې انسان په طبيعي لحاظ ټولنيز مخلوق دی او ټولنيز ژوند د قانون او نظم څخه پرته امکان نه لري چې، دا پخپله دقواعدو د رامنځته کيدو غوښتنه کوي. تر څو دهغې په سبب دټولنې ټول وګړي يو د بل حقوقو ته درناوئ وکړي. نو په دېاساس، په هره ټولنه کې يو سلسله قواعد شتون لري چې د افرادو ترمنځ خپل منځي اړيکې تنظيموي.

نوموړي قواعد چې، د مدني حقوقو په نوم سره یادیږي، په ټولنه پورې اړوند هغه قواعد دي چې، د افرادو تر منځ د اړیکو د تنظیم او استقرار په منظور وضع شوي دي. چې نوموړي حقوق، د شخص او مال د اړیکو د تنظیم قواعدو ته هم شاملیږي. مال طبعاً د مالکیت موضوع ګرځي او په زیاترو مواردو کې دمدني معاملو د محل په حیث قرار نیسي. له همدې امله د افرادو ټول حقوق او په ځانګړي ډول مالي حقوق او په ملکیت پورې اړوند موضوعات، د اسلامي شریعت او قانون تر حمایت لاندې راغلي دي. مشاع ملکیت د ملکیت د یو ډول په عنوان، هغه ملکیت دی، چې د دوو یا د زیاتو اشخاصو ترمنځ شریک وي. د مشاع ملکیت د ملکیت اصلي حالت نه دی او د یو لړ قانوني سببونو پر بنسټ، رامنځته کیږي. د مشاع ملکیت شریکان د هغې د هرې برخې مالکین ګڼل کیږي او په هغې کې د هر ډولمالکانه تصرف څخه منع شویدي. پس څرنګه چې شریک ملکیت په آخر کې بیا هم په مفرز ملکیت باندې بدلیږي؛ نو د هغې د تبدیل کېدو لپاره د هغې قانوني لار چې په مدني قانون کې هغې وړاندوینه شویده، د مشاع ملکیت وېش دی، چې ممکن د عین یا د هغې د ګټو وېش له لارې ځانګړو شرطونو ته په پام سره، د شریکانو په رضایت یا د محکمې په حکم صورت ومومي. پس په دې مقاله به کوښښ وشي، ترڅو د مشاع ملکیت پېژندنه، د مشاع ملکیت څخه د شریکانو ګټه اخیستنه او په هغې کې د شریکانو تصرف او همدارنګه د مشاع ملکیت د ګټو او عین وېش، د افغانستان حقوقي سیستم مطابق په دقیق او واضح ډول سره بیان کړل شي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې عبارت دي له:

۱- د افغانستان حقوقي سیستم مطابق د مشاع ملکیت د مفهوم او د هغې د رامنځته کېدو د شرایطو روښانه کول.

۲- د مشاع ملکیت څخه د ګټې اخیستنې د ډؤل او په هغې کې د شریکانو د تصرف د حدودو او قیوداتو واضح کول.

۳- د مشاع ملکیت د عین او ګټو د وېش د حقوقي او قانوني حل لارو پېژندنه او وضاحت.

۴- د مشاع ملکیت د وېش او حقوقي آثارو روښانه کول.

## د مشاع ملکیت پېژندنه

مشاع په لغت کې د دوو کسانو ترمنځ د مشترک او منتشر په معنی سره دی (۱۱: ۱۰۸۹). او په حقوقي اصطلاح کې، د هر شي په هره برخه کې د منتشر کیدو او یا د شي په د مفرز کیدو څخه مخکې، هرې غیر ټاکل شوي برخې ته، مشاع ویل کیږي(۱: ۱۷۶۹). او ملکیت د ملک د ریښې څخه اخیستل شویدی، چې په لغت کې د ثروت او هر هغه څه په معنی سره ده، چې انسان د هغې مالک شوی وي(۱۰: ۳۲۵). د افغانستان

مدني قانون د ۱۹۰۰ مادې له مخې: ملکیت داسې حق دی چې د هغې په مقتضا شی د شخص د ارادې اوتسلط لاندې واقع کیږي، یوازې مالک کولی شي چې د قانون د حکمونو په حدودو کې د هغې استعمال، ګټه اخېستل اوهر نوعه مالکانه تصرف ته اقدام وکړي(۳: ۷۳۵). پس، ملکیت د انسان او مال ترمنځ هغه اختصاصي اړیکه ده، چې قانون پر هغې اعتراف کړی وي او مال شخص ته مختص کوي او تر هغې پورې چې، موانع شتون ونلري انسان کولی شي پکې هر ډول تصرف ترسره کړي او نور خلک پکې د تصرف کولو څخه منع کړي. په دېترتیب سره مشاع ملکیت، د ملکیت څخه عبارت دی چې د شرعي او قانوني سببونو له کبله د څو تنو ترمنځ شریک وي (۱۴: ۲۶۴). یا د هغه ملکیت څخه عبارت دی چې د څو تنو ترمنځ مشترک وي او د مفرز ملکیت په مقابل کې استعمالیږي (۲: ۶۸۷). مدني قانون د مشاع ملکیت د تعریف په مورد ساکت دی او یوازې د هغې د حکمونو په بیان باندې یې بسنه کړیده. خو د مجلة الاحکام د ۱۳۸ مادې له مخې: مشاع هغه دی چې د شریکو برخو لرونکی وي(۶: ۵۳). او د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون د ۳ مادې ۱۶ فقره کې هم، د مشاع ځمکې تعریف ته اشاره شوي، یعنی: هغه ځمکه ده چې د دوو یا له هغو څخه د زیاتو اشخاصو ترمنځ مشاع وي او له هغو څخه هر یو د خپلې برخې په اندازه د مالکانه تصرف حق ولري(۴: ۱۵ او ۱۶).

پس په لنډ ډول سره ویلی شو چې، مشاع ملکیت یا شریک ملکیت هغه ملکیت دی، چې د یو څخه د زیات اشخاصو ترمنځ شریک وي. نو په دېاساس، د مشاع ملکیت مالکین، د مشاع ملکیت د هرې برخې او ذرې مالکین ګڼل کیږي.

### د شریک ملکیت اداره

څرنګه چې مشاع ملکیت ادارې ته اړتیا لري؛ نو د مشاع ملکیت اداره د ټولو شریکانو حق دی. ځکه د مدني قانون د ۱۹۳۷ مادې د حکمونو له مخې: د مشاع مال اداره د ټولو شریکانو حق دی، مګر دا چې بل رنګه موافقه شوي وي(۳: ۷۴۸). د ذکر شوي مادې د حکم څخه استنباط کیږي، چې د مشاع ملکیت په اداره کولو کې اصل دا دی، چې د مشاع مال اداره د ټولو حق دی. ځکه هر شریک په مشاع مال کې شرکت لري. نو په دېاساس که چېرې د هغوی څخه یو یې په مستقل ډول وغواړي، چې مشاع ملکیت اداره کړي؛ نو د هغې نوموړی عمل د نورو شریکانو په حقوقو باندې تیری او تجاوز ګڼل کیږي(۹: ۱۰۹). پس وېلای شو چې، د مشاع ملکیت اداره؛ ممکن د د شریکانو له ډلې څخه د یو شریک، یا هم د اکثریت شریکانو له لورې او یا هم د ټولو شریکانو له لورې اداره شي(۸: ۲۳۶). په هغه صورت کې، چې اکثریت شریکان شتون ونه لري؛ نو د مشترک مال د اداره کولو لپاره د محکمې له لورې شخص ټاکل کیږي. د مدني قانون ۱۹۳۸ ماده په هکله دا ډول صراحت لري: شریکان په شریک مال کښې د اکثریت رأیو تابع دي او اکثریت د حصو د قیمت په اندازو محاسبه کیږي، نو که اکثریت محقق نه شو، محکمه کولی شي د یوه شریک په غوښتنه ضروري

تدبیرونه ونیسي. همدارنګه محکمه کولی شي د ضرورت په وخت کښې یو شخص وټاکي چې شریک مال اداره کړي(۳: ۷۴۸).

**د مشترک ملکیت ترمیم او اصلاح**

څرنګه مو چې مخکې یادونه وکړه، هر شریک د مشاع ملکیت د اداره کولو صلاحیت لري؛ نو اصولاً هر شریک کولی شي، چې د مشاع ملکیت د اصلاح او ترمیم په خاطر ضروري اقدامات ترسره کړي. په هغه صورت کې چې مشاع ملکیت د بیاځل لپاره ترمیم او اصلاح ته ضرورت پیداکړي؛ نو د مدني قانون ۱۹۳۹ مادې د حکمونو له مخې، هر یو د شریکانو څخه د خپلې برخې او سهم په تناسب د مشاع ملکیت په ترمیم او اصلاح باندې مکلف دی، که څه هم نور شریکان پرې موافقه ونه لري(۳: ۷۴۸). په هغه صورت کې چې، د شریکانو له جملې څخه یو شریک د نورو په اجازه کولای شي، چې د مشاع ملکیت په اصلاح او ترمیم پیل کړي او د اصلاح او ترمیم څخه وروسته د نورو شریکانو څخه د هغوی د برخې په اندازې سره د مصارفو غوښتنه کولی شي. خو په هغه صورت کې، چې یو شریک د نورو شریکانو له اجازې پرته، د مشاع ملکیت په اصلاح او ترمیم پیل وکړي؛ نو په دېصورت کې د نورو شریکانو څخه د مصارفو د غوښتلو حق یې د مدني قانون د ۱۹۴۳ مادې د حکمونو له مخې له منځه ځي(۳: ۷۴۹). دا چې ولې د نوموړي شریک د مصارفو او لګښتونو د غوښتلو حق له منځه ځي منطق یې په دېکې دی، چې په مشاع ملکیت کې څو کسان سره شریک وي، نو په دېاساس د یو شریک له لورې تصرف کول د نورو شریکانو اجازې ته ضرورت لري(۱۲: ۵۸). همدارنګه د مدني قانون د ۱۹۴۴ مادې د حکمونو مطابق، که چېرې د شریکانو له جملې څخه یو شریک حاضر او نور ټول شریکان غایب وي؛ نو حاضر شریک د ذیصلاح محکمې په اجازې سره د ملکیت په اصلاح او ترمیم پیل کوي. د اصلاح او ترمیم څخه وروسته حاضر شریک حق لري، چې لګښت او مصارف د نورو شریکانو څخه د هغوی د برخو او حصو په تناسب سره وغواړي. خو که چېرته حاضر شریک د محکمې د اجازې پرته مشاع ملکیت اصلاح او ترمیم کړی وي؛ نو په دې صورت کې نشي کولای، چې د غایبو شریکانو څخه د شویو مصارفو غوښتنه وکړي(۳: ۷۴۹). په همدې ترتیب سره، د ۱۹۴۶ او ۱۹۴۷ مادو د حکمونو له مخې، په هغه صورت کې چې د مشاع ملکیت یوه برخه له منځه لاړه شي او د شریکانو له جملې څخه یو شریک د ذیصلاح محکمې په اجازه له منځه تللې برخه بېرته اباده کړي او نور شریکان یې د آبادولو څخه امتناع وکړي؛ نو امتناع کوونکي شریکان تر هغه وخته پورې، چې د خپلې حصې په تناسب سره مصارف تادیه نه کړي؛ د مصرف کوونکي له لورې، په مشاع ملکیت کې د تصرف څخه منع کیدلی شي. خو که چېرې د ذیصلاح محکمې له اجازې پرته یې له منځه تللې برخه آباده کړه؛ نو د نورو شریکانو څخه د مصارفو د غوښتلو حق نه لري. او په هغه صورت کې چې مشاع ملکیت په بشپړه توګه له منځه لاړ شي او د شریکانو له جملې څخه یو یې هم په آبادولو شروع ونه کړي؛ نو په دې صورت کې د مشاع ملکیت ځمکه د مدني قانون

د ۱۹۴۷ مادې د حکم پربنیاد، د شریکانو ترمنځ وېشل کېږي. په داسې ډول، که شریک ملکیت چې د وېشلو وړ نه دی بیخي ړنګ او آوار شي، هېڅ یو شریک د هغې په آبادولو مکلف نه دی او مځکه یې د هغوی ترمنځ وېشل کېږي(۳: ۷۵۱).

**په مشترک ملکیت کې تصرف**

په حقوقي اصطلاح کې پخپلو چارو او مالونو کې د مالکانه تصمیم نیونې او دخالت څخه عبارت دی او په ځانګړي مفهوم سره، د هر هغه قول یا فعل څخه عبارت دی چې د شخص په اراده صادر او په هغې باندې حقوقي آثار مرتب کېږي(۱۰: ۶۹). او یا که چېرې مال د چا په واک کې وي او وکړای شي ترڅو اصالتاً او یا نیابتاً حقوق پرې عملي کړي، تصرف بلل کېږي(۱۴: ۵۷). د مشاع ملکیت په اړه یوه مهمه او ضروري مسله داده، چې آیا شریکان کولای شي، د یو او بل له اجازې پرته په مشاع ملکیت کې تصرف وکړي او که نه؟ آیا ټول شریکان په مشترک ملکیت کې د تصرف حق لري که د هغې مقدار معلوم دی؟ د دې پوښتنې په ځواب کې ویلی شو چې، هو! یعنی د مدني قانون د حکمونو مطابق، شریکان کولی شي چې په مشترک مال کې تصرف وکړي؛ چې ممکن نوموړی تصرف د یو شریک له لورې، د اکثریت شریکانو له لورې او یا هم د ټولو شریکانو له لورې صورت ومومي. چې لاندې یې هر یو توضیح کوو:

**په مشترک ملکیت کې له اجازې پرته تصرف په صورت کې، د تلف کیدو ضمان**

لکه چې مخکې مو هم یادونه وکړه، یو شریک د بل شریک له اجازې پرته په مشاع ملکیت کې داسې تصرف ونه کړي، چې د بل شریک د تضرر موجب وګرځي(۱۲: ۶۰). ځکه چې د یو شریک برخه د بل شریک سره د امانت حیثیت لري؛ نو که چېرې مشاع ملکیت د هغې د تقصیر او تعدي په پایله کې له منځه لاړ شي؛ نو هغه د ضمان په ورکړه مکلف ګڼل کېږي. د مدنی قانون ۱۹۴۱ ماده په دې هکله دا ډول صراحت لري: د دوه شریکانو د جملې څخه د یوه شریک حصه د بل شریک سره د امانت حیثیت لري؛ نو که بې د هغه د قصور څخه هلاک شی، ضامن ګڼل کېږي(۳: ۷۵۰). همدارنګه، لکه څه ډول چې یو شریک نه شي کولای، د بل شریک د اجازې پرته په مشاع ملکیت کې تصرف وکړي، په همدې ترتیب سره نشي کولای، چې مشاع مال د بل شریک له اجازې پرته بل چاته په ودیعت ورکړي. ځکه که چېرې دغه مال تلف شي؛ نو مودع د مال د تاوان د ورکړې مکلفیت لري. د مجلة الاحکام ۱۰۸۷ ماده په دې مورد دا ډول صراحت لري: د یو شریک په وړاندې د نورو شریکانو برخه د ودیعت حکم لري، که چېرې یو د شریکانو څخه مشاع ملکیت د شریکانو د اجازې پرته بل چاته په ودیعت ورکړي، د اتلاف په صورت کې د شریک د حصې ضامن ګڼل کېږي(۷: ۱۶).

**د مشترک ملکیت وېش**

مشاع ملکیت د همېش لپاره باقي نه پاتې کېږي. شریکان کولی شي، چې مشاع ملکیت پخپلو خاصو طریقو سره وېش کړي او په دې ترتیب سره مشاع ملکیت رفع کړي(۹: ۱۱۹). وېش په لغت کې د جدا کولو او برخو د وېشلو په معنی دی(۱۱: ۴۱۱). او په حقوقي اصطلاح کې د مدني د ۱۹۵۱ مادې له مخې: وېش د شریکې حصې د ټاکلو او دهغې د اداء کولو څخه عبارت دی، چې د شریکانو په رضایت یا د محکمې په حکم صورت نیسي(۳: ۷۵۳).د مدني قانون د پورتنۍ مادې د حکمونو څخه په واضح ډول استنباط کېږي، چې د مشاع ملکیت وېش، د شریکانو د مداخلې له حیثه په دوه ډوله صورت مومي، چې د رضايي او قضايي وېش څخه عبارت دی. باید یادونه وکړو، چې د مشاع ملکیت وېش یا د هغې عین وېش وي او یا د ګټو وېش وي، چې په ترتیب سره لاندې ترې بحث کوو.

**الف- رضایی وېش**

که څه هم په مدني قانون کې د رضايي وېش د تعریف په اړه صریح مواد شتون نه لري او یوازې د هغې د اړوندو حکمونو په بیانولو باندې یې اکتفا کړېده. خو یوازې په ۱۹۵۱ ماده کې د هغې څخه په داسې ډول یادونه شوي، چې وېش د شریکې حصې د ټاکلو او د هغې د أداء کولو څخه عبارت دی، چې د شریکانو په رضایت یا د محکمې په حکم صورت مومي. پس، رضايي وېش عبارت د هغه وېش څخه دی، چې د ټولو شریکانو په موافقه او رضایت باندې یې صورت نیولی وي(۹: ۱۲۴). یا د مجلة الاحکام ۱۱۲۱ مادې له مخې: رضايي وېش هغه دی، چې مشترک مال د وېشوونکو ترمنځ د هغوی په رضایت سره ووېشل شي او یا ټول شریکان په خپله خوښه او رضا سره مشترک مال ووېشي(۷: ۴۳). په همدې ترتیب سره، په مدني قانون کې د رضايي وېش د شرطونو په هکله تفصیلی مواد شتون نه لري. خو دا چې د مدني قانون د حکمونو مطابق، په هغه صورت کې چې په قانون کې، د یوې موضوع په هکله حکم شتون نه لري؛ نو د حنفی فقهې حکمونه د تطبیق وړ دي؛ نو په دې اساس، د مدني قانون او حنفي فقهې د حکمونو مطابق په رضايي وېش کې د ځینو شرایطو شتون اړین ګڼل کېږي، چې عبارت دي له: د شریکانو رضایت، د شریکانو یا د هغوی د نائیبانو حضور، د وېشوونکو د اهلیت شتون، وېشوونکي باید مشترک مال مالکین وي او د وېشوونکو د ولایت شتون(۹: ۱۲۵ او ۱۲۶).

**ب- قضايي وېش**

هر کله چې شریکان د مشاع مال د تقسیم په اړه توافق ته ونه رسیږي او د هغوی څخه یو یا ځینې یې د محکمې څخه د وېش غوښتنه وکړي او قاضي د دوی ترمنځ مشاع مال وېش کړي، دا ډول وېش د قضایی وېش په نوم سره یادیږي، چې جبري وېش هم ورته ویل کېږي(۹: ۱۲۱). یعنی قضایی وېش، د هغه وېش څخه

عبارت دی، چې د وېش په اړه د نه توافق په صورت کې د ځينو شريکانو د غوښتنې په اثر، د واکمنې محکمې له لورې صورت ومومي. مدني قانون که څه هم د قضايي وېش د تعريف په هکله ساکت دی او يوازې يې نوموړی وېش منلی او د هغې د حکمونو په بيانولو يې اکتفا کړيده. خو د مجلة الاحکام د ۱۱۲۲ مادې له: قضايي وېش هغه وېش دی، چې مشاع ملکيت، د ځينو مقسوم لهم په غوښتنه د قاضي په حکم، جبراً صورت ومومي(۷: ۴۳). لکه چې يادونه مو وکړه د مشاع ملکيت جبري وېش د واکمنې محکمې له لورې صورت مومي. نو په دې اساس، د مدني قانون ۱۹۶۳ مادې د حکمونو له مخې، د مشاع ملکيت د وېش په دعوی کښې هغه محکمه د واک لرونکي ده، چې د تقسيم لاندې اعيان د هغې په حوزه کې واقع دي(۳: ۷۵۷). پس هر وخت چې د مشاع ملکيت د وېش دعوی د شريکانو له جلمې څخه د يو شريک له لورې په په واکمنه محکمه کې اقامه شي؛ نو محکمه بايد دا موضوع ارزيابي کړي، چې آيا مشاع ملکيت له ضرر پرته د تقسيم قابليت لري او که نه؟ يا د وېشلو په نتيجه کې مشاع مال خپل قيمت ډېر کموي او که نه؟

مدني قانون د مشاع ملکيت د وېش د قابليت نه لرلو او د قيمت د تنزيل سره د وېش د قابليت په اړه بېل بېل حکمونه وضع کړيدي چې لاندې ورڅخه يادونه کوو. په هغه صورت کې چې مشاع مال د وېش قابليت ونه لري؛ نو د مدني قانون د ۱۹۵۴ مادې د حکمونو له مخې، بايد مال د وېشلو قابليت او وړتيا ولري، او په وېشلو سره د هغې څخه غوښتل شوي ګټه اخيستل د مېنځه لاړه نه شي(۳: ۷۵۴). د دغه مادې د حکمونو څخه معلومېږي: که چېرې محکمه په دې پوه شي، چې مشاع مال په حقيقت کې د تقسيم قابليت نه لري. مثلاً: که مشاع مال مشترک حيوان، موټر او داسې نور وي. يا دا چې د مشاع ملکيت وېش ممکن وي، خو د قيمت په تنزيل سره. مثلاً: مشاع مال څو طبقې کور يا زراعتي ځمکه وي؛ نو که چېرې تقسيم شي د تقسيم په پايله کې د کور يا زراعتي ځمکې د قيمت د تنزيل سبب ګرځي. نو په داسې حالتونو کې محکمه کولای شي، مشاع مال د مزايدې له لارې وپلوري او پيسې يې په شريکانو باندې د هغوی د سهم او برخې په اندازې سره ووېشي. د مدني قانون ۱۹۶۷ ماده په دې هکله دا ډول صراحت لري: که د مال د عين وېش متعذره وو يا هغه مال چې وېش يې مطلوب دی د وېشلو په اثر يې قيمت ډير ټيټيږي، نو مال به دمدني محاکماتو د اصولو قانون د حکمونو سره سم پلورل کيږي(۳: ۷۵۸). خو که چېرې محکمې ته دا ثابته شي، چې مشاع مال د وېش قابليت لري او هم د وېش په صورت کې د هغې په قيمت کې تنزيل نه رامنځته کيږي؛ نو محکمه د مشاع ملکيت په وېشلو باندې حکم کوي. په دې صورت کې د مشاع مال تقسيم کول په درېو مرحلو کې صورت مومي.

۱- د مشاع مال تقسيم: که چېرې مشترک مال د وېش قابليت ولري؛ نو واکمنه محکمه د شريکانو ترمنځ وېشي او په دې صورت کې محکمه صلاحيت لري چې، د خپل ځان په نيابت سره اهل خبره وټاکي او د هغوی له طريقه وېش او تقسيم ترسره کړي. د مدني قانون ۱۹۵۵ ماده د مشاع مال د تقسيم د نوموړي مرحلې په هکله دا ډول صراحت لري: که مال د وېشلو وړ وي، محکمه د وېشلو د غوښتنې په وخت کې کولای شي، چې

د هر شریک د برخې د ترتیب او وېش لپاره یو یا څو پوهان[1] مؤظف کې(۳: ۷۵۴). یعنې که چېرې مشاع مال د تقسیم قابلیت ولري؛ نو د ذیصلاح محکمې قاضي باید، دغه مال د شریکانو ترمنځ ووېشي، په داسې حال کې چې مدني قانون قاضي ته دا صلاحیت ورکوي، هغه کسان چې په تقسیم کې د اهل خبره په حیث ټاکل شویدي، خپل نایب وټاکي او په دې ترتیب سره د تقسیم وړ مشترک مال وېش کړي. نو مشاع ملکیت په دې ترتیب سره د اهل خبره له لورې د قاضي په نیابت وېشل کېږي. اهل خبره مکلف دي، چې مال په کوچنیو برخو باندې ووېشي. په همدې ترتیب سره د مدني قانون د ۱۹۵۶ مادې د حکمونو له مخې: پوهان به د ډېرې وړې برخې په اساس حصې وېشي، که څه هم وېش جزيي وي. که دې کار امکان نه لرلو نو د هر شریک حصه به ټاکي او جلا کوي به یې(۳: ۷۵۵). پس که چېرې په کوچنیو او مساوي برخو باندې د مال وېش امکان ونه لري؛ نو د برخو د کموالي معادله د هغه چا له خوا، چې زیاته برخه یې اخیستي ده د اضافي مال په اداء کولو سره جواز لري.[2]

۲- د منازعاتو حل او فصل: د قضایي وېش دوهمه مرحله، د منازعاتو د حل او فصل مرحله ده. په دې مرحله کې، واکمنه محکمه هغه منازعات چې د مشترک مال د وېش او یا نور حقوقي منازعات چې د نوموړې محکمې په صلاحیت کې وي، څېړي. د مدني قانون ۱۹۶۴ د مادې له مخې: واکمنه محکمه هغه منازعات چې د برخو د وېشلو څخه رامنځته کېږي، یا نور هغه منازعات چې قانوناً د دغه محکمې د صلاحیت په ساحه کې داخلېږي، حل او فصل کوي. چې د شریکانو ترمنځ منازعات په دوه برخو وېشل کېږي. یو ډول منازعات هغه دي، چې د مشاع ملکیت د وېش څخه رامنځته شوي وي؛ لکه: د شریکانو له جملې څخه یو شریک ادعا وکړي چې د نوموړي برخه د نورو شریکانو د برخو سره مساوي نه ده. یا هغه مال چې د هغې د کمښت په خاطر د بل شریک له لورې ورکړل شویدی، کم دی. او بل ډول منازعات، هغه منازعات دي چې، د مال د وېش څخه نه رامنځته کېږي؛ بلکې د هغې په حقوقو باندې رامنخته کېږي. لکه: یو شریک د دې ادعا کوي، چې مقابل جانب په اصل کې د ده شریک نه دی؛ نو په دې ډول حالاتو کې واکمنه محکمه مکلفه ده، ترڅو د منازعاتو تر حل او فصل پورې مال وېش نه کړي او وېش متوقف کړي(۱۲: ۶۵). په قضایي وېش کې د مشاع ملکیت د وېش د نوموړي مرحلې په هکله د مدني قانون ۱۹۶۵ ماده دا ډول صراحت لري: که کوم وخت چې ابتدائیه محکمه د وېش څخه په پیدا شوو منازعاتو غور کوي په دېوخت کښې نورې منازعې را څرګندې شي؛ نو محکمه مکلفه ده چې د وېش دعوی تر هغې پورې متوقفه کړي، ترڅو چې د ذکر شوو منازعات قطعي انفصال راشي(۳: ۷۵۷).

[1] اهل خبره

[2] د ۱۹۶۰ مادې څخه په استنباط سره

۳- هر شریک ته د برخې د ورکولو د حکم صدور؛ د قضایي وېش دریمه مرحله، هر شریک ته د هغې د برخې او سهم د ورکولو مرحله ده. په داسې ډول، هرکله چې منازعات حل او فصل شي، محکمه هر شریک ته د هغې د برخې مطابق د خپلې برخې په ورکولو حکم صادروي. که چېرې نوموړي برخې د شریکانو د رضایت په اساس ونه ټاکل شي؛ نو د محکمې له لورې د قرعه کشی له لارې ټاکل کیږي. د مدني قانون ۱۹۶۶ ماده په دې هکله دا ډول صراحت لري: (۱) که جګړې پرې شي او حصې په رضایی صورت وټاکلې شي؛ نو محکمه به د هر شریک په جلا شوي حصې حکم کوي. (۲) په هغې صورت کې چې حصې په رضایی توګه ونه ټاکلی شي؛ نو وېش به د شریکانو تر منځ د پچې په اچولو سره ترسره کیږي، د محکمې په محضر کښې به درجیږي او د هر شریک د جلا شوي حصې په ورکولو به حکم صادریږي(۳: ۷۵۷).

لکه چې مخکې مو هم یادونه وکړه، د افغانستان مدني قانون د قضایي وېش د شرایطو څخه په اجمالي توګه یادونه کړې. خو د اسلامي فقهې د حکمونو پربنسټ، قضایي وېش د ځینو شرایطو د شتون مستلزم دی. پس د مدني قانون او اسلامي فقهې د حکمونو له مخې، په قضایي وېش کې د لاندې شرطونو شتون اړین ګڼل کیږي: د یو یا ټولو شریکانو له لورې د وېش غوښتنه، مشاع مال باید د تقسیم وړتیا ولري، د قضایي تقسیم په جریان کې باید داینین موجود وي، مقسوم ته باید ضرر وارد نه شي او تقسیم باید عادلانه وي(۹: ۱۳۵-۱۳۷).

**د مشاع ملکیت د وېش آثار**

د مدني قانون د حکمونو مطابق، د مشاع مال په وېش باندې دوه مهم اثرونه او نتیجې مرتب کیږي، چې عبارت دي له: د مشاع ملکیت مفرز کیدل او د تعرض او استحقاق ضمان، دواړه یې لاندې مطالعه کوو.

**۱- د مشاع مال افراز**

وېش د مشاع ملکیت د منحل کیدو سبب ګرځي. یعنی د وېش پربنسټ، د هر شریک برخه د نورو شریکانو څخه جدا او معلومیږي او د وېش څخه وروسته هر یو د شریکانو څخه د خپل سهم او برخې مستقل مالک جوړیږي او نور شریکان د هغې د برخې په نسبت مالکیت له لاسه ورکوي. پس د وېش څخه وروسته د هر شریک ملکیت د خپل سهم په نسبت تام ګرځي. او د شراکت قید له منځه ځي. او مالک کولی شي، چې په مستقل ډول پخپله برخه کې تصرف وکړي(۱۳: ۱۹۳). د مدني قانون د ۱۹۷۰ مادې د حکمونو له مخې، وېشونکی د شریک مال د ملکیت څخه د هغې حصې مالک ګڼل کیږي چې په وېش کې یې په هغې پورې تعلق نیولی او پاتې حصو کې د هېڅ شي مالک نه ګڼل کیږي(۳: ۷۵۹).

**۲- د تعرض او استحقاق ضمان او شرایط یې**

د تقسیم د ترسره کیدو څخه وروسته د شریکانو یو د بل پر وړاندې یو د مکلفیتونو څخه د تعرض او استحقاق ضمان دی. تعرض د طلب او مزاحمت په معنی سره دی(۱: ۷۰۴). چې ممکن د شریکانو د جملې

څخه د یو شریک یا د یو ثالث شخص له لورې صورت ومومي. او استحقاق د حق غوښتنې او د حق غوښتونکي کیدلو په معنی سره دی(۱۰: ۲۶). چې په فقهي او حقوقي اصطلاح کې په مدعی بها کې د غیر د حق ظهور د استحقاق څخه عبارت دی یا د یو حق غوښتنې او یا هم له یو محل څخه د یوې ټاکلې برخې لاسته راوړلو ته استحقاق ویل کیږي(۱۴: ۱۳). او د وېش څخه وروسته د مقسوم د ملکیت ادعا، د استحقاق دعوی بلل کیږي. یعنی د وېش څخه وروسته د مقسوم په عین د ثالث شخص تعرض د استحقاق د دعوی څخه عبارت ده. یا د استحقاق دعوی د هغه دعوی څخه عبارت ده، چې د ثالث شخص له لورې د ټول یا ځینې مقسوم د ملکیت په مورد د شریک په وړاندې صورت ومومي(۹: ۱۴۲). پس که چېرې د مشاع ملکیت د وېش څخه وروسته په هغې باندې تعرض ترسره شي؛ نو شریکان د هغې په ضمان باندې مکلف ګڼل کیږي. تعرض ممکن په دوو ډولونو سره صورت ومومي: یا شریکانو له د جملې څخه د یوه له لورې صورت ومومي او یا تعرض ممکن د ثالث شخص له لورې صورت ومومي، چې د استحقاق په نوم سره یادیږي. په هغه صورت کې چې تعرض د شریکانو د جملې څخه د یو شریک له لورې صورت ومومي؛ نو لکه څرنګه چې مخکې هم وویل شول د وېش په اثر د هر شریک برخه او سهم په هغې پورې تعلق نیسي او نور شریکان حق نه لري، چې په هغې باندې تعرض وکړي. لکه دا چې هغه وپلوري او یا داسې عمل ترسره کړي، چې د خپلې برخې څخه د شریک د انتفاع مانع وګرځي. په دې مورد د مدني قانون ۱۹۷۱ ماده دا ډول صراحت لري: وېشونکي یو د بل په مقابل کښې د هغې تعرض یا استحقاق څخه ضامن دي، چې د وېش څخه تر مخه سبب باندې واقع شي........(۳: ۷۵۹) همدارنګه ممکن تعرض د ثالث شخص، چې په وېش کې دخیل نه وي ترسره شي. پس د ثالث شخص له لورې د استحقاق دعوی د اقامې په صورت کې شریک یا شریکان مکلف دي، چې د مدعی علیه شریک د غوښتنې په اساس په دعوی کې د هغې په ګټه دخیل او په دفع پیل وکړي. د استحقاق دعوی په صورت کې شریک یا محکوم له او یا هم محکوم علیه جوړیږي. پس که چېرې په محکوم له باندې قادر شي؛ نو شریک د خپلې برخې مالک ګڼل کیږي. خو که چېرې محکوم علیه شي؛ نو په دې صورت کې شریک یا شریکان مکلف دي، چې د مدعی علیه شریک د استحقاق ضمان ورکړي. د یادولو وړ ده، چې کله د ثالث شخص له لورې په یو شریک باندې د استحقاق دعوی اقامه شي؛ نو په دې صورت کې په دعوی کې د نورو شریکانو د تداخل له حیثه، د څو حالتونو وقوع د تصور وړ ده: کله چې د استحقاق دعوی اقامه شي؛ نو لازمه ده چې شریک، نورو شریکانو ته د استحقاق د دعوی د دفعې په منظور خبر ورکړي؛ تر څو شریک د استحقاق دعوی دفع کړي او محکوم له وپېژندل شي او بل شریک یا شریکان د خپلې برخې مستحق وګڼل شي. او یا محکوم علیه وپېژندل شي او د استحقاق ضمان شریک ته ورکړي. د استحقاق دعوی د دفع کولو د اطلاع ورکولو په مورد کوم خاص تشریفات لازم نه دي. همدارنګه داسې هم کیدلی شي، چې په یو شریک باندې د استحقاق دعوی اقامه شي او هغه بل شریک یا شریکانو ته خبر ورکړي، خو بل شریک د هغې سره پر اطلاع سربېره، د استحقاق دعوی په دفع کې مداخله ترسره نه کړي. په دې صورت کې شریک پخپله د

دعوی دفع ترسره کوي، یا محکوم له او یا محکوم علیه پېژندل کېږي. پس که چېرې د واکمنې محکمې له لورې محکوم له وپېژندل شي؛ نو د استحقاق دعوی له منځه ځي او د شریک التزام هم له منځه ځي. یعنی د دعوی د دفعې د مصارفو پرته شریک ته د مراجعې حق نه لري. خوکه چېرې محکوم علیه وپېژندل شي؛ نو کولی شي، چې د شریک یا شریکانو څخه د استحقاق د ضمان غوښتنه هم وکړي. په همدې ترتیب سره په هغه صورت کې، چې په یو شریک باندې د استحقاق دعوی اقامه شي او هغه نورو شریکانو ته د اطلاع ورکړې پرته د دعوی په دفع باندې پیل وکړي؛ نو په دې صورت کې د محکوم علیه په پېژندلو سره نشي کولی، د بل شریک/شریکانو څخه د استحقاق د ضمان غوښتنه وکړي. د مدني قانون د حکمونو مطابق، د تعرض او استحقاق د ضمان د تحقق لپاره د لاندې شرایطو شتون لازم دی: د تعرض او استحقاق وقوع، د وېش څخه په مخکینی سبب د استحقاق دعوی اقامه کیدل، پخپله د قاسم له لورې د بې پروایی نه شتون او همدارنګه د داسې توافق نه شتون چې ضمان نفي کوي(۹: ۱۴۴ او ۱۴۵).

**د عین د وېش نقض**

اصولاً وېش او تقسیم د اقالې په اساس نقض کېږي. اقاله د قول د ریښې څخه اخیستل شویده، چې په توافق سره د فسخې، له منځه وړلو او اسقاط په معنی سره دی(۱۰: ۳۴). په اصطلاح کې د عاقدینو په توافق سره د عقد له منځه وړل دي، چې تفاسخ او تقابل هم ورته ویل کېږي(۱۴: ۲۰). د مجلة الاحکام ۱۱۵۹ ماده د اقالې په سبب سره د تقسیم د له مېنځه وړلو په مورد دا ډول صراحت لري: که چېرې د برخو خاوندان د تقسیم څخه وروسته پخپل رضایت سره تقسیم اقاله او فسخ کړي، کولی شي مقسوم د پخوا په څېر پخپلو منځونو کې شریک کړي. د دې ترڅنګ د احنافو له نظره په پنځو حالتونو کې د تقسیم نقض ضروري دی. ۱- کله چې په قضایی تقسیم کې د یو شریک په برخه کې فاحش غبن ظهور وکړي. ۲- کله چې د متوفی په ترکه کې دین شتون ولري. ۳- کله چې د تقسیم څخه وروسته بل وارث او موصی له ظهور وکړي. ۴- کله چې د مقسوم مال په وقوع کې اشتباه رامنځته شي. ۵- کله چې د مقسوم مال بغضې برخه په استحقاق سره واخیستل شي(۱۳: ۱۹۸-۱۹۴).

**د ګټو وېش**

په پورته ډول د وېش په هکله مو چې کوم موارد مطالعه کړل، هغه د اعیانو او شیانو د تقسیم او وېش په تړاو وو. په دې ځای کې د ګټو وېش چې، په فقه کې د مهایاتو او په حقوقو کې د موقت تقسیم په نوم سره هم یادیږي(۹: ۱۵۰) مطالعه کوو. مدني قانون هم د ګټو د وېش لپاره، د اعیانو د تقسیم څخه بېل او ځانګړي حکمونه وضع کړیدي. خو د هغې د تعریف په هکله یې سکوت اختیار کړیدی. د ګټو وېش، د مجلة الاحکام د ۱۱۷۴ مادې له مخې، مهایات د ګټو د وېش څخه عبارت دي. پس مهایات د مشترکو شیانو ګټې

دي، چې د هغې څخه ګټه اخیستنه د هغې د عین په بقا سره ممکن وي. د مدني قانون د حکمونو مطابق، مهایات په دوه ډوله دي: مکاني مهایات او زماني مهایات. د مدني قانون ۱۹۷۴ ماده په دې مورد دا ډول صراحت لري: د ګټو وېش یا زماني وي او یا مکاني، دواړه ډوله یې په رضایې او قضایی صورت ترسره کیدای شي(۳: ۷۶۰ او ۷۶۱)). د نوموړي مادې حکم د فقهې څخه اخیستل شویدی. ځکه د فقهاوو له نظره مهایات د رضا او جبر له حیثه په رضایی او قضایی او د زمان او مکان له حیثه په زماني او مکاني مهایاتو باندې وېشل کیږي، چې هر یو لاندې مطالعه کوو:

**۱- د رضا او جبر له حیثه د مهایاتو وېش**

رضایی مهایات د هغه مهایاتو څخه عبارت دي، چې دوه یا د دوو څخه زیات اشخاص، د مشترک شي څخه د ګټې اخیستنې د کیفیت پرېنسټ، د زماني او مکاني تعاقب او تناوب له طریقه په توافق ورسیږي(۱۰: ۳۳۲). یعنی که چېرې یو شی د دوو یا څو اشخاصو ترمنځ مشترک وي او هغوی وغواړي، چې د هغې څخه ګټه واخلي؛ نو د ګټې د وېش لپاره که چېرې د دوی ترمنځ د هغوی په توافق سره، د مشترک شي څخه ګټه اخیستنه د وخت او ځای له حیثه یا د تعاقب او تناوب له حیثه وشي، نو دا ډول وېش د رضایی وېش په نوم سره یادیږي. او قضایی یا جبري مهایات د هغه مهایاتو څخه عبارت دي، چې د طرفینو څخه د یوه د غوښتنې پرېنسټ د قاضي په حکم صورت ومومي. چې په دې صورت کې، قاضي د اعیانو ګټې جبراً د زماني تناوب له طریقه د ټاکلي وخت لپاره یا د مکاني ګټې اخیستنې له طریقه د شریکانو ترمنځ وېشي(۱۳: ۱۸۸). یعنی که چېرې یو شریک د مشترک عین د مهایاتو غوښتنه وکړي او بل شریک د هغې څخه ځان وژغوري؛ نو د دوی ترمنځ جبراً د قاضي له لوري د عین ګټې وېشل کیږي. د مدني قانون د ۱۹۷۶ مادې ۲ فقره په دې هکله دا ډول صراحت لري: که یو شریک په داسې شریک مال کښې د ګټو د وېشلو غوښتنه وکي چې د وېشلو قابلیت نلري او نور شریکان ورڅخه ځان وژغوري؛ نو د ګټو وېش په جبري توګه صورت مومي(۳: ۷۶۱). د مدني قانون نوموړی حکم د حنفي فقهې څخه اقتباس شویدی. ځکه د مجلة الاحکام د ۱۱۸۱ مادې له مخې: که چیرې یو د شریکانو څخه په متعددو مشترکو شیانو کې د مهایاتو مطالبه وکړي او بل شریک یې د هغې د قبول څخه ډډه او امتناع وکړي، که چېرې مشترک اعیان یو ډول او متفق منفعت ولري؛ نو مهایات جبري دي. او که چېرې ذکر شوي مالونه مختلف منافع ولري؛ نو مهایات جبري نه دي(۷: ۸۱).

**۲- د زمان او مکان له حیثه د مهایاتو وېش**

د ګټې وېش د زمان او مکان له حیثه په دوه برخو وېشل کیږي: زماني مهایات او مکاني مهایات، چې لاندې ورڅخه یادونه کوو: زماني مهایات د هغه مهایاتو څخه عبارت دي، چې په هغې کې هر یو د شریکانو د وخت او زمان په تفاوت سره د مشترکو اعیانو څخه په ټاکلي او مساوي زماني فاصله کې او یا د سهم او برخې په نسبت سره انتفاع وکړي(۱۰: ۳۳۳). لکه دا چې هر یو د شریکانو څخه په شریک کور یو کال یو شریک استوګنه کوي او بل کال، بل شریک په هغې کې استوګنه کوي. یا د مشترک کتاب څخه د یوې یوې اونۍ لپاره

استفاده وکړي. د مدني قانون د ۱۹۷۶ مادې ۱ فقره هم په دې هکله د دا ډول صراحت لري: د زماني ګټو وېش هغه دی، چې شریکان داسې موافقه وکې چې هر یو به د دومره مودې دپاره د ټول شریک مال د ګټو څخه په نوبتي توګه ګټه اخلي، چې د هغې د حصې سره متناسب وي(۳: ۷۶۱). باید یادونه وکړو، چې د زماني مهایاتو لپاره د مودې ټاکل شرط ده. ځکه د مودې په ټاکلو سره د عین څخه د ګټې اخیستنې د اندازې معیار معلومیږي. چې په دې تړاو د مجلة الاحکام ۱۱۷۶ ماده دا ډول صراحت لري: مهایات دوه ډوله دي اول زماني مهایات چې دوه نفر پخپل مېنځ کې توافق وکړي، چې د مشترکې ځمکې څخه یو نفر د یو کال لپاره او بل شریک د بل کال لپاره د زراعت لپاره استفاده وکړي...(۷: ۷۸). او مکاني مهایات د هغه مهایاتو څخه عبارت دي، چې په هغې کې هر یو د شریکانو څخه د خپل سهم او برخې په نسبت د مشاع ملکیت د عین څخه منتفع او ګټه اخیستونکی ګرځي(۱۳: ۱۸۸). پس په مکاني مهایاتو کې د مشترک مال څخه انتفاع او ګټه اخیستنه په واحد وخت کې صورت مومي. لکه دا چې: یو شریک د مشترک کور د یوې برخې څخه او بل شریک د مشترک کور د بلې برخې څخه انتفاع وکړي. په مکاني مهایاتو کې شرط ده، چې د هغې موده به د پنځو کالونو څخه زیاته نه وي. خو که چېرې د شریکانو د توافق په اساس نوموړې موده د پنځو کالونو څخه زیات وټاکل شي؛ نو توافق شوې موده پنځو کالونو ته تقلیل مومي. د مدني قانون ۱۹۷۵ ماده په دې هکله دا ډول صراحت لري: د مکاني ګټو په وېش کښې شریکان موافقه کوي، چې هر یو به د مال د ګټو د ټاکلي جزء څخه چې د شریک مال د حصې سره مساوي دی، ګټه اخلي او د هغې په بدل کښې به د خپلې پاتې حصې د اجزاوو د ګټې اخیستلو څخه نورو شریکانو ته تېریږي. د دې موافقې موده د پنځو کلونو څخه نه شي زیاتیدلی. که موده نه وي ټاکل شوي؛ نو که د کال د پای ته رسیدو د نیټې څخه درې میاشتې، ترمخه شریک د خپل نا رضایت څخه نورو شریکانو ته خبرتیا ور نه کې، موافقه د بل کال دپاره هم نوي شوي ګڼل کیږي. که دا وېش په همدې ترتیب د پنځلسو کلونو پورې دوام وکې، وېش بشپړ ګڼل کیږي(۳: ۷۶۱).

**پایله**

د افغانستان حقوقي سیستم مطابق، په افغانستان کې د ملکیت افرازي او مشاع بنه منل شویده. خو په دې توپیر چې مفرزه ملکیت د ملکیت اصلي حالت دی، په داسې حال کې چې، مشاع یا مشترک ملکیت د ملکیت د استثنایي حالتونو څخه ګڼل کیږي. مشاع ملکیت د افغانستان د نافذه قوانینو د حکمونو مطابق، د دوو یا د دوو څخه د زیاتو اشخاصو شریک ملکیت دی، چې د هغوی په اختیار او په غیر اختیاري ډول رامنځته کیدلی شي. پس کله چې د قانون د حکمونو مطابق، مشاع ملکیت د دوو یا د دوو څخه د زیاتو اشخاصو ترمنځ په اختیاري یا غیر اختیاري بنه سرا رامنځته شي؛ نو د هغې ټول شریکان د مشاع ملکیت د هرې برخې او ذرې مالکین ګڼل کیږي. خو ددې معنی دا نه ده، چې هر یو د شریکانو څخه کولی شي، په هغې کې په خپلواک ډول تصرف ترسره کړي. پس که چېرې یو د شریکانو څخه په هغې کې د نورو شریکانو د اجازې پرته، تصرف ترسره کړ؛ نو څرنګه چې د یو شریک سره د بل شریک مال د امانت حکم لري او د هغې

د تجاوز په سبب د هغې د تلف کېدو په صورت کې د هغې ضامن ګڼل کيږي. په دې حالت کې هم ضامن ګڼل کيږي. خو ټول شريکان کولی شي چې په توافق سره په مشاع ملکيت کې تصرف ترسره کړي او يا دا چې اکثريت شريکان هم په هغه صورت کې، چې اقليت د هغوی پر وړاندې اعتراض ونه لري او محکمه د هغې دليلونه موجه وبولي، په مشاع ملکيت کې تصرف ترسره او د هغې تصرف نافذ هم دی. که چېرې د مشاع ملکيت مالکين وغواړي نو په پخپله رضايت سره کولی شي د مشاع ملکيت د ګټو وېش او يا هم د عين يا شي وېش ته اقدام وکړي. په همدې ترتيب سره که چېرې يو د شريکانو څخه د مشاع ملکيت د ګټو او يا عين د وېش غوښتنه وکړي؛ نو واکمنه محکمه کولی شي د دوی ترمنځ قضايي وېش ته اقدام وکړي. بايد يادونه وکړو، چې په دې اړه د مدني قانون د حکمونو په پام کې نيول سره ويلی شو، چې د مشاع ملکيت په هکله د مدني قانون د حکمونو عمومي روحيه د غير منقولو مالونو په برخه کې ده، نه د منقولو.

**مأخذونه**


1. انصاری مسعود، طاهری محمد علی.(۱۳۸۴). دانشنامه حقوق خصوصی. چاپ اول، جلد سوم، تهران: انتشارات محراب فکر.
2. جعفر لنګرودي، محمد جعفر. (۱۳۸۲). ترمينولوژي حقوق. چاپ سزدهم، تهران: کتابخانه ګنج دانش.
3. د عدليې وزارت.(۱۳۵۵). دافغانستان مدني قانون. د رسمي جريدې ۳۵۳ ګڼه.
4. د عدليې وزارت.(۱۳۹۶). څمکوالۍ چارو د تنظيم قانون. د رسمي جريدې ۱۲۵۴ ګڼه.
5. رسولی، عبدالحسين. (۱۳۹۳). اموال ومالکيت در حقوق افغانستان. چاپ اول، کابل: انتشارات دانشګاه ابن سينا.
6. ژوبل، محمدعثمان. (۱۳۸۴). مجموعه قواعد و مسائل فقهې مجلة الاحکام. جلد اول. دوهم چاپ، کابل: چاپ مطبعه بهير
7. ژوبل، محمدعثمان. (۱۳۸۴). مجموعه قواعد و مسائل فقهې مجلة الاحکام. جلد سوم. دوهم چاپ، کابل: چاپ مطبعه بهير
8. صميم، عبدالمجيد. (۱۳۹۵). حقوق عينی اصلی(اموال و مالکيت). چاپ اول، هرات: انتشارات قدس.
9. عبد الله، نظام الدين. (۱۳۸۹). حقوق عيني. چاپ دوم، کابل: انتشارات سعيد.
10. عبد الله، نظام الدين. (۱۳۹۵). فرهنګ اصطلاحات حقوقی افغانستان. چاپ اول، کابل: انتشارات سعيد.
11. عميد، حسن. (۱۳۸۲). فرهنګ عميد. چاپ بيست وهفتم، تهران: مؤسسه انتشارات امير کبير.
12. فضلي، فضل هادي. (۱۳۹۵). عيني حقوق. لومړی چاپ، جلال آباد: يار خپرندويه ټولنه.
13. نذير، دادمحمد. (۱۳۹۶). حقوق عينی. جزء اول، کابل: انتشارات حامد رسالت
14. يو شمير مؤلفين. د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي. کابل: د افغانستان عدلي او قضايي پروژه.

# د ستافیلوکوکوس اوریوس توکسینونه

لیکونکی: پوهنیار عبدالطیف رحیمي د شیخ زاید پوهنتون، وترنري پوهنځي کلینیک څانګې استاد
تقریظ ورکونکی! پوهندوی عبدالقادر هاشمي شیخ زاید پوهنتون، زراعت پوهنځي د مالداري څانګې استاد

**لنډیز**

ستافیلوکوکوس اوریوس د پاتوجنیزیس لوړ قدرت لرلو په اساس انسانانو او حیواناتو کې د مختلفو ناروغیو مسؤل شمېرل کېږي. د ناروغۍ تولید قدرت یې په مختلفو ویرولانس فکتورنو پورې اړه لري، چې د دې له ډلې څخه یو هم توکسینونه دي. د ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه د تولید شوو توکسینونو د لاښه پېژندلو او د ناروغیو په رامنځ ته کیدو کې د هغوی رول څېړلو لپاره د پخوانیو معلوماتو بر سېره کوشش شوی چې د نوو څېړنو، تازه او ریښتینی معلومات په دې مقاله کې ځای پر ځای شي. د انسانانو او حیواناتو د مړینې کچې کمول او انسانان د دې توکسینونو له ضرر څخه په امان کې پاتې کېدل مو له عمده موخو څخه دي. د دغې څېړنیزې مقالې په لیکلو کې له کتابتوني کړنلارې څخه کار اخیستل شوی دی. په پایله کې په دې پوه شو چې ستافیلوکوکوس اوریوس د مختلفو توکسینونو د تولید قدرت لري او دا توکسینونه د نوموړې بکتریا په پاتوجنیزیس کې مهم او رغنده رول لري.

**کلیدي ټکي**: ستافیلوکوکوس اوریوس، ویرولانس فکتورونه، توکسینونه، لکوتوکسینونه، انتیروتوکسینونه

**سریزه**

ستافیلوکوکوس اوریوس یوه خطرناکه پاتوجن بکتریا ده، چې د مختلفو ناروغیو د رامنځ ته کېدو سبب کېږي. دا باکتریا د هغه پاتوجن بکتریاوو له ډلې څخه ده، چې د خپرېدو او مړینې اندازه یې لوړه ده. دا بکتریا اکثره وخت د پوستکي او تنفسي ناروغیو رامنځ ته کېدو کې رول لري. پوستکي ناروغۍ عموماً د ټولنې په سطحه او تنفسي ناروغۍ د ستافیلوکوکوس اوریوس شفاخانه ای له ډلې څخه حسابیږي. د پاس ناروغیو سربېره استافیلوکوکوس اوریوس د نورو وژونکو ناروغیو سبب هم کیږي، توکسیک شاک سندروم، اندوکارډیاټیس، استئومایلیټس او نورې د دې بکټریا په واسطه رامنځ ته کیږي. د ستافیلوکوکوس اوریوس بدلېدل په پاتوجن باندې په ویرولانس فکتورنو پورې اړه لري. زیاتره دغه ویرولانس فکتورونه د بکتریا متحرکو جنیټیکي عناصرو لکه پلازمیدونو او پروفاژونو پورې اړه لري، چې انتقال یې له یوې باکتریا څخه بلې بکتریا ته د بکتریوفاژ او یا د کانجوګیشن په طریقې تر سره کیږي. د ویرولانس فکتورنو له جملې څخه توکسینونه د یادولو وړ دي. توکسینونه هغه مالیکولونه دي، چې د تولید کوونکې اورګانیزم په واسطه تولید او ترشح کیږي. توکسینونه مستقیماً پر میزبان اثر کوي او د بکتریا پاتوجنیزیس قدرت زیاتوي.

**موخه**

د ستافیلوکوکوس اوریوس توکسینونو په واسطه د انسانانو او حیواناتو ککړېدل یا د هغې غذا ملوث کېدل چې له مصرف څخه وروسته د ډول ډول وژونکو ناروغیو سبب کېږي، د خلکو خبرول تر څو له هغو څخه ځان وساتي، چې مشکلاتو سره مخ نه شي.

**مواد اوکړنلاره**

دا څېړنه کتابتوني ده، چې په ۱۴۰۰ هـ ش کال کې تر سره شوې ده چې تقریباً د ۲۵ مختلفو کتابونو او مقالو څخه پکې استفاده شوې ده چې په معتبرو نړیوالو ژورنالونو کې خپرې شوي دي. په دې لیکنه کې چې له کومو څېړنو څخه استفاده شوې ده ټولې یې له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۹ میلادي کلونو منځ کې خپرې شوې دي او د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې تر سره شوې دي چې زیاتره یې پرمختللي هېوادونه دي. د کتابونو په برخه کې له هغو کتابونو څخه استفاده شوي چې Text books او د نوو کلونو چاپ وي.

**د ستافیلوکوکوس اوریوس توکسینونه**

د ستافیلوکوکوس اوریوس د ویرولانس فکتورونو له ډلې څخه یوه ډله ټوکسینونه دي. توکسینونه زهري مواد دي، نو ځکه له نورو فکتورونو څخه جلا کیدای شي. نوموړي داسي مالیکولونه دي، چې د اورګانیزم په واسطه تولید او ترشح کیږي او مستقیماً پر میزبان تاثیر کوي ځکه د اورګانیزم پاتوجنیزیس قدرت زیاتوي. ستافیلوکوکوس اوریوس له توکسینونو څخه علاوه نور مواد هم ترشح کوي، چې د میزبان حجراتو سره د بکتریا په نښلولو کې رول لري. دې موادو ته نښلوونکې پورټینونه ویل کیږي، چې د توکسینونو له ډلی څخه نه شمېرل کیږي نو ځکه په دې مقاله کې یې نه تشریح کوو. د ستافیلوکوکوس اوریوس بکتریا د توکسینونو له ډلې څخه سایتوتوکسینونه، لوکوتوکسینونه، اکسفولیاتیو توکسینونه، توکسیک شاک سندروم توکسینونه او انتیروتوکسینونو څخه عبارت دي، چې هر یو جلا جلا تر څېړنې لاندې نیول کیږي.

**هیمولایزین (سایتولایتیک)**

ځینې بکتریاوې داسې توکسینونه ترشح کوي، چې د تي‌لرونکو حیواناتو حجرات په لابراتواري محیط کې تجزیه کوي. زیاتره دا پروټینونه اګزوتوکسینونه دي. هیمولایزین او لکوسیدین چې، د ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه تولید او ترشح کیږي، د پیژندل شوو سایتولایتیک توکسینونو له ډلې څخه دي. څلور متفاوت هیمولایتیک توکسینونه (الفا، بیتا، ګاما او دلتا هیمولایزین) د ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه تولیدیږي خو د توکسینونو د تولید مقدار په اساس مختلف سټراینونه لري (جاوتز او همکارن، ۲۰۱۶).

**الف: الفاتوکسین (الفا هیمولایزین)** په ستافیلوکوکوس اوریوس بکټریا کې یو مهم ویرولانس فکتور عبارت له الفا هیمولایزین څخه دي، چې د بکټریا کالونیز (تجمع) سبب کېږي. دا توکسین د حجراتو پر غشا تخریب کوونکی تاثیر لري. دا یو پولي پیپټایډ دی، چې د hla جین په واسطه کود کیږي، چې هم په کروموزوم او هم په پلازمید باندې موجود وي تقریبا د ستافیلوکوکوس اوریوس ټولو سټراینونو په واسطه تولیدیږي (۲). دا توکسین د وینې عروقو خوي عضلات تخریبوي او زیاتره حجراتو لکه اریټروسایټ، لوکوسایټ او ترومبوسایټ له پاره زهري دي. دا توکسین د میزبان حجروي غشا هایدروفوب برخې پورې وصل کیږې چې په غشا کې ۱-۲ نانو متره په اندازه سوري جوړوي (۲۲). په لومړی کې الفا توکسین د مونومیر په شکل د بکټریا په داخل کې تولیدیږي وروسته د پولی میر په شکل راټولیږي. کوچني مالیکولونه لکه آدینوزین ترای فاسفیټ حجرې د سوریو له لارې خارج ته تویږي، همدارنګه د ازموتیک فشار د تغیر باعث کیږي، چې په دې وخت کې د کلسیم داخلېدل یو شمېر دوهمي تعلاملات تحریکوي لکه آراشیدونیک اسید تولید، ادینوزین ترای فاسفیټ، مګنیزیم او ګوانوزین ترای فاسفیټ، چې وروسته اندونوکلئاز فعالیږي، سایتوکاینونه لکه انټرلوکین.۲ آزادیږي د غشا جوړښت تغیر کوي او د اپې تیلیال حجراتو مرګ رامینځ ته کوي (۱۸). په سرعت سره د پوتاشیم ایون خارجیدل، د سودیم، کلسیم او نورو کوچنیو ملیکولونو داخلېدل د پړسوب او حجراتو د تجزیې سبب کیږي (۲۲). الفا توکسین د قوي توکسینونو له ډلې څخه دي، چې د سوېې پر سروکرویاتو باندې تر نورو زیات تاثیر لري او کلچر میډیا کې روښانه ساحه رامینځ ته کوي (۱۹). د الفا توکسین د تولید مربوطه جین په ظاهر کې د ترانس پوزون سره یوځای وي. خالص توکسین دي، چې مالیکولي وزن یې ۳۴ کیلوډالتونه دي، چې په اوبو کې د محلول مونومیز په شکل د ټولو سټراینونو په واسطه ترشح کیږي. دا توکسین د ظاهري جوړښت له نظره په څلور ډوله دي، چې د الکتروفوریز په واسطه یې سره بېلولی شو (۲۲).

**ب: بیتا توکسین (بیتا هیمولایزین)**

هغه اکزوتوکسین چې په اړه یې ډېر کم معلومات لرو، بیتا توکسین دي. د ستافیلوکوکوس اوریوس اکثره سټراینونو په واسطه ترشح کیږي (۱۷). د دې مالیکول مالیکولي وزن ۳۵ کیلو دالتونه دي، چې د یوه اسفنګومیلیناز په شکل کار کوي. د دې توکسین په زړه پورې فعالیت په یخ کې د تجزیې قابلیت دی. د پسه وینه لرونکی Blood agar وسط په ۳۷ سانتي ګراد حرارت کې بیتا توکسین د پسه وینې سروکرویاتو سره تعامل کوي، خو کرویات نه تجزیه کوي. که چېرې سره کرویات په ۴۱ درجې د سانتي ګراد حرارت کې وي حجرات تجزیه کیږي (۱۷). دا توکسین زیاتره حجراتو لکه اېریټروسایتونو، فیبروبلاستونو، لیکوسایتونو او ماکروفاژونو له پاره زهري دي. دا انزایم د حساسو حجراتو په غشا کې فاسفولیپیدونه هایدرولایز کوي. څومره چې د حجراتو پر سطحه باندې د سفانګومایلین اندازه زیاته وي، په همغه اندازه د دې حجراتو

حساسیت زیات او په زیاته اندازه تحریبیږی. داسې نظریه موجوده ده چې د نوعو حساسیت اختلاف په دا خاصیت (سفانکومایلین اندازه) پورې اړه لري (۲۲). ځېنو مونډلي ده چې دا توکسین ۷۲٪ د هغه سټراینونو څخه چې د غواګانو له غولانځي التهاب څخه جدا شوي وي، ۱۱٪ له هغه سټراینونو څخه چې د سالم انسان د پوزې څخه جدا شوي وي او ۱۳٪ له هغه سټراینونو څخه چې د انسان سپټي سیمیا څخه جدا شوي وي تولیدیږي (۱۷).

ج: **دلتا توکسین**: دلتا توکسین پولی پیپتاید دي چې ۳۰۰۰ دالتون وزن لري. د ستافیلوکوکوس اوریوس ټولو سټراینونو او همدارنګه د ستافیلوکوکوس اپیدرمیدیس او استافیلوکوکوس هیمولایتیکوس په واسطه تولیدیږي (۲۲). د حجرې غشا په تخریب کې د هیمولایزینونو رول مختلف دی، چې په درې بعدي جوړښت پورې ارتباط لري. په داسی حال کې چې دوه بعدي جوړښت یې تر اوسه تر ځېنې لاندې نه دی نیول شوی. دا توکسین له ۲۶ امینو اسیدونو څخه جوړ شوي دي (۳۵). دا یو فعال، سطحی او حرارت په وړاندې مقاوم توکسین دی. د توکسینونو ټولېدنی له پاره زیات تمایل لري، او د الکتروفوریز له نظره سره توپیر لري. د توکسین هر مالیکول د امینواسیدونو زیات مقدار لري، چې په یوه ناحیه کې ځای لري او د توکسین مالیکول د دوه قطبي په شکل او د سطحي فعالیت زیات قدرت درلودونکی کیږي (۵). دا توکسین پراخه تاثیر لرونکی سایتوتوکسیک اثرات لري، چې په اریتروسایتونو، ماکروفاژنو، لنفوسایتونو، نیوتروفیلونو او ترومبوسایتونو باندی تاثیر لري. په داسی ډول چې د حجروي غشا داخلي برخې جوړښت ته زیان رسوي. داسې نظر موجود دی چې د دې توکسین غیر احتصاصي زهري تاثیر د surfactant خاصیت په سبب دي، چې تخریبي عمل یې په حجروي غشا باندې د دیټرجینت (وینځونکو موادو) ته ورته دی (۲۲). دلتا توکسین په کوچنیو کولمو کې د اوبو جذب مخنیوی کوي. د ادینوزین مونو فاسفیت تجمع تحریک کوي او د هندي خوګ په کولمو کې د ایونونو نفوذ پذیري ته تغیر ورکوي. د دلتا توکسین نور تاثیرات د انسان سپینو کرویاتو په پولی مورفونوکلر او د ترومبوسایتونو د میتابولیزم په فعالوونکو فکتورنو باندې، په غاړه لري. دا تاثیرات په التهاب کې کېدای شي د ۱. د کلسیم ایون ($Ca^{+2}$) ترشح، ۲. د اکسیجن لرونکی راډیکالونو تولید، ۳- اسیتایل ترانسفراز د فعالېدو د زیاتوالي سبب شي. دلتا توکسین هیمولایز کوونکي پراخه تاثیر لري، چې د فاسفولیپیدونو په واسطه مهاریږي (۵).

**ګاما توکسین**: ګاما توکسین د ستافیلوکوکوس اوریوس ۹۹٪ سټراینونو په واسطه ترشح کیږي. دا توکسین له درو پروټینونو څخه جوړ دي چې دوه پروټیونونه یې په S کلاس پورې اړه لري. چې عبارت دي له ( Hlg A and Hlg C) ، او یو پروټین په F کلاس پوري اړه لري چې Hlg B څخه عبارت دي. په همدې اساس د Hlg جن ځای کولی شي دوه جفت پروټیونونه بیان کړي (Hlg B + Hlg A او Hlg C+ HlgA)، چې دواړه که د سوېې سټرګه کې زرق شي نو التهابي تاثیرات ځرګندوي همدارنګه نظر ورکړل شوی چې ګاما توکسین د توکسیک شاک سندروم په پاتوجنیزیس کې رول لري (۲۳،۲۹). دا توکسین قوي

هیمولایتیک فعالیت لري. دا درې پروټینونه یو بل سره په زیاتېدنه کې کومک کوي او دواړه په هیمولایز او توکسي سیټي کې ضروري دي. ګاما توکسین هیتروجن دي او د آنیونې دیټرجنټونو په واسطه په جوړېدونکو اجزاوو تجزیه کېږي. دا توکسین بیولوژیکي غشاګانې تخریبوي او کیداې شي چې د اسهالي ناروغیو چې د ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه منځ ته راځي رول ولري (۱۸).

**پنتون- والنتین لیکوسیدین**: دا د مهمو ویرولانس فکتورونو له جملې څخه دي چې د ستافیلوکوکوس اوریوس اکثره سټراینونو په واسطه تولیدیږي (۲۰). دا لیکوسیدین د پروټین د دوه برخو (S, F) درلودونکې دي، د هیمولایزین خلاف چې د کروموزوم په واسطه کود کېږي، پنتون- والنتین لیکوسیدین د متحرکو فاژونو په واسطه کود کېږي (۱۸). او د LukS- pv، LukF- PV جینونو په واسطه کود کېږي. دا دواړه جینونو په یو وخت د یو واحد تر عنوان لاندې ترجمه کېږي او عمل کوي، چې د میزبان معافیتي حجراتو حصوصاً سپین کروپاتو، مونوسایتونو او ماکروفاژونو په حجروي غشا باندې تجمع کوي او سوري پکې جوړوي. او د دې حجراتو د له منځه وړلو سبب کېږي (۲۰). د دې توکسین دوه جوړونکې برخې د انسان او سوېې پر سپینوکروپاتو باندې سینرجیزم خاصیت لري (۱). د پروټین دوه جوړونکې برخې (S, F) د ګانګلیوزید او فاسفاتیدیل کولین سره پیوست کېږي، وروسته له اتصال څخه S برخه د متیل ترانسفرازونو د فعالېدو سبب کېږي. چې د سپینو کروپاتو د تجزیې لومړۍ مرحله ده. د متیل ترانسفراز فعالېدل د فاسفولیپاز د فعالیدو سبب کېږي او همدارنګه پر غشا باندې د F برخې د وصلېدو ځایونو زیاتېدو سبب کېږي. لیکوسیدین د کاتیونونو په مقابل کې د سپینو کروپاتو د غشا نفوذ پزیرې قابلیت د تغیر سبب کېږي. وروستني تغیرات، دوهم قدم کې د کلسیم په موجودیت کې د پورټینونو زیاته اندازه (له سایتوپلازم ګرانولونو څخه سرچینه اخلي) ترشح کېږي. د دې ګرانولونو آزادېدل کېدای شي د مایکروسکوپ لاندې ولیدل شي. د لیکوسیدین دواړه برخې انتي جنې لوړ خاصیت درلودونکې او په توکسوئید باندې د بدلېدو وړ دي (۲،۳۳).

**اکسفولیاتیو توکسینونه**: اکسفولیاتیو توکسینونه تقریباً د ستافیلوکوکوس اوریوس ۵٪ سټراینونو په واسطه تولیدیږي. دا توکسینونه ځیني وخت د اپیدرمولایتیک توکسینونو په نوم هم یادیږي (۶). چې د et جن په واسطه کود کېږي. د سیرولوژې له نظره دا توکسینونه (چې له انساني سټراینونو څخه جدا شوي وي) درې ایزوفرم (A, B, D) لري. چې eta جن د اکسفولیاتیو توکسین د ETA نوعي کود کوونکۍ دي، چې پر پروفاژ باندي چې دا جن په پروفاژ باندې موقیعت لري. د etb جن چې د ETB توکسین کود کوونکې دي چې د یوه غټ پلازمید په مخ باندې واقع دي. د etd جن هم په جزایر بیماریزایي پورې محدود دي. زیات خپریدونکې اکسفولیاتیو توکسینونه چې له انسان څخه جدا شوي وي له ETA او ETB څخه عبارت دي (۲۱). دوه مختلف پروټیونو چې ETA له ۲۶۹۵۹ دالتون وزن په لرلو سره د ۲۰۶ امینو اسید درلودونکې او د حرارت سره مقاوم چې کولی شي د جوش درجه (۱۰۰ سانتي ګراد) تر ۲۰ دقیقو پورې تحمل

کړي. ETB د ۲۷۲۷ دالتون په وزن لرلو سره له ۲۴۶ امینواسیدونو څخه جوړ دي، چې له حرارت سره حساس دي. دا توکسینونه د سوپر انتی جن په ډول دي (۱۸،۳).

### Toxic Shoch Syndrome Toxin (TSST) (توکسیک شاک سندروم توکسین)

توکسیک شاک سندروم توکسین یو اګزوتوکسین دي چې ۲۴۰۰۰ دالتون وزن لري او درې ټایپونه A, B او C لري. دا توکسین له حرارت سره مقاوم او پروتئولایز دي، د کروموزوم په واسطه کود کیږی. احصایه څرګندوي چې ۹۰٪ ستافیلوکوکوس اوریوس سټراینونه د توکسیک شاک سندروم عوامل دی، چې TSST تولیدوی (۲۲،۳). همدارنګه دغه پروټین په هغه سټراینونو کې چې له سالمو خلکو څخه جدا شوی وي هم لیدل شوی دی. د TSST ژن پر کروموزوم واقع وي، چې د کلینیک له نظره د انتیروتوکسینونو له ګروپ سره ټړاو لري. خو د ایمونولوژي او جوړښت له نظره د انتیروتوکسینونو او تېې جوړونکی اکزوتوکسینونو امینو اسیدونو سره کم ورته والی لري. د TSST سربیره zec توکسینونه هم کولی شي چې د توکسیک شاک سندروم نښې رامنځ ته کړي (۳،۱۰). د ستافیلوکوکوس اوریوس دا توکسینونه د سوپرآنتی جن په صفت نومول شوي دي. د T لمفوسایتونو کلونونه د VP خاصی ساحې په واسطه د T حجراتو اخزی فعالوي. د TSST په واسطه د زیات مقدار T لمفوسایټونو فعالېدل د توکسیک شاک سندروم (TSS) او نورو ستافیلوکوکوس انتاناتو په پاتوجنیزیس کې رول لري (۳۱) TSST کولی شي چې د مخاطی سطحو څخه تېر او د وینې جریان ته داخل شي (۳۲). د TSST مقدار چې د ستافیلوکوکوس اوریوس سټراینونو په واسطه تولیدیږي د TSS انتاناتو په کنترول کې مثبت رول لري. داسې ګزارش ورکړل شوی دی، چې هغه مقدار TSST چې له متی سیلین سره مقاوم ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه تولیدیږي، سره توپیر لري. په داسی حال کې چې د تنظیم کوونکي عوامل یا سیستمونه دغه د جن بیان چې د ستافیلوکوکوس اوریوس سټراینونو تر منځ څرګندیږي مشخص نه دي (۳۶). په بدن کې د TSST بیانول په زیاته اندازه اکسیجن او حنثی pH ته ضرورت لري او دا پر دې دلالت کوي، چې TSS واقع کېدل د زخم انتاناتو په نسبت چې د ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه تولیدیږي غیر رایج دي. په زخم کې چاپیریال تقریباً بی هوازی او pH یې تیزابی وی (۲۲).

### انتیروتوکسین

د ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه غذایي موادو مسمومیت چې د غذا له مصرف څخه په ټوله نړۍ کې رامنځ ته کیږي یو عمده دلیل دی (۲۷). داسې اټکل کیږي چې په امریکا متحده ایالاتو کې هر کال ۶۰-۸۰ میلیونه کسان له غذا څخه ناروغېږي چې د ۹۰۰۰ کسانو د مړینې او تقریباً ۵ میلیارده امریکایی ډالرو په ارزښت د نقصان سبب کیږي (۹). د ستافیلوکوکوس اوریوس خپرېدل د انسان غذا تر منځ په مستقیم او

غیر مستقیم تماس په واسطه تر سره کیږي (۱۶). معمولاً د غذایي موادو مسمومیت چې د ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه رامنځ ته شوی وي د غذایي موادو مصرف خصوصاً غوښې او لبنیات چې د ستافیلوکوکوس اوریوس هغه ستراینونو په واسطه چې انتیروتوکسین تولیدوي ککړ وي ورسره یو ځای وي (۷). د ستافیلوکوکوس اوریوس انتیروتوکسینونه له ۲۰ څخه زیات مختلف ډولونه لري. د دې انتیروتوکسینونو له ډلې څخه SED, SEC, SEB, SEA او SEE پخواني او اصلي توکسینونه دي چې تقریباً له ۲۲۰-۲۴۰ امینو اسیدونو څخه جوړ شوي دي او مالیکولي وزن یې ۲۵-۳۰ کلیلو ډالتون دی. تر ټولو زیات خپریدونکی انتیروتوکسینونه له SEA او SEB څخه عبارت دي. SEA په غذایي مسمومیت کې رول لري. SEB د غذایي مسمومیت سربېره بیولوژیکي سلاح په ډول په جنګ او تروریزم کې ترې استفاده کیږي (۱۵). هغه مهم علایم چې د انتیروتوکسین لرونکو غذایي موادو د مصرف په واسطه رامنځ ته کیږي عبارت دي له: زړه بدوالی، استفراق، اسهال او د ګیډې دردونه چې د ککړې غذا له خوړلو څخه ۲-۶ ساعته وروسته څرګندیږي (۳۰،۳۴).

**د انتیروتوکسینونو ډولونه او خپریدل**

په لومړیو کې پنځه ډوله انتیروتوکسینونه چې د ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه تولیدیږي له SEA څخه تر SEE پورې راپور ورکړل شوی و. له هغه وخت را پدې خوا نوي ډولونه په ترتیب کشف او معرفي شول. دا د ستافیلوکوکوس اوریوس سوپرآنتي جینیک توکسین د امینو اسیدونو د ځنځیرونو ورته والي په اساس په مختلفو ګروپونو ویشل کیږي (۲۴). د ستافیلوکوکوس اوریوس انتیروتوکسینونه د بیولوژیکي او سیرولوژیکي خصوصیاتو په اساس ۲۳ مختلفو ډولونو ویشل شوي دي (۴). پخواني انتیروتوکسینونه چې له SEA څخه تر SEE پورې دي. چې SEC بیا هم په دري ډلو SEC2, SEC1 او SEC3 وېشل شوي دي. ۹۵٪ انتیروتوکسینونه چې د ستافیلوکوکوس اوریوس په واسطه تولیدیږي او غذایي موادو مسمومیت رامنځ ته کوي، د پخوانی انتیروتوکسین له ډلې څخه دي (۱۴).

**د انتیروتوکسینونو د عمل طریقه**

د ستافیلوکوکوس اوریوس ټول انتیروتوکسینونه او توکسیک شاک سندروم توکسین په محیط کې د انتي جن د پېژندو په اساس د متداولو آنتي جنونو په خلاف بکتریایي سوپرآنتي جنونه دي. د متداول آنتي جنونو په باره کې یوه CD4 د T cell انتيي جن د اخیزو او MHC class11 مالیکولونو تر منځ وصلیدل اسانوي. ستافیلوکوکوس اوریوس سوپرانتي جنونه مستقیماً د T cell په اخزو پورې وصلیږي. انتیروتوکسین له T cell سره کمک کوي چې سایتوکینونه لکه اینترلوکین، ګاما اینترفیرون او د تومور نیکروز کوونکي فکتورونه تولید کړي نو سوپر انتي جنونه هغه پروټینونه دي چې د T cell مختلف کلونونه فعالوي. د

سایتوکین له جملی څخه اینترلوکین-۲ (IL-2 ) زیات مقدار لرلو سره په معده او کولمو کی د التهاب علایمو مسؤلیت پر غاړه لري (۱۹).

**پایله**

په پایله کې په دې پوه شوو چې ستافیلوکوکوس اوریوس د مختلفو ناروغیو د تولید قدرت لري چې د ناروغیو په پاتوجنیزیز کې ویرولانس فکتورونه رول لري. د دې ویرولانس فکتورنو له جملې څخه یو هم توکسینونه دي چې د بکتریا په واسطه تولید او ترشح کیږي. چې د هغوی له ډلې څخه سایتوتوکسینونه، لوکوتوکسینونه، اکسفولیاتیو توکسینونه، توکسیک شاک سندروم توکسینونه او انتیروتوکسینونه دي.

**ماخذونه**

۱- بهونیا، آ. ک.، ترجمه : محسن زاده، م.، مهربان، م.، تجلی، ف.، 1392. میکروازگانیسم‌های بیماری‌زای با منشاء غذایی، موسسهٔ چاپ و انتشارات دانشگاه فردوسی مشهد، چاپ اول، فصل ششم، صفحات 213-228.

۲- تاج بخش، ح.، 1395. باکتری شناسی عمومی، مؤسسهٔ انتشارات دانشگاه تهران، چاپ یازدهم، فصل دوازده‌هم، صفحات 674-678.

۳- عربستانی، م.، راستیانی، س.، موسوی، س. ف.، غافل، ص.، علیخانی، م. ی.، (1394). تشخص ژن‌های سندرم شوک سمی و اگزفولیاتیو در سویه‌های استافیلوکوکوس اورئوس جدا شده از اشخاص ناقل، مقاوم و حساس به متی‌سیلین. مجله دانشکده پزشکی، دانشگاه علوم پزشکی تهران، دوره 73، شماره 8، صفحات 554- 560.

۴- عسگرپور، د.، ضیغمی، ح.، (1394). نقش انتروتوکسین‌های استافیلوکوکوس اورئوس (ses) در مسمومیت‌های غذایی استافیلوکوکی: مقاله مروری سیستماتیک. فصلنامه آزمایشگاه و تشخیص، شماره 28، صفحات 63-73

۵- کارتر، گ. آ.، ترجمه: احمدی، م.، دستمالچی، ح. (1386). اصول باکتری شناسی دامپزشکی. انتشارات جهاد دانشگاهی ارومیه، چاپ اول، فصل 26، صفحات 453-464.

۶- واکر، ت، س.، ترجمه: ضیغمی، ح.، حاجی خانی، ب.، اسماعیلی، د.، (1394). باکتری شناسی عمومی و اختصاصی. مؤسسه انتشاراتی اندیشه رفیع، چاپ سوم، فصل پنجم، صفحات 163-168.

7. Argudín, M. A., Mendoza, M. C., Rodicio, M. R. (2010). Food Poisoning and *Staphylococcus aureus* Enterotoxins. Toxins, 2, 1751-1773.

8. Ayepola, O. O., Olasupo, N. A., Egwari, L. O., Schaumburg, F. (2018). Characterization of Panton Valentine leukocidin-positive *Staphylococcus aureus* from skin and soft tissue infections and wounds in Nigeria: a cross-sectional study. F1000Research, 7, 1-10.

9. Balaban, N., Rasooly, A. (2000). *Staphylococcal* enterotoxins. International Journal of Food Microbiology, 61, 1-10.

10. Bokaeian, M., Tahmasebi, H., Zahedani, S. S., Adabi, J. (2017). An Investigation of Toxic Shock Syndrome Toxin-1 Gene in Methicillin- Resistant Clinical Strains of *Staphylococcus aureus* using Multiplex PCR Method. Qom University of Medical Sciences, 11, 57-67.

11. Bukowski, M., Wladyka, B., Dubin, G. (2010). Exfoliative Toxins of *Staphylococcus aureus*. Toxin, 2, 1148-1165.

12. Dai, J., Wu, S., Huang, J., Wu, Q., Zhang, F., Zhang, J., Wang, J., Ding, Y., Zhang, S., Yang, X., Lei, T., Xue, L., Wu, H. (2019). Prevalence and Characterization of *Staphylococcus aureus* Isolated From Pasteurized Milk in China. Frontiers in Microbiology, 10, 1-10.

13. Dehkordi, M. K., Shamsabadi, M. G., Banimehdi, P. (2019). The occurrence of *Staphylococcus aureus*, enterotoxigenic and methicillin-resistant strains in Iranian food resources: a systematic review and meta-analysis. National Center for Biotechnology Information, 31, 263-278.

14. Ertas, N., Gonulalan, Z., Yildirim, Y., E, Kum. (2010). Detection of *Staphylococcus aureus* enterotoxins in sheep cheese and dairy desserts by multiplex PCR technique. International Journal of Food Microbiology, 142, 74–77.

15. Greenfield, R. A., Brown, B. R., Hutchins, J. B., Iandolo, J. J., Jackson, R., Slater, L. N., Bronze, M. S. (2002). Microbiological, Biological, and Chemical Weapons of Warfare and Terrorism. The American Journal of the Medical Sciences, 223, 6, 326-340.

16. Hait, J., Tallent, S., Melka, D., Keys, C., Bennett, R. (2014). Prevalence of enterotoxins and toxin gene profiles of *Staphylococcus aureus* isolates recovered from a bakery involved in a second staphylococcal food poisoning occurrence. Journal of Applied Microbiology, 117, 866–875.

17. Huseby, M. J., Kruse, A. C., Jeff, D., Kohler, P. L., Vocke, J. A., Mann, E. E., Bayles, K. W., Bohach, G. A., Schlievert, P. M., Ohlendorf, D. H., Earhart, C. A., (2010). Beta toxin catalyzes formation of nucleoprotein matrix in staphylococcal biofilms. Proceedings of the National Academy of Sciences, 107, 14407-14412

18. Jawetz, E., Brooks, G. F., Butel, J. S., & Morse, S. A. (2016). Jawetz, Melnick, & Adelberg's medical microbiology. Lange Medical Books/McGraw-Hill, Medical Pub. Division. 208-210.

19. Jay, J. M., Loessner, M. J., & Golden, D. A. (2005). Staphylococcal gastroenteritis. *Modern food* microbiology, 545-566.

20. Karmakar, A., Jana, D., Dutta, K., Dua, P., Ghosh, C. (2018). Prevalence of Panton-Valentine Leukocidin Gene among Community Acquired *Staphylococcus aureus*: A Real-Time PCR Study. Journal of Pathogens, 1-8.

21. Kato, F., Kadomoto, N., Iwamoto, Y., Bunai, K., Komatsuzawa, H., Sugai, M. (2011). Regulatory Mechanism for Exfoliative Toxin Production in *Staphylococcus aureus*. Infection and immunity, 79, 1660–1670.

22. Murray, P. R., Rosenthal, K. S., & Pfaller, M. A. (2016). Medical microbiology. Elsevier Health Sciences. 170-182.

23. Nilsson, I. M., Hartford, O., Foster, T., Tarkowski, A. (1999). Alpha-Toxin and Gamma-Toxin Jointly Promote *Staphylococcus aureus* Virulence in Murine Septic Arthritis. Infection and immunity, 67, 1045–1049.

24. Ortega, E., Abriouel, H., Lucas, R,. Gálvez, A. (2010). Multiple Roles of *Staphylococcus aureus* Enterotoxins: Pathogenicity, Superantigenic Activity, and Correlation to Antibiotic Resistance. Toxins, 2, 2117-2131.

25. Quinn, P. J., Markey, B. K., Leonard, F. C., Hartigan, P., Fanning, S., & Fitzpatrick, E. (2011). Veterinary microbiology and microbial disease. John Wiley & Sons, 469-493.

26. Ruzickova, V., Voller, J., Pantucek, R., Petras, P., Doskar, J. (2005). Multiplex PCR for Detection of Three Exfoliative Toxin Serotype Genes in *Staphylococcus aureus.* Folia Microbiologica, 50, 499–502.
27. Scallan, E., Hoekstra, R. M., Angulo, F. J., Tauxe, R. V., Widdowson, M. A., Roy, S. L., Jones, J. L., Griffi, P. M. (2011). Foodborne Illness Acquired in the United States—Major Pathogens. Emerging Infectious Diseases, 17, 7-15.
28. Schlievert, P. M., Case, L. C. (2007). Molecular Analysis of Staphylococcal Super antigens. Methods in Molecular Biology, 113-125.
29. Serra, M. D., Coraiola, M., Viero, G., Comai, M., Potrich, C., Ferreras, M., Moussa, L. B., Colin, D. A., Menestrina, G., Bhakdi, S., vost, G.P. (2005). *Staphylococcus aureus* Bicomponent γ-Hemolysins, HlgA, HlgB, and HlgC, Can Form Mixed Pores Containing All Components. Journal of chemical information and modeling, 45, 1539-1545.
30. Shijia, W., Duan, N., Gu, H., Hao, L., Hua, Y., Gong, W., Wang, Z. (2016). A Review of the Methods for Detection of *Staphylococcus aureus* Enterotoxins. Toxins, 8, 176, 1-20.
31. Shimaoka, M., Yoh, M., Takarada, Y., Yamamoto, K., Honda, T., (1996). Detection of the gene for toxic shock syndrome toxin I in *Staphylococcus aureus* by enzyme-labelled oligonucleotide probes. Journal of Medical Microbiology, 44, 215-218.
32. Stingley, R. L., Liub, H., Mullis, L. B., Elkins, C. A., Hart, M. E. (2014). *Staphylococcus aureus* toxic shock syndrome toxin-1 (TSST-1) production and Lactobacillus species growth in a defined medium simulating vaginal secretions. Journal of Microbiological Methods, 106, 57–66.
33. Tajik, S., Peerayeh, S. N., Bakhshi, B. (2019). Hospital clones of Panton-Valentine leukocidin positive and methicillin-resistant *Staphylococcus aureus* are circulating in the community of Tehran. Journal of Global Antimicrobial Resistance, 1-12.
34. Tranter, H. S. (1990). Foodborne staphylococcal illness. Foodborne illness, 336, 1044-1046.
35. Yan, S., Wu, G. (2019). Elaboration of Simplest Folding Structures in 2-Dimensional Lattice with Delta-Hemolysin and Its Variants in HP Model. Biomedical Science and Engineering, 12, 293-309.
36. Zhao, H., Xu, S., Yang, H., He, C., Xu, X., Fupin, H., Shu, W., Gong, F., Zhang, C., Liu, Q. (2019). Molecular Typing and Variations in Amount of *tst* Gene Expression of TSST-1-Producing Clinical *Staphylococcus aureus* Isolates. Frontiers in Microbiology, 10, 1-11.

# د افغانستان مدني قانون له نظره د نکاح د صحت شرايط

ليكونكى: پوهنيار عبدالوهاب ايوبي ،شيخ زايد پوهنتون، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د قضا او څارنوالي څانګې استاد
تقريظ وركونكى: پوهندوى محمد شفيق مندوزى د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي اداري او ديپلوماسي څانګې استاد

**لنډيز**

د افغانستان مدني قانون د نورو عقدونو په څير، د نكاح عقد د ترلو لپاره يو لړ شرايط پيشبيني كړيدي، د نومورو شرايطو د جملې څخه يې يو ډول شرايط هم د نكاح د صحت شرايط دي چې د هغې په نه شتون سره د نكاح عقد د فاسد نكاح حكم اخلي او د هغې حقوقي آثار د دخول او نه دخول حالتونو ته په پام سره، مختلف حكمونه اخلي. څرنګه چې د نكاح د صحت لپاره مختلف شرطونه شتون لري، چې د هغې ماهيت په نكاح كې، د ځينو مواردو شتون او يا هم نه شتون دى. د مدني قانون له نظره هم، د نكاح د صحت شرايط، د نكاح مثبتو او منفي شرايطو ته شامليږي، چې د ځينو مواردو شتون پكې حتمي او ضروري دى او د ځيني مواردو نه شتون پكې حتمي او ضرروي ګڼل شوى. يعنې د نكاح د ترسره كولو لپاره پخپله د ښځې او ميړه يا د هغې د وليانو يا وكيلانو له لورې، په صحيح ډول د ايجاب او قبول ترسره كول، د نكاح د ترلو پر مهال د دوو اهليت لرونكو او عادلو شاهدانو شتون او په همدې ترتيب سره د نكاح لپاره د دايمي او موقتي حرمت نه شتون هغه شرايط دي، چې د افغانستان مدني قانون د حكمونو له مخې د نكاح د صحت لپاره يې وړاندوينه شوي او پدې ترتيب سره د نومورو شرايطو شتون او نه شتون د نكاح د صحت او فساد د تميز نقطه ګڼل كيږي.

**كليدي ټكي:** شاهدان، شرايط، محرمات، نكاح

**سريزه**

څرنګه چې انسان ټولنيز دى او د همدې ټولنيزتوب له مخې په ټولنه كې اوسيږي او دا هم يو مسلم حقيقت دى، چې انسان په يوازيتوب سره ژوند ته په دوام وركولو باندې هم قادر نه دى. پس د كورنۍ رامنځته كول او تشكيلول هغه شديد تمايل دى، چې انسان ته د دې مجال نه وركوي، چې په يوازيتوب او تنهائى سره ژوند وكړي؛ نو پدې ترتيب سره كولاى شو ووايو: كورنۍ د انسان د ټولنيزتوب لومړنۍ مرحله، د ټولنې د رامنځته كيدو او تشكيل لومړنۍ عامل دى او د وجايبو د تحمل لومړنۍ وسيله ده. نو له همدې اړخه، د اسلام مبارك دين د فاميل د تشكيل لپاره تر ټولو مشروع ترينه او طبعي طريقه د نكاح نظام ټاكلى دى. دا چې اسلامي حقوق او د هغې څخه په پيروى سره د مدني قانون حكمونه د افرادو ترمنځ او په ځانګړي ډول د فاميل او كورنۍ د غړو ترمنځ د اړيكو او مناسباتو په ترتيب او تنظيم كې نهايت عمده او مهم رول لري؛ نو د دغه مهم

او حیاتي ترون د دوام او په هغې کې د راتلونکو ستونزو د مخنیوي او په همدې ترتیب سره، د نکاح د نه فاسدېدو څخه د مخنیوي لپاره یې د یو سلسله شرایطو او شکلیاتو وړاندوینه کړېده. د افغانستان مدني قانون هم د اسلامي فقهې د حکمونو څخه په پیروی سره، د نکاح عقد د ترلو لپاره یو لړ شرایط پیشبیني کړیدي. د نوموړو شرایطو د جملې څخه یو ډول شرایط، د نکاح د صحت شرایط بلل کیږي چې د مدني قانون د حکمونو له مخې، د نکاح په عقد کې د نوموړو شرایطو نه شتون د نکاح د فساد لامل ګرځي او په هغې باندې د دخول څخه وړاندې د نکاح هېڅ اثر نه مرتب کیږي او د دخول څخه وروسته په هغې باندې د نکاح ځیني د آثارو څخه مرتبیږي. پس د نکاح د صحت شرایطو د نه شتون په صورت کې د نکاح عقد فاسد ګڼل کیږي. د افغانستان مدني قانون د حکمونو له مخې، د نکاح د صحت لپاره درې د دریو شرایطو وړاندوینه شویده. په صحیح طریقه سره د زوجینو، د هغې د وکیلانو یا اولیاؤ ترمنځ د ایجاب او قبول ترسره کول، د دوو تنو عادلو او اهلیت لرونکو شاهدانو شتون او د ناکح او منکوحې ترمنځ د دایمي او موقتي حرمت نه شتون هغه شرایط چې د نکاح د صحت لپاره پیشبیني شویدي.

**د څېړنې موخې**

د دې څېړنې موخې عبارت دي له:

۱- د مدني قانون د حکمونو مطابق د نکاح عقد د صحت شرایطو پېژندنه.

۲- د نکاح په عقد باندې د صحت شرایطو د شتون او نه شتون د آثارو په هکله د افغانستان حقوقي سیستم د موقف روښانه کول.

۳- د نکاح د صحت شرایطو په هکله د مدني قانون د حکمونو د نه شتون د مواردو پېژندل او وضاحت.

۴- د صحت شرایطو په تړاو د قانوني خلاء د مواردو په هکله د حنفي فقهې د حکمونو مطابق د اړوندو حکمونو بیانول.

**د نکاح د صحت د شرایطو پېژندنه**

د صحت شرط د هغه شرط څخه عبارت دی، چې د حقوقي نتایجو د رامنځته کېدو په منظور د هغه تحقق لازم وي او نشتوالی یې د عقد د بطلان نتیجه وي(۱۵: ۱۳۵). یا په بل عبارت، د صحت شرط د هغه عمومي شرط څخه عبارت دی چې باید په هر عقد کې شتون ولري او د هغې د نه شتون په صورت کې د احنافو له نظره عقد فاسد او د جمهورو فقهاوو له نظره عقد باطل ګرځي(۵: ۱۹۱). پس د نکاح د صحت شرایط د هغه شرایطو څخه عبارت دي، چې د هغې موجودیت په عقد باندې د آثارو او حقوقي نتایجو د مرتب کېدو په جهت ضروري ګڼل کیږي. یعنی د نکاح عقد د صحت شرایط د هغه شرایطو څخه عبارت دي، چې د هغې د نه شتون په صورت کې د نکاح حقوقي نتایج په هغه صورت کې چې نېږدیوالي پکې صورت نه وي موندلی وي، نه

رامنځته کیږي او د باطل نکاح په حکم کې راځي، خو که چېرې د نکاح د تړلو څخه وروسته مباشرت صورت نیولی وي؛ نو نکاح د فاسد نکاح حکم اخلي. د مدنی قانون ۹۷ ماده پدې مورد دا ډول حکم لري: په باطل نکاح کې که څه هم دخول پکې صورت موندلی وي، د صحیح نکاح د آثارو څخه هیڅ یو پرې نه مرتبیږي؛ نو پدې اساس ویلای شو، چې د نکاح د صحت شرایط د نکاح د آثارو د مرتب کېدو لپاره ضروري او لازمي او د هغې د نه شتون په صورت کې، د نکاح آثار نه مرتب کیږي.

**د مدني قانون له نظره د نکاح د صحت د شر ایطو ډولونه**

د نکاح د صحت شرایط که څه هم په اسلامي فقه کې زیات ښوودل شوي او د ځینو شرایطو په هکله د فقهاوو ترمنځ اختلاف هم شتون لري او د ځینو معاصرو فقهاوو له نظره د نکاح د صحت شرایط تر لسو پورې رسیږي(۳:۹۸). خو د افغانستان مدني قانون، د اسلامي فقهې د حکمونو څخه په اقتباس سره، د نکاح د صحت لپاره په ۷۷ ماده کې شرایط پیشبیني کړیدي. د صحت شرایط د مدنی قانون د ۷۷ مادې له مخې عبارت دي، له: ۱- د عقد د دواړو خواوو یا د هغوی د ولیانو یا وکیلانو په وسیله د صحیح ایجاب او قبول ترسره کول. ۲- د اهلیت لرونکو دوو شاهدانو حضور. ۳- د نکاح کوونکي او نکاح کیدونکي ترمنځ د دایمي یا موقتي حرمت نشتوالی(۲: ۵۱).

**۱- د نکاح د دواړو لوریو یا هغوی د والیانو یا وکیلانو په وسیله د صحیح ایجاب او قبول ترسره کول**

د نکاح عقد د دوو ارادو د توافق په صورت کې تړل کیږي، چې د ارادو نوموړی اعلام د ایجاب او قبول په نومونو سره یادېږي. ایجاب د وجب دریښې څخه اخیتسل شوی چې د واجب کولو او فرض کولو په معنی سره دی(۸: ۲۲۲). پس ایجاب د شخص د ارادې د اعلام څخه عبارت دی، چې مقابل اړخ د عقد انعقاد او تړلو ته دعوت کوي؛ یا ایجاب د یوه شخص له لورې بل شخص ته د قرارداد د تړلو لپاره وړاندیز دی(۱۵: ۲۵). او قبول د قبل د ریښې څخه اخیستل شویدی، چې په لغت کې د منلو په معنی سره دی(۸: ۹۳۴). پس قبول د دویم شخص د ارادې اعلامول دي چې د لومړني شخص د ایجاب د قبلولو لپاره یې څرګندوي(۱۵: ۲۲۸). یا چې د ایجاب یا وړاندیز په مقابل کې صورت نیسي، یا په بل عبارت د ایجاب منلو ته قبول ویل کیږي. په اسلامي فقه کې ایجاب، د لومړني شخص د وړاندیز څخه عبارت دی چې دوهم شخص ته یې د عقد د تړلو لپاره کوي. هغه شخص چې نوموړی وړاندیز ترسره کوي، د ایجاب کوونکي یا موجب په نوم سره یادیږي. پدې ترتیب سره ایجاب د مقابل لورې د رضایت ترلاسه کولو لپاره د ارادې د اعلام څخه عبارت، چې د هغې په وسیله یو شخص بل شخص ته د عقد د تړلو لپاره د اساسي عناصرو وړاندیز کوي. د افغانستان مدني قانون کې د ایجاب او قبول لپاره تعریف شتون نلري، خو د مدني قانون د ۵۰۶ مادې د دوهم بند څخه داسې استنباط کیږي، چې ایجاب او قبول د عقد د انعقاد لپاره لازمي شرط دی. د یادولو وړ ده چې یوازې د خبرو

اترو او معاملې دعوت ویوونکي ته کومه وجیبه نه رامنځته کوي او د دا ډول دعوت قبول د عقد د تړلو موجب نه ګرځي، یعنی ایجاب باید کامل، مشخص او قاطع پیشنهاد وي تر څو حقوقي اثر رامنځته کړي، ناقص او مبهم دعوتونه ایجاب نه ګڼل کیږي. پس د ایجاب او قبول د صحت لپاره د یو سلسله شرایطو شتون ضروري او لازمي دی، چې عبارت دي له:

**الف- د عاقدینو د شتون په صورت کې د مجلس اتحاد**

د مدنی قانون د ۶۶ مادې له مخې: د نکاح عقد په صریح ایجاب او قبول سره چې فوریت او استمرار افاده کړي، بې د وخت د قید څخه په یوه واحد مجلس کې صورت مومي(۲: ۴۸). پدې ماده کې د حنفی فقهې د حکمونو څخه پیروی شوي، ځکه د احنافو له نظره د نکاح د تړلو لپاره واحد مجلس شرط ده، یعنی ایجاب او قبول د زماني له باید لحاظه په یوه واحد مجلس کې ترسره شي، نه په ګڼو او متعددو مجلسونو کې؛ خو که چېرې اړخونه د مکاني له نظره په متعددو مجالسو کې حضور ولري، توپیر نه لري(۶: ۱۱۵).. پس په هغه صورت کې چې ایجاب او قبول د زماني له لحاظه په ګڼو مجلسونو کې صورت ومومي، لکه دا چې: ښځه سړي ته ووایې، چې تاسره مې نکاح وکړ یا د ښځې ولی ووایې چې خپله لور مې تا ته په نکاح درکړه. خو مقابل لوری د قبول څخه وړاندې مجلس ترک کړي او یا داسې عمل ترسره کړي چې د قبول څخه د هغې په انصراف باندې دلالت وکړي او وروسته ووایې چې قبوله مې ده. نو د احنافو له نظره پدې حالت کې، د نکاح عقد نه منعقدیږي، ځکه پدې صورت کې د مجلسونو تر منځ فاصله عرفاً او عادتاً د هغې څخه د منصرف کېدو ښکارندویي کوي. همدارنګه که چیرې د نکاح تړلو مجلس زیات وخت په بر کې ونیسي؛ نو د احنافو له نظره نکاح عقد تړلی ګڼل کیږی. خو د جمهور فقهاوو له نظره په ایجاب او قبول کې فوریت شرط دی(۱۳: ۶۹). پس په هغه صورت کې چې د نکاح د تړلو مجلس زیات وخت په بر کې ونیسي، نو د نکاح عقد منعقد نه ګڼل کیږي، ځکه د افغانستان مدني قانون ۶۶ ماده د جمهورو فقهاوو نظر په پیروی سره پدې هکله صراحت لري: د نکاح عقد په صریح ایجاب او قبول سره چې فوریت او استمرار افاده کړي، بې د وخت د قید څخه په یوه واحد مجلس کې صورت مومي(۲: ۴۸). سربېره پردې که چېرې د نکاح د اړخونو څخه یو غایب وي او د نکاح عقد د لیک یا استازې له لارې صورت ومومي؛ نو د احنافو له نظره د نکاح عقد مجلس د شهودو پر وړاندې د لیک قرائت او یا د استازي له لارې د ایجاب اوریدل او بیان له لارې صورت موندلای شي. پس که چېرې یوې ښځې ته لیک قرائت شي او یا د استازې د لیږلو له لارې ورته ایجاب بیان شي او د نکاح عقد مجلس د نورو کارونو په جهت ترک کړي او په بل کار باندې مشغوله شي او وروسته خپل قبول اعلام کړي؛ نو نکاح د مجلس تعدد او نه وحدت په سبب سره نه تړل کیږي(۶: ۱۱۶). څرنګه چې د نکاح د صحت لپاره شرط ده، چې هر یو د طرفینو څخه د مقابل لوري خبرې واوري که څه هم دا امر په حکمي ډول ومومي. لکه: دا چې ایجاب او قبول د لیکنې یا اشارې له لارې صورت ومومي؛ نو پدې اساس، په هغه صورت کې چې د نکاح اړخونه په یوه واحد مجلس کې حضور ولري او د خبرو کولو توان هم ولري، نو د ټولو فقهاوو په نظر د دوی تر منځ د نکاح

عقد انعقاد د کتابت او اشارې له لارې د نه ضرورت په سبب سره صحت نلري که څه هم لیک واضح او روښانه وي او د نکاح عقد په انشاء باندې دلالت وکړي. یعنی په خبرو کولو باندې د قدرت په صورت کې، کتابت او اشارې ته ضرورت شتون نلري او همدارنګه کتابت د شاهدانو له لورې د ایجاب او قبول د نه اوریدو موجب ګرځي. خو په هغه صورت کې چې یو د طرفینو څخه د مجلس څخه غایب وي د حنفي فقهاوو د نظر مطابق د نکاح عقد د لیکلو او یا د استازي د لیږلو له طریقه د شاهدانو په حضور د لیک د قرائت او یا د استازې په وسیله د ایجاب په بیان سره انعقاد کیږي. د دې ترڅنګ په هغه صورت کې چې یو د اړخونو څخه ګونګ وي؛ نو احناف پدې نظر دي: که چېرې شخص په لیکلو باندې قادر وي؛ نو د نکاح عقد باید د کتابت له لارې وتړل شي او که چېرې شخص په لیکلو باندې قادر نه وي؛ نو پدې صورت کې د دا ډول شخص نکاح په معروفه اشاره سره منعقد کیږي، چې د هغې په مقصود باندې دلالت وکړي(۱۳: ۶۱- ۶۳).

**ب- د ایجاب سره د قبول مو افقه**

قبول باید د ایجاب سره مطابقت ولري(۷: ۱۳۰). د ایجاب سره د قبول توافق د عقد په محل او د مهر په مقدار کې تحقق مومي، نو پدې اساس، د عقد په محل کې اختلاف پدې معنی دی، که چېرې شخص ووایې چې خپله لور زینب مې تا ته په نکاح درکړه او مقابل طرف ووایې چې کلثوم مې قبوله ده؛ نو څرنګه چې پدې صورت کې قبول د ایجاب سره مطابقت نلري، د نکاح عقد هم نه تړل کیږي. او که اختلاف د مهر په مقدار کې وي: مثلاً-دا چې ښځه سړي ته ووایې چې تاسره مې د ۱۰۰۰ شرعي درهمو مهر په مقابل کې نکاح وکړ؛ خو مقابل لوری ووایې چې د ۵۰۰ شرعي درهمو مهر په مقابل کې مې قبوله یې، نو پدې صورت کې د ایجاب او قبول د نه مطابقت په سبب، نکاح نه تړل کیږي(۱۲:۵۲). د مدنی قانون ۵۲۱ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري: د ایجاب او قبول تر منځ هغه وخت مطابقت حاصلیږي، چې د عقد په ټولو اساسي مسایلو د دواړو خواوو موافقه شوي وي(۲: ۲۲۱ او ۲۲۲).

**ج- د ایجاب څخه د موجب رجوع نه کول**

د هغه چا لپاره چې د نکاح غوښتنه کوي شرط دی، چې د مقابل لورې د قبول څخه مخکې د خپل ایجاب څخه رجوع ونکړي. پس که چېرې یې د ایجاب څخه رجوع وکړه، ایجاب باطل او پدې ترتیب سره د رجوع څخه وروسته قبول هم باطل ګڼل کیږي(۹: ۸۷). نو پدې اساس، موجب د قابل د قبول څخه وړاندې کولای شي چې د خپل ایجاب څخه رجوع وکړي او خپل ایجاب بېرته واخلي. خو مقابل لوری ته د اعلام کېدو او د پیشنهاد څخه د هغه په خبریدو سره ایجاب الزامي ګڼل کیږي. د مدنی قانون ۵۱۷ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري: د عقد دواړه خواوې د ایجاب څخه وروسته د عقد د مجلس تر پای پورې د قبلولو یا رد کولو اختیار لري. که ایجاب کوونکی د ایجاب د صادریدو څخه وروسته او د مقابل لورې د قبلولو تر مخه د خپل ایجاب څخه رجوع وکړي یا د عقد د دواړو خواوو څخه د یوه نه داسې وینا یا کار صادر شي چې د قبلولو څخه په

انصراف دلالت وکړي، نو دا رنګه ایجاب باطل دی او تر هغې وروسته قبلول هم د اعتبار څخه ساقط دي(۲: ۲۰۶ او ۲۰۷).

**د- په حال زمانې سره د صیغې تنجیز**

د مدنی قانون د ۶۷ مادې له مخې: نکاح چې په غیر محقق شرط پورې معلق وي یا راتلونکې زمانې ته مضاف وي نه شي عقد کیدای(۲:۴۸). په همدې ترتیب سره فقهاء هم پدې باندې متفق دي، چې د نکاح عقد د انعقاد لپاره دا شرط ده، چې د هغې صیغه به په حال زمانې سره منجزه وي، نو پدې اساس د ټولو فقهاوو په اتفاق په راتلونکي زمانې پورې د نکاح عقد د صیغې تنجیز جواز نلري. ځکه د تنجیز په صورت کې نکاح نه منعقد کیږي. مثلاً: که چیرې سړی ښځې ته ووایې چې تا سره سبا یا بل سبا نکاح کوم او همدارنګه په غیر محقق شرط پورې د نکاح عقد تعلیق لکه څرنګه چې په پورتنۍ ماده کې ورته اشاره شویده جواز نلري(۶: ۱۱۷).

**هـ- د ایجاب او قبول استمرار**

د ایجاب او قبول الفاظ باید استمراري، دایمي او غیر مؤقت وي. د مدني قانون ۶۶ ماده پدې هکله صراحت لري: د نکاح عقد په صریح ایجاب او قبول سره چې فوریت او استمرار افاده کړي، بې د وخت د قید څخه په یوه واحد مجلس کې صورت مومي(۲: ۴۸). نو پدې اساس، د نکاح د صحت لپاره شرط ده، تر څو د نکاح صیغه په مؤبد او مستمر شکل سره څرګنده شي. ځکه که چیرې د نکاح عقد صیغه په مؤقت ډول سره اظهار شي، لکه: دا چې سړی ښځې ته ووایې چې ستا سره د ټاکلي وخت لپاره یا د یوې میاشتې لپاره نکاح کوم او ښځه هم پدې مورد خپل قبول ښکاره کړي؛ نو دا ډول نکاح د صیغې د مؤقت والي او نه استمرار له امله باطل ګڼل کیږي؛ ځکه دا ډول نکاح موقت نکاح دی چې د متعه نکاح او منقطع نکاح په نومونو سره هم یادیږي او متعه نکاح د هغه نکاح څخه عبارت دی چې د سړي او ښځې تر منځ د ټاکلې مودې لپاره منعقدیږي. دا ډول نکاح د اهل سنت د ټولو فقهاوو په اتفاق نظر سره باطل ګڼل شویدی(۶: ۱۱۷ او ۱۱۸).

**۲- د دوو اهلیت لرونکو شاهدانو حضور**

د نکاح عقد د صحت د شرایطو څخه یو شرط د دوو تنو نارینه یا د یو تن نارینه او د دوه تنه ښځینه شاهدانو شتون دی، البته د نکاح په عقد کې د شاهدانو شتون د اهل سنت د ټولو فقهاوو له نظره یو ضروري او حتمي امر دی. او د هغې د نه شتون په صورت کې د نکاح عقد صحت نه مومي، ځکه د نکاح ترڅلو پر مهال د شاهدانو حضور د وروستنیو اختلافونو او قضیو د حل او فصل په تړاو، مهم او بنسټیز رول لري(۹: ۱۳۲). د نکاح عقد کې د شاهدانو د حضور په هکله رسول الله(ص) فرمایي'' لا نکاح اِلاَّ بولی و شاهد عدلٍ'' یعنی د ولی له اجازې پرته او د عادلو ګواهانو له حضور څخه پرته نکاح صحت نلري. او همدارنګه فرمایي'' البغایا اللاتي ینکحن انفسهن بغیر بینة '' یعنی هغه ښځې چې د ګواهانو پرته ځانونه په نکاح ورکوي، هغوی زنا کارې دي(۶: ۱۴۵ او ۱۴۶). څرنګه چې د افغانستان مدنی قانون هم د اسلامي فقهې د حکمونو

څخه په پیروی سره د ۷۷ مادې په ۲ فقره کې، د نکاح د صحت لپاره د دوو نفرو عادلو او اهلیت لرونکو شاهدانو حضور شرط ګڼل شویدی(۲: ۵۱). پس د دې مادې د حکمونو څخه په واضح ډول استنباط کیږي، چې د شاهدانو د شهادت د صحت لپاره شرط ده چې، هغوی باید عاقل او بالغ وي؛ نو پدې اساس په نکاح کې د لیوني او ماشوم شهادت، د شهادت د موخو د نه شتون په سبب صحت نه لري. همدارنګه نوموړي شاهدان باید عادلان وي. د دې ترڅنګ په اسلامی فقه کې په پورته ذکر شوو شرایطو برسېره ځیني نور شرایط هم د شاهدانو لپاره پیشبیني شویدي. د اسلامي فقهې د حکمونو پربنسټ، د شاهدانو لپاره شرط ده، هغه باید مسلم وي. یعنی که چېرې د نکاح عقد اړخونه مسلمانان وي، فقها پرته د اختلاف څخه د نکاح د صحت لپاره د شاهدانو مسلمان والی شرط بولي. خو که چېرې ښځه د اهل کتابو څخه وي؛ نو د امام شافعی(ح) امام احمد بن حنبل(ح) امام محمد(ح) او امام زفر(ح) له نظره: شاهدان باید مسلمان وي. خو بر عکس امام ابوحنیفه(ح) او امام ابویوسف(ح) پدې نظر دي، چې د اهل کتابیه ښځې نکاح د دوو اهل کتابو شاهدانو په حضور هم صحت لري(۱۳: ۸۲). پدې مورد د مدنی قانون (۲)۹۲ ماده هم دا ډول صراحت لري: د کتابي ښځې نکاح د هغې د کتابي ولی په وسیله د دوه کتابي شاهدانو په حضور صورت موندلی شي، د دې مادې په درج شویو مواردو کې اولاد د پلار د دین تابع ګڼل کیږي(۲: ۵۷). په همدې ترتیب سره، د شاهدانو لپاره شرط ده، چې شاهد باید کوڼ نه وي. ځکه شاهد د کوڼوالی په صورت کې نشي کولای، چې د اړخونو خبرې د اعلام په وخت کې واوري او وروسته هغه بل چا ته نقل کړي. یعنی د کوڼوالي په صورت کې د هغوی شتون د نه شتون په معنی سره دی. سربېره پردې چې، د شوافعو له نظره: شاهد باید کوڼ نه وي، باید ړوند هم نه وي. که څه هم د جمهورو فقهاوو له نظره، د شاهدانو د بصر یا لیدلو حس یا توانایی شتون، د شاهدانو د صحت د شرایطو څخه نه ګڼل کیږي. ځکه ړوند شخص د اهلیت لرونکی دی او پدې ډول مواردو کې د شاهدانو شهادت، پر قول شهادت دی؛ نو د نورو معاملو په څیر صحت لري(۶: ۱۴۸). همدارنګه د ټولو فقهاوو په اتفاق نظر سره د شاهدانو تعدد د نکاح په عقد کې د شهادت د صحت د شرایطو څخه ګڼل کیږي، چې د هغې نصاب د امام ابوحنیفه(ح) له نظره حداقل دوه تنه نارینه او یا یو تن نارینه او دوه ښځې دي؛ نو پدې اساس د نکاح عقد د واحد شخص په شهادت سره نه منعقدیږي.د شاهدانو د تعدد په هکله د مدني قانون په ۷۷ ماده کې هم د پورتنی حکم څخه پیروي شویده. که څه هم د جمورو فقهاوو له نظره شاهدان یوازې باید نارینه وي. خو د احنافو له نظره، په نکاح کې د یو نارینه او دوو ښځینه وو شهادت هم صحت لري(۹: ۹۰). دا چې په نکاح کې په کوم وخت کې باید شاهدان موجود وي، پدې هکله جمهور فقها پدې نظر دي، چې شاهدان باید د نکاح عقد د انعقاد پر مهال حاضر وي، تر څو د نکاح عقد د ترلو پر مهال د نکاح د اړخونو ایجاب او قبول واوري. پس په هغه صورت کې چې د نکاح عقد د شاهدانو د حضور پرته ترسره شي، نو دا ډول عقد د ''لا نکاح الا بولی و شاهد عدلی'' په سبب، فاسد دی. خو د مالکیانو له نظره،

د شاهدانو حضور د نکاح عقد د صحت لپاره شرط دی که هغه نکاح د ترلو پر مهال وي او که د ایجاب او قبول څخه وروسته صورت ومومي(۶: ۱۵۰).

**۳- د نکاح کوونکي او نکاح کېدونکي ترمنځ د دايمي يا موقتي حرمت نشتوالی**

د دمدنی قانون د ۷۷ مادې له مخې د ناکح او منکوحې تر منځ د حرمت عدم موجودیت د نکاح د صحت د شرایطو څخه ګڼل شویدی، د نوموړي مادې حکم د اسلامي فقهې څخه اقتباس شویدی. ځکه د اسلامي فقهې له نظره، نکاح هغه ښځې سره جواز لري، چې د شخص سره د هغې نکاح حلال وي. نو پدې اساس د نکاح عقد د دایمي او موقتي محرماتو سره حرام دی. محرمات د محرم جمع ده، د رحم د ریښې څخه اخیستل شویدی او د حرام په معنی سره دی، پس په حقوقي اصطلاح کې محرمات هغه ښځو ته ویل کیږي، چې شخص نشي کولای د هغې سره نکاح وکړي. یا د هغه خپلوانو څخه عبارت دي، چې د شخص نکاح ورسره روا نه وي(۱: ۶۲۵). محرمات په عموم کې په دوه ډوله دي: دایمي محرمات او موقتي محرمات:

**الف- دایمي محرمات**

دایمي محرمات د هغه ښځو څخه عبارت دي، چې سړی نشي کولای دهغې سره د ابد لپاره د نکاح عقد وکړي او هغه علت چې د مؤبد حرمت د ایجاد موجب ګرځي، قرابت دی او د هغې رابطې څخه عبارت ده، چې د دوؤ نفرو تر منځ د نسب، نکاح او رضاع په اثر رامنځته کیږي(۵: ۳۰۴). نو پدې اساس په عمومي ډول قرابت په درې ډوله دی: نسبي قرابت، سببي قرابت او رضاعي قرابت. هغه قرابت چې د نسب څخه حاصلیږي د نسبي قرابت او هغه قرابت چې د نکاح په اساس حاصلیږي د سببي قرابت او هغه قرابت، چې د شیدو خوړلو او تي رودلو په اثر حاصلیږي د رضاعي قرابت په نوم سره یادیږي، چې د محرماتو نوموړي ذکر شوي ډولونه لاندې برخو ته شاملیږي:

**۱- نسبي محرمات**

نسبي حرمت د هغه حرمت څخه عبارت دی، چې له بل چا سره د نسب له لوري د یوه شخص له اړیکې څخه منځته راځي(۱۵: ۲۸۹). یعنی نسبي قرابت د دوؤ نفرو تر منځ رابطه ده پدې اعتبار، چې دواړه د یو نسل څخه وي یا دواړه د یوه مشترک اصل څخه وي(۷: ۱۶۶). په بل عبارت نسبي قرابت د هغه خپلوی څخه عبارت دی، چې د یو څخه د بل شخص د تولد یا د یو شخص څخه د هغوی د تولد په اثر رامنځته کیږي(۵: ۳۰۴). د نسبي اقاربو تر منځ نکاح نه یوازې، دا چې په اوس وخت کې، بلکې په تېرو وختونو کې او همدارنګه نه یوازې په اسلامي حقوقو کې، بلکې په نورو ادیانو کې هم ممنوع وو. د نسبي محرماتو د ډولونو په هکله الله تعالی د قرانکریم په سورت النساء(۲۳ او ۲۴) آیاتونوکې یادونه کړېده او د افغانستان مدني قانون هم د نوموړي حکم څخه په پیروی سره د نسبي محرماتو ډولونه بیان کړیدي. یعنی، د اسلامي فقهې څخه په پیروی سره د افغانستان مدني قانون د ۸۱ مادې مطابق هم " د شخص نکاح د خپلو اصولو او فروعو سره، د پلار او

مور د اصولو او فروعو سره او د نیکونو د لومړۍ طبقې د فروعو سره په دایمي ډول حرام دی.'' د پورتنۍ مادې د حکمونو په پام کې نیولو سره، کولای شو ووایو چې نسبي محرمات په ټوله کې په څلورو ډولونو باندې وېشل شویدي، چې د شخص د اصولو، د شخص د فروعو، د شخص د اصولو د فروعو او همدارنګه د شخص د نېکونو د فروعو(یوه درجه) څخه عبارت دي، چې د هغې سره نکاح د نسب له امله په دایمي ډول حرام دی(۲: ۵۲).

**۲- سببي محرمات**

سببي محرمات هغه اشخاص دي، چې د د هغوی سره نکاح د سببي خپلوی د شتون په لحاظ حرام وي(۵: ۳۰۴). د افغانستان مدني قانون د اسلامي فقهې څخه پیروی سره، په ۸۲ ماده کې د سببي محرماتو څخه یادونه کړې او له مخې یې د هغو ښځو سره، چې د هغوی سره نکاح د سببي خپلوی پربنسټ په دایمي ډول حرام دي، په نوموړې ماده کې سببي محرمات په څلور ډوله ښودل شویدي: د شخص نکاح د خپلو اصولو د زوجې او د خپلو فروعو د زوجې سره په دایمي ډول او همدارنګه د خپلې زوجې د اصولو سره په مطلق ډول او د زوجې د فروعو سره د دخول په صورت کې په دایمي ډول حرام دی(۲: ۵۲). د پورتنۍ مادې د حکمونو مطابق، د یو شخص نکاح د خپلو اصولو او فروعو د زوجاتو سره او همدارنګه د یو شخص نکاح د زوجې د فروعو سره د دخول په صورت کې او همدارنګه د زوجې د اصولو سره نکاح د سببي حرمت د شتون له امله په دایمي ډول حرام دی. نوموړی حکم د اسلامي فقهې څخه اخسیتل شویدی. د اسلامي فقهې د حکمونو له مخې، د خپلې زوجې د اصولو سره د شخص نکاح حرمت، د ځیني فقهاوو له نظره یوازې د نکاح عقد په انعقاد سره ثابتیږي، چې مدنی قانون هم د دغه نظر څخه پیروي کوي. خو د ځینو فقهاوو له نظره، دغه حرمت د دخول په صورت کې ثابتیږي؛ نو پدې اساس که چېرې شخص د ښځې سره د نکاح عقد ترسره کړي، خو د دخول څخه وړاندې هغې ته طلاق ورکړي او یا هغه وفات شي؛ نو شخص کولای شي چې د هغې د اصولو سره نکاح وکړي. د دې ترڅنګ، د احنافو له نظره: په عقد او دخول برسېره په فاسد نکاح کې په وطی سره او همدارنګه د احنافو او حنابله وو له نظره: لکه څه ډول چې د زنا په اساس د مصاهرت حرمت منځته راځي، په هماغه ډول د زنا د مقدماتو په اساس هم د سبب حرمت رامنځته کیږي. او د حنابله وو له نظره، په لواط سره هم سببی حرمت رامنځته کیږي. خو شوافع او مالکیان پدې نظر دي، چې د زنا او د شهوت په نظر کتل یا لمس یا په لنډ ډول د زنا مقدمات د مصاهرت او سببي حرمت د رامنځته کیدو باعث نه ګرځي(۶: ۱۵۸. ۱۶۰). د افغانستان مدنی قانون هم په ۸۳ ماده کې د حنفي فقها نظر تایئد کړیدی او پدې هکله دا ډول صراحت لري: د زنا کوونکي(زاني) نکاح د زنا کړی شوي د اصل او فرعې سره، همدارنګه د زنا کړی شوي نکاح د زنا کوونکي د اصولو او فروعو سره حرام دی. د زنا کړی شوي د اصولو او فروعو نکاح د زنا کوونکي د اصولو او فروعو سره د دې حکم څخه مستثنی دی(۲: ۵۳).

**۳- رضاعي محرمات**

رضاع د تي رودلو په معنی ده(۸: ۶۵۳)، یعنی د مرضعې د سینې څخه د ماشوم د شیدو څښل د رضاع څخه عبارت دي او په اصطلاح کې رضاعي حرمت د هغه حرمت څخه عبارت دی، چې د دوو نفرو تر منځ د شیدو خوړلو په اساس رامنځته کیږي. یا مفصلاً: د هغه حرمت څخه عبارت دی، چې په لومړنیو دوو یا دوه نیمو کالونو کې د یو ماشوم له لوري د یوې ښځې د شیدو خوړلو په اثر منځته راځي او پایله یې د تل لپاره د رضاعي مور له فروعو سره د زوجیت اړیکې نه رامنځته کیدل دي(۱۵: ۱۸۱). د پخوا زمانو څخه په غیر اسلامي ممالکو کې د رضاعي محرماتو سره نکاح ممنوع نه وو او دا وضعیت اوس هم په همدې حالت روان دی؛ نو په غیر اسلامي هیوادونو کې رضاعي محرمات د نکاح عقد د موانعو څخه نه ګڼل کیږي. خو د اسلامي شریعت او د هغې څخه په پیروی سره د مدني قانون د حکمونو له نظره د شخص نکاح د رضاعی محرماتو سره د نسبي محرماتو په شان په دایمي ډول حرام دی. ځکه الله(ج) د قرانکریم د سورة النساء په ۲۳ آیت شریف کې فرمایې: یعنی، حرامې کړی شویدي پر تاسو باندې ستاسې هغه میندې چې تاسې ته یې شیدې درکړي وي او ستاسې د شیدو خوړلو خویندې. په همدې ترتیب سره پیغمبر(ع) پدې مورد فرمایلئ دي: یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب. یعنی کومې ښځې چې په نسب سره حرامې دي په رضاع سره هم حرامې دي(۱۲:۱۰۸ او ۱۰۹). همدغه حکم د افغانستان مدنی قانون په ۸۴ ماده کې هم تائید شویدی، ذکر شوی ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري: د لاندینیو حالاتو په استثنا، رضاعي حرمت د نسبي حرمت په څیر دی: ۱- د رضاعی زوی، خور. ۲- د رضاعی خور یا ورور، مور. ۳- د رضاعی زوی یا لور، نیا. ۴- د رضاعی ورور، خور(۲: ۵۳). پس د پورتنیو حکمونو په پام کې نیولو سره، د رضاعي محرماتو له جملې د پورتنیو اسثناوو څخه پرته چې په حنفي فقه کې بیان او مدني قانون کې هم د هغې څخه پیروي شوي، نورې هغه ښځې چې په نسب کې حرامې وي، په رضاع کې هم حرامې دي. د رضاعی محرماتو په هکله مدنی قانون د فقهې څخه په پیروی سره احکام وضع کړیدي، خو یوازې د نسب څخه د رامنځته شوي رضاع په هکله یې د حکمونو وراندوینه کړې او د سببي خپلوی څخه د رامنځته شوي رضاع په هکله یې سکوت اختیار کړیدی او د رضاعی محرماتو په مورد یې په مطلق ډول د حنفی فقهاوو د نظر څخه پیروی کړیده. خو د اسلامي فقهې د حکمونو له مخې، رضاعی محرمات عبارت دي، له: ۱- رضاعی اصول ۲- رضاعی فروع ۳- د رضاعی اصولو فروع ۴- د رضاعی اجدادو فروع: تر یوې درجې پورې، ۵- د زوجې رضاعی اصول ۶- د رضاعی اصولو زوجې ۷- د رضاعی فروعو زوجې ۸- د زوجې رضاعی فروع(۶: ۱۶۳).

**ب- موقتي محرمات**

د نکاح د صحت د شرایطو څخه یو شرط د ناکح او منکوحې تر منځ د دایمي او موقتي حرمت نه شتون دی. د دایمي حرمت څخه یادونه وشوه. پدې ځای کې، موقتي حرمت مطالعه کوو. موقتي محرمات د هغه ښځو څخه عبارت دي چې د هغې سره نکاح د ځینو خاصو او ټاکلیو سببونو له امله په موقت ډول حرام وي. پس

کله چې نوموړي سببونه زائل او له منځه لاړ شي؛ نو نوموړی حرمت هم له منځه ځي. ځکه هر حکم د هغې د علت او سبب پر محور باندې راڅرخي او هغه وخت چې سبب له منځه ولاړ شي نو حکم هم زایلیږي(۵: ۳۰۴). په اسلامي فقه او مدنی قانون کې د موقتي محرماتو ډولونه ښودل شویدي. د افغانستان مدنی قانون ۸۵ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري: په لاندې حالاتو کې موقتي حرمت پیداکیږي: ۱- د دوه داسې ښځو تر منځ په نکاح کې یو ځای کیدل، چې که د هغوی څخه یو نارینه فرض کړی شي، نو د هغوی تر منځ د نکاح حرمت منځته راشي. ۲- د درې طلاقو مطلقه تر څو چې د بل شخص سره نکاح وکړي. ۳- د بل نکاح کړې او معتده. ۴- هغه ښځه چې لعان شوې وي، تر څو چې میړه خپل ځان دروغجن کړي. ۵- هغه ښځه چې کتابي نه وي.

**۱- په نکاح کې د هغو ښځو یو ځای کول، چې یوه یې نارینه فرض کړې د هغوی ترمنځ نکاح حرام وي**

د جاهلیت په زمانه کې په یو وخت کې د دوؤ خویندو او د خاله او خورزې او همدارنګه د عمه او وریرې د یو شخص په نکاح کې جمع کول مروج او مرسوم وو؛ خو کله چې اسلامي شریعت ظهور وکړ؛ نو دغه ډول نکاح یې منع کړ او فقهاوو پدې مورد تاکلي قاعدې وړاندې کړیدي، چې په مدنی قانون کې یې هم تصریح شویده. یعنی د دوو خویندو او همدارنګه د خاله او خورزې او د عمه او وریرې تر منځ د نکاح عقد دی که د واحد عقد په وسیله سره وي او یا د متعددو عقدونو په وسیله سره، موقتاً حرام دی. ځکه الله(ج) د قرانکریم د سورة النساء په ۲۳ آیت شریف کې پدې باره کې فرمایي: وان تجمعوا بین الأختین الا ما قد سلف. ژباړه: حرام کړی شویدي پر تاسو باندې د دوؤ خویندو سره نکاح په یوه وخت کې مګر هغه، چې مخکې تېر شویدي. نه یوازې د زوجې د خور سره نکاح په یو وخت کې؛ بلکې د زوجې د عمه او خاله سره نکاح کول هم جواز نلري. ځکه نبی کریم(ص) پدې باره کې فرمایلي دي: لا تجمع بین المراة و عمتها ولا بین المراة و خالتها. ژباړه: د زوجې سره په یوه وخت کې د هغې د عمه او خاله په نکاح کې جمع کول جواز نلري(۶: ۱۷۴). د افغانستان مدنی قانون هم پدې هکله د اسلامي فقهې څخه پیروی کړیده او ۸۵ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري: په لاندې حالونو کې موقتي حرمت پیداکیږي: ۱- د دوه داسې ښځو تر منځ په نکاح کې یو ځای کیدل، چې که د هغوی څخه یو نارینه فرض کړی شي، نو د هغوی تر منځ د نکاح حرمت منځته راشي(۲: ۵۳).

**۲- په دریو طلاقونو طلاقې شوي ښځې سره نکاح**

په دریو طلاقونو د طلاقې شوي ښځې او د هغې د خاوند ترمنځ نکاح د قرانکریم د سورة البقره د ۲۳۰ آیت شریف د حکمونو پربنسټ منع دی. خو دا چې نوموړي ښځه د بل شخص سره نکاح ترسره کړي او هغې څخه بیا جلا شي(۱۲: ۱۲۵). په همدې ترتیب، د افغانستان مدني قانون د اسلامي فقهې د حکمونو څخه په پیروی سره، نوموړی حکم منلی او د مدنی قانون د ۸۵ مادې پر بنسټ، هېڅوک نشي کولای د خپلې په دریو طلاقونو طلاقې شوي زوجې سره نکاح ترسره کړي، مګر دا چې بل څوک ورسره نکاح ترسره کړي او د هغې څخه د جدایي په صورت کې(۲: ۵۳). همدارنګه د افغانستان مدنی قانون ۱۴۷ ماده هم پدې هکله

صراحت لري: مېره نشي کولای چې د خپلې په درې طلاقو طلاقې شوې ښځې سره بیا نکاح وکړي؛ مګر دا چې په درې طلاقو طلاقه شوې د بل سړي سره نکاح وکړي او د دویم نکاح د دخول څخه وروسته طلاقه شي او عدت یې پوره شي(۲: ۷۲ او ۷۳)؛ نو د قرانکریم د پورته ذکر شوي آیت شریف او د مدنی قانون د ۸۵ مادې د حکمونو څخه داسې استنباط کیږي: که چېرې یو شخص خپلې زوجې ته درې ګونی طلاق ورکړي؛ نو نشي کولای چې موقتاً د هغې سره د نکاح عقد ترسره کړي مګر دا چې نوموړې په دریو طلاقونو طلاقه شوې ښځه د بل شخص سره نکاح ترسره کړي او د هغې څخه وروسته په طبیعي ډول، نه د تحلیل په نیت سره هغې ته طلاق ورکړي او یا یې زوج وفات شي؛ نو پدې صورت کې لومړنی زوج کولای شي چې د د عدت د مودې څخه وروسته د هغې سره مجدداً نکاح ترسره کړي. پس که چېرې یو شخص بل شخص ته د هغې مطلقه زوجه د تحلیل په نیت سره په نکاح واخلي او بیا یې طلاقه کړي، یعنی، هغه شخص چې د بل شخص په دریو طلاقو طلاقه شوې ښځه پدې شرط په نکاح کوي، چې د جماع کولو څخه وروسته یې د لومړي خاوند لپاره حلاله وګرځوي، محلل بلل کیږي(۶: ۱۷۸). دا ډول نکاح د کبیره ګناهونو څخه ګڼل کیږي، ځکه په شرع کې حرامه ده یعنی هغه څوک، چې هغه څوک چې پدې نکاح باندې اقدام کوي او د چا لپاره یې چې کوي په دواړو باندې لعنت ویل شویدی ځکه، چې نبی کریم[ص] فرمایي: لعن الله المحلل و المحلل له. ژباړه: الله[ج] په محلل او محلل له باندې لعنت ویلی دی(۱۳: ۱۱۹). سربیره پردې چې محلل نکاح د کبیره ګناهونو څخه ګڼل کیږي، خو پدې باره کې چې آیا د تحلیل نکاح د لومړي خاوند لپاره د خپلې په دریو طلاقونو طلاقې شوې زوجې تحلیل رامنځته کوي یا نه؟ د افغانستان مدني قانون پدې هکله ساکت دی؛ خو فقهاوو پدې هکله مختلف نظرونه وړاندې کړیدي. احناف پدې نظر دي، چې د تحلیل نکاح د لومړني خاوند لپاره مطلقه ثلاثه حلاله ګرځوي، خو که چېرې د تحلیل په نیت سره صورت ومومي، نو تحریمي کراهت لري. بیا هم نکاح صحت لري. ځکه چې د نکاح ټول ارکان او شرایط پکې شتون لري. خو شافعي فقها پدې عقیده دي، چې که یو شخص ښځه د تحلیل په قصد سره په نکاح کړي، نو دا ډول نکاح د پورتني حدیث شریف پر بنیاد باطل دی. ځکه چې دا ډول نکاح د متعه نکاح سره شباهت لري، نو پدې اساس که چېرې دوهم زوج پدې باندې معتقد وي، چې د وطی څخه وروسته زوجې ته طلاق ورکوي؛ نو دا ډول نکاح کراهت لري. او مالکي او حنبلي فقها پدې باور دي: که چېرې نکاح د تحلیل په قصد سره صورت ومومي؛ نو په مطلق ډول مطلقه ثلاثه د خپل لومړني خاوند لپاره حلاله نه ګرځوي او د تحلیل نکاح پخپله هم باطل دی(۶: ۱۷۹).

**۳- د بل شخص د منکوحې او معتدې سره نکاح**

د مدني قانون د ۸۵ مادې د حکمونو له مخې، د هغې ښځې سره نکاح کول په موقتي ډول حرام دي، چې د بل شخص منکوحه او یا د بل چا د عدت د تېرولو په حالت کې وي(۲: ۵۴). د قرانکریم د سورة النساء ۲۴ آیت شریف د حکمونو له مخې، حرامې شویدي پر تاسو باندې هغه ښځې، چې د نورو په نکاح کې وي(۱۳: ۱۲۰). د افغانستان مدني قانون هم د اسلامي فقهې څخه په پیروی سره د بل شخص د منکوحې ښځې سره نکاح

حرام ګڼلی. د پورتني آیت شریف او د مدنی قانون د ۸۵ مادې د حکم څخه داسې استنباط کیږي: چې، د هغې ښځې سره نکاح، چې د بل چا په نکاح کې وي د بل په حق باندې د تیري نه کولو، د دښمنیو او جنګونو د مخنیوي او د نسب د اختلاط څخه د مخنیوي په جهت، موقتاً حرام دی. خو هغه وخت چې د منکوحې میړه وفات او یا زوج زوجې ته طلاق ورکړي، نو شخص کولای شي چې د عدت د تیرولو څخه وروسته نکاح ترسره کړي(۱۲: ۱۲۲ او ۱۲۳). په همدې ترتیب سره د قرانکریم د سورة البقره د ۲۳۵ آیت شریف د حکمونو پربنسټ، د نکاح تړلو پریکړه تر هغه وخته پورې مه کوی تر څو پورې یې، چې عدت تیر شوی نه وي. د معتدې د نکاح حکم داسې دی، چې که چیرې څوک د یوې ښځې سره د عدت په حالت کې نکاح وکړي نو نکاح یې فاسد دی او باید دواړه یو له بل څخه جلا شي او د عدت له تیرولو څخه وروسته به په نوي عقد سره نکاح کوي.

**۴- د ملاعنې سره نکاح**

د مدنی قانون د ۸۵ مادې پر بنسټ، د لعان شوي ښځې سره نکاح تر هغه وخت پورې په مؤقت ډول حرام دی، تر څو چې خاوند یې خپل ځان تکذیب او دروغجن وګڼي(۲: ۵۴). د دې مادې په حکم کې د حنفي فقهې څخه پیروي شوې، چې لعان د نکاح د موقتي محرماتو څخه بولي. لعان د لعن څخه اخیستل شویدی، چې د الله(ج) د رحمت څخه د طرد او لېرې کولو په معنی سره دی او په اصطلاح کې هغه حالت دی، چې یو نارینه خپلې ښځې ته د زنا د فعل نسبت وکړي او د خپلې ادعا د ثبوت لپاره شاهد ونه لري او ښځه یې هم تکذیب کړي. یا د قاضي په وړاندې د ښځې یا خاوند له لوري د مؤکد شهادت څخه عبارت دی. او د احنافو او حنابله له نظره لعان عبارت دی له مؤکد شهادت څخه په قسم کولو چې نوموړی قسم به د زوج له لورې مقرون په لعن او د زوجې له لورې مقرون په عضب سره وي، چې د زوج په حق کې، د حد قذف قایم مقام او د زوجې په حق کې، د زنا د حد قایم مقام دی. لعان په دوه مواردو کې رامنځته کیږي، په بل عبارت د لعان سببونه په دوه ډوله دي: یو د میړه له لورې په خپلې ښځې باندې د زنا د فعل تهمت لګول کول او بل د هغه طفل د حمل یا نسب نفی کول دي، چې د خپلې زوجې په بطن کې یې دی(۶: ۱۸۴). د لعان د مشروعیت څخه د قرانکریم د سورة النور(۹-۶) آیات شریف کې یادونه شوې. ژباړه: او کوم خلک، چې په خپلو ښځو باندې د زنا تهمت لګوي او د هغوی سره د خپل ځان څخه پرته نور شاهدان هم نه وي، نو له هغوی نه دې یو تن د الله(ج) په نوم څلور ځلې شاهدي ووایې، چې په خپله ادعا کې ریښتینی دی او په پنځم ځل به ووایې، چې لعنت دې وي د الله(ج) په ده باندې که چېرې له کاذبینو څخه وي. او د ښځې نه عذاب پدې شان سره لیرې کیدلی شي، چې هغه څلور ځله په الله باندې قسم وخوري، چې بیشکه دی( سړی) له دروغ ویوونکو څخه دی(دروغجن دی) او په پنځم ځل ووایې چې په ما دې د الله(ج) غضب وي که دا سړی رښتیا ویوونکی وي( د صادقینو څخه وي). د هغه اثر په مورد چې په لعان باندې مرتب کیږي د فقهاوؤ تر منځ د نظر اختلاف دی. جمهور فقها پدې نظر دي، چې د لعان په اساس د ښځې او میړه تر منځ نکاح فسخ او میړه په دایمي ډول نشي کولای، چې د خپلې

زوجې سره نکاح وکړي؛ خو احناف پدې نظر دي: که چېرې د لعان څخه وروسته زوج خپل ځان تکذیب کړي؛ نو پر هغې باندې د قذف حد جاري او د هغې څخه وروسته کولای شي، چې د خپلې زوجې سره مجدداً نکاح وکړي(۱۳: ۱۲۳). د افغانستان مدني قانون هم د حنفي فقهې څخه په پیروی سره، په هغه صورت کې چې زوج خپل ځان دروغجن کړي؛ نو ښځې او میړه ترمنځ د لعان په سبب رامنځته شوی موقتي حرمت له منځه ځي او د هغې څخه وروسته یې نکاح صحت لري.

**هـ- د غیر اهل کتابیه کافرې ښځې سره نکاح**

د مدنی قانون د ۸۵ مادې پر بنسټ، د مسلمان سړي نکاح د غیر اهل کتاب ښځې سره نکاح موقتاً حرام دی. د اسلامي فقهې د حکمونو پربنسټ، د مسلمان شخص نکاح د غیر اهل کتابیه کافرې سره موقتاً حرام دی. غیر مسلمان هم په دوه ډلو باندې ویشل کیږي، چې یوه ډله د اهل کتابو په نوم سره یادیږي او بله ډله د غیر اهل کتابو په نوم سره یادیږي. اهل کتاب هغه چا ته ویل کیږي، چې د آسماني کتابونو څخه د یوه متابعت وکړي او یا د اسلام څخه پرته پر یو بل آسماني دین باندې لکه یهودیت او نصرانیت عقیده ولري. او غیر اهل کتاب هغه چا ته ویل کیږي، چې په هیڅ آسماني کتاب یا آسماني دین باندې اعتقاد ونلري او دا هم پخپل منځ کې وېش لري، لکه: ملحد، مشرک، مجوس، مرتد ... د غیر اهل کتابیه کافرې ښځې د ټولو ډولونو سره نکاح په موقت ډول حرام دی، مګر دا چې ایمان راوړي؛ خو د اهل کتابو ښځو سره د مسلمان شخص نکاح د اسلامي فقهې او د مدنی قانون له نظره جواز لري(۷: ۱۸۷). که څه هم یو شمېر معاصرو علماؤ د اهل کتابیه ښځو سره د نکاح لپاره ځیني شرایط پیشبیني کړیدي، لکه: مورد نظر ښځه باید په قطعي او یقیني ډول کتابیه وي، باید پاک لمنه او عفیفه وي، د نوموړي نکاح په نتیجه کې په اسلامي ټولنه کې په قطعي او احتمالي ډول فتنه او فساد رامنځته نشي او ښځه د محاربو کتابیانو څخه نه وي. د مدنی قانون ۹۲ ماده د اهل کتابیه ښځو سره د نکاح په مورد دا ډول صراحت لري: ......... مسلمان سړی کولای شي، چې د کتابي ښځې سره نکاح وکړي.

**و- پنځمه ښځه**

د فامیل تشکیل او د نکاح ترسره کول د تاریخ په ټولو مرحلو کې د بشر د طبیعي او فطري عریزو او غوښتنو یوه برخه وه او که د تاریخ په اوږدو کې د بشر د نکاح څرنګوالي ته وکتل شي؛ نو لیدل کیږي، چې نکاح په مختلفو شکلونو سره شتون درلود. د نوموړیو ډولونو د جملې څخه یو ډول یې د زوجیت د وحدت څخه عبارت دی، چې په هغې هر یو د زوجینو څخه د بل احساسات، عواطف او جنسي منافع د خپل ځان بولي او د دغه نکاح په مقابل کې بل ډول نکاح چې د زوج تعدد په نوم سره یادیږي، درلود چې په هغې یوې زوجې د یوه څخه یې زیات میړونه لرل، چې د دې ډول نکاح بېلګې په عربو کې د جاهلیت په زمانه کې ډېرې معمولې وې. د نکاح بل ډول چې د زوجاتو تعدد وو، چې په هغې کې یو سړي د یوې څخه زیاتې ښځې په نکاح کولې. د اسلامي شریعت په نزول او ظهور سره، جنسي اشتراکیت منع او د زوجې تعدد یې مقید او مشروط کړ. یعنی که

چېرې د زوجاتو د تعدد تاریخي سیر ته وکتل شي؛ نولیدل کیږي چې نوموړې پدیده د تاریخ په اوږدو کې په مختلفو دورونو کې شتون درلود(۷: ۲۰۰- ۲۰۶). د اسلام مقدس دین له نظره هم د زوجاتو تعدد شتون لري، خو نارینه کولای شي، چې تر څلورو پورې زوجې ولري؛ نو پدې اساس که چېرې شخص په یو وخت کې څلور زوجې ولري بیا نشي کولای چې پنځمه ښځه په نکاح کړي(۳: ۹۳). البته دغه تحریم د نارینه لپاره موقت دی او هغه وخت له منځه ځي، چې یو د هغې د زوجاتو څخه د وفات یا طلاق په اساس د هغې د نکاح څخه بهر شي، پرته لدې که چېرې دا ډول شخص د پنځمې ښځې سره نکاح ترسره کړي؛ نو نکاح فاسد دی او په مېړه باندې واجب دي، چې د پنځمې ښځې سره جدايي وکړي چې د هغې د نه ترسره کولو په صورت کې قاضی د هغوی تر منځ د جدائی حکم صادروي. توپیر نه کوي که دغه څلور ښځې حقیقي وي یا ځیني حقیقي او ځیني معتدې وي او یا ټولې معتدې وي. ټول فقها پدې متفق دي، که چېرې یو سړی څلور ښځې ولري او ټولو ښځو ته یې رجعي طلاق ورکړی وي؛ نو د هغې د عدت مودې پای ته د رسیدو وړاندې پنځمه ښځه د هغه لپاره حرامه ده او د احنافو له نظره که چېرې د څلورو ښځو څخه یوه یې په باین طلاق کې هم وي؛ نو د عدت مودې تر ختم پورې د پنځمې ښځې سره نکاح منع دی (۶: ۱۹۶). د یادونې وړ ده، چې مدني قانون پدې هکله ساکت دی.

**پایله**

د نکاح د صحت شرایطو په تړاو د افغانستان مدني قانون حکمونه د اسلامي فقهې او په ځانګړي ډول د حنفي فقهې څخه اقتباس شویدي. د اسلامي فقهې په پیروی سره د افغانستان مدني قانون د حکمونو مطابق د نکاح د صحت لپاره درې شرطونه پیشبیني شویدی، چې د حرمت د نه شتون، د شاهدانو د شتون او همدارنګه په صحیح ډول د ایجاب او قبول ترسره کول دي. د مدني قانون د حکمونو له مخې، محرماتي ښځې په عمومي ډول په دایمي او موقتي محرماتو باندې وېشل کیږي، چې دایمي محرمات بیا په ترتیب سره په نسبي، سببي او رضاعي محرماتو باندې وېشل کیږي. همدارنګه په نکاح کې د شاهدانو د شتون او شرایطو په هکله په مدني قانون کې یوازې د دوو اهلیت لرونکو او عادلو شاهدانو شتون لازمي ګرځولی، پداسې حال کې چې په اسلامي فقهې کې د دې ترڅنګ ځیني نورې ځانګړتیاوې او صفتونه هم د هغې لپاره بیان شوي. خو په مدني قانون کې د هغې څخه یادونه نه ده شوي. په همدې ترتیب سره، په صحیح ډول د ایجاب او قبول ترسره کول هم د نکاح د صحت د شرایطو څخه ګڼل کیږي. پس په لنډ ډول ویلای شو، د نکاح د صحت شرایطو د نه شتون په صورت کې، د مدني قانون د حکمونو پربنسټ، نکاح فاسد ګڼل کیږي، چې د دخول څخه وړاندې پرې هېڅ ډول آثار نه مرتب کیږي او د دخول څخه وروسته ځیني آثارو وړباندې مرتبیږي نه ټول.

**مأخذونه**

1) جعفر لنگرودي، محمد جعفر. (۱۳۸۲). ترمینولوژي حقوق. چاپ سزدهم، تهران: کتابخانه گنج دانش.

2) د عدلیې وزارت.(۱۳۵۵). مدني قانون. درسمي جریدې ۳۵۳ گڼه.

3) زحیلی، وهبه.(۱۳۹۰). فقه خانواده در جهان معاصر، مترجم: عبدالعزیز سلیمی، تهران: نشر احسان.

4) ستانکزی، نصرالله. (۱۳۸۹). کورنی حقوق. لومړی چاپ، کابل: انتشارات مستقبل.

5) عبد الله، نظام الدین. (۱۳۹۵). فرهنگ اصطلاحات حقوق افغانستان. چاپ اول، کابل: انتشارات سعید.

6) عبد الله، نظام الدین. (۱۳۸۹). شرح قانون مدني افغانستان (حقوق فامیل). چاپ دوم، کابل: انتشارات سعید.

7) عدالتخواه، عبدالقادر.(۱۳۹۶). حقوق فامیل. جلد اول، کابل: انتشارات بین المللی سرور سعادت.

8) عمید، حسن.(۱۳۸۲). فرهنگ عمید. چاپ بیست و هفتم، تهران: مؤسسه انتشارات امیر کبیر.

9) فایز، عبدالبصیر.(۱۳۸۸). توضیحی بر قانون مدنی افغانستان(حقوق فامیل). کابل: انتشارات سعید.

10) قاسمی، محمدطاهر.(۱۳۹۸). در آمدی بر حقوق فامیل. چاپ اول، کابل: انتشارات عازم.

11) قرضاوي، یوسف.(۱۳۸۲). دیدگاه های فقهی معاصر، ترجمه احمد نعیمی. جلد دوم، تهران: نشر احسان.

12) نایل، عبدالقادر.(۱۳۹۴) حقوق فامیل. چاپ اول، کابل: انتشارات حامد رسالت.

13) نذیر، داد محمد.(۱۳۹۴). حقوق فامیل در شریعت اسلامي و قانون مدنی افغانستان. جزء اول، کابل: انتشارات حامد رسالت.

14) یساري، نجما و راستین، کعبه تهرانی.(۱۳۸۸). کتاب درسي انستیتوت ماکس پلانک برای حقوق فامیل افغانستان. چاپ دوم، مترجم: فهیم قیومی. کابل افغانستان: انستیتوت حقوق مقایسوي عامه و حقوق بین الدونل(انستیتو -زماکس پلانک). با حمایت و پشتباني اتحادیه اروپا و جمهوري فدرال آلمان.

15) یو شمیر مؤلفین.(۱۳۸۷). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي. کابل: د افغانستان عدلي او قضایي پروژه.

# د مبايل استعمال اړوند شرعي احکام

ليکوونکی: پوهنيار مختاراحمد ساجد، پکتيکا لوړو زده کړو مؤسسې، ښوونې او روزنې پوهنځي د اسلامي ثقافت څانګې استاد.
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی محمد شفيق مندوزی، شيخ زايد پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د اداره او ديپلوماسي څانګې استاد.

**لنډيز**

د نارينه او ښځينه، شتمن او اړمن، لوی او کوچني لنډه دا چې د بشري ټولګم غالب اکثريت په ورځني ژوند کې د مبايل له کارولو څخه سترګې نه شي پټولی. تجارت، صنعت، اداره، حساب، ډېری ليکنيزې برخې، کاليزه، منبّه د هاء په زير سره( له خوب څخه راببداروونکی)، ساعت، ويډيو، آډيو، تصوير، معلوماتو انتقال، معلوماتي ذخيره، راډيو، کېمره، تلويزيون، انټرنېټ او داسې نورې ښېګڼې پکې نغښتې دي، د تماس پرمهال د وخت او مال د ضياع مخنيوی کوي، د بشرستړيا يې په هوساينې سره بدله کړې او د ځمکې ليرې تنابونه يې رالنډ کړي دي؛ البته د دې ټولو ښېګڼو تر څنګ دا يوه داسې دوه مخيزه خنجر هم دی، چې ځان او دښمن دواړه پرې وهل کېدای شي، د دنيا او آخرت د بهبود او زوال دواړو لپاره جوړېدونکی پل دی.

دا چې د اسلام سپېڅلی دين يو شامل او کامل دين دی  او د بشري ژوند مختلفې برخې يې تر خپل پوښښ لاندې نيولي؛ له همدې  کبله د نني پېړۍ له جديدو او نويوو پديدو څخه يوه يې د مبايل استعمالول دی، چې د نړۍ ډېری وګړي يې کاروي، د اسلام مبارک دين يې په هکله روښانه سپارښتنې لري، درستې او نادرستې دواړه برخې يې روښانه کړي دي.

امت ته د دې نوې ايجاد شوې وسيلې په هکله شرعي حکمونه په ډاګه کول او د اسلامي امت بچيانو ته د نويوو ساينسي آلاتو په هکله معلومات لرل د دوی د ورځني ژوند اړتيا او په ليکنيز ډګر کې د مسؤليت ترسره کول دي.

**کليدي ټکي:** په ټولنه يې مثبتې اغيزې، په اړه يې شرعي لارښوونې، پلورل او پيرودل، د ناوړه استعمال زيانونه، د مبايل په واسطه د نکاح عقد.

**سريزه**

ألحمد لأهله والصلوة علي أهلها.

په دې يوويشتمه پيړۍ کې د ساينسي پرمختګ او په ځانګړې توګه د مبايل سهولت په رامنځته کېدو سره که له يو لوري انسانانو ته د ښه ژوند زياتې اسانتياوې برابرې شوي؛ له بلې خوا څخه د انسانانو د زوروني او عامه وژنې اسباب هم په زياته اندازه آماده شوي دي.

په موجوده دورکې زمونږ پر هېواد او خاوره د ناروا فرهنګي یرغلونو له کبله فساد او د فساد اسباب هم خپل وروستني اوج ته رسیدلي، چې له همدې کبله(د مبایل استعمال اړوند شرعی احکام) ترسرلیک لاندې موضوع باندی علمي مقاله لیکل مو یوه لازمه او پرځای اړتیا وګڼله؛ ترڅو مو له خپلو ټولنوالو سره د مبایل استعمالولو په ګټو، زیانونو او د اسلامي شریعت سپارښتنو ته په کتلو سره لازمه همکاري کړې وي.

مبایل د موجوده ټکنالوژیکي عصر ( زماني) د اړیکو هغه بشري اړینه ( Device )آله او وسیله ګڼل کیږي، چې انکار ترې ناممکن دی؛ خو دا ستا همېشنی دوست نه شي کېدای؛ بلکې ډېر وخت ستاسره مل د ستا اړوند جاسوس هم ثابتېدای شي. د مختلفو کوډونو په ذریعه ترېنه ډول ډول کارونه او ګټې اخیستل کېدای شي.

یاده وسیله د الله تعالی له نعمتونو څخه یو ځانګړی نعمت شمېرلی شو، چې ګڼې ګټې پکې نغښتې دي، لکه د بېلګې په ډول:

د شرعي مسائلو لپاره پکې پوره خدمت ترسره کېدلی شي. د دعوت کولو بهترینه وسیله ده، د مسلمانانو او دوستانو د پوښتنې لپاره د پل حیثیت لري، د ناخبرو مسلمانانو د ویښتابه مهمه وسیله ګڼل کیږي او داسې نورې بنسټیزې فائدې او ګټې پکې نغښتې دي.

په ټولیزه توګه د مبایل اړوند یو شمېر لیکنې شوي دي، لکه: الجوال آداب وأحكام، د شيخ محمد صالح المنجد بابر ، د موبایل سره تړلي ۱۰۰ اړین شرعي حکمونه او مل پانه( ضمیمه) الاربعین في الشهید والشهادة: ژباړن او راټولوونکی: سیدعبدالرحیم حسیني او داسې نورې لیکنې شتون لري. البته د مبایل استعمال اړوند شرعی احکامو تر عنوان لاندې لیکنه مو نده تر سترګو شوې؛ نو هیله ده، چې د دې مقالې په لیکلو سره یاده برخه روښانه او د ژوند په بېلابېلو برخو کې یې په اړه ځانګړې توجه وُشي.

بل داچې دا لیکنې ځیني یې په پښتو ژبه نه دي او ځیني یې داسې لیکنې دي، چې یواځې شرعي اړخ یې څېړلی دی ما مناسبه وبلله چې په پښتو مورنۍ ژبه باندې داسې لیکنه تر سره شي، چې د استعمال زیانونه او ګټې دواړه بیان کړی؛ تر څو په سمه او سالمه توګه استعمال شي

او د زیانونو څخه یې ځانونه وژغوري او د د موضوع اړوند په مختلفو برخو کې شرعي حکمونه روښانه شي او د نوې موضوع په حیث د خپلو ټولنوالو په چوپړ کې وړاندې شي.

**موخې**

۱. د مبایل  د استعمال اړوند د اسلامي ارشاداتو څخه د خلکو خبرول.

۲. ګرانو ټولنوالو ته مو د شرعي لارښوونو سره سم د یوه هوسا اوآرام ژوند څښتن کېدلو هڅه کول.

۳. د مبایل  د استعمال اړوند د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې له فساد سره مبارزه کول.

۴. د مبایل استعمالولو یو شمېر زیانونو په نښه کول.

۵. د مبایل استعمالولو اړوند د مناسبو  او د اصلاح وړ مواردو اړینې بېلګې روښانه کول.

**مواد او کړنلاره**

دا یوه کتابتوني څېړنه ده، چې په ترتیبولو کې یې د قرآن کریم او نبوي احایثو برسېره له مختلفو معتبرو علمي کتابونو، مکتبه شامله او انټرنېټ څخه هم ګټه اخیستل شوې ده.

**د مبایل د استعمال آداب**

۱.د مبایل کاروونکی باید دا وسنجوي، چې مبایل د څه لپاره اخلم؟ څومره اړتیا ورته لرم او په څه ډول ترېنه ګټه واخلم؟

۲.د مبایل کاروونکی د سلام اچولو او ځواب ورکولو شرعي طریقه باید په پام کې ونیسي.

۳.د خبرو کولو پر مهال که اړتیا ولیدل شي؛ مخاطب ته د خپل ځان وروپېژني.

۴.په مبایل باندې د خبرو کولو پر مهال باید درمیانه آواز او د غږېدلو اداب په پام کې ونیسي.

۵.په هېڅ پسې باید ټوکې او مسخرې و نه کړي.

۶.د نامناسبه انځورونو، آوازونو او ویډیوګانو له کارونې او اورېدلو څخه باید ځان وساتي.

۷.د زنګ پرمهال د موسیقی آواز لګولو سربېره د قرآن کریم د آیتونو، آذان او سپېڅلو کلماتو له استعمال څخه باید ډډه وکړي.

۸. تر ممکنه حده د (آلو او هیلو) الفاظو کارولو څخه د ځان وساتي.

۹.د ټیلیفون له اوکې کولو وروسته د نه چوپ کېږي؛ بلکې په خبرو د شروع وکړي.

۱۰.د تدریس او وعظ کولو پرمهال د د خبرو کولو څخه د ځان ساتلو کوښښ وکړي.

۱۱. چا ته چې زنګ وهي؛ په هغه د ښه ګومان درلودلو تر څنګ د له درې کرته زنګ وهلو څخه د زیاتوالي کوښښ هم نه کوي؛ البته که د زنګ راتللو پرمهال ورته داسې ووایي، چې اوسمهال مصروف یم، باک نه لري.

۱۲.د اړتیا څخه پرته نورو ته د زنګ راوهلو په تمه د مشکالونو عادت جوړولو څخه ځان ساتل په کار دي.

۱۳. د جومات او لمونځ ادا کولو پر مهال د مبایل بند یا خاموش کړي.

۱۴.د کمپنۍ له خوا د قمار اړوند پېشکشونو څخه د ځان وساتي.

۱۵.د مالک له اجازې پرته د د نومورې مبایل نه استعمالوي.

۱۶.له خوب څخه د رابیدارولو په پار د قرآن کریم آیاتونه لګول نادرست دي؛ ځکه چې قرآن کریم د تدبر، تفکر او عمل کولو
لپاره راغلی؛ نه د وګړو د رابیدارولو په پار.

۱۷.د باوري شخص پرته بل چاته خپل مبایل ورکول پکار نه دي؛ ترڅو هغه مو په خاصو خپلوانو، راز والا کسانو او محفوظ شویوو پېغامونو خبر نه شي.

۱۸.له ماشومانو څخه د مبایل ساتل پکار دي؛ ځکه چې کله کله د خرابوالي تر څنګ د نورو وګړو د اذیت سبب ګرځي.

۱۹. د مبایل په واسطه دعوتي برخې، لکه: د درسونو په پار اعلان کول، تدریس یا وعظ کول، د دین په هرډول خپرولو کې ترېنه ګټه اخیستل په کار دي.

۲۰.په ټولو لیکنیزو او غږیزو پیغامونو کې له الله تعالی څخه وېره درلودل.

۲۱.د زنګ وهلو پر مهال تر ممکنه حده د بل شخص د خوب، لمانځه، درس او داسې نورو حالاتو په نظر کې نیول اړین دي. (۲۱: ۱، ۸).

**د مبایل استعمالولو اړوند د یو لړ اړینو شرعي مسائلو بیلګې**

۱.مبایل ته د زنګ په ځای د قرآن کریم د آیتونو، اذان، یا مقدسو کلماتو له اچولو څخه باید ځان وساتل شي؛ ځکه چې په داسې کړنو سره یې توهین رامنځته کیږي. (۱۲:۳ ).

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:{ ذلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ } [ الحج : ۳۲ ].

ژباړه: دغه اصلي موضوع ده ( ورباندې پوه شئ) او څوک چې د الله تعالی د ټاکلیو شعاېرو درناوی وکړي؛ نو دا د زړونو له پرهېزګارۍ څخه ده.

په دې کې شک نشته، چې د قرآن کریم آیاتونه او آذان له لویو شعائرو څخه دي، چې په ټولو حالاتو او په ځانګړې توګه یې د موبایل د استعمال په بهیر کې یې لحاظ ساتل پکار دي.

بل دا چې د الله تعالی کتاب ته غوږ نیول پکار دي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:{ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ}[ الأعراف : ۲۰۴ ]. ژباړه: او کله چې قرآن لوستلی شي؛ نو تاسې هغې ته غوږ کېږدئ او چپ و اوسئ د دې له پاره، چې رحم در باندې وشي.

کله چې یو شخص په بیت الخلاء ( انساني معذرت پوره کولو ځای کې) یا حمام کولو په حالت کې وي او زنګ ورته راشي؛ نو د زنګ قطع کولو او نه قطع کولو دواړو صورتونه یې له مشکل څخه خالي نه دي، لکه چې په دې اړه صالح المنجد لیکلي: [یسألونك عن الأنفال قل الأنف) فلذلك الواحد لا یضع هذا ، وکذلك الأذان. و سئل الشیخ صالح الفوزان نفع الله به عن استعمال الأذان والأذکار والقرآن في هذا، فقال هذا امتهان للأذان والذکر والقرآن الکریم.] (۲۱: ۸ ). ژباړه: یعني که څوک د الانفال کلمه سره جلا کړي او د الانفال پر ځای داسې ووایي: الانف دا سمه خبره نه ده؛ نو دارنګه د مبایل په زنګ کې د قرآن کریم الفاظ جلا کول سم نه دي، د اذان د کلماتو حکم هم دا رنګه ده. له شیخ صالح الفوزان څخه( الله تعالی دې نوموړی په دې سره سودمن کړي) په داسې مهال د آذان، اذکارو او قرآن کریم په هکله پوښتنه وشوه؛ نوموړي وویل، چې په دې کې د اذان، ذکر او قرآن کریم لپاره سپکاوی صورت نیسي.

صاحب د امداد الفتاوی لیکلي چې: [و یکره أن یقرا في الحمام، لأنه موضع النجاسات ولایقرأ في بیت الخلاء.] (۱۱: ۲۴۹).

ژباړه: په حمام کې قراءت کول (د قرآن لوستل) ناروا دي؛ ځکه چې دا د پلیتیو ځای دی او نه به په تشناب کې قراءت کوي.

۲. درې ځله زنګ وهلو څخه زیات زنګ وهل پکار نه دي، لکه چې په حدیث شریف کې راځي: (یَسْتَأْذِنُ أَحَدُکُمْ ثَلاَثًا، فَإِنْ أُذِنَ لَهُ وَإِلاَّ فَلْیَرْجِعْ). (۲۵: ۱۶۹۴).

ژباړه: یو کس له تاسو څخه دې د اجازې غوښتنه درې کرته وکړي؛ که اجازه ورکړل شوه خو ښه او که نه بېرته دې وګرځي.

۳. د خبرو په پیل او پای کې د السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته د الفاظو کارول پکار دي، لکه چې په حدیث شریف کې راځي:

(عن ابی هریرة ـ رضي الله عنه ـ عن النبی ـ صلي الله علیه وسلم ـ اذا انتهی أحدکم الی مجلس فلیسلم فان بدا له أن یجلس ثم اذا قام فیسلم فلیست الأولی بأحق من الآخرة.) (۹:۳۹۹).

ژباړه: ابو هریرة رضي الله عنه له نبي صلي الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې کله په تاسو کې یو شخص مجلس ته راشي؛ نو سلام د واچوي، که کېناسته، بیا یې بېرته د پاڅېدلو او تللو اراده وکړه هم سلام د اواچوي؛ ځکه چې لومړی سلام له وروستني سلام کولو څخه کوم توپیر نه لري.

که څوک په تشناب کې وي، د سلام اچوونکي لپاره د ځواب نه ورکوي، لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي چې:

عن عبد اللَّه بن عمر - رضي اللَّه عنهما- « أن رجلا مَرَّ ورسولُ اللَّه -صلى الله عليه وسلم- يَبُول، فسلَّم عليه، فلم يرُدَّ عليه. (۵:۶۱۴).

ژباړه: له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې یو سړي په داسې حال کې د رسول الله صلي الله علیه وسلم له څنګ سره تېر شو، چې نوموړي حاجت رفع کولو، سلام یې پرې وکړ؛ خو رسول الله صلي الله علیه وسلم ځواب ورنه کړ.

د یادونې وړ ده، چې په« Hello » هیلو باندې د خبرو پیل کولو پرځای باید « السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته» الفاظ و کاول شي، لکه چې په حدیث شریف کې راځي: (عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله ـ صلي الله علیه وسلم ـ السلام قبل الکلام ). (۱۰: ۹۹).

ژباړه: له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي، چې سلام اچول کول له خبرو څخه وړاندې په کار دي. که سلام اچوونکی معلوم نه وي چې کافر دی که مسلمان؛ نو په وعلیکم السلام باندې ځواب ورکول په کار دي، لکه چې په حدیث شریف کې راځي، چې: **(عن عبدالله بن**

عمرو أن رجلا سأل النبی .صلی الله علیه وسلم .أی الاسلام خیر؟ قال تطعم الطعام، وتقرأ السلام على من عرفت ومن لم تعرف). (۷: ۶۰).

ژباړه: له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی، چې یو سړي له رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه، چې د سلام کومه برخه غوره ده؟ نوموړي ورته په ځواب کې وویل، چې: ډوډی ورکړه او سلام واچوه په هرهغه چا چې ته یې پېژنې او که نه.

بله دا چې د خبرو په پیل کې د پېژندګلوی پرمهال د مبهمې او مجهولې وینا څخه لکه زه، ولې مانه پېژنې او یا داسې نورو څخه ځان ژغورل پکار دي، لکه چې په حدیث شریف کې راځي: عن جابر بن عبدالله .رضي الله عنهما .قال: أتيت النبي -صلى الله عليه وسلم- فدعوت، فقال النبي - صلى الله عليه وسلم-: (( من هذا؟ )) فقلت: أنا، فخرج وهو يقول: (( أنا أنا!! )) (۲۵: ۱۶۹۷).

ژباړه: له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی، چې زه نبي صلي الله علیه وسلم ته راغلم، پس آواز مې وکړ، رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: دا څوک دی؟ ما ورته وویل چې زه یم، رسول الله صلي الله علیه وسلم چې راووتلو، فرمایل یې: زه زه!!

۴.د مخاطب له اجازې پرته یې د غږ ثبتول ناروا دي؛ ځکه چې د مجلس خبرې امانت وي؛ البته د یوکس تقریر(وعظ)، مسئله یا داسې نورې دیني خبرې ثبتول او یا داچې صراحة، دلالة یا عرفا د ثبتولو اجازه موجوده وي هم کومه ستونزه نه لري.

په دې اړه په حدیث شریف کې راځي: عن جابر عن النبي .صلي الله علیه وسلم .قال: اذا حدث الرجل الحدیث ثم التفت فهي أمانة.(۱۰: ۱۷). ژباړه: له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي، چې کله یو شخص خبرې کوي او یوې خوا بلې خوا ته وګوري؛ پس دا امانت دی.

دوکتور بکر أبو زید په دې اړه لیکلي: [ لایجوز لمسلم یرعی الأمانة ویبغض الخیانة أن یسجل کلام المتکلم دون إذنه]. (۶: ۲۸).

ژباړه: هغه مسلمان ته، چې د امانت لحاظ ساتي او خیانت یې بد راځي روا نه دي، چې د خبرې کوونکي له اجازې پرته یې خبري ثبت کړي.

د حدیث مطلب دادی چې د بل چا خبرې د هغه له اجازت پرته ثبتول هم یو خیانت دی.

بل داچې د بل چا د مبایل پاسوورډ یا شفر د نوموړي له اجازې پرته خلاصول او معلوماتو ته یې لاس رسی پیدا کول هم ناروا دي. (۲۱: ۱۵).

هېره د نه وي، چې که د بل چا ټیلیفون ته زنګ راشي؛ نو د مبایل د مالک له اجازې کولو پرته د نوموړي موبایل د ځواب ورکولو په موخه پورته کول نادرست دي؛ البته که یاد هغه نه خفه کیږي، نو زنګ وهونکي ته باید دا روښانه کړي، چې زه مو دوست یم، لکه چې په حدیث شریف کې راځي، چې:عن أبي حمیدالساعدي أن رسول الله .صلي الله علیه وسلم .قال لایحل لامرئ أن یأخذ عصا أخیه بغیر طیب نفسه، وذلک لشدة ماحرم الله عزوجل مال المسلم علي المسلم. (۸: ۱۰۰).

ژباړه: له ابو حمید الساعدي رضي الله عنه څخه روایت دی، چې په تحقیق سره رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: یو شخص ته روا نه دي، چې د بل ورور امسا د هغه له اجازې پرته واخلي، دا په مسلمان باندې د بل مسلمان د مالي حرمت د سختوالي له کبله دي.

۵. کله چې یو شخص مسجد ته د داخلېدو اراده وکړي؛ پکار دی، چې خپل مبایل بند یا خاموش کړي؛ البته د نه بندولو په صورت کې که د لمونځ ادا کولو پرمهال ورته زنګ راشي؛ نو لمونځ قطع کول ورته په کار نه؛ بلکې مبایل د را واخلي، راروان زنګ د قطع او بند کړي. (۲۳: ۴۷).

فتاوی هندیه کې لیکي، چې: [ والسادس أن لایرفع فیه الصوت من غیر ذکرالله تعالی] (۲۴: ۳۲۱). ژباړه: او شپږم دا چې په جومات کې دې د الله تعالی له ذکر څخه بغیر آواز نه اوچتوي.

د یادونې وړ ده، چې د اقامت کولو نه مخکې د مبایل بندولو اعلان کول جائزدي؛ ترڅو د لمانځه په منځ کې د موبایل د زنګ راتللو له کبله خلل واقع نه شي. (۲۲: ۲۵۲).

۶. کله چې د مبایل په مخ باندې حمام ته د داخلېدو پر مهال د الله تعالی(جلالة) لفظ او یا مقدسې کلمې موجودې وي په بې اودسی حالت کې ورته لاس وروړل پروا نه لري؛ البته بیت الخلاء ته ورسره تلل بې ادبي ده؛ خو که یاد هغه او یا د قرآن کریم الیکترونیکي صورت او شکل د مبایل له سکرین څخه پټ وي باک نه لري . صاحب د رد المحتار لیکلي چې: [ فلو نقش اسمه تعالی او اسم نبیه . صلی الله علیه وسلم . استحب ان یجعل الفص في کمه اذا دخل الخلاء). (۳: ۳۶۱). ژباړه: که د الله تعالی او یا د نبي صلي الله علیه وسلم نوم یې ولیکه؛ نو مستحب ده، چې تشناب ته د ننوتلو پر مهال غمی یې په لستوني کې پټ کړي.

که په الیکټرونیکي ډیجټیل قرآن کریم وي چې ظاهري شکل یې د مبایل؛ خو په حقیقت کې قرآن کریم وي، چې بټن یې ووهل شي د قرآن کریم صفحات (پاڼې) را اوړي، بې اودسه لاس وروړل ورته روا نه دي. (۲۲: ۶۳. ۱۷۷).

بل داچې د اغوستلو جامو ته په ورته توګه که د مبایل په سکرین باندې د ساه لرونکو حیواناتو تصویر وي او د لمانځه په وخت کې یې مخامخ کېږدي لمونځ یې مکروه دی؛ البته فاسد نه دی. (۲۲: ۸۱).

۷. د مبایل له لارې د طلاق په ورکولو کې لیکنیزه برخه (کتابت) د وینا په شان حکم لري؛ په دې مانا چې کله صراحتا د طلاق الفاظ ولیکي او د طلاق اراده یې کړې وي، طلاق واقع کیږي، لکه چې صالح المنجد لیکي، چې: (فالخلاصة إذاً أن من نوي إیقاع الطلاق وکتب، ونواه وکتبه، فإن الراجح أنه یقع). (۲۲: ۱۵، ۱). ژباړه: لنډه داچې په دغه صورت کې که یو څوک د طلاق واقع کېدلو اراده وکړي او ؤیې لیکي، او قصد یې کړی وي او لیکل یې کړي وي؛ پس بنا په راجح قول طلاق واقع کیږي.

صاحب د درالمختار لیکي، چې که خاوند خپلې ښځې ته ولیکي، چې:[ یافلانة! اذا أتاک کتابي هذا فأنت طالق، طلقت بوصول الکتاب] ۱۳: ۴۵۶). ژباړه: اې فلانی! هغه مهال چې تاته زما دا لیک در ورسېد؛ نو ته طلاقه یې، نوموړې د لیک له ور رسېدلو سره سمه طلاقیږي.

په دې هکله موسوعة کویتیه کې لیکي، چې:(إذا كتب الزوج إلى زوجته كتاباً بطلاقها، فإن كتب إليها: يا فلانة أنت طالق، أو كتب: هي طالق طلقت في الحال سواء وصل إليها الكتاب أو لم يصل، وهذا باتّفاق ). (۲۳: ۱۶۶). ژباړه: که خاوند خپلې ښځې ته د طلاق ورکول کېدو لیک واستوي، که داسې ورته ولیکي، چې: اې فلانۍ! ته طلاقه یې، او یا داسې ورته ولیکي، چې هغه طلاقه ده؛ نو سمدلاسه طلاقیږي برابره خبره ده، چې د طلاق لیکلی پیغام ورته رسېدلی وي او که نه، او دا په اتفاق د علماؤ سره صورت نیسي.

د جمهورو فقهاؤ ( احناف، شوافع او حنابله وو) په آند یې که طلاق پر یو شي پورې معلق کړی ؤ(تړلی ؤ)، لکه داسې ولیکي، چې:

[ إذا وصل كتابي إليكِ فأنتِ طالق ] ژباړه: کله چې زما لیک تا ته در ورسېده نو ته طلاقه یې؛ تر هغې پورې طلاق نه واقع کیږي؛ څو پورې چې هغې ته لیک نه وي رسیدلی؛ البته هغه مهال چې لیک ورته ورسېده، دا ښځه پرې طلاقیږي.(۱۲: ۲۹).

۸.که یو شخص له بل څخه (۳۵۰ ) کریډیټ په (۴۵۰ ) افغانۍ واخلي او د پلورلو او پیرودلو دا ډول یې له پیل څخه په همدې ډول ترسره شوی وي، دا بیعه روا ده، کومه ستونزه نه لري؛ خو که په لومړي قدم کې په (۳۵۰ ) افغانۍ عقد شوی وي او وروستني (۱۰۰ )افغانۍ یې د ورکړې د وروسته والي له کبله اضافه شي؛ نو دا ناروا او سود دی.(۱۲: ۲۵).

۹.د موسسې یا شرکت د کارونو پر مخ وړلو او د دوی اړتیاوو ته په کتلو سره، د اوچت (لوړ) قیمت والا مبایل اخیستل، چې د اسراف او تفاخر اثر پکې نه وي؛ باک نه لري. (۲۱: ۱۱،۱۰).

۱۰.د حرمینو شریفینو له بجلۍ (برق) څخه تر هغې پورې چې ممانعت یې نه وي کړی د مبایل چارج کول ناروا نه دي؛ خو چې نورو وګړو ته د تکلیف نه ورکولو سربېره د لمونځ ادا کولو وخت نه وي؛ البته د نورو مساجدو له بجلۍ‌څخه په شخصي کړنو کې د مبایل چارج کول ناروا دي؛ ځکه چې د هغې بیل یا مصرف د وقف شوو پیسو څخه وي؛ خو که جومات د یو شخص یا مشخصو وګړو وي او د هغوی اجازه وي؛ نو روا دی. (۱۲: ۷).

۱۱.د اعتکاف پرمهال د مبایل په ذریعه د خوراک، څښاک، خوب کول، اړین مواد اخیستل او خرڅول، په عمومي ډول او له خپلې کوروالا سره خبرې کول درست دی؛ خو د تجارتي پروسې پرمخ وړل یې مکروه دي. (۱۴: ۳۰۳).

همدارنګه د طواف او سعی پرمهال د مبایل په واسطه د خبرو کولو باک نشته؛ خو چې له اړتیا او ضرورت څخه زیاتې نه وي، لکه چې صاحب د فتح القدیر لیکي: [ وأما كراهة الكلام فالمراد منه فضوله الا مايحتاج اليه بقدر الحاجة ]. (۲: ۲۹۵ ).

ژباړه: او هر چې د خبرو مکروه والی دی؛ پس مراد ترېنه اضافي خبرې کول دي؛ البته په استثناء د هغو چې ورته اړتیا لیدل کیږي.

۱۲.د نوي تولد شوي ماشوم په غوږ کې له واسطې پرته آذان او اقامت کول پکار دي؛ البته د مبایل په واسطه یې ترسره کول ناسم دي؛ ځکه چې د مبایل آواز د صدای بازګشت یا لاؤډ سپیکر د اواز په درجه کې دی. (۲۲: ۱۷۷).

۱۳. په ټول لمونځ کې د مبایل زنګ درې واري بندول په لږ عمل سره پرته له شک څخه یوه روا کړنه ده او په یو رکن کې یې درې واري په لږ عمل سره هم بندولی شي؛ خو پدې شرط چې دغه درې حرکته به مسلسل نه وي، یعني درې وارې د (سبحان ربي الأعلی) د ویلو په اندازه او یا ددې څخه په کم وخت کې درې وارې حرکتونه وشي؛ ځکه چې که چېرې په دغه لنډ وخت کې دغه درې واره حرکتونه پرلپسې ترسره شي؛ هغه په خپله عمل کثیر کې راځي او لمونځ پرې فاسدیږي. (۲۰: ۴۱۸).

۱۴.د ټیلیفون له لارې په جنازه کې د برخې اخیستلو په پار د خلکو خبرول، په دې نیت چې په جنازه کې یې شرکت او دعا وکړي باک نه لري. (۲۱: ۱۶).

۱۵.که له قرائنو څخه معلومه شوه، چې دا مبایل د غلا یا غصب دی؛ نو شرعا یې اخیستل روانه دي؛ ځکه د ګناه په کار کې کمک او همکاري روا نه ده. (۱۸: ۳۷۱۶).

بل داچې ورک شوی مبایل، چې کله وموندل شي؛ تر یو کال پورې پکې تصرف کول او یا یې خرڅول ناروا دي. (۱۲: ۲۷ـ ۲۸).

۱۶.بې له عذر درلودلو څخه په مثکالونو ورکولو سره د کریډیټ بچت کول بخل او ګناه ده، لکه چې په حدیث شریف کې راځي: عَن أَنَسٍ عَن النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ. (۷: ۲۳).

ژباړه: انس رضي الله عنه له نبي صلي الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: تر هغې پورې یو شخص مؤمن نه شي کېدای؛ تر څو پورې، چې بل ورور ته هغه څیز خوښ نه کړي کوم چې ځان ته یې خوښوي.(۱۲: ۳۸).

۱۷.د مبایل په واسطه د سجدې آیت په اورېدلو سره د تلاوت سجده لازمیږي، لکه د لاؤډ سپیکر د آواز په شان(۲۰: ۶۶).

۱۸.هغه موبایل چې د شخصي اړتیا لپاره اخیستل شوی وي اګرکه د لوړ قیمت والا وي زکات پرې نشته، لکه چې په اړه یې صاحب د درالمختار لیکلي: [ولیس في دورالسکني و ثیاب البدن و أثاث المنزل و دواب الرکوب و عبیدالخدمة و سلاح الاستعمال زکاة ]. (۱۳:۱۷۸).

ژباړه: د اوسېدو ګنې په کورونو، د بدن په جامو، کورني وسایلو، سورلی، خدمتګارانو او د استعمال وړ وسله(سلاح) کې د زکات ورکول نشته.

۱۹.که د وخت نظام د حوادثو د مخنیوي په پار د طرح شوو لوایحو سره سم موټر چلوونکي د موټر چلولو پر مهال په مبایل کې د خبرو کولو څخه منع کړي، د‌ړېور یې په مراعات کولو ملزم او مکلف دی، لکه چې

اصولي قاعده ده، چې: (التصرف علي الرعية منوط بالمصلحة) (۱۵: ۱۴۱). ژباړه: د رعیت اړوند مسائلو کې تصرف کول تر مصلحت پورې تړاو لري.

۲۰.د غورې وینا پر بنا په مبایل یا نورو برخو کې د ښځینه اواز او د سلام ادا کول یې روا دي؛ خو چې له فتنې څخه پکې امن موجود وي. (۱۷: ۱۵۸).

۲۱.په مبایل کې د فضول او اضافي خبرو کولو څخه ځان ساتل پکار دي، لکه چې په حدیث شریف کې راځي: (عن المغيرة بن شعبة قال: نهي رسول الله صلی الله عليه وسلم عن قيل وقال، وكثرة السؤال و اضاعة المال).(۷: ۱۰۰. د حدیث نمبر ۶۴۷۳).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو د خبرو له نقلولو د ډېر سوال کولو او د مال له بې ځایه مصرفولو څخه منع کړې.

۲۲.په مبایل باندې د خبرو کولو څخه وروسته الله حافظ (خدا حافظ) ویل دعا ده، یعنې الله د ستا ساتنه وکړي، دې ته ورته دعا رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوقتادة رضي الله عنه ته وکړه او داسې یې ورته وویل چې: (حَفظَكَ الله) الله تعالی د ستا ساتنه وکړي(۱۶: ۳۶۱).

**د مبایل استعمالولو حکم**

مبایل که د روا او ګټورو کارونو لپاره استعمال شي؛ نو روا او ښه دی؛ خو د ناروا کارونو لپاره یې استعمالول نادرست دي، لکه، چې په حدیث شریف کې راځي: (إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ).(۷: ۹).کتاب بدء الوحي، باب كيف بدء الوحي إلى رسول الله (صلى الله عليه وسلم)؟، او د اصولینو قاعده هم ده، چې: (الامور بمقاصدها). (۱۹: ۱۶) . ژباړه: د کړنو حکمونه د هغوی تر موخو او مقاصدو پورې تړلي دي.

**د مبایل استعمالولو ګټې**

« د مبایل استعمالول یوه الهي لورینه ده.

« د ناخبرو مسلمانانو د ویښتابه مهمه وسیله ده.

« د مسلمانانو او دوستانو د ستونزو حل کولو، د هغوی پوښتنې کولو او صله رحمي پاللو لپاره د پل حیثیت لري.

« د شرعي مسائلو، دعوت خپرولو، وعظ، پند ورکولو او اخیستلو لپاره مناسبه وسیله ده.

« د مبایل په ذریعه د آنلاین دارالافتاء او استفتاء چلولو چارې پرمخ وړل کیږي.

« د هېواد په داخل او بیرون کې د ارزانه اتصال بنسټیزه وسیله ده.

« د لمانځه رابیدارولو په برخه کې منبَه د هاء په زیر سره( له خوب څخه رابیداروونکی) رول ترسره کوي.

« د مبایل په وسیله د قرآن کریم اورولو او اورېدلو خدمات ترسره کیږي.

« د ساعت او وختونو په تنظیم کې د مرستندوی حیثیت لري.
« په لیکنیزه برخه کې ترېنه د کمپیوټر په ځای لازمه ګټه اخیستل کیږي.
« د کالیزې خدمت ترسره کوي.
« د بشري اړتیا په صورت کې ترېنه د آډیو، ویډیو او تصویر اخیستلو ګټه اخیستل کیږي.
« د معلوماتو د ذخیره کولو او انتقال خدمات له ځان سره لري.
« د تجارت، صنعت، اداره او حساب کولو زیات شمېر آسانتیاوې په خپل ځان کې لري.
« له مبایل څخه په مناسبه توګه د راډیو او ټلویزیون استفاده کېدای شي.
« د انټرنېټ استعمالولو لپاره ترېنه په زیاته پیمانه کار اخیستل کیږي.
« د وخت او مال د ضیاع مخنیوی کوي.
« د بشرسترټیا یې په هوسایني سره بدله کړې ده.
« د ځمکې لیرې تنابونه یې رالنډ کړي دي.
« د دنیا او آخرت د بهبود زیات شمېر ښېګڼې پکې نغښتي دي.

**د مبایل استعمالولو زیانونه**

« د مبایل استعمالول ستا دوست نه شي کېدای؛ بلکې ډېر وخت ستاسره مل د ستا اړوند جاسوس هم ثابتېدای شي.
« دا یوه داسې دوه مخیزه خنجر هم دی، چې ځان او دښمن دواړه پرې وهل کېدای شي.
« په خوښېزو او د ژوند په مختلفو برخو کې د عکس اخیستلو، پېغام لېږلو، ویډیو او آډیو کولو له کبله د یو زیات شمېر ستونزو رامنځته کول له ځان سره لري.

**پایله**

مبایل د بشري ژوند په مختلفو برخو کې منل شوې اړتیا ده، چې په استعمالولو سره یې یاده اړتیا پوره کیږي او په واسطه یې ژوند هوسا او د وخت د زیانمن کېدو مخنیوی پرې کیږي؛ ولې په ناسم استعمال سره یې دنیوي او اخروي ژوند په خطر کې اچول کېږي.
که د یو مسلمان په څېر د ژوند په مختلفو برخو کې د موبایل څخه د ګټې اخیستلو اړوند مناسبې او ګټورې موخې وټاکو او دې هدف ته د رسېدو په مختلفو پړاوونو کې له تدبر او فکر څخه کار واخلو؛ بریالي توب به مو یقیني وي؛ خو که کړنه مو د یادې هغې په عکس وي؛ نو په دې صورت کې د خطر زنګ دی، چې د بچ کولو لپاره یې د غفلت پر ځای را هیښېدل لازمي اړتیا ده؛ پس پکار ده، چې د ژوند په ټولو برخو کې ترېنه سمه او پرځای ګټه پورته کړو.

**وړاندیزونه**

۱.دا چې د مبایل استعمالولو شرعي احکام تر عنوان لاندې موضوع یوه نوې، اړینه او په زړه پورې څېړنه ده؛ نو د ګرانو هېوادوالو له ټولو ورونو او خویندو څخه په خورا درنښت هیله کووم، چې د مبایل استعمالولو په هکله لازیاتې لیکنې وکړي.

۲. له ټولو درنو څخه هیله لرم؛ تر څو د مبایل په استعمالولو کې محتاطانه ګامونه پورته کړي او د ژوند په هره شیبه کې

ترېنه سمه او پرځای ګټه پورته کړي.

۳.د ماشومانو او ځوانانو د مبایل کارولو لازمه څارنه وکړي.

۴.په واسطه یې د پوهنیزې کمزورۍ د له منځه وړلو لپاره لازم کوښښونه وکړي.

۵.د ځوانانو بیکاري له منځه وړلو هڅه او هاند په لاره واچوي.

۶.د مبایل کارولو په ترڅ کې د نېکانو سره ملګرتیا وکړي.

۷.د نظر ساتنه خپله دنده وګرځوي.

۸.د عبث او بې ځایه اورېدو څخه ډډه وکړي.

۹.موجوده معاصرې ټیکنالوجي ته د لاس رسي په پار نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي.

۱۰.خپلو ماشومانو ته په مبایلونو کې د بېلګې په ډول د دې سافټویرونو د انسټالولو کوښښ وکړي، لکه:

1 Cyber Sitter
2 Net Nanny
3 Cyber Petrol
4 Norton Internet Security
5 Mcafee Parental Control

که څه هم دا سافټویرونه ددې لپاره نه دي جوړ شوي، چې ناروا سایټونه بند کړي؛ ولې په دې سافټویرونو کې یو شمېر داسې آپشنونه شته، چې د هغه په مرسته کولای شو، چې د پېښېدونکو زیانونو مخه بنده شي.

د یادو سافټویرونو تر انسټالولو وروسته یې سیټینګ کول آسانه کار نه دی؛ ولې ممکن دی.

دا هم شونې ده، چې له کومې شبکې څخه، چې د کور لپاره کنکشن اخیستل کېږي، کېدای شي، چې له هغو څخه دا غوښتنه وشي، چې له همدغه لاین څخه د ناوړه سایټونو مخه ونیسي؛ تر څو د دې کورنۍ د دښمنانو مخه پخپله نیول شوي وي او د بد اخلاقۍ په سیند له لاهو کېدو څخه وژغورل شي.

**مأخذونه**


۱. قرآن کریم

۲. ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبدالواحد السيواسي المعروف بابن الهمام. ( ب ت). فتح القدير.ج۲. بيروت:دارالكتب العلمية.

۳.ابن عابدين، سيد محمدامين، المعروف بالشامى. (۱۴۱۸هـ) ردالمحتارعلى درالمختار، حاشيه ابن عابدين. ج۶. مكتبه رشيديه، پاکستان، سرکی روډ، کوئټه.

۴. ابن قدامة،عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد. (۱۴۰۵هـ ). المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني. بيروت:

دار الفكر.

۵. ابن الأثير،مجد الدين أبو السعادات المبارك بن محمد الجزري(ب ت). جامع الأصول في أحاديث الرسول.ج۶. مكتبة دار البيان.

۶.أبوزيد، بكر. (۱۴۱۸هـ، ۱۹۹۷م ). أدب الهات. دارالعاصمة.

۷.بخاري ،أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي. (۱۴۲۲هـ). الجامع المسند الصحيح المختصر

من أمور رسول الله .صلى الله عليه وسلم .وسننه وأيامه.ج ۱. او ۸. دار طوق النجاة.

۸. بيهقي،أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي. ( ۱۳۴۴ هـ ). السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي.ج۶. مجلس دائرة

المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد.

۹. تبريزي،العلامة ولي الدين أبي عبد الله محمد بن عبد الله الخطيب العمري. (۱۴۰۵هـ، ۱۹۸۵م ). مشكاة المصابيح. بيروت: المكتب الاسلامي.

۱۰. ترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك. (۱۹۹۸م ). الجامع الكبير، سنن الترمذي. ج۲. بيروت: دار الغرب الإسلامي.

۱۱. تهانوي، اشرف علي.(ب ت) امداد الفتاوي. ژباړن: زاهدالله شاه حقاني.ج۴. کابل: اکسوس خپرندویه ټولنه.

۱۲. جبرين، عبدالله بن عبدالرحمن. (ب، ت) الجوال ( مسائل وأحكام). ج۱. مكتبه شاملة.

۱۳. حنفي،ابن عابدين محمد امين بن عمر بن عبدالعزيز ابن عابدين الدمشقي. (۱۴۱۲هـ . ۱۹۹۲م). الدرالمختار(ردالمحتار). ج۳.۴. بيروت: دارالفكر.

۱۴. حنفي، زين الدين ابن نجيم، البحر الرائق شرح كنز الدقائق.(ب، ت). ج۲. بيروت: دار المعرفة.

۱۵. حيدر، علي.(ب ت). درر الحكام شرح مجلة الأحكام. ج۱. بيروت، لبنان:دار الكتب العلمية.

۱۶. سجستاني،سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي. ( ۱۳۴۴ هـ). سنن أبي داود. ج۲. دار الفكر.

۱۷. عثماني، الشيخ محمد تقي بن محمد شفيع بن محمد ياسين خليفة تحسين على ميانجي امام علي العثماني الحنفي.(ب ت). تكملة فتح الملهم بشرح صحيح مسلم. ج۵. دارالقلم دمشق.

۱۸. كاسانى،امام علاؤ الدين ابوبكر بن مسعود كاسانى حنفى «ملک العلماء». (۱۹۸۲م). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. بيروت: دار الكتاب العربي.

۱۹. لجنة مكونة من عدة علماء و فقهاء في الخلافة العثمانية.(ب ت). مجلة الأحكام العدلية . ج۱. نور كارخانه، آرام باغ، كراتشي.

۲۰. لدیانوي،مفتي رشيد احمد. (ب ت). احسن الفتاوى. ج۳.۴. پاكستان، ايچ ايم سعيد كمپنى، ادب منزل، كراچى چوک.

۲۱. منجد، محمد صالح.(ب ت). الجوال آداب وأحكام.ج۱. مكتبه شامله.

۲۲. منصور پورى، مفتي سيد محمد سلمان.(ب ت). كتاب النوازل.ج۳.۴. المركز العلمي للنشر والتحقيق مراد آباد، انډيا. www.elmedeen.com

۲۳. موسوعة الفقهيةالكويتية، (۱۴۰۴- ۱۴۲۷هـ) وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية.ج۳۶. الكويت.

۲۴. نظام، الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند. (۱۴۱۱هـ، ۱۹۹۱م). الفتاوى الهندية في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان ( العالمكيرية ). ج۵.دار الفكر.

۲۵. نيسابوري،أبو الحسين مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري.(ب ت). صحيح مسلم. ج. بيروت:دار إحياء التراث العربى.

# لوست پلانول او د پلان مهم عناصر

ليکوال: پوهنيار عبدالنعيم عبدالبشير، پکتيکا د لوړو زده‌کړو مؤسسه، د ښوونې او روزنې پوهنځي د تربيتي علومو څانګې استاد
تقريظ ورکوونکی: پوهنوال امرالله آصفي، شيخ زايد پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي استاد.

**لنډيز**

سره له دې چې لوست پلانول د مسلکي ښوونکو لپاره يو له مهمو مهارتونو څخه شمېرل کېږي بيا هم ځيني ښوونکي د لوست پلانولو بنسټيزه پوهه نه لري. په همدې اساس مې لازمه وبلله چې د لوست پلانولو مهم عناصر له معتبرو نړيوالو منابعو څخه راپيدا او واضح کړم. د لوست پلانول په بېلابېلو لارو ترسره کېدای شي. تر ټولو ښه پلان هغه دی چې ډېر ښوونکي يې په ګډه او مشوره جوړ کړي. ددې لپاره چې د لوست لپاره يو ښه درسي پلان جوړ کړو، بايد دا څلور عناصر په پام کې ونيسو: ۱- د زده کوونکي پخوانۍ پوهه يا د زده کوونکي د زده کړې اوسنۍ حالت (د زده کوونکي سويه)، ۲- د درس يا درسونو په پای کې متوقعه زده کړه (موخه)، ۳- د درسونو له پيل تر پايه پرمختګ (د پرمختګ کچه) او ۴- په پلان جوړولو کې د ښوونکو همغږي، مشورې او نقدونه.

**کليدي ټکي:** لوست پلانول، پخوانۍ پوهه، متوقعه زده‌کړه، د کاميابۍ معيار، د پرمختګ کچه، ذاتي ځانګړتياوې.

**سريزه**

پدې څېړنيزه مقاله کې د ښوونکو لپاره د لوست پلانولو لار ښودل شوې. پدې لار کې د لوست پلانولو څلور مهم عناصر هر يو: ۱- د زده کوونکي پخوانۍ پوهه (د زده کوونکي سويه)، ۲- د درس يا درسونو په پای کې متوقعه زده کړه (موخه)، ۳- په درسونو کې د پرمختګ کچه او ۴- په پلان جوړولو کې د ښوونکو همغږي، مشورې او نقدونه څېړل شوي دي.

**د مسئلې بيان**

ډېری ښوونکي د خپل تدريس لپاره داسې پلان نه کاروي، چې د لوست پلانولو مهم عناصر يې پکې په پام کې نيولي وي. نو ځکه مې غوره وګڼله چې د لوست پلانول په ساده ډول د پلان له مهمو عناصرو سره توضيح کړم، ترڅو ښوونکي ورسره اشنا شي او په خپل تدريس کې يې وکاروي.

**د څېړنې ارزښت**

پدې څېړنیزه مقاله کې د لوست پلانولو اړین عناصر چې د مسلکي تدریس لپاره ډېر اړین دي له ډېرو معتبرو بین المللي منابعو څخه راخیستل شوي او په ساده ډول تشریح شوي دي.

**موخې**

لوستونکي او په ځانګړي توګه ښوونکي به د لوست پلانولو سره بلدتیا پیدا کړي او د تدریس مسلکي پوهه به یې لوړه شي.

**میتود**

ددې علمي مقالې د لیکنې له پاره مې له بیلابیلو معتبرو کتابونو او علمي مقالو څخه مهم ټکي راټول کړل او وروسته مې د موضوع د ښې توضیح لپاره په مفصل ډول تشریح کړل.

**لوست پلانول**

د لوست پلانول په مختلفو طریقو ترسره کېدای شي. تر ټولو ښه پلان هغه دی چې ډېر ښوونکي یې په ګډه او مشوره سره جوړ کړي. په یوه ښه درسي پلان کې څلور عناصر وجود لري چې باید په پام کې ونیول شي. ۱- د زده کوونکو د زده کړې اوسنی حالت (د زده کوونکو سویه)، ۲- د درس یا درسونو په پای کې متوقعه زده کړه (زده کړه ییزه موخه)، ۳- د پرمختګ کچه – له پیل څخه د درسونو تر پایه او ۴- په پلان جوړولو کې د ښوونکو همغږي (مشورې) او نقدونه. دا څلور عناصر هر یو په لاندې برخه کې تشریح شوي دي[۹].

**۱- د زده کوونکو د پوهې اوسنی حالت (د زده کوونکي سویه)**

د زده کړې لپاره تر ټولو مهم عامل دا دی چې پدې وپوهېږو چې زده کوونکی تر کومې کچې پوهېږي، ددې تشخیص وشي او زده کوونکي ته د هغه د سویې په نظر کې نیولو سره زده کړه ورکړل شي[۳]. کله چې زده کوونکي نوی ټولګی شروع کوي د هغه پوهه او زده کړه پدې پورې اړه لري چې په تېره دوره یا ټولګي کې یې تر کومې کچې زده کړه کړې ده. عموماً تکړه زده کوونکي د ډېري پوهې په لرلو سره نوی ټولګی شروع کوي او غبي زده کوونکي د کمې پوهې په لرلو سره نوی ټولګی پیل کوي. د ښوونکي دنده دا ده چې دا فاصله راکمه کړي او داسي کړنلاره په کار واچوي چې د غبي زده کوونکو زده کړه چټکه کړي او د تکړه زده کوونکو سره یوځای د نصاب زده کړه ییزې موخې ترلاسه کړي[۹].

په همدې اساس مخکې لدې چې د لوست پلان جوړ شي ښوونکی باید د زده کوونکو له زده کړې څخه ژور معلومات ولري. یعني پدې وپوهېږي چې زده کونکي په څه پوهېږي، څه شی ترسره کولای شي او څنګه به

ښوونه د هر زده کوونکي له لاسته راوړنو او پرمختګ سره مرسته وکولای شي. ډېر تمرکز باید پدې وشي چې د ټولو زده کوونکو د زده کړې د شروع نقطه وپېژندل شي او ټول د زده کړې يو شان متوقعه پايلو ته ورسول شي. زده کوونکي د پوهې او مهارت ترڅنګ ځيني ذاتي ځانګړتياوې (Self-Attributes) هم ټولګي ته راوړي چې ښوونکی باید ترې خبر و اوسي[۹].

### د زده کوونکو ذاتي ځانګړتياوې

د زده کوونکي ځيني هغه ذاتي ځانګړتياوې چې ښوونکی باید پاملرنه ورته وکړي عبارت دي له: ځاني اغېزناکتوب، ځاني موانع، ځاني تحرک، ځاني موخې(مهارت، کړنې، ټولنيز)، مايوسي او ټولنيزه پرتله[۹].

ځاني اغېزناکتوب (Self-Efficacy) د ځاني باور هغه جرأت او قوت دی چې په زده کوونکي کې د زده کړې د رامنځته کېدو سبب کېږي. زده کوونکي د ځاني اغېزناکتوب په اړه دوه ډوله باورونه لري: د ځاني اغېزناکتوب لوړ باور او د ځاني اغېزناکتوب ټيټ باور. ددې دوه ډوله باور لرونکو زده کوونکو ځانګړنې په لاندې ډول دي[۹]:

| د ځاني اغېزناکتوب لوړ باور لرونکي زده کوونکي | د ځاني اغېزناکتوب ټيټ باور لرونکي زده کوونکي |
|---|---|
| • ستونزمنو کارونو ته د سختۍ او چېلنج په سترګه ګوري او له هغو څخه د مخ ګرزولو کوشش نه کوي.<br>• ناکامي د ځان لپاره يوه داسې موقع ګڼي چې په راتلونکي کې زيات کوشش وکړي او نور معلومات ترلاسه کړي. | • ستونزمن کارونه د ځان لپاره ننګونې بولي او نه يې ترسره کوي.<br>• موخو ته ډېر کم ژمن وي.<br>• ناکامي د ځاني ضعف او شخصي کمزورتيا نتيجه ګڼي.<br>• د جرأت احساس ته ډېر کم پرمختګ ورکوي. |

ځاني موانع (Self-handicapping) هغه وخت رامنځته کېږي چې زده کوونکي د کارونو د ترسره کولو په مقابل کې د ځينو موانعو يادونه کوي او د خپلو وړتياوو د وروسته پاتې کېدو لامل يې ګڼي.

| د ځاني موانعو (Self-handicapping) مثالونه | د له منځه وړلو لارې چارې |
|---|---|
| • کورنۍ دنده ځنډول.<br>• د کړنو د ضعف پړه پر چاپېريال غورځول. مثلاً وايي کورنۍ دنده مې وسوځېده.<br>• کارونه ډېر کم او يا هم هيڅ نه ترسره کول.<br>• د ځان لپاره ساده او اسانه موخې ټاکل.<br>• د کاميابي لپاره د ممانعتونو په لويولو کې مبالغه. | • په زده کړو کې د زياتې کاميابي زمينه برابرول<br>• د زده کړه ييزو پايلو سم واضح کول. يعني د زده کړه ييزو پايلو غير يقيني توب له منځه وړل.<br>• زده کوونکو ته دا تدريسول چې په ښه شان د خپلو زده کړو څارنه وکړي. |

[۹]

ځاني تحرک (Self-motivation) کېدای شي داخلي او یا هم خارجي و اوسي. که چېري پخپله زده کړه ددې لامل شي چې زده کړه رامنځته شي نو داخلي تحرک رامنځته شوی او که چېري ترلاسه شوی انعام ددې لامل شي چې زده کړه رامنځته کړي، نو بیا خارجي تحرک رامنځته شوی.

| داخلي تحرک (intrinsic-motivation) لرونکي زده کوونکي | خارجي تحرک (Extrinsic-motivation) لرونکي زده کوونکي |
|---|---|
| • څومره چې په زده کړه کې زیات وخت تېروي په هغه اندازه له زده کړې څخه زیاته ګټه ترلاسه کوي.<br>• په زده کړه کې څنګه نور وخت او انرژي ولګوم؟<br>• څنګه نورو سختو او چېلنجي برخو ته ولاړ شم؟<br>• اوس زه پوهېږم چې... | • زیاتره سرسري زده کړه کوي، او د کار تکمیلول یې له معیار سره برابر نه وي. عموماً د انعام د ترلاسه کولو لپاره کار ترسره کېږي.<br>• آیا دا په ازموینه کې راځي؟<br>• آیا دومره د کامیابي لپاره بس ده؟ |

[۹]

ځاني موخې (Self-goals)، زده کوونکي مختلفې موخې له ځان سره لرلای شي. په عمومي ډول دوی لاندې درې ډوله موخې له ځان سره لري:

| | |
|---|---|
| ۱. Mastery (مهارت) | د زده کوونکو موخه د خپل لیاقت او ورتیا لوړول وي او داسي انګیري چې ورتیا د کوشش پواسطه لوړېدای شي. هڅه کوي د کوشش پواسطه زده کړه وکړي او له ناکامي ځان ژغوري. |
| ۲. Performance (کاربېدون) | د زده کوونکو موخه د خپلې ورتیا څرګندول وي، خاصتاً د خپلو همسیالانو په منځ کې د ښه کار په ترسره کولو سره. داسي انګېري چې ورتیا ثابته ده او نه بدلېږي. هڅه کوي د نورو په نسبت زیات کار وکړي او له نورو څخه شاته پاتې نه شي. |
| ۳. Social (ټولنیز) | زده کوونکي زیاتره پدې فکر کې وي چې په ټولګي کې له نورو سره په څه ډول اړیکه ولري او وساتي. هڅه کوي له نورو سره یوځای زده کړه وکړي او له نورو سره یوځای له ناکامي ځان وژغوري. |

[۹]

مایوسي(Hopelessness)، هغه وخت رامنځته کېږي چې زده کوونکي وانګېري چې هغه نه پرمختګ کولای شي، نه دده لپاره لاسته راوړنه شته او نه ددې حالت د تغیر لپاره له ده سره کوم مرستندوی شته. پداسي یو حالت کې زده کووونکی ګوښه ګیر وي او د پرمختګ په چارو کې ګډون نه کوي. کامیابي په نورو فعالیتونو لکه شوخي کولو کې ویني، او داسي فکر نه کوي چې پرمختګ دده د کړنو نتیجه ده، برعکس داسي فکر کوي چې پرمختګ دده په اختیار کې نه دی. دا ډول مایوسي ممکن ډېر عوامل ولري لکه، په علمي ډګر کې پخوانۍ ناکامي، داسي عقیده لرل چې لاسته راوړنه د تغیر وړ نه ده او یوازې د ځینو زده کوونکو لپاره ثابته ده، د ځاني اغېزناکتوب ټیټ باور لرل، د تعلیمي یا تحصیلي مؤسسې زده کړو ته ارزښت نه ورکول، د کارونو د ترسره کولو لپاره د مناسبې تکلارې نه درلودل او په سخت او زیږ چاپېریال پورې تړاو لرل[۲].

ټولنیزه پرتله (Social-comparison)، دا د زده کوونکو هغه ذاتي ځانګړنه ده چې هر وخت په ټولګیو کې موجوده وي. زده کوونکي زیاتره وخت د نورو زده کوونکو سلوک او ځانګړتیاوې ددې لپاره څاري چې د خپل ځان په اړه یو مشخص نظر ولري او هغه ته پراختیا ورکړي. مثلاً، د ریاضي یو تکړه زده کوونکی په خپل ټولګي کې د ځان په اړه داسې نظر لري چې ډېر تکړه یم، مګر کله چې هغه بیا د ریاضي د نابغه ګانو ټولګي ته ولېږل شي، د هغه د ځان په اړه دا نظر ښکته رالوېږي. دا ډول حالت ته مارش او د هغه ملګرو [۱۱] په لوی ډنډ کې د کوچني ماهي نوم ورکړی ده. یعني، نوموړی پداسې حالت کې ځان له نورو ډېرو تکړه زده کوونکو سره پرتله کوي او ځان ورته په ټولګي کې ډېر کوچنی غړی ښکاري. پدې وخت کې لازمه ده چې ښوونکی زده کوونکي ته دا نظر ورکړي چې دی کولای شي له نورو ډېرو حالاتو سره ځان پرتله کړي چې پدې سره به په زده کوونکي منفي تأثیرات له منځه ولاړ شي[۱۳]. ډېری وخت هغه زده کوونکي چې ځان ته په ټیټه سترګه ګوري، له نورو سره ځان ډېر پرتله کوي، په ځانګړي توګه له هغو سره چې له ځانه ورته نېکمرغه او بختور ښکاري. ځیني وخت بیا زده کوونکی په نورو کې ځان ښکاره کوي او له هغو سره ځان پرتله کوي چې په فعالیتونو کې کمزوري وي.

**۲- زده کړه یېزه موخه یا متوقعه زده کړه (هغه زده کړه چې زده کوونکی یې د لوست په پای کې ترلاسه کوي)**

متوقعه زده کړه دوه برخې لري: لومړی، دا چې له تدریس څخه باید څه ترلاسه شي (د زده کړې مقصد یا موخه). دوهم، د موخې د لاسته راتلو په اړه خبرتیا (د کامیابي معیار). ښوونکی باید پدې ځان خبر کړي چې لوست له متوقعه زده کړې سره څنګه پرمختګ کوي او پدې هم باید ځان یقیني کړي چې زده کوونکي پدې خبر دي چې له متوقعه زده کړې سره څنګه پرمخ ځي. زده کوونکي باید پدې اړه په بشپړه توګه خبر و اوسي. د ښوونکي دا ډول وضاحت ورکول او زده کوونکي خبرول یو له اړینو فعالیتونو شمېرل کېږي. ښوونکی باید پدې وپوهیږي چې څنګه ټول زده کوونکي موخې ته د رسېدو لپاره تیار کړي او وروسته د موخې په لور د دوی پرمختګ وڅاري. د موخې وضاحت دې ته لار برابروي چې د زده کوونکو او ښوونکي ترمنځ د زده کړې په اړه باور رامنځ ته شي، پدې ډول چې دواړه لوري د موخې د ترلاسه کولو کوښښونه کوي. موخه او د کامیابي معیار په لاندې برخه کې تشریح شوي دي[۹].

**الف - د زده کړې مقصد (موخه)**

د زده کړې مقصد (موخه) چې د یوه لوست لپاره ټاکل کېږي، کېدای شي چې سرسري، ژوره او  یا مفهومي زده کړه رامنځ ته کړي، چې د زده کړې دا ډول رامنځ ته کېدل بیاپه تدریس کوونکي ښوونکي پورې اړه لري. او دا په حقیقت کې پدې پورې هم اړه لري چې موضوع له نصاب سره څومره اړیکه لري. موخه کېدای شي چې لنډ مهاله (په یوه تدریس پورې اړه ولري) او یا هم اوږدمهاله (له څو درسونو) سره اړیکه ولري. نو ځکه،

کېدای شي چې د زده کړې د اهمیت او تاثیر په نظر کې نیولو سره موخه تغیر شي. موخه هغه وخت ښه موخه کېدای شي چې زده کوونکو ته واضح او ښکاره وي، په عین حال کې دوی باید پدې وپوهېږي چې کوم او څومره فعالیتونه ترسره کړي. پدې سره به دوی ته دا معلومه شي چې د زده کړې لپاره په کومه برخه کې زیاته انرژي، فکر او ستراتیژي وکاروي، ترڅو موخې ته ورسېږي. که چېرې ښوونکی وکولای شي زده کوونکي د موخې لاسته راوړلو ته ژمن کړي او دوی ته پدې اړه فیډبیک ورکړي چې څنګه کولای شي د کار په کولو سره په زده کړه کې بریالي کېداي شي، نو پدې وخت کې کېدای شي چې موخه په اساني سره ترلاسه شي. موخه هغه څه واضح کوي چې زده کوونکي یې باید ترلاسه کړي او د زده کوونکي دا پوهه چې دی باید څه ترلاسه کړي، د جوړښتیزې ارزونې زړه او بنسټ تشکیلوي. ترڅو چې ښوونکی پدې پوه نشي چې زده کوونکي باید څه زده کړي (او ددې زده کړي نتیجه باید څنګه ښکاره شي)، هغه به ونشي کولای چې زده کوونکي و ارزوي[۹].

د موخې او پلان جوړونې لپاره کلارک او د هغه ملګرو ځیني مهمې نقطې په لاندې ډول لیکلي دي[۵]:

- د زده کړې مقاصد (موخې) باید له زده کوونکو سره شریکي شي، پدې کار سره به زده کوونکي موخې وپېژني او په دې به پوه شي چې کامیابي (لاسته راوړنه) یعنې څه؟ نه یوازې په موخه خبرېدل، بلکه زده کوونکي پدې هم خبر کړای شي چې څه غوښتل شوي، لاسته راوړنه باید څنګه وي، او فعالیت څنګه له موخې سره تړاو لري.
- د ټولو زده کوونکو سویه یوشان نه وي. نو پلان باید د زده کړې د مقاصدو (موخو) په نظر کې نیولو سره داسې تهیه شي چې د ټولو زده کوونکو لپاره د تطبیق وړ وي.
- موخې او فعالیتونه باید ډلبندي شي، ځکه چې ځیني وخت یو فعالیت د ډېرو موخو په لاسته راوړلو کې مرسته کوي او ځیني وخت ډېر فعالیتونه د یوې موخې د لاسته راوړلو لپاره کارول کېږي.
- موخه هغه څه ده چې زده کوونکي یې باید ترلاسه کړي. ددې ترڅنګ، کېداشي زده کوونکي هغه څه هم زده کړي چې هیڅ نه وي پلان شوي (دا کېدای شي مثبت یا منفي تاثیر ولري)، نو ځکه ښوونکی باید د نامطلوبه نتایجو په اړه هم خبر و اوسي.
- هر فصل یا لوست باید موخې ته په اشاره کولو سره پای ته ورسېږي او له زده کونکو سره پدې کې مرسته وشي چې تر کومې اندازې دوی کامیابي ته نږدې شوي دي[۵].

**ب – موخې ته د رسېدو شرط یا د کامیابي معیار (Success criteria)**

د کامیابي معیار د متوقعه زده کړې پای څرګندوي، یعني د کامیابي معیار دا ښیي چې څه وخت موخې ته رسېږو؟ مثلاً، که چېرې یو ښوونکی پدې ډول موخه ولري: زده کوونکي دا زده کړي، چې په جمله کې صفات وکاروي. دا موخه زده کوونکو ته د کامیابي معیار نه ورښيي. یعني، دا نه ورښيي چې موخې ته په رسېدو قضاوت وکړي، چې ایا موخې ته ورسېدم که نه. کولای شو پورتنی مثال د کامیابي له معیار سره یو ځای پدې ډول

ولیکو: زده کوونکي په پنځو جملو کې صفت له اسم څخه مخکې وکارولای شي. دا هم کېدای شي چې زده کوونکي له ښوونکي سره یو ځای د کامیابي معیارونه طرح کړي.

د کامیابي د معیارونو د کارونې څخه مقصد دادی چې زده کوونکي په ننګونو(Challenges) کې ښکېل او د هغه په حل کولو کې سهیم او اماده و اوسي. د موخې او د کامیابي په معیارونو پورې اړوند داسې پنځه عناصر وجود لري چې د زده کړې له پروسې سره مرسته کوي. دا پنځه عناصر عبارت دي له: ننګونې، ژمنتیا، جرأت، لوړ توقعات او ذهني پوهې څخه[۹].

**۱- ننګونې (Challenges)**

ننګونې هغه څه دي چې مونږ موخې ته رسوي. ننګونې باید د زده کوونکو له سویې او موخې سره تړاو ولري. ننګونې باید دومره هم ستونزمنې نه وي چې موخې ته رسېدل وربانديې ناممکن شي. ښوونکی او زده کوونکی باید داسې طریقه(لار) ولري چې پواسطه یې ستونزمن اهداف لاسته راوړي – داسې طریقه چې د داسې لاروچارو درلودونکې وي چې د زده کړې موخه وربانديې درک شي، داسې پلان چې په پلي کولو سره یې موخې ته رسېږو او داسې ژمنتیا چې موخې ته مو رسوي.

د ننګونو اړوند یوبل مهم عنصر دا هم دی چې معلومه کړو څومره نوموړي ننګونې د زده کوونکو له پخوانۍ زده کړې سره تړاو لري. په ډېرى زده کړه ییزو فعالیتونو کې په یوې موضوع باندې د مهارت د حاصلولو لپاره باید زده کوونکی (۹۰٪) په هغې په مخکې له مخکې معلومات ولري[۴]. ددې لپاره چې د ننګونې له حلولو څخه مو خوند اخیستی وي، لوستلو لپاره یو څوک باید(٪ ۹۵- ٪۹۹) د یوه متن په کلماتو وپوهیږي[۷]. که چېري بیا زده کوونکي په یوه موضوع کې له ۵۰٪ څخه کمه پوهه ولري نو هغوی په فعالیت کې سهیم نشي شمېرل کېدای او هغوی به په محدود ډول سره کامیابي او موخې ته رسېږي. د ننګونکي موخې او د فیډبیک د اغېز ترمنځ مثبته دوه اړخیزه رابطه وجود لري، هر څومره چې موخه سخته او ننګوونکې وي د ترلاسه کولو لپاره یې د ښوونکي فیډبیک ډېر اغېز لرلای شي او که موخه اسانه وي هلته بیا فیډبیک ډېر کم اغېز لري[۷].

**۲- ژمنتیا**

له سختي وروسته ژمنتیا یو مهم عنصر دی. ژمنتیا موخې ته د ورسېدو لپاره د ښوونکی یا زده کوونکي ټینګار او عزم دی: په هره اندازه چې ژمنتیا لویه وي په هغه اندازه فعالیتونه(کړنې) ښې ترسره کیږي. ژمنتیا هغه وخت ډېره اغېزناکه ده چې د سختو کارونو لپاره رامنځته شي[۹].

**۳- باوریتوب**

باوریتوب یو بل مهم عنصر دی چې یو څوک پدې باوري کوي چې زده کړه ییزې موخې ترلاسه کولای شي. باوریتوب د یو شخص د تېرو کړنو څخه سرچینه اخلي. د زده کوونکو لپاره تېرې کړنې (په تېرو زده کړو کې کامیابي)، د ښووونکي لپاره (د فیډ بیک او ښه تدریس په وړاندې کولو سره، پداسې ډول چې کامیابی رامنځ ته شوې وي)، د کړنو لپاره (مرحله په مرحله په کامیابي سره سرته رسېدلې کړنې) او د همسیال لپاره

(فیډبیک ورکول، نظریات شریکول او د اختلاف کمبود) بلل کېږي. باوریتوب پدې ډول جملو څرګندېږي: ما فکر کاوه دا کار کولای شم اوس دا کار کولای شم[۹].

**۴- د زده کوونکي توقعات**

په زده کړه کې یو له زیات اغېز لرونکو عواملو څخه د زده کوونکو د خپل ځان په اړه نمرې ورکول(درجه ټاکل) دي. په عمومي ډول، زده کوونکي د خپلو لاسته راوړنو د اندازې په اړه نسبتاً دقیق معلومات لري. ځیني وخت، دا په ټولګي کې د لوړو توقعاتو ښودنه کوي (دا په هغه وخت کې چې زده کوونکي د هغه امتحان په اړه چې دوی ورسره مخامخ کېږي زیات معلومات ولري. یعني، زده کوونکو ته څرګندېږي، چې په امتحان کې څه غوښتل کېږي.) مګر، د کامیابي دا توقعات ځیني وخت د زده کوونکو د لاسته راوړنو په نسبت کم نیول کېږي، چې د ځینو زده کوونکو لپاره یو خنډ جوړېږي. هغه داسې چې دوی یوازې هغه څه لاسته راوړي چې د لاسته راوړلو د وړتیا توقع یې لري.

دوه ډلې زده کوونکي د توقعاتو په اړه منفي فکر کوي: اقلیت زده کوونکي او تنبل زده کوونکي. دا زده کوونکي د خپل ځان د اهمیت او پېژندنې په اړه دقیق نه وي. د وخت په تېرېدو سره یې په ځان باور کمېږي او په نتیجه کې، د یوه ستونزمن فعالیت د ترسره کولو جرأت له لاسه ورکوي. ددې ډول زده کوونکو لپاره زیاتې هڅې ترسره شویدي ترڅو یې د ستونزمنو فعالیتونو اجرأ ته واداره کړي. مګر، دا چې په دوی کې د کم جراتي اوناهیلي خاصیتونه له ډیره وخته موجود او قوي شوي وي، نو بدلون یې ډېر ستونزمن کار دی. کله چې دا ډول زده کوونکي د ځوانۍ مرحلې ته رسېږي نو بیا له تعلیمي او تحصیلی مؤسسې څخه د مخ ګرځولو خاصیت پیدا کوي.

ښوونکي باید زده کوونکو ته دا فرصت برابر کړي چې د خپلو زده کړیزو کړنو په اړه وړاندوینه یا توقع ولري. موخه او د کامیابي معیارونه یې واضح کړي. لوړ مګر مناسب توقعات ولري. زده کوونکو ته پدې ډول فیډبیک ورکړي چې وکولای شي د ستونزمنو فعالیتونو د ترسره کولو جرأت پیدا کړي. د زده کوونکو پدې ډول روزل چې لوړ، مشکل او وړ توقعات ولري، ددوی په لاسته راوړنه او زده کړه مثبت تأثیر لري[۹].

**۵- مفهومي پوهېدنه**

مفهومي پوهېدنه د یوې زده کړه ییزې موضوع اړوند د پوهې هغه کچه ده چې زده کوونکی یې حاصلوي. د پوهېدنې دا کچه کېدای شي درې درجې (سطحي، ژوره او یا هم مفهومي) و اوسي. ددې درجو ښه پېژندنه او د موخې او د کامیابي له معیارونو سره هغوی تړاو د SOLO (Structure of Observed Learning Outcomes) پواسطه ډېر ښه تشریح کېدای شي. SOLO یو داسې جوړښت دی چې د پوهې لپاره څلور برخې لري: یوه نظریه، ډېري نظریې، تړل شوي نظریې او غزول شوي نظریې. لومړۍ دوه برخې یې د سطحي زده کړې لپاره دي او وروستۍ دوه یې د ژورو عملیو(ژورې زده کړې) لپاره کارول کېږي. په پای کې، سطحي او ژوره دواړه ډوله زده کړې د زده کوونکي مفهومي پوهې ته پراختیا ورکوي[۹].

لومړی جدول: د SOLO پر بنسټ د سطحي او ژورې زده کړې مفهومي شکل[۹].

| سطحي زده کړه | مثالونه |
|---|---|
| • یوه نظریه<br>• ډېرې نظریې | • د دارالامان ماڼۍ چا جوړه کړه<br>• لږ تر لږه دوه داسې اصول چې امان الله خان د دارالامان ماڼۍ په جوړولو کې په نظر کې نیولي دي واضح کړئ |
| **ژوره زده کړه** | **مثالونه** |
| • تړل شوې نظریې<br>• غزول شوې نظریې | • د دارالامان ماڼۍ جوړېدنې ته د اوسني وخت له یوې پېښې سره تړاو ورکړئ.<br>• ستاسو په اند د دارالامان ماڼۍ د جوړېدنې څخه د امان الله خان مقصد څه شی وه. |

کولای شو د SOLO پواسطه د ازموینې پوښتنې هم و ارزوو او معلومې کړو چې کومې پوښتنې د SOLO په کومې برخې پورې تړاو لري، لږ تر لږه ۳۰٪ پوښتنې باید په لومړۍ (سطحي) او ۳۰٪ باید په دوهمه (ژورې) پوهې پورې تړاو ولري. د موخې او د کامیابي د معیارونو یو مثال چې د SOLO ساختمان د طبقو پر بنسټ ترتیب شوی دی، په لاندې جدول کې تشریح شوی دی. پدې مثال کې موخه پدې ډول ده: دا پېژندل چې روښنایي او صوت د انرژي ډولونه دي چې د غوږونو او سترګو پواسطه تشخیصیږي[۹].

دویم جدول: د SOLO د طبقو پر بنسټ د موخې او د کامیابي معیارونو نمونه.

| | موخه (Learning intention) | د کامیابي معیار (Success criteria) |
|---|---|---|
| یوه یا ډېرې نظریې Uni/Multi-structural | دا پېژندل چې روښنایي او صوت د انرژي ډولونه دي او هر یو یې خپلې ځانګړتیاوې لري. | زه کولای شم د صوت یا روښنایي د یو یا څو ځانګړتیاوو نومونه واخلم. |
| تړل شوې نظریې Relational | دا پېژندل چې روښنایي او صوت کېداشي د انرژي بل ډول ته هم تبدیل شي. | زه دا تشریح کولای شم چې صوت یا روښنایي څنګه بل ډول انرژي ته تبدیلیږي. |
| غزول شوې نظریې Extended Abstract | پدې پوهېدل چې څنګه روښنایي او صوت زمونږ لپاره د ارتباط وسیله کرځي. | زه پدې بحث کولای شم چې څنګه د صوت یا روښنایي پواسطه مونږ له یوه او بل سره ارتباط پیدا کوو. |

[۹]

**۳- د زده کړې پرمختګ**

څو کاله مخکې د نوې زیلانډ هیواد زده کوونکي د لیک، لوست او ریاضي په برخو کې په نړیواله کچه وړاندې وو. دا وړاندیوالی ددې له امله نه وه چې زده کوونکو یې زیات فعالیتونه ترسره کول. بلکه، راز یې پدې کې ښودل شوی چې ښوونکو یې د زده کړې د پرمختګ لپاره معلومات سره شریکول[۸].

عموماً د زده کړې د پرمختګ په اړه پوهه پدې معنی ده چې ښوونکي په مختلفو تعلیمي او تحصلي مراکزو کې پدې وپوهېږي او سره متحد شي چې د نصاب د تطبیق په وخت کې کوم مشکلات او ستونزې رامنځته کېږي، ترڅو زده کوونکو ته د ستونزو په اړه مخکې له مخکې معلومات ورکړل شي او زده کوونکي پدې وپوهېږي چې د کومو ستونزو او سختیو په ترسره کولو سره د نصاب کومې کچې ته رسېدلي یو. ددې سربېره، که چېرې ښوونکي له یوه تعلیمي مرکز یا ټولګي څخه بل تعلیمي مرکز یا ټولګي ته تبدیلېږي، نو د متوقعه مشکلاتو او سختیو په اړه د معلوماتو په شریکولو سره به وکولای شي د زده کوونکو د زده کړې د پرمختګ په اړه پوهه ترلاسه کړي[۹].

مونږ کولای شو د زده کړې پرمختګ له نصاب څخه معلوم کړو. په حقیقت کې نصاب د محتوا یا مفاهیمو یوه سلسله ده چې باید تدریس شي. دا ممکن د ریاضیکي مفاهیمو د پېژندنې سلسله وي، ممکن د تاریخي معلوماتو د زده کړې سلسله وي او یا هم د کومې بلې برخې د معلوماتو سلسله و اوسي. پدې ځای کې د زده کړې پرمختګ پدې سلسلو کې د زده کوونکو د معلوماتو او مفاهیمو د زده کړې د پرمختګ پواسطه څرګندېږي. د زده کړې پرمختګ دې ته نه ویل کېږي چې زده کوونکي د زده کړې یوې خاصې درجې ته ورسول شي او یا په یو څه وپوهېږي[۱۶].

په اوسني وخت کې د هیوادونو په کچه د زده کوونکو د ارزونې لپاره بېلابېلي تګلارې په کار اچول کېږي او یوازې دا معلوموي چې د زده کوونکو د زده کړې کچه تر کومه حده رسېدلې ده یعنې دا نه معلوموي چې له کومه ځایه اوسني حد ته رسېدلي. پدې سره هغه تعلیمي او تحصیلي مراکز چې تکړه زده کوونکي جذبوي په عمومي ډول ښه ارزول کېږي، ځکه چې په دې ډول ارزونه کې دې ته نه کتل کېږي چې زده کوونکي له کوم ځای څخه مطلوب ځای ته رسېدلي دي. چې د ځینو په فکر دا یوه نیمګړې ارزونه ده ځکه چې پدې ډول ارزونه کې د زده کوونکو پرمختګ هیڅ نه معلومیږي[۱۶].

**۴- د تدریسي پلان په اړه د ښوونکو خپل منځي مشورې او کړنلارې**

د پلان جوړولو له مهمو عناصرو څخه یو هم د ښوونکو ترمنځ خپلمنځي زده کړې او خبرې اترې (مشورې) دي. دا مشورې کېدای شي د موخې ټاکلو، د کامیابي معیارونو، په زده کړه کې پرمختګ، د کوم شي زده کړه ارزښتناکه ده؟ په موضوع تسلط یعني څه؟ او داسي نورو په اړه و اوسي.

کله چې دا پوښتنه مطرح کېږي چې "په یوه موضوع تسلط څه معنی لري؟" نو ځواب یې په عمومي ډول د مختلفو شواهدو په وړاندې کولو سره د تدریس په کیفیت او د زده کوونکو له زده کړې سره اړیکه لري. دا ډول ځوابونه بیا یوه بل رسمي بحث د زده کړې پرمختګ لپاره لار هواروي. په یاد ولرئ چې د زده کړې د پرمختګ په اړه بحث او پوهه د مؤثر تدریس او مؤثرې زده کړې لپاره ډېر اهمیت لري.

د زده کړې د پرمختګ لپاره لارې چارې پیدا کول د یوې تعلیمي او تحصیلي مؤسسې د پرمختګ لپاره لومړنی ګام بلل کېږي. د زده کړې د پرمختګ د معلوملو لپاره مختلفي لارې چارې یا مېتودونه وجود لري چې ترټولو

مؤثر يې د ډيټا ټيم (ټولي) موډل (Data team model) ده. دا موډل له څو کسانو څخه تشکيل شوی وي ، چې ددې ټيم اشخاص په دوه يا درې اونيو کې يو ځل مجلس کوي او راټول کړي معلومات(ډيټا) سره شريکوي. نوموړی ټيم د معلوماتو د تحليل لپاره ځانګړي تکلاره او مېتود جوړوي، چې ددې مېتود پواسطه کولای شي: ۱- د زده کوونکو لاسته راوړنې (او فعاليتونه) تحليل او تجزيه کړي. ۲- د زده کړي د پرمختګ لپاره موخې وټاکي، ۳- د ښوونکو لپاره د لارښوونو په اړه مباحثې وکړي او، ۴- داسي پلانونه جوړ کړي چې د زده کوونکو زده کړه او د ښوونکو زده کړه پکښې ځارل کېږي. دا ډول ټيم کېدای شي د ټولګي ، ډيپارټمنټ، يوه مکتب، اداري، او يا هم د نظام په سطحه خپل کار ته ادامه ورکړي. ريبوس وايي چې ددې ټيم د شک او تردد په ډول کار کول د کم او يا هيڅ کار کولو څخه بدتر دی. يعني دا ټيم بايد خپل کارونه په جرأت او اخلاص سره د معلوماتو پر بنسټ سرته ورسوي[۱۴].

دا ټيم بايد په لاندي دريو شرايطو مبنی وي:

- د معلوماتو د لارښووني د ټيم ټول ښوونکي بايد يو عمومي معيار يا د تمرکز ساحه ولري.
- د معلوماتو د لارښووني د ټيم ټول ښوونکي بايد يوه داسي عمومي ارزونه تر څار لاندي ونيسي چې هغه دوامداره اصلاحاتو ته لار هواره کړي.
- د معلوماتو د لارښوونې د ټيم ټول ښوونکي بايد زده کړه د يوه عمومي لارښود يا د نمرو ورکولو په معيار اندازه کړي [۱۲].

پدې ځای کې د نوموړي ټيم د کار له جزياتو او مرحلو څخه تېرېږو او دې ته راځو چې څنګه ددې لپاره لارښوونه (Coaching) وکړو چې د يوه بل سره د خبرو پواسطه ددوی د تدريس مؤثريت معلوم شي.

**لارښوونه (Coaching)**

خبرې او نظريات يو څه دي او عمل يو بل څه دی. نظريات هغه وخت په عمل بدلولای شو چې: ۱- دبدلون يو ټينګ عزم ولرو، ۲- د يوه کامياب بدلون په کيفيت وپوهېږو او، ۳- ددې فرصت برابر شي چې د تدريس نوي مېتودونه و ازمايو. دا کړنې يوې ځانګړې لارښوونې (Coaching) ته اړتيا لري. لارښود (Coach) هغه څوک دی چې د نورو خلکو کړنو ته پدې موخه فيډبيک(اصلاحي نظر) ورکوي چې د هغوی د کړنو د پرمختګ لامل وګرځي[۱۵]. نو ويلای شو چې، لارښوونه (Coaching) د زده کوونکو د زده کړې پر عيني کړنو متمرکزه وي. يعني، لارښوونه د ښوونکو ترمنځ ددې لپاره ترسره کېږي چې د تدريسي پروسې په نتيجه کې زده کوونکي د يو څه په ترسره کولو قادر شي.

لارښوونه (Coaching) يوازې لويانو ته مشوره ورکول نده؛ لارښوونه يوازې په يوه کار نظر ورکول نده؛ لارښوونه يوازې ځان پوهونه نده؛ لارښوونه يوازې تبصره ورکول يا په انفرادي توګه کار کول نده. بلکه، لارښوونه يو داسي سنجول شوی عمل دی چې له ښوونکو سره د مرستې پواسطه يې نتيجه (ثمره) د زده

کوونکو له زده کړه یزو کړنو څخه څرګندېږي. لارښوونه له ښوونکو سره د مرستې په ډول په داسې شکل ترسره کېږي چې د هغوی د کارونو پایله ورته د شواهدو په ډول د زده کوونکو په کړنو کې څرګند شي. پدې پروسه کې درې اصطلاحات وجود لري: ۱- لارښود (Coach)، ۲- لارښوول شوی (Coached). او ۳- د لارښوونې (Coaching) لپاره واضح تاکل شوي موخې. لارښوونه د پوهېدلو، مهارت حاصلولو او تطبیقاتو په برخو کې د نورو مېتودونو په نسبت ښه نتیجه ورکوي[۱۰].

درېیم جدول: د زده کوونکو پر زده کړه یېزو پایلو د مختلفو تربیتي مېتودونو تأثیر.

| تربیتي مېتودونو | پوهېدل | مهارت حاصلول | تطبیقول |
|---|---|---|---|
| د نظریو زده کړه | ٪۸۵ | ٪۱۵ | ٪۱۰-۵ |
| ښوودنه (مشاهده) | ٪۸۵ | ٪۱۸ | ٪۱۰-۵ |
| تمرین او فیډبیک | ٪۸۵ | ٪۸۰ | ٪۱۵-۱۰ |
| لارښوونه (Coaching) | ٪۹۰ | ٪۹۰ | ٪۹۰-۸۰ |

لارښوونه (Coaching) به هغه وخت ګټوره وي چې: ۱- پدې سلا کېدل چې تمرکز به په اصلاح شویو کړنو وي، ۲- د زده کړې او فعالیتونو (کړنو) لپاره د واضح او منل شویو پلانونو موجودیت، ۳- مشخص، مناسب او د اړتیا په وخت کې فیډبیک او، ۴- کله چې له لارښوونې (Coaching) څخه د وتلو لپاره یوه پلان شوي پایله وجود ولري. لارښوونه (Coaching) د خلکو سره مرسته کوي ترڅو شخصي پرمختګ وکړي، د زده کړې لپاره پخپله لار تعین کړي، او په کړنو کې اصلاح او پرمختګ رامنځته کړي[۱۴].

**د تدریس د ښه والي پخاطر د ښوونکو د خپل منځي مشورو مېتود**

یو له هغو مېتودونو څخه چې ښوونکي یې د تدریس د مؤثریت او د تدریس پخاطر د خپل منځي مشورو لپاره کاروي مستقیمه لارښوونه (Direct Instruction) مېتود دی. د مستقیمې لارښوونې مېتود باید ددې لپاره ونه کارول شي چې د جوړ شویو پلانونو فعالیتونه پکې تر بحث لاندې ونیول شي. بلکه، ددې لپاره وکارول شي چې ښوونکي په ګډه کار وکړي او تدریسي پلانونه تیار کړي. نوموړی مېتود د پلان په مختلفو برخو کې د ښوونکو ورتیاوې په کار اچوي.

په نوموړي مېتود کې ښوونکي خو درسونه پلانوي او په هغوی نقد کوي، د زده کړې د پرمختګ په اړه پوهه سره شریکوي، د زده کړې موخه او د کامیابي معیارونه یې ترتیبوي او، د زده کوونکو او ښوونکو پر زده کړه یې مؤثریت ټاکي. د لومړي ځل لپاره ادمز او انجلمان د نوموړی مېتود اووه (۷) لویې مرحلې داسې لیکلې دي:

۱- مخکې لدې چې لوست تیار شي، ښوونکی ته باید څرګند وي چې <u>د زده کړې مقاصد(موخې) څه شی دي</u>. یعني، د تدریس په پایله کې زده کوونکي باید څه شی زده کړي یا څه شی لاسته راوړي او یا د څه شي په کولو قادر شي؟

۲- ښوونکي باید پدې پوه شي چې د زده کوونکو د کړنو لپاره د کامیابۍ کوم ډول معیارونه وضع شي او زده کوونکي باید په کوم وخت کې د درس او کړنو د اجرأ وړ وګڼل شي. اړینه دا ده چې، زده کوونکو ته د کړنو د اجرأ معیار معلوم کړای شي.

۳- د زده کړه ییز فعالیت لپاره باید تعهد او فعاله ونډه اخیستنه رامنځ ته شي. یعني، زده کوونکي په زده کړه ییزو موخو د خبرولو ترڅنګ پدې هم خبر شي چې کوم وخت کامیاب ګڼل کېږي.

۴- لارښوونه دې وشي چې ښوونکی باید ښګه درس وراندي کړي –د تدریس مېتود، د زده کړې ارزونه او داسې نور په نظر کې ونیول شي.

۵- زده کوونکي په فعالیت راوستل، هغه پدې ډول چې هر زده کوونکی باید وښيي چې له نوي درس څخه یې د فعالیتونو په اجرا کولو سره څه شی ترلاسه کړي دي. پدې سره ښوونکی زده کوونکي ته په خپل وخت اړین فیډبیک ورکولای شي.

۶- د تدریس خاتمه هغو کړنو او اصطلاحاتو ته راجع کېږي چې زده کوونکي پدې پوهوي چې د زده کړې مهمو نقطو ته چې باید زده شي ورسېدو او که د درس پای ته ورسېدو. د درسي موضوعاتو یو منطقي تسلسل رامنځ ته شي او د زده کوونکو شکونه له منځه یوړل شي. په اخر کې پر هغو نقاطو چې باید زده شي، ټینګار وشي.

۷ – په زده کړه کې د زده کوونکو خپلواکي: دې ته ویل کېږي چې زده کوونکي د لومړي ځل لپاره محتوا په داسې ډول زده کړي چې هغه په بل ځای کې هم وکارولای شي. مثلا، که چېري درسي موضوع له یوې لیکنې څخه د زمري په اړه د حقیقتونو پېژندل وي، نو زده کوونکي باید لدې سره بلد شي چې له یوې بلې لیکنې څخه وکولای شي د یوه بل وحشي حیوان لکه لېوه په اړه حقیقتونه راپیدا کړي. د مستقیمې لارښوونې مېتود پلویان پدې عقیده دي، چې پدې اوومه مرحله کې د زده کوونکو ناکامي ددې سبب کېږي چې زده کوونکي په راتلونکي کې د زده کړه ییزو مهارتونه په تطبیق کې پاتې راشي[۱].

د مستقیمې لارښوونې مېتود ښېګڼه پدې کې ده چې د زده کړې موخې او د کامیابي معیارونه ښکاره کوي او د هغو په نظر کې نیولو سره زده کوونکي په فعالیتونو کې دخیل او سهیم ګرځوي. ښوونکي باید زده کوونکي زده کړې ته وهڅوي، هغوی ته څرګند فعالیتونه ورکړي او نمونې ورته وړاندې کړي. ددې ترڅنګ، هغوی ته مناسب فیډبیک ورکړي او د زده کړې زیات فرصتونه ورته برابر کړي. زده کوونکو ته باید داسې فرصتونه برابر شي چې په خپلواکه توګه فعالیتونه او تمرینونه ترسره کړي. دوی ته باید داسې فرصتونه برابر شي چې وکولای شي خپل زده کړه ییز مهارتونه په ورځني ژوند کې وکاروي. یعني، نه یوازې په زده کړه ییز چاپېریال کې، بلکه له هغه څخه بهر هم خپل مهارتونه وکارولای شي.

د مستقیمې لارښوونې مېتود دوه لویې ګټې لري. لومړی، داچې ښوونکي یوځایې کار کوي او د یوه بل پلانونه په انتقادي ډول سره ګوري. لدې کار سره دا پوښتنه راپیدا کېږي چې ښګه کولای شو یوه تعلیمي یا تحصیلي

مؤسسه داسې جوړه کړو چې ښوونکي د تدريس په اړه سره خبرې اترې وکړي. نه د نصاب، زده کوونکو، ارزيابي يا اوسنی حالت. بلکه، پدې وغږېږي چې زده کوونکو ته څه ډول ننګوني (Challenge) رامنځته کړو، د زده کړې پرمختګ څنګه رامنځته کړو او، د هغو پايلو شواهد چې د لوست څخه يې توقع کېدله او لاسته راغلې دي، څه شی دي؟

دوهم دا چې ښوونکي په ګډه سره خپل درسي پلان او درسي ميتودونه ترتيب او ارزوي. فولان او ملګرو يې په (۲۰۰۶) کال کې دا ډول کار د CLIPs يا (Critical learning instructional Pathways) په نوم نوموړی يعني، د زده کړې لپاره د ښوونې مختلفي(نقادې) لارې چارې. د زده کوونکو د زده کړې شروع له يوه بل څخه مختلفې وي او دوی د زده کړې په پرمختګ کې په مختلفو حرکتونو روان وي. نو د زده کوونکو لپاره بايد بېلابېلې تګلارې جوړې شي چې که په يوه تګلاره يې په زده کړه کې پرمختګ رامنځته نشو بايد به بله تګلاره حرکت پيل کړي. پدې ځای کې يوې داسې تګلارې ته اړتيا پيښېږي چې په فيډبيک او اصلاحي ارزونې ولاړه وي او له ښوونکو، همدارنګه زده کوونکو سره مرسته وکړي چې د زده کړې د پرمختګ په اړه وضاحت رامنځته کړي. په عين حال کې زده کوونکو ته هغه لار انتخاب کړي چې زده کړه يې په ښه ډول پرمختګ ومومي. ددې لپاره چې CLIPs په ښه شان عملي شي ښوونکي بايد د زده کوونکو په ډېرو ځانګړتياوو لکه زده کړه، د زده کړې پرمختګ او داسې نورو په اړه ژور معلومات ولري[۶].

**پايله**

د لوست پلانونو يو له هغو چارو څخه ده چې د زده کوونکو په زده کړه کې مثبت بدلون راوستلای شي. پدې مقاله کې هغه فکتورونه او عناصر چې ددې ډول پلانونې کيفيت لوړوي تشريح شول چې هر يو:۱- د يو داسې باوري سيستم درلودل چې د زده کوونکو د پوهې اوسنی حالت يا سويه وربانديې معلومه شي. د زده کوونکو د پوهې اوسني حالت يا سويه کې نه بايد يوازې د هغوی د پوهې کچه معلومه شي، بلکه د هغوي د فکر طرز او کچه او شخصي ځانګړنې(لکه پرځان باور، د کاميابي او ناکامي پروړاندي عکس العمل) هم معلوم کړای شي. ۲- د هر لوست لپاره زده کړه ييزې موخې ټاکل. يعني دا معلومول چې د لوست څخه به زده کوونکي څه ترلاسه کړي. په عين حال کې د موخې په طرف د پرمختګ پر شواهدو تمرکز وشي.

دوه نور داسې څه چې د لوست پلانونې اغېز زياتولی شي دا دي چې زده کوونکو ته د لوست زده کړه ييزې موخې او د کاميابي معيارونه وروپېژندل شي. کله چې زده کوونکو ته دا دواړه وروپېژندل شي، دوی به يې د ترلاسه کولو لپاره هڅې وکړي او دا به ورته معلومه شي چې اوسمهال د کاميابي لپاره په کوم ځای کې قرار لري. ددې ترڅنګ به زده کوونکي دا هم زده کړي چې څنګه د خپلو زده کړو د پرمختګ څارنه وکړي.

د موخو او کاميابي معيارونو پورې تړلي ډېر نور عناصر هم شتون لري چې بايد په پام کې ونيول شي. مثلاً، هدف ټاکل،د زده کوونکي او ښوونکي لوړ توقعات، د زده کوونکو سره پدې کې مرسته کول چې د پوهې او

مهارتونو په برخو کې موخې وټاکي، او دا يقيني کول چې موخې او د کاميابي معيارونه په مناسب ډول د ټولو زده کوونکو لپاره سختي يا چېلنجونه دي. ددې ليکنې لوی پيغام دا دی چې نوموړي معيارونه په هغه اندازه د ښوونکو لپاره د تطبيق وړ دي په کومه اندازه يې چې په زده کوونکو عملي کوي. زده کړه يېزه موخه کېدای شي د سرسري او يا هم ژورې زده کړې لپاره وټاکل شي، او دا پدې پورې اړه لري چې زده کوونکي په کومه درجه کې دي: ضعيف، درميانه او که تکړه.

**مناقشه**

د ښوونې او روزنې ډېری پوهان پدې کې سره متفق دي چې په لوست پلانونلو کې بايد څلورو مهمو عناصرو ته پاملرنه وشي. دا څلور عناصر عبارت دي له: ۱- د زده کوونکي سويه، ۲- د لوست موخې، ۳- د زده کوونکي د پرمختګ کچه او ۴- په پلان جوړوکو کې د ښوونکو مشورې. مګر دا پوهان بيا د دې څلورو عناصرو له کيفيت څخه مختلف برداشتونه لري چې ځيني يې پدې ځای کې تر بحث لاندې نيسو. لومړی، د زده کوونکي د سويې په برخه کې اسوبيل [۳] ليکي چې لومړی بايد د زده کوونکي د پوهې کچه معلومه شي او بيا د پوهې د کچې سره سم هغه ته تدريس وکړل شي، د دې برخلاف هاتي [۹] بيا ليکي چې نه يوازې د زده کوونکي د پوهې د کچې معلومول اړين دي بلکه د زده کوونکي ذاتي ځانګړتياوې(ځاني-اغېزناکتوب، ځاني-موانع، ځاني-تحرک، ځاني-موخې، د مايوسي کچه او ټولنيزه-پرتله) هم په پام کې ونيول شي ترڅو ښه پلان ولرو. دوهم، د لوست د موخې په برخه کې هاتي [۹] ليکي چې موخه دې په دوو برخو ووېشل شي ۱- د لوست موخه او ۲- د بريا شرايط، مګر کلارک او د هغه ملګري [۵] بيا ليکي چې د لوست لپاره د يوازې موخې تهيه شي او دا موخې بايد په واضح شکل له زده کوونکو سره شريکې شي. دريم، د زده کوونکو د پرمختګ په برخه کې هاتي [۹] نظر لري چې د زده کوونکو زده کړه يېز پرمختګ دې د زده کړې په برخه کې په پام کې ونيول شي، مګر ستيډلی او شاولسن [۱۶] بيا وايي چې د زده کوونکو زده کړه يېز پرمختګ دې د نصاب سره د پرتلې په برخه کې په پام کې ونيول شي. څلورم، د پلان جوړونې په برخه کې د ښوونکو خپلمنځي مشورو په برخه کې جوسي او شوورز [۱۰] ليکي چې بايد د ښوونکو ترمنځ د لارښوونې(Coaching) له ميتود څخه کار واخيستل شي، مګر ادمز او انجلمان [۱] وايي چې د ښوونکو د خپلمنځي مشورو لپاره بايد له مستقمې ښوودنې(Direct Instruction) ميتود څخه کار واخيستل شي.

**وروستۍ پايله**

د وروستۍ پايلې په توګه داسې ويلای شو چې لوست پلانول د ښوونکو له مسلکي وړتياوو څخه شمېرل کېږي. په لوست پلانولو کې ښوونکي بايد تر ډېره د زده کوونکو د زده کړې په کيفيت تمرکز ولري. ددې لپاره چې زده کوونکي ښه زده کړه وکړي، ښوونکي دې د لوست پلانولو مهم عناصر په پام کې ونيسي. ښوونکي نه بايد په

پلان جوړولو کې یوازې تخنیکي عناصر لکه موضوع په تخته لیکل، تېر درس پوښتنه کول او داسې نور په نظر کې ونیسي، بلکه د هغو ترڅنګ باید هغه مهم عناصر چې د ښې زده کړې د رامنځته کېدو لامل کېږي هم په پام کې ونیسي. تر ټولو مهمه دا ده چې ښوونکي په مشوره سره داسې پلان جوړ کړي چې په هغه کې له زده کوونکو سره د زده کړې موخه په څرګند او ساده ډول شریک کړای شي او د موخو د ترلاسه کولو لپاره زده کوونکي په ننګوونکو فعالیتونو کې ښکېل کړي.

**وړاندیزونه**

- ښه به وي چې د هیواد په کچه د پوهنې وزارت په ټولو ښوونځیو کې د لوست پلانونو لپاره ځانګړي مسلکي ټیمونه رامنځته شي او د لوست پلانونه د ټولو ښوونکو سره په همغږي جوړ شي.
- د پوهنې وزارت دې د ولایاتو په سطحه د پوهنې ریاستونو اړوند پلان او پالیسي امریتونو کې د لوست پلانولو برخې ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د ولایت د ټولو ښوونځیو پلان جوړونه دې سره همغږي کړي.
- د لوړو زده کړو وزارت دې پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسې دې ته اړ کړي چې د یو ډول مضامینو د تدریس لپاره د کورس پلان په جوړولو کې سره همغږي ولري او داسې کورس پالسي ګانې او پلانونه جوړ کړي چې د لوست د پلان مهم عناصر او په ځانګړي توګه د محصلینو لپاره ننګونې (Challenges) او تګلارې پکې مخکې له مخکې ځای پرځای شوي وي.

**منابع**

1) Adams, G. L., & Engelmann, S. (1996). Research on Direct Instruction: 25 Years Beyond DISTAR. *Education Achievement Systems*. 7-23.

2) Au, R., Watkins, D.W., Hattie, J.A.C., & Alexander, P. (2009). Reformulating the depression model of learned hopelessness fir academic outcomes. *Educational Reach Review*, 4, 103-17.

3) Ausubel, D.P. (1968). *Educational psychology: A cognitive view*. New York: Holt, Rinehart, and Winston.

4) Burns, M.K. (2002). Comprehensive system of assessment to intervention using curriculum-based assessment. *Intervention in School and Clinic,* 38(1),8-13.

5) Clarke, S., Timeperley, H., & Hattie, J.A.C. (2003). *Unlocking formative assessment: Practical strategies for enhancing students' learning in the primary and intermediate classroom* (1st New Zealand ed.). Auckland: Hodder Moa Beckett.

6) Fullan, M., Hill, P., & Crevola, C. (2006). *Learning Places*. Thousand Oasks, CA: Corwin Press; Toronto: Ontario Principals' Council.

*7)* Gickling, E.E. (1984, October). *Operationalizing academic leaning time for low achieving and handicappen mainstreamed students. Paper presented*

*at the Annual Meeting of the Northern Rocky Mountain Educational Research Association,Jackson Hole,WY.*

*8) Hattie, J.A.C. (2007).The status of reading in New Zealand schools:The upper primary plateau problem (ppp3).Reading Forum,22(2),25-39.*

9) Hattie, J.A.C. (2012). Visible learning for teachers. New York: Routledge.

*10)* Joyce ,B., & Showers, B.(1995). Student achievement through staff development*: Fundamental of school renewal (2nd .Ed)*

11) Marsh, H.W., Seaton, M., Trautwein, U., Ludtke, O., Hau, K.T., O'Mara, A.J., & Craven, R.G. (2008). The big-fish-little-pond-effect stands up to critical scrutiny: Implication for theory, methodology, and future research. *Educational Psychology Review, 20*, 319-50.

*12)* McNulty, B.A., & Besser,L.(2011*).Leaders make it happen! An administrator's guide to data teams. Englewood, CO:The Leadership and Learning Center*

13) Neiderer, K. (2011). The *BFLPE: Self-concepts of gifted students in a part-time gifted program.* Unpublished doctorial dissertation, University of Auckland.

*14)* Reeves, D. (2010). *Transforming professional development into student results.Alexandria,VA:ACSD.*

*15)* Sherman, S.,& Frea,A.(2004).The Wild West of executive coaching *.Harvard Business Review,82(11),82-90.*

*16)* Steedle, J.T., & Shavelson, R.J.(2009). *Supporting valid interpretations of learning progression level diagnoses. journal of Research in Science Teaching, 46(6), 699-715.*

# رسنۍ او مسلکي اخلاق

لیکونکی: پوهنیار اسمعیل عاطف، شیخ زاید پوهنتون، ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د ژورنالېزم څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی محمد خان نیازی د ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځي، عامه اړیکو څانګې استاد

**لنډیز**

اخلاق د انسان الهي طبعي او معنوي ښکلا دی، چې په لرلو سره یې د انسان اخلاقي حیثیت او اعتبار لوړیږي او مسلکي اخلاق بیا هغه ځانګړتیاوې دي، چې په کاري ساحه کې ژورنالیستان او د رسنیو کار کوونکي له مشکلاتو خلاصوي، نو په همدې اساس هر مسلمان انسان او په ځانګړې توګه ژورنالیست باید ښه اخلاق او نیک کړه وړه ولري.

اخلاق هغه ټولنیز قراردادونه دي، چې د ټولنې هر وګړی یې په مراعت کولو ځان مکلف ګڼي، اخلاق د حقوقي قراردادونو برخلاف کوم اجرایوي ضمانت نه لري، خو ډېر داسې اخلاقي ارزښتونه شته چې حقوقي اړخ هم لري، دا چې د حقوقي قواعدو په جوړولو کې د ټولنې کلتوري او اخلاقي ارزښتونه هم په پام کې نیول کېږي، نو له دې اړخه موږ ویلی شو، چې ډېر وخت اخلاق د حقوقي قواعدو بنسټ هم شمېرل کېږي، چې اجرایوي ضمانت هم پیدا کوي.

نو ویلی شو چې اخلاق هغه ټاکل شوي معیارونه او مقررات دي، چې په یوه ټولنه کې یې په مراعت کولو سره انسان لوړ مقام ته رسېږي.

ژورنالیستیک اخلاق هغه اخلاق دي چې ژورنالیستان یې د خپل کار په ساحه کې په مراعتولو مکلف دي، عموماً په هېوادونو کې د ژورنالیستانو د اتحادیو او د اتحادیو څخه جوړو شویو شوراوو له خوا تصویب کېږي، همدارنګه د ژورنالیزم د اخلاقو په اړه بېلابېلې غونډې شوې او مسلکي اخلاق یې د رسینو لپاره وضع کړي دي.

زموږ په هېواد کې تر دې دمه داسې ټول منلي اخلاق د ژورنالیزم لپاره نه دي رامنځ ته شوي، چې ټولو ژورنالیستانو پرې په یوه خوله هوکړه کړې وي.

**کلیدي ټکي** : اخلاقي ارزښتونه، په رسنیو کې د اخلاقي ارزښتونو رعایتول او د مسلکي **اخلاقو ټګلاره.**

**سریزه**

ژورنالیزم د عامه اطلاعاتو او معلوماتو د پر وخت تامینولو مسلك دی او لکه څرنګه چې له عامه ژوند سره نږدې اړیکې لري، نو له همدې کبله یې د ټولنې د اعصابو حیثیت غوره کړی دی، نو خامخا د یو شمېر اصولو،

ظوابطو او اخلاقو په چوکاټ کې راګېر چاپېریال لري، تر ډېره ژورنالیستیکي اخلاق د یو شمېر نالیکل شویو قراردادونو مجموعه ده، چې په ټوله نړۍ کې نافذ دي او سره ورته ارزښتونه لري.

که د ژورنالیزم ارزښت او نني مقام ته فکر وکړو، نو باید ووایو چې ژورنالیزم او رسنیو د خپل اهمیت له مخې د نړۍ د ډیموکراتیکو نظامونو د څلورمې قوې حیثیت غوره کړی، رسنۍ دي چې د حکومتونو او ملتونو تر منځ منځګړیتوب کوي، ژورنالیستان دي چې ملتونه یې خپل استازي ګڼي، خلک یې د زور زیاتي په وړاندې لوی او قوي مبارزین ګڼي، هر چا ته په رسنیو کې خپل تصویر ښکاري، نو دوی هم باید پورته ټول کارونه د یو لړ قوانینو، اصولو او اخلاقي کوډونو په رڼا کې ترسره کړي چې دا اخلاقنامه باید د رسنیو د مسوولینو او کار کوونکو په خوښه جوړه او د هیواد بېلا بېل ارزښتونه ورته په پام کې ونیول شي.

د نړۍ ټول ژورنالیستان په خپلو هېوادونو کې د ورځني کار پر مهال ځانګړي ارونه په پام کې نیسي، دغه ارونه په ټولیزه توګه سره یو دي، خو د هر هېواد د قوانینو له مخې ځانګړیو برخو ته پکې پاملرنه کېږي.

په ژورنالیزم کې ګڼ شمېر اخلاقي او حقوقي اصول مطرح دي، چې اوس مهال د نړۍ په ګڼ شمېر هېوادونو کې پاملرنه کېږي او هغه تر مطالعې لاندې نیول کېږي او په بعضو نورو هېوادونو کې اجراء شوی ضمانت نه لري او یوازې اخلاقي جنبه لري او بس.

له دې جملې څخه ډېری مقولې لکه خصوصې حریم ته احترام، په بې پرې توګه د رپوټ تیارول، دین او مذهب ته درناوی، د بدې نه اخیستل، د خبري سرچینو د اسرارو نه افشاء کېدل او له ادبي غلا څخه ډډه کول... د اخلاقي ارزښتونو په ډله کې راځي(۵۵: ۱۷).

یو شمېر نور اساسي حقونه لکه معلوماتو ته لاسرسی، د بیان ازادي، د ځواب ویلو حق یوازې په اخلاقي چوکاټ کې باقي نه پاتې کېږي، بلکې د یو هېواد د موضوعه قوانینو د مهمو برخو څخه شمېرل کېږي.

**موخې**

د دې مقالې له لیکلو څخه مې اصلي موخه په رسینو کې د اخلاقي تګلارو مراعتول، د رسنیزو اخلاقو په ارزښت پوهېدل او د رسنیزو اخلاقو په ملي او نړۍ والو ځانګړنو کار کړی دی. که ژورنالېستان او د رسنیو کار کوونکي ورته جدي پاملرنه وکړي، نو په ټولنه کې به رسنیو خپل ملي رسالت او مسلکي ارزښت ساتلی وي. د کار په ساحه کې به له ستونزو څخه محفوظ وي، د اخلاقي نورمونو په مراعتولو سره به د ژورنالېزم حقوق لا پیاوړي او ارزښتمن شي.

**میتود**

څرنګه چې په رسنیو کې د مسلکي اخلاقو موضوع یوه علمي، ژوره او مسلکي موضوع ده، نو له همدې کبله مې له کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستې ده، د مختلفو عالمانو له مقالو او علمي اثارو مې ګټه اخیستې، د

هغوی نظریات مې لوستي، د ضرورت په وخت کې مې په مناسب ځای کې لیکلي دي او همدارنګه مې د ژورنالېزم د نړۍ والو اخلاقي ارزښتونو څخه استفاده کړې ده.

**د موضوع ارزښت**

که د حقوقي قواعدو مخینې ته پاملرنه وشي نو د اخلاقي او حقوقي قواعدو رابطه درک کېدلی شي. ځینې حقوقي قواعد لکه په وعده وفا کول، نوروته زیان نه رسول، قرارداد ته ځان ژمن ګڼل او د امانت ورکړه په پیل کې اخلاقي قاعدې وې چې اوس مهال یې حقوقي جامې په تن کړې او اجرایوي تضمین یې موندلی دی.
نو په دې اساس د حقوقي قواعدو بنسټیزه سرچینه اخلاقي قاعدې جوړوي او قانون جوړوونکی نشي کولی، چې د قانون جوړونې پر مهال په ټولنه حاکم اخلاقي ارزښتونه له پام وغورځوي، بلکې د داسې کړنو په کولو دې امر وکړي، چې د خلکو پروړاندې نیک وي.
اخلاق او قانون دوه هغه ارزښتناک ځواکونه دي، چې دواړه یو بل بشپړوي او یو تربله معنا پیدا کوي او په دواړو یوځایي عمل بشري ټولنه د نېکمرغۍ خواته رهنمایي کوي.

**د اخلاقو پېژندنه**

هر مسلک په یولړاخلاقو پورې تړلی دی که چېرې په هغې باندې عمل وشي، نو په ټولنه کې د انسان بریالیتوب سبب ګرځي.
تعریف:
اخلاق د خلق جمع ده او د طبعیت، خوی او عادت په ماناو کارول کیږي.
په اصطلاح کې اخلاق د یولړ قواعدو ټولګه ده، چې مراعتول یې نیکي او کمال ته د رسېدلو لپاه اړین بریښي (۱۴:۹).
اخلاق د نیکي او بدي د اندازه کولو تله ده او د دولت له مداخلې پرته یې انسان په خپل وجدان کې محترم او اجباري ګڼي(۸:۳).
اخلاق عبارت دي دیو لړ هغو معیارونواو قواعدوله مجموعې څخه دهغې د رعایتولو په رڼا کې انسان د کمال درجې ته رسیږي(۱۸:۱۲).
همدارنګه امام غزالي رح داخلاقو په اړه لاندې تعریف وړاندې کړی دی.
((اخلاق جمع د خلق ده چې په لغت کې خوی عادت او سجیې ته ویل کیږي او په اصطلاح کې اخلاق عبارت دي دانسان د هغه قوي عادتونو له مجموعې څخه چې دهغې په وسیلې سره په غیرعمدي توګه نور عملونه صادریږي)) (۲:۵).

که چېرې د هر مسلک پوهان خپل مسلکي اخلاق مراعت کړي، نو د مسلکي ارزښت تر څنګ به یې خپل حیثیت او باور لا ځواکمن کړی وي، همدارنګه به یې په خپل مسلک کې ځان باعزته او سر لوړی ساتلی وي.

**د رسنیزو اخلاقو مخینه**

د ۱۵ مې او ۱۶ پیړۍ له پیل راهیسې د رسنیزو چارو د ترسره کولو لپاره د یو چوکاټ په جوړولو هڅې پیل شوې دي او د خبریالانو د حقوقو، مسوولیتونو، مطبوعاتي مقرراتو او د بیان ازادۍ په اړه د یوې اړینې تګلارې جوړونه تل د اړیکو او عامه افکارو د پوهانو د خبرو مهه برخه جوړه کړې.

خو یادې خبرې د ۱۹۲۱ لسیزې راهیسې په لیکلې بڼه تدوین شوې دي. د رسنیزو اخلاقو د تدوین په برخه کې لاندې هڅې شوې دي:

لومړنی کنفرانس چې په ۱۹۲۶ کال کې یې  د اړیکو او د ژورنالیزم د اخلاقیاتو موضوع مطرح کړه د امریکا لویې وچې لومړنی مطبوعاتي کنفرانس و.

په ۱۹۳۰ کال څو حرفه یي سازمانونو د رسنیزو اخلاقي طرحو د جوړولو په بهیر کې د خبریالانو د شرف نړیوالې محکمې د جوړښت نوښت ترسره کړ چې په لاهه کې یې موقعیت لاره او ریاست یې د نړیوال عدالت دیوان پخوانی رییس په غاړه و (۳:۱۵).

د هاچین کمیسیون چې د امریکا د حقوق پوهانو، فیلسوفانو، د پوهنتون استادانو او روڼاندو څخه تشکیل شوی و، په کال ۱۹۴۷ کې په هغو بندیزونو باندې چې تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته په مطبوعاتو باندې لګېدلې و اعتراض وکړ، مګر د دې کمیسیون غوښتنه دانه وه چې مطبوعات دې بې قیدوشرطه ازادي ولري او په دې برخه کې باید داسې مقررات تدوین شي تر څو مطبوعات لوړو او عالي کتو ته کار وکړي.

د اسیا لومړنی اسلامي کنفرانس چې په ۱۹۷۸ کال کې د پاکستان په کراچۍ ښار کې جوړشوی و، د رسنیو کارمندانو د غرب لخوا د ډله ییزو رسنیو د انحصار موضوع مطرح کړه او په دې برخه کې د یوې ځانګړې نظامنامې او قواعدو غوښتونکي شول.

د اندونیزیا د جاکارتا ښارد ۱۹۸۱ کال د سپتمبر میاشتې په کنفرانس کې چې د ۱۱ هیوادونو ۲۵۰ تنو خبریالانو په کې ګډون درلود د کنفرانس ګډونوالو په اسلامي هیوادنو کې د خبریالانو د کړنو او چلند په اړه یو قرارداد لاسلیک کړ، چې په دې ټولو کنفرانسونو کې په رسنیو کې په واقعیت، حقیقت ، د مسلکي اخلاقو په ارزښت او د بیان آزادي هغه اصلي مفاهیم بللي شوي دي، چې د ټولې نړۍ ژورنالیستان یې په کلکه پام ساتلو ته اړ کړي دي.

په رسنیو کې باید ټول اطلاعات او معلومات پر واقعیتونو ولاړ وي، همدارنګه ټول واقعیتونه باید حقیقت ولري او ټول ژورنالیستکي فعالیتونه باید د یوې مسلکي او اخلاقي آزادۍ پر بنیاد ترسره شي(۵:۷۴).

په نړۍ کې دولتي او مؤسسه يي ژورناليزم ځکه ډېر اعتبار نلري چې د يوې سياسي کړۍ لپاره وقف کيږي. له مؤسسه يي ژورناليزم څخه هدف د يوه سياسي حزب يا تنظيم لپاره د تبليغاتي دستګاه جوړول دي، البته د دولتي او مؤسسه يي ژورناليزم فعاليت ممنوع نه دی، بلکې معمول هم دی، خو د آزادو ژورناليستيکي مرکزونو په تناسب لږ اعتبار لري.

تر ټولو معتبراو اعتمادي خبريال هغه دی چې تر ټولو ډېره مسلکي آزادي ولري، کله، کله يو شمېر خبريالان د مادي او مالي ګټو لپاره ځان پر ځواکمنو کړيو پلوري، زمونږ په هيواد کې داسې خبريالان هم ليدل شوي چې يوې راډيو يا آژانس ته کار کوي، خو پټ د کوم قوماندان، رسمي چارواکي، يا والي په رکاب او دربار کې هم نامعلومې دندې لري، چې د آزادۍ د نه لرلو له امله په ولس کې خپل اعتبار له لاسه ورکوي. له زورواکو سره غير مشروع ملګرتيا او دغې ملګرتيا ته وفاداري د اطلاعاتو د بې پرې توب اصل ماتوي(۴:۲۳).

زمونږ ټولنه نوې د اطلاعاتو د جنګ ډګر ته ورننوتلې ده، ځکه خو تر هرڅه مخکې د ژورناليست آزادي، مسلکي سپيڅلتيا او اخلاق په خطر کې دي. ما اورېدلي دي چې پخوا به يو شمېر ولايتونو کې خبريالانو له زورواکو او چارواکو سره پټ قراردادونه درلودل او اطلاعات يې هغه ډول خپرول چې هغو چارواکو غوښتل، د دې په بدل کې دغو خبريالانو زور و زر ترلاسه کول او آن چې د زورواکو په مرسته يې خپل مخالفين ډبول، کيدای شي داسې څه لا اوس هم وي. له زورواکو سره قراردادونه د ژورناليزم اخلاقي قراردادونه ماتوي او مسلکي شرم رامنځ ته کوي، البته دا په دې مانا نه ده چې ژورناليست دې خامخا د دولت يا کوم چا پر ضد وي نه دا کاملاً غلطه خبره ده، ژورناليست يوازې او يوازې د حقيقتونو عکاس دی او بس(۱:۱۲).

رسنۍ بايد هغه څه خپاره کړي، چې واقعيت او حقيقت ولري، د ټولنې غوښتنې او نظريات په کې منعکس شي، د خلکو مشکل حلولو ته رسيدګي وشي او همدارنګه د دولت او ملت تر منځ د يو مستحکم پل حيثيت غوره کړي.

### په رسنيو کې د اخلاقي ارزښتونو رعايتول

موږ مخکې وويل چې په ژورنالېزم کې د پېښو او خبرونو د نشرولو لپاره وخت ډېر مهم دی، چې همدا په وخت خبرول د خبر خبري ارزښت دی، ولې له دې سره نور هم د ژورنالېزم ځيني مسلکي اصول او قواعد بايد مراعت شي، چې له دې سره به په هيواد کې د ياغي رسنيو د مهارولو او په بېلا بېلو سياسي، کلتوري او ټوليزه برخه کې د سمې او سالمې استفادې په خاطر بايد د رسنيو اخلاق او قوانين په پوره وضاحت او تفصيل سره تدوين شي او ژورناليستانو ته خپل کاري او مسلکي قلمرو روښانه کړي.

ژورناليستيک اخلاق هغه اخلاق دي چې ژورناليستان يې د خپل کار په ساحه کې په مراعتولو مکلف دي، عموماً په هېوادونو کې د ژورناليستانو د شوراوو له خوا تصويب کيږي، همدارنګه د ژورناليزم د اخلاقو په

اړه ببلا بېلې غونډې او کنفرانسونه جوړ شوي او د رسنیو لپاره یې مسلکي اخلاقي کوډونه وضع کړي دي، چې هر ژورنالېست یې په مراعتولو مکلف دي او له یو شمېر اخلاقي کوډونو یې دلته یادونه کوو.

- که ژورنالیست غواړي آزاد وپېژندل شي، مسلکي تعهد یې حکم ورته کوي چې د واکمنو او زورمندانو له دم او منتر څخه ځان وساتي. د څو ورځو غیرمشروع ګټه د ټول عمر اعتبار له منځه وړي او آن تر دې چې د ټول مسلك رنګه وربدوي.
- په هیواد کې لاتر اوسه د ژورنالیستانو داسې خپلواکه ټولنه نه ده رامنځته شوې چې د مطبوعاتو د حریم ساتنه وکړای شي، د یوه ژورنالیست مسلکي بداخلاقي د مطبوعاتو پر ټول حریم تېری دی، ټول ژورنالیستان باید د خپلو ملګرو د ښوئیدلو مخه ونیسي.
- د ژورنالیزم اخلاق هغه بحث دی، چې د پرمختللو ټولنو په پوهنځیو کې بحث پرې کیږي او تر ډېره بریده فرهنګي مرکزونه د ژورنالیستانو اتحادیې او آژانسونه هڅه کوي د دغو اخلاقو د تأمین لپاره موازین، مقررات او حتی قوانین وضع کړي(۶۵:۹).
- په ګڼو هیوادونو کې د پټې کمرې، پټ مایك کارول او د پټو خبرو رسوا کول جرم ګڼل کیږي، د ژېړ ژورنالیزم اصطلاح هم کله، کله هغه مهال کارول کیږي چې کوم ژورنالیست متداول اخلاق تر پښو لاندې کړي.
- ژورنالیستیکي اخلاق هیڅکله د بیان د آزادۍ او د اطلاعاتو د بشپړ خپراوي مخه نه نیسي بلکې د ژورنالیزم اخلاق د اطلاعاتي خوندیتوب یا مصؤنیت لپاره یو ښه تضمین دی. ټولنپوهان وایې: اخلاق په محکمو کې نه بلکې په وجدانونو کې تلل کیږي، له همدې امله تل پر اخلاقو د بحث پر مهال د ضمیر یا وجدان نوم هم ډېر یادیږي، له دې ځایه ده چې د ژورنالیست د مسلکي اخلاقو په هکله د بحث پر وخت ښایې د قضاوت د همدې معنوي دستګاه یعنې وجدان اهمیت هېر نه شي، تر ټولو بریالی او مهذب ژورنالیست هغه دی چې د خپل کار پر مهال د حقایقو د څرګندولو لپاره بشپړ مسلکي آزادي او وجداني آرامی ته پام وساتي.
- ژورنالیزم یوازې د معاش او مالي ګټې مسلك نه دی، بلکې د یو ستر ټولنیز ارزښت په وړاندې تعهد او مسوولیت ګڼل کیږي(۱۳:۸۵).

د اخلاقي ارزښتونو د رعایتولو په اړه په نړۍ واله سطحه هم غونډې او کنفرانسونه جوړ شوي دي او د ژورنالیستانو لپاره یې ځانګړي اخلاقي کوډونه وضع کړي دي، چې د کار په ساحه کې یې په مراعتولو مکلف دي، چې دلته یې په لنډه توګه یادونه کوو.

**د مونشن اعلامیه**

دا اعلامیه د۱۹۷۱ کال د نومبر پر ۲۴ او ۲۵ نېټه د مونشن په ښار کې تصویب شوه، د ژورنالیستانو نړیوال فدراسیون او داروپا د خبریالانو ټولنې ومنله، دا اعلامیه په دوه برخو کې ده، یوه یې وظیفوي او بله یې حقوقي برخه.

**الف: وظیفوي برخه:**

✓ مالوماتو ته د خلکو د لاس رسي په توګه باید حقیقت ته درناوی وشي.

✓ د مالوماتو، تفسیر او نیوکې د حق ملاتړ باید وشي.

✓ د رپوټ ورکولو پرمهال بایدهغه حقیقتونه چې ژورنالیست پرې خبر وي یا پوهیږي پټ نه کړل شي او نه هم د موضوع متن ته بدلون ورکړل شي.

✓ د مالوماتو، انځورونو او خبرونو د ترلاسه کولو لپاره باید ناسمې لارې چارې ونه کارول شي.

✓ ژورنالیست باید د نورو خصوصي حریم ته په درناوي اړ بولي. ژورنالیست باید راز ساتونکی وي، که یو چا ورته مالومات د نامه دنه خپرولو په شرط ورکړي وي، باید پر خپله ژمنه ودرېږي(۱۲:۴۹).

**د ژورنالیزم اړوند مهم جرمونه په لاندې ډول دي**

✓ ادبي غلا، سپکوونکی خبر، افترا، بې بنسټه تورونه او د خبر د خپرولو او یا نه خپرولو په بدل کې د بډو اخیستلو ته زړه ښه کول.

✓ د ژورنالېزم مسلک باید د تبلیغاتي او سیاسي موخو سره ګډ نه شي، په دې مانا چې یو ژورنالېست باید په مخامخ او یا نا مخامخ ډو ل د اقتصادي کمپنیو او سیاسي ګوندونو تر اغېز لاندې دومره رانه شي چې خپل ژورنالېستي هویت یې زیانمن شي.

✓ د هر ډول فشار پر وړاندې باید ژورنالېست ودرېږي او د رسنۍ چلوونکي حکومونه یواځې تر رسمي پولو ومني.

✓ د دې اصولو په پام کې نیولو سره ژورنالیست د یوه ریښتني او مسلکي کس په توګه پېژندل کیږي، د هر هېواد په قوانینو کې د ژورنالېزم لپاره لارې چارې په ګوته شوې دي، چې د حکمتونو د لاس وهنې مخه یې تر ډېره نیولې ده(۱۰:۱۹).

**ب: حقوقي برخه:**

✓ ژورنالېست ټولو مالوماتي سرچېنو ته د ازاد لاس رسي او د ټولنیز ژوند د بېلا بېلو اړخونو په اړه د تحقیق حق لري، د مالوماتو د پټ ساتلو د عمومي یا ځانګړي حکم پر مهال یوازې د قانع کوونکو دلایلو له مخې کېدای شي ژورنالېست له حقه لاس په سر شي.

✓ ژورنالېست کولای شي، چې د هغه څه له منلو نه انکار وکړي، چې د هغې رسنۍ له موخو سره چې دی ورسره کار کوي مخالفت ولري، د بېلګې په ډول: یوه رسنۍ له ژورنالېست نه هغه څه غواړي چې په تړون کې یې ورسره نه وي لاسلیک کړي، په دې صورت کې انکار یا نه منل د ژورنالېست حق دی.

✓ ژورنالېست باید له مسلک پرته یا د خپل وجدان خلاف کړنو ته اړ نه شي.

✓ په رسنۍ کې د هر ډول ادلون بدلون په اړه باید د رسنۍ له غړو سره سلا مشوره وي.

✓ اداره اړه ده پر هغه تړون ودرېږي چې د ژورنالېست سره یې د لاسلیک پر مهال کړی دی، ژورنالېست د خپلو ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د بشپړ معاش حق لري(۱۱:۷۸).

له دې غونډې وروسته نورې هم ډېرې زیاتې غونډې د ژورنالېزم د اخلاقو د ترتیب او تنظیم لپاره په نړیواله کچه ترسره شوې، چې بالاخره په (۱۹۷۸)م کال کې د ملګرو ملتونو د هغو غړو هېوادونو د ژورنالېستانو استازي، چې ولسواک حکومتونه یې لرل سره یوځای شول او د ژورنالېزم لپاره یې لس نړیوال اخلاقي اصول وړاندې کړل، یونسکو هم تائید کړل، چې په تصویب کې یې لاندې نړیوالو ټولنو چې غړي یې نږدې له ټولې نړۍ څخه راغلي وو ډېر زیار ایستلی دی.

1- د خبریالانو نړیواله ټولنه ( IOJ )

2- د مطبوعاتو نړیوال فدراسیون (IFJ)

3- د کاتولیکو مطبوعاتو نړیواله اتحادیه (UCIP)

4- د لاتین امریکا د خبریالانو فدراسیون ( FELAP )

5- د لاتین امریکا د مطبوعاتو د کارکوونکو فدراسیون (FELATRAP )

6- د عرب خبریالانو فدراسیون( FAJ )

7- د امریکا د خبریالانو فدراسیون( UAT )

8- د اسیا د خبریالانو کنفډریشن (CAJ)

لاندې اصول چې پورته ټولنو تصویب کړي، د ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو له خوا تطبیق کېږي او د ژورنالیزم د نړۍ والو اخلاقي اصولو په نوم یادېږي (۱۵:۴۸).

1- سمو او کره اطلاعاتو ته د خلکو د لاس رسي حق.

2- خبریالان باید ځان حقیقت ته وقف کړي.

3- د خبریالانو ټولنیز مسؤلیت یانې خبریال ټولنې ته مسؤل دی.

4- د ژورنالیستانو مسلکي حیثیت؛ یعنې ژورنالیستان باید د خپل مسلک د حیثیت ساتلو لپاره تر وروستي حده هڅه وکړي.

5- د خلکو ګډون، ژورنالیستان باید ټولې رسنیزې چارې داسې پرمخ یوسي چې خلک پکې خپل ځان ووینې.

6- خصوصي حریم ته درناوی، هر ژورنالیست خصوصي حریم ته په درناوي مکلف دی.

7- ملي او عمومي ګټو ته درناوی.

8- کلتوري او فرهنګي ارزښتونو ته درناوی.

9- د جنګ له منځه وړلو لپاره مبارزه.

10- د نړۍ د نوي ارتباطي او اطلاعاتي نظم برابرول.(۲۷:۱۶)

په عمومي توګه باید ووایو چې د ژورنالیزم اخلاق ځینې لاندې ارزښتونو ته په پوره درناوي باید تسوید او تصویب شي، چې د یوه هېواد لپاره یې د اخلاقي معیارونو د ترتیبولو عمومي لارښود هم بللی شو، په تېره د اسلامي هیوادونو لپاره.

۱ – د ټولنې عقيدوي ارزښتونو ته پوره درناوی: هره ټولنه او اوسېدونکي يې د بېلا بېلو اديانو او مذهبونو لرونکي وي، په ټولنه کې د لېکيو او ډېرو دواړو خواوو عقيدوي او کلتوري ارزښتونه بايد په پام کې ونيول شي، ځکه د هرې ټولنې خلک خپلو ديني او مذهبي ارزښتونو ته ډېر درناوی لري، که عقيدوي ارزښتونه په دوه برخو وويشو، نو بايد ووايو چې لاندې عقيدوي ارزښتونه بايد د ژورناليستيکو اخلاقو د تسويد او تصويب لپاره په نظر کې ونيول شي.

زموږ هېواد چې ټولو اسلامي او قراني احکامو ته ژمن دی، بايد ژورناليستان او د هر ډول قوانينو جوړونکي يې له هر څه وړاندې قران کريم ته مراجعه وکړي، له قرانکريم  وروسته پيغمبري احاديث بله سرچينه ده، چې د قوانينو په جوړولو کې يې له احکامو بايد ګټه پورته شي، په همدې ترتيب نورې ديني سرچينې بايد پسې ولټول شي.

الف: په ټولنه کې ټولو ديني او مذهبي مقدساتو ته درناوی: د هر دين او مذهب پيروان د خپلو ديني مقدساتو ډېر درناوی کوي، له بل هر څه ورته زيات ګران وي په تېره بيا په اسلامي ټولنه کې، که په يوه اسلامي ټولنه کې جومات ته څوک خدای ج مه کړه په پوره احترام قايل نه وي، نو خلک ورته په ډېره بده سترګه ګوري، هيڅ څوک پرې هېڅ باور نه کوي، نو ژورناليستيکې کړنې به يې څه باوري وي، نو د کومې ټولنې او هېواد لپاره چې اخلاقي ظابطه جوړوو بايد د هغې ټولنې ديني او مذهبي مقدسات په پام کې ولرو (۴۲:۸).

ب : ټولو اديانو او مذهبونو ته درناوی: پورته مسايلو ته په کتو بايد ټولو دينونو، مذهبونو او د دينونو احکامو ته په پوره درناوي اخلاقي اصول وضع شي، ځکه په امريکا کې ښايي د لوڅو تصويرونو خپرول سمه خبره وي، خو په اسلامي ټولنه کې لوڅ تصويرونه خپرول او کتل هيڅ جواز نه لري.

۲ – د ټولنې کلتوري ارزښتونو ته پوره درناوی: هره ټولنه خپل کلتور او کلتوري ارزښتونه لکه رواجونه او دودونه لري، نو د ژورناليزم لپاره د اخلاقي اصولو د وضع کولو لپاره بايد د هغې ټولنې کلتوري ارزښتونه هم پوره په پام کې ونيول شي، ځکه که وګورو له کلتوري لحاظه غربي او افغاني ټولنه ډېر توپير کوي، نو ژورناليستي چلندونه يې هم په همدې ډول(۱۹:۸).

۳ – د ټولنې ملي ګټو ته پوره درناوی: هر هېواد خپلې تعريف شوې او ځانګړې ملي او عمومي ګټې لري، چې د ژورناليستانو لپاره د اخلاقي تګلارو د جوړولو په وخت کې بايد ورته فکر وشي، چې دا ملي ګټې ژورناليستانو او د هيواد ټولو وګړو ته بايد د دوی  له کورنيو ګټو څخه زيات ارزښت ولري. د بېلګې په ډول: د هيواد ملي امنيت ساتل، ملي شتمنۍ،ځمکنۍ بشپړتيا او نورې ګټې چې د هر هيواد لپاره ملي ګټې حکومت تعريفوي.

۴ – په هيواد کې موجوده قوانينو ته پوره درناوی: د هر هېواد وګړي او حکومت د خپلو ګټو او نظم د ساتلو لپاره قوانين وضع کوي، چې په قوانينو کې بايد د بيان ازادي تضمين شوې وي او رسنۍ بايد د قوانينو په رڼا کې خپل فعاليتونه پر مخ يوسي، چې لاندې قوانينو ته درناوی ډې اړين دی(۲۰:۱۶).

الف: په هېواد کې اساسي قانون ته درناوی: هر هېواد اساسي قانون لري، چې د فرعي قوانینو لپاره اساس بلل کېږي، ژورنالیستان د اخلاقي معیارونو د تصویبولو په وخت کې باید د هغه هیواد اساسي قانون په پام کې ولري.

ب: په هېواد کې د مطبوعاتو قانون ته درناوی: په هغو هېوادونو کې چې د خپلو اساسي قوانینو او نړیوالو میثاقونو پر بنسټ یې د رسنیو لپاره قوانین وضع کړي دي، د اخلاقي معیارونو په ترتیبولو کې باید دې قوانینو ته هم پوره پاملرنه وشي.

ج: په هېواد کې ټولو قوانینو ته درناوی: په هر هېواد کې د چارو د تنظیم لپاره بېلا بېل قوانین وي، چې ژورنالیستان باید په ټولو ښه وپوهېږي او د اخلاقي معیارونو د ترتیب په وخت کې ټول په پام کې ونیسي.

د: ټولو هغو نړیوالو قوانینو او میثاقونو ته درناوی چې هېواد یې لاسلیک کړي وي: د هر هیواد ژورنالیستان مکلف دي د اخلاقي معیارونو د تیارولو په وخت کې ټولو هغو نړیوالو میثاقونو ته هم پام وکړي چې هېواد یې له نړیوالو سره لاسلیک کړي وي، چې زموږ هېواد هم ډېر نړیوال میثاقونه لاسلیک کړي دي او موږ یې باید د اخلاقي اصولو په تیارولو کې په پام کې ونیسو(۶:۴۷).

که څه هم تر دې دمه په ګران هېواد افغانستان کې داسې اخلاقي مجوزه نه ده تیاره شوې، چې ټولې رسنۍ دې ورته پوره غاړه کېږدي او په یوه غږ دې یې د تطبیق لپاره سره په ګډه کار پیل کړي، خو ځینو ژورنالیستیکو ټولنو اخلاقي مجوزې تیارې کړې دي، زه غواړم د نمونې په توګه یې په افغانستان کې د (CII) ټولنې اخلاقي مجوزه په دې مقاله کې کټه مټه ولیکم.

**د افغانستان ژورنالیزم نړیوال مرکز (CII) اخلاقي تګلاره**

- د خلکو پر وړاندې د مسوولیت احساسول د هر افغان ژورنالیست لومړنۍ دنده ده.
- تل باید حقیقت ولیکل شي او له دروغو څخه ځان وساتل شي.
- د رپوټ تر خپرېدو وړاندې باید د هغه سموالی تائید شي.
- په رپوټ کې باید لویه پېښه وړه او وړه پېښه لویه نه شي.
- ژروتالیست باید د رپوټ لیکنې پر مهال د چا پلوي ونه کړي.
- هره تېروتنه باید سمه او د اړتیا پر مهال دې بښنه وغوښتل شي.
- ژورنالیست باید د حقیقت او نظر تر منځ توپیر وکړي، په چاپي رسنیو کې دې خبر، تحلیل او نظر په جلا، جلا پاڼو او کالمونو کې خپاره شي.
- یو ژورنالیست هم باید تعصب ته لمن ونه وهي.
- ژورنالیست باید د هرې ادعا د سپیناوي لپاره مقابل لوري ته د ځواب ویلو حق ورکړي.
- خپرېدونکي مالومات باید له سمو لارو څخه تر لاسه شي.
- ژورنالیست باید د چا مرستې او بډو ته لاس اوږد نه کړي.

- ژورنالیست له ځانه د کوم شخص او یا قوم ستاینه نه کوي.
- د چا شخصیت ته باید سپکاوی ونه کړي.
- د ژورنالیست ګټې باید د هغه مسلکي کار اغېزمن نه کړي.
- که څوک نه غواړي چې نوم يې په رپوټ کې خپور شي ژورنالیست يې د خپرولو حق نه لري.
- ژورنالیست باید څوک ګرم ونه ګڼي او نه هم د چا د بې ګناهۍ پرېکړه وکړي.
- ژورنالیست باید په رپوټ کې له اړتیا پرته په جعلي توګه د خپلو دوستانو او خپلوانو ویناوې(نقل قولونه) خپاره نه کړي.
- ژورنالیست باید د اجازې پرته د بل چا مالومات پټ او خپاره نه کړي.
- د ژورنالیست لخوا د بل چا د سپکو خبرو خپرول د سپکاوي مانا لري.(۷:۸۴)

**پایله**

هرهېواد د خپلې ټولنې د ځانګړو شرایطو په اساس د خبریالی او رسنیزو فعالیتونو په برخه کې ځانګړي اخلاقي اصول تدوین کړي او په نړۍ واله کچه هم دغه ډول اخلاقي اصول شتون لري، چې د یونسکو د اعلامیې په نوم یادیږي، چې ډېری هېوادونه د خپلو رسنیزواخلاقي تګلارو او اصولو په جوړښت کې ترې الهام او استفاده کوي.

وګړي حق لري چې د سمو او دقیقو اطلاعاتو له لارې د واقعیتونو روښانه انځور ته لاسرسی پیدا کړي او خپل نظرونه په آزاده توګه د رسنیو له لارې بیان کړي، د تفسیر، انتقاد او د بیان آزادي نه دفاع کول د خبریال له اساسي دندو څخه ګڼل کیږي.

اطلاعاتي خپلواکي د حقیقت پېژندنې لپاره زمینه برابروي، د خبریالي د اسرارو ساتنه او د خبري سرچینو نه افشا کول هم د اطلاعاتي آزادي څخه سرچینه اخلي.

د خبریالانو ټولنیز رسالت دا ایجابوي چې خبریال باید تل د حقیقت د کشف او بیانولو په خدمت کې وي. د حقیقت بیانول په اصل کې د اطلاع ورکولو روحیه پیاوړې کوي او خبریالان دا مسوولیت لري، ترڅو هغه څه چې په ربښتیني ډول رامنځته شوي او د دروغو امکان په کې نه وي خپاره کړي.

خبریالان باید د پېښو له مغرضانه خپراوي او د حقایقو له پټولو څخه ډډه وکړي، همداراز خبریالان په دې باندې مکلف دي، چې د تېروتنې په صورت کې خپله غلطي ژر اصلاح کړي، دا سمه ده چې د خبریالي په چاره کې چټکتیا خورا ارزښت لري، خو سرعت باید د پېښو د صحت معلومونې د هڅو په بیه کې خنډ واقع نه شي.

د خبریالی په اخلاقو کې په دې تاکید کیږي، تر څو خبریالان خپلې سرچینې سمې وپېژني او د مالوماتو د شک او تردید په صورت کې يې له نورو اړوندو سرچینو سره تعقیب او پوره کړي.

د خبريال مهمه دنده داده چې خپل ځان د عيني واقعيتونو د موندنې په لار کې وقف کړي او خلکو ته بايد د روانو حالاتو په اړه پرته له تحريف او لاسوهنې حقيقي او موثق معلومات ورکړي.

ټولنيز مسووليت په خبريال باندې دا لازموي، چې د هرډول شرايطو لاندې په يوه اخلاقي وجدان باندې عمل وکړي.

د خبريالانو ټولنيز رول داغوښتنه کوي، چې د دې مسلک د شرافت لوړ معيارونه بايد خوندي وساتي، چې په دې کې د معلوماتي سرچينونه افشا کول او د هغې رسنۍ په تصميم نيونه کې چې کار ورسره کوي برخه لرل شامليږي.

د رسنيو چلوونکي او خبريالان بايد کوښښ وکړي ترڅو ټول خلک اطلاعاتو ته لاسرسی پيدا کړي او خلکوته په رسنيو کې ونډه ورکړي او د دې په خوا کې د سمونې او ځواب ورکونې حق په رسنيو کې پياوړي کړي.

خبريالان بايد د اخلاقي ارزښتونو تر څنګ د خلکو حقونو ته لکه د خصوصي حريم، د اسرارو او شهرت ساتنه وکړي او په خلکو باندې د افترا او توهين کولو نه بايد ځان وساتي.

ژورناليست بايد عامو انساني او اخلاقي ارزښتونو ته احترام ولري، خبريال بايد د هرډول تاوتريخوالي څخه لکه تيري کوونکې جګړې، نفرت او تبعيض څخه ډډه وکړي او د نژاد پرستي، استعمار سوء تغذي او فقر په له منځه وړلو کې بايد په نړۍ واله کچه مبارزه وکړي.

**ماخذونه**


۱ - احمدزی، زاهدي.( ۱۳۹۵). اخلاقي ارزښتونه. مسلم خپرندويه ټولنه، ننګرهار.

۲ - اهنګ، محمد کاظم.(۱۳۷۸). اساسهای ژورنالیزم.میهن مطبعه، کابل.

۳- انصاري، باقر.(۱۳۹۰). حقوق رسانها. ګودر خپرندويه ټولنه، ننګرهار.

۴ – باختری، منيژه.(۱۳۸۶). اخلاق و حقوق ژورنالیزم. عرفان خپرندويه ټولنه، کابل.

۵- توحيد، صديقي.(۱۳۸۸). تحليل برقانون رسانهايی همګاني افغانستان. اکسوس خپرندويه ټولنه، کابل.

۶- ستانکزی، صفي الله(۱۳۹۴). د بيان ازادي خنډونه او حل لارې. علمي خپرندويه ټولنه، پکتيا.

۷-صافي عبدالغفار (۱۳۹۵ ). د اسلام اخلاقي نظام. سلام خپرندويه ټولنه، ننګرهار.

۸-کړوخيل، دانش. (۱۳۹۳) .مسلکي خبريالي. کاتب خپرندويه ټولنه، کابل.

۹-کرګر، محمد اکبر.(۱۳۹۶). فرهنګي بحثونه. جهان خپرندويه ټولنه، پيښور.

۱۰-عالم، افتاب.(۱۳۹۴). موضوعات حقوقي رسانها. سيهون خپرندويه ټولنه، کابل.

۱۱- فرقانی، مهدي.( ۱۳۸۳). اصول اخلاقي حرفه روزنامه نګاري.عازم خپرندويه ټولنه، کابل.

۱۲ - فاطمي سيد احمد(۱۳۹۷). د اسلام اخلاقي نظام. ميهن خپرندويه ټولنه، پيښور.

۱۳- کاظم، معتمد نژاد.( ۱۳۸۷). حقوق مطبوعات. دفتر مطالعات و توسعه رسانها، تهران.

۱۴_ ناظم، الحاج محمد داود.( ۱۳۹۱). د عامه ذهنیتونو د روښانولو سرچینې. خیبر خپرندویه ټولنه، پېښور.

۱۵ – وفا، محمد داؤد.(۱۳۸۸). د نوي ژورنالېزم بنسټونه. مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار.

۱۶ -هڅاند، ګل شریف.(۱۳۸۸). مطبوعاتي ژانرونه. د خوست د فرهنګیانو خپلواکه ټولنه، خوست.

۱۷ -یعقوبي، یحی.(۲۰۱۰). د خبریالۍ اخلاق. دانش مطبعه، کابل.

۱۸- یاد، حبیب الله. (۱۳۹۵). د رسنیو حقوقي موضوعګانې، عرفان خپرندویه ټولنه، ننګرهار.

۱۹- http://www.leeds.ac.uk./law/hamlyn/princess.htm

۲۰- http://www.ofcom.org.uk./about/sdrp/

# د لېچ په مرسته طبي درملنه

لیکونکی: پوهنیار عبدالطیف رحیمي، شیخ زاید پوهنتون، وترنري پوهنځي، کلینیک څانګې استاد
تقریظ ورکونکی: پوهندوی ولي ګل مخلص د طب پوهنځي استاد

**لنډیز**

لېچ تراپي چې د هیرودوتراپي په نوم هم یادیږي کوم چې یوناني طبابت کې نن ورځ د طب زیات متخصصین یې د ارتروز ناروغۍ او د دردونو د تسکین لپاره استعمالوي همدارنګه لېچ تراپي پلاستیکي جراحي او د حادو او مزمنو زخمونو د تداوي او د پوستکي ناروغیو لپاره استعمالیږي. جالبه داده چې د لېچ په لاړو کې د لخته ضد او د التهاب ضد مواد وجود لري.

څرنګه چې هیرودوتراپي د جراحي کړنو له مهمو طریقو څخه شمیرل کېږي چې د موضعي تخلیه کولو په مورد ترې استفاده کېږي، د جراحي میتود د یوطبي یوناني سیستم د عنوان په حیث پیژندل کېږي. څنګه چې د دې تداوۍ وخت اوږد دي او داکټران یې په مدیریت او تداوي د عضلي اسکلیتي ناروغیو، میاشتنۍ عادت اختلالات، زایمان، د پوستکي مزمنې ناروغۍ، واریس، ترومبوامبولیک د درملنې په خاطر له هیرودوتراپي څخه استفاده کېږي.

هغه لېچ چې په ډیروسیع شکل د تداوۍ لپاره استعمالېږي Hirudo medicinalis نومېږي، څنګه چې د لېچ د لعابیه غدواتوڅخه ۱۰۰ نوعه فعال بیولوژیکي مواد ترشح کېږي لکه هیرودین، هیالورونیداز، وازود یلاتور، مواد بي حسي اوضدباکتري، فیبریناز، کولاژن ، دانسولین درمل، ګامرین، ساراتین اوداسې نور، چې دامواد لېچ دوینې د مکېدن کولو په وخت کې د انسان بدن ته ترزیق کوي .

څرنګه چې لېچ په دریو واړو ژامو کې د هیرودوتراپي لپاره کوچني غاښونه لري چې د دې غاښونو پواسطه د انسان بدن سوری کوي چې د پړن کیدو ضد ماده دلاړو له طریقه بدن ته داخلوي، چې د دې کار د سرته رسولو لپاره د ۲۰-۴۵ دقیقې وخت ته ضرورت دی ترڅوپه ښه شکل سره وینه استخراج کړي.

**کلیدي ټکي:** حاد زخمونه ، ترمیمې اوپلاستیکي جراحي، طبي لېچ تراپي، مزمن زخمونه، هیراډومیډ سینالیز.

**سریزه**

لېچ تراپي چې د هیرودوتراپي په نوم هم یادیږي کوم چې نن ورځ یې د نړۍ د طب د متخصصینو توجه د ناروغیو د درملنې په خاطر ځانته راجلب کړیده. نني عصر کې د دردونو ارامولو، عفونې شوي زخمونو، ابسي، همورویېد، شکرمرض، د اعضاوو پیوند کول او د پوستکي ناروغیو د درملنې لپاره استعمالېږي. څنکه چې د لېچ پواسطه د ناروغیو درملنه د ډیرپخوا وخت څخه رواج وو، اما کله چې په ۱۸۸۴کال کې دا معلومه شوه چې د

لېچ په کلمو کې وينه نه تينګ کېږي او د لېچ له لعابيه غدواتو څخه د انعقاد ضد انزايم (هيرودين)استخراج شو، وروسته يې طبي ارزښت نورهم زيات شو. همدا علت وو چې د امريکا د غذا او درمل سازمان د ۲۰۰۴ کال په اخير کې له لېچ څخه د استفادي کولو طبي قانون د ناروغيو د درملنې په برخه کې اعلان کړو.د فرانسي د مون کليوي پوهنتون استاد پروفيسور اوليوا وايي لا تراوسه پوري د لېچ ټول طبي خواص او ګټې ندي کشف شوي، نو په همدي اساس د نړۍ د داکټرانو د توجه وړګرځيدلي چې نن ورځ د امريکا او اروپا په معتبرو کلينيکونو کې د زړه د رګونوسپزم ، د پوست ښکلا، د قلب جراحي عملياتونو، د اعضاو پيوندکولو او د بدن د معافيتي سيستم د تقويت کولو لپاره استعمال کېږي.

څنګه چې لېچ د خپل ژوند د بقا او ژوندي پاتې کېدو لپاره د وينې څخه تغذيه کوي، نو نوموړی حيوان د لعابيه غدواتو څخه د سلو نوعونه زيات طبي ارزښت لرونکې مواد ترشح کېږي. چې د دې ترشحاتو د جملې څخه يوهم د هيرودين په نوم ماده ده چې د لېچ له لعابيه غدواتو څخه ترشح کېږي نوموړی مواد د وينې د پړن کيدو په پروسه کې ترومبين مهارکوي چې وروسته د وينې د رقيق کېدو او د عروقو د اتساع باعث ګرځي . څنګه چې لېچ د وينې څخه د تغذيې پر مهال د نيش پواسطه نوموړي مواد د انسان بدن ته زرق کوي اوبالاخيره د وينې جريان ته داخلېږي چې د وينې په کېفيت تاثيراچوي اوهمزمان وينه رقيق اوتصفيه کوي. وروسته وينه په ښه شکل سره د بدن انساجوته جريان پيداکوي.

لېچ چې هرمافروديت دی پدي معنی چې هم د نارينه اوهم د ښځينه اندام لرونکې دی، ددې حيوان خوله د دريو ژامولرونکې ده چې هره ژامه يې سل سل کوچنې غاښونه لري چې مجموعا ۳۰۰غاښونه کېږي. د لېچ د بدن طول ۲۵-۳سانتي متر او عرض يې تقريبا تر يو سانتي متر پوري رسيږي. طبي لېچ په Family Hirudinidae کورنې پوري تړاو لری چې تراوسه پوري ۶۵۰ نوعو څخه زيات لېچ په Hirudo جنس پورې مربوط طبقه بندي او پېژندل شويدي. نن ورځ طبابت کې د Hirudo medicinalis نوعې څخه د تداوۍ په منظور زياته استفاده کېږي کوم چې د دې لېچ بدن د 34-33 سيګمنتونو لرونکې دی چې عرض يې تريوسانتی اوطول يې تر20cm پوري رسيږي او زياتره په خوږو اوبو کې ژوند کوي او له وينې څخه د غذا په توګه استفاده کوي. چې معمولاً دا لېچ قهوېي يا تور رنګ لري.

**موخې**

داچې د لېچ تراپي په اړه په عمومي ډول سره ډېر معلومات په پښتو ژبه کې موجود نه دي ، خو په ځانګړی ډول د لېچ تراپي په اړه پراخه معلوماتو ته ضرورت دی ترڅو وکولی شو چې د لېچ تراپي په هکله مکمل معلومات ولرو. داچې نن ورځ لېچ تراپي د زياترو ناروغيو د تداوي لپاره يوه مناسبه اومطمينه طريقه ده چې نن ورځ يې د طب متخصيصين د الزايمر ناروغی، سينوزيت، داعضاو وپيوند، هيمورويېد، اترواسکلروز، پلاستيکي اوترميمي جراحي، شکرناروغي ، قلبي ناروغيو د درملنې په خاطر استعمالوي نو لازمه مو وګڼله چې د لېچ تراپي يا

هیرودوتراپي په اړه هغه څېړنې چې پدې وروستیو وختونو کې ترسره شویدي له نظره تیرې او غوره چانې یې تاسو ته وړاندې کړو.

**مواد او کړنلاره**

دغه مقاله چې د لېچ تراپي په اړه پکې معلومات راټول شویدي یوه کتاخانه یي مقاله ده. د ذکرشوې مقالې د لیکلو لپاره انټرنیتي سرچینو او نړیوالو معتبرو ژونالونو ته مراجعه شویده او په نوموړیو ژونالونو کې د خپرو شویو څیړنیزو مقالو څخه ګټه اخستل شویده.

**لېچ**

څنګه چې لېچ د حلقوی چنجیانو له انواعو څخه دی چې تراوسه پوری د لېچ ۷۰۰ نوعې پیژندل شوې دي چې ۵۰ نوعې یې طبي ارزښت لري او د طب متخصیصین یې د مختلفو ناروغیو د تداوي کولو په موخه استعمالوي. تراوسه پوري چې د لېچ کومې نوعې پیژندل شوې دي د هغه له جملې څخه ۱۰۰ نوعې دریایې او۹۰ نوعې یې زمیني اوخاکي دي اوپاتې نوعې یې په خوږو اوبو کې ژوند کوي. څنګه چې مخکې وختونو کې به لېچ د بحرونو څخه لاسته راتلل، اما اوس لېچ دمعتبرو شرکتونو څخه اخیستل کېږي. هغه طبي لېچ چې طبابت کې زیات داستعمال وړ دی، د Hirudo medicinalis په نوم یادیږي چې د زیاتو بیماریو د تداوي لپاره په مستقیم شکل یا غیر مستقیم ډول ورڅني ګټه اخېستله. چې د ابزي چنجیانو له ډلې څخه شمیرل کېږي چې بدن یې زیات د انقباض او انبساط قدرت لرونکی دی. څنګه چې د دې حیوان د بدن په مخکېنۍ برخه کې یو بادکش وجود لري چې پدې ناحیه کې خوله واقع ده او د بدن په انتهایې برخه کې هم یوبل بادکش وجود لري چې د دې بادکش پواسطه ځان په یوه نقطه باندې متصل کوي او د حرکت په حالت کې د اتکا نقطه هم بلل کېږي.
د لېچ اکثره نوعې په خوږو اوبو کې ژوند کوي، لاکن بعضې ډولونه یې په خاوره اود دریابونو په اطرافو کې اوسیږي. اونن ورځ چې طبابت کې له کوم لېچ څخه د تداوي په حیث استفاده کېږي، د دې لېچ خوراک او تغذیه د فقاریه حیواناتو وینه ده. ابوعلی سینا بلخي په خپل کتاب کې لیکې هغه لېچ چې لاجوردي رنګ لري یا داچه د ملا د تیر په امتداد د یو قرمزی خط لرونکی وي، باید د هغې له استعمال څخه اجتناب وشي.
پخوا وختونو کې به طبي لېچ د نهرونو او رود خانو څخه په لاس راتلل اما نن ورځ لېچ د هغه شرکتونو څخه کوم چې د لېچ پرورش ترسره کوي خریداري کېږي .

**تاریخچه**

له میلاد څخه ۲۵۰۰ کاله مخکې په هند، یونان، روم، ایران او اروپا کې له لېچ څخه د ناروغیو د تداوي کولو په موخه استفاده کېده.څنګه چې په تاریخي لحاظ په پخوا وختونو کې له لېچ څخه په طبابت کې د مریضانو د

وینې اخېستلو په موخه ګټه اخېستل کېده نو د لېچ تراپي منشا هندوستان او پخوانی یونان ګڼل کېږي اما وروسته په اتلسمه اونولسمه پیړۍ کې په اروپا اوشمالي امریکا کې یې رواج پیداکړ، په نولسمه پیړۍ کې د دې کوچنی ژوي څخه د دردونو د ارامتیا په خاطر په تبه، سردردي، عفوني شوو زخمونو، ابسه، هیموروېېدکې ګټه اخېستل کیده. کله چې بشرد دې کوچني ژوي ګټې د ناروغیو د تداوي کولو په موخه په عملي ډګر کې ولیدلې، نو د ۱۸۳۰ کال څخه وروسته د بشرمحبوبیت له لېچ تراپي سره لانورهم زیات شو. اما وروسته په ۱۸۸۴ کال کې چې کله دامعلومه شوه چې د لېچ په کلموکې وینه نه پړن کېږي اودلېچ د لعابیه غدواتو څخه د انعقاد ضد انزایم (هیرودین)استخراج شو، نو یې طبی ارزښت نورهم زیات شو بیا په ۱۹۸۰کال کې د لېچ پواسطه د ناروغیو درملنه ترسره کول بیا رواج وموند.

وروسته د امریکا دغذا اودرمل سازمان د ۲۰۰۴ کال په اخرکې د لېچ څخه داستفادی کولوطبی قانون د ناروغیوپه تداوی کې اعلان کړ.

نن ورځ په انګلستان اوروسیه کې د قلب اوپوستکې ناروغیو،پلاستیکې جراحي ، داعضاوو پیوند کول حتی د جنسي قوي ضعف دلېچ پواسطه تداوي کېږي.

**د لېچ تراپي اثرات او میکانیزم**

څنګه چې لېچ تراپي د ناروغیو د تداوي لپاره یوه مناسبه او مطمینه طریقه ده چې نن ورځ یې د طب متخصیصین د الزایمرناروغۍ، سینوزیت ، داعضاووپیوند، هیموروېېد، د قلب انجیوپلاستی ، اترواسکلروز، پلاستیکې اوترمیمی جراحي، شکرناروغی ، قلبی ناروغي، ارتروز، مغزي سکته، وریدي ناروغیو د درملنې په خاطر استعمال کوي. نوموړی شفا بښونکې خاصیت د لېچ د خولې په لاړو کې موجود دی کوم چې د لېچ لاړې دهیرودین پنوم د تحشر ضد ماده لرونکې ده چې د وینې درقیق کېدلو او بندو رګونو د خلاصیدو سبب ګرځي ، وروسته وینه په ښه شکل سره مغز او د بدن مختلفوب رخو ته جریان پیدا کوي، لېچ د وینې څخه کثیف رسوب شوي او اضافي مواد اخلي او د بدن څخه یې دفع کوي.

نوله همدي کبله یې د نړی د طبی متخصصینو توجه ځانته جلب کړی، په همدی اساس نن ورځ د امریکا او اروپا په کلینیکونوکې د زړه د رګونوسېزم، د پوست ښکلا، د قلب جراحی عملیات، د اعضاووپیوندکول اود بدن د معافیتی سیستم د تقویت کولولپاره استفاده کېږي.

**د لېچ پواسطه د ترشح شویوموادو(هیرودین) خواص**

**بې حسه کوونکې خاصیت:** څنګه چې لېچ د نیش وهلو په وخت کې د موضعي درد د کمیدو باعث ګرځي چې د درد احساس په میزبان کې له منځه وړي، چې خفیف بېهوشه کوونکې مواد دي چې دلیل یې د هیرودین موجودیت دی په لاړو کې.

**د انعقاد ضد خاصیت:** نوموړي خاصیت د هیالورونیدازانزایم د موجودیت له امله دی.

**انتی بیوتیکي خاصیت:** څرنګه چې د لبچ پواسطه ترشح شوي مواد د باکټریاوو ضد عمل ترسره کوي خصوصا د توبرکلوز، خوني اسهال خوني او ډیفتري باندی زیات موثردي.

**دالتهاب او لخته ضد خاصیت:** د وریدي ناروغیو په مورد څنګه چې لبچ زیات تمایل وریدي وینې ته لري ځکه هغه کې کاربن دای اکساید مقدار زیات وي کوم چې وریدی احتقان، عروقي ګرفتګي او وریدي رګونو کې د لخته شویو موادو موجودیت ته بهبود ببښی چې دهستامین د موجودیت له کبله دعروقو د خلاصیدو اوپ راخه کېدو سبب ګرځي.

**د لبچ تر اپي د استعمال ځایونه**

څرنګه چې نن ورځ د نړۍ په پیشرفته مملکتونو کې د لبچ څخه د بدن د اعضاوو د پیوند په برخه، او د پلاستیکې اوترمیمی جراحي، دزړه د بند شوو رګونو د خلاصیدلو په خاطر چې د قلبي عوارضو او د نفس تنګې باعث ګرځي ورځنی استفاده کېږي د نن ورځې دطب محقیقین پدي معتقد دي چې که لبچ تراپي څخه د قلب لپاره استفاده وشی په نوموړوافرادو کې به د قلبی سکتود واقعاتو اندازه کمه شي.

- دمغزي سکتو د تداوي لپاره او همدارنګه دوینې نه رسیدل مغزته چې د بدن د یو طرف فلج او د سر او لاسونو لړزه او د مغز ضعیفوالي سبب کېږي.
- دپوستکې لاندي دعفوني غدواتو د تداوي لپاره چې درد لرونکې وي، همدارنګه دپوستکې دهغه چرکېنو زخمونو لپاره د وینې د عفونت اویا د جنسي هورمونو د ترشح له امله په وینه کې په پوستکې باندي ظاهرکېږي چې د ځوانوښځود زیبایې افت دي .
- د شکر مرض څخه د منځته راغلو عوارضو د تداوي کولو لپاره هم تري استفاده کېږي، خصوصا هغه عوارض چې په پښو باندي دشکر ناروغۍ له امله څرګند کېږي چې وروسته د پښو د زخم کېدو او ګانګرین سبب کېږي.
- د زانو د شدیدو دردو نو د ارام کولو لپاره او همدارنګه د مزمن ارتروز د تداوي په خاطر هم استعمالیږی.
- د مزمن سینوزیت اوسردردي دتداوي لپاره.
- په روسیه هیواد کې مختلفی ناروغۍ دزړه اوپوستکې حتی جنسي ضعف د لبچ پواسطه تداوي کوي.
- داعضاوو د پیوند کولو او د اعصابو د ترمیم په وخت کې استعمال کېږي.
- د سینو د عفونت او کېستونو د تداوي په خاطر.
- د نقرس ناروغي او د پښو د شدیدو دردونو د ارام کولولپاره.
- د سترګو دعفونت او د ستوني د التهاباتو او د وخیمو زخمونولپاره.
- واریکوسل او نارینه جنس کې د بیضو د مشکلاتو او د سپرم ضعیفوالي لپاره .

- د پوستکې د ایګزیما ناروغۍ او د پستکې د ابې خالونو د تداوي لپاره باید څلور دفعې لېچ استعمال شي.
- د لېچ تراپي پواسطه کولای شو هغه هیماتوم چې د جراحي عملیات یا تروما څخه وروسته منځ ته راځي کم کړو.
- د شدیدو سرطانونو د درد اوOsteoarthritis لپاره اراموونکې اود التهاب ضد خاصیت لري.

**د طبی لېچ د استعمال طریقه**

که مونږ وغواړو چې طبي لېچ د کومي ناروغي د تداوي په منظور استعمال کړو باید نوموړی لېچ د معتبرو شرکتونو څخه خریداري شي او باید د وحشي اوغیرمعتبرلېچ څخه استفاده ونشي ځکه چې دعفونت د زیاتیدو سبب کېږي. هغه وخت کې چې د بدن کوم غړی باندي د لېچ وصل کېدوته ضرورت وي، باید نوموړي غړي د اوبو او صابون پواسطه په ښه شکل سره پریمنځل شي ترڅو دا محل په ښه شکل سره تمیز اوپاک شي اود لېچ د نیولوپه په وخت کې باید د دستکش څخه استفاده وشي ترڅولېچ په ارامي سره ونیول شي. اما بعضي داکتران د لېچ د نیولو یا درا اخستلولپاره د نرم انبور څخه هم استفاده کوي. عیب ددې طریقي دادی چې ممکن د لېچ بدن زخمي کړي. لکن د لېچ د رانیولو ښه طریقه داده چې دیوګاز استریل څخه استفاده وشي ځکه داممکن ده چې لېچ په مرطوب دستکش پوري وصل شي چې بیا د لېچ جدا کول د دستکش څخه مشکل دی اما د ګازاستریل طریقه زمونږ سره دا کمک هم کولای شي چې لېچ په ارامي ونیسو او سر د لېچ مستقیما هغه محل باندي چې مونږ يې غواړو وصل کړو.

لکه څرنګه چې نن ورځ څو مختلفي طریقي د لېچ د وصل کېدلو لپاره وجود لري یود ددې طریقو څخه د سرنج طریقه ده ددي میتود پواسطه لېچ په مستقیم شکل په اندام پوري وصل کېږي پدي طریقه کې باید د سرنج پیستون د ۵-۱۰ ملي لیترپوري خارج کړل شي ترڅو پوري لېچ د لولي داخل کې په ښه شکل قرار ونیسي وروسته لوله ترهغه وخته پوري په مربوطه محل باندي وصل ساتو ترڅولېچ په همدي محل باندي ځان ونښلوي چې وروسته لېچپه خونخواري باندي شروع کوي وروسته لوله ددي ځاي څخه لري کوو چې ترڅود لېچ انتها ازاده شي اوپه اندام پوري متصل شي لېچ معمولا د U په شکل د دواړو انتهاوو څخه په اندام پوري وصل کېږي. پروفیسور میېرالتون،او هورنر پدي عقیده دی چې لېچ د ۵-۱۵ ملی لیټروینه د ۱۵-۶۰ دقیقوکې څښي.

**د لېچ تر اپي څخه نظارت کول**

کوم وخت موچې لېچ د بدن په کوم غړي پوري وصل کړ وروسته بایدهرو۱۵ دقیقوکې د لېچ د اتصال محل چک شي ترڅواطمینان حاصل شي چې لېچ د دې محل څخه د بدن کومي بلي برخي ته مهاجرت نوي کړي. کچیرې د ۱۵ دقیقو څخه وروسته محل د اتصال چک شي ممکن لېچ مهاجرت کړي وي، ددی لپاره چې لېچ د بدن د کوم غړي څخه لري کړوباید د فشارورکولواوزورڅخه کاروانه خستل شي. باید د پنبي سواپ د الکولوپواسطه

ککړکړواود لېچ په بدن پې وموښوترڅولېچ د بدن څخه جداشي. پدې وخت کې باید د الکولوڅخه په کمه اندازه استفاده وشي، ځکه ددی موادو زیات مقدارد لېچ د مرګ اونوموړي محل کې د عفونت د ایجادیدو سبب ګرځي. همدارنګه د لېچ پواسطه د تداوي په جریان کې د مریض د بدن د حرارت درجه باید هرو دربو ساعتونوکې اندازه اوثبت شي، که د حرارت درجه ټیټه شي د وینې په شیریاني جریان کې د مشکلاتود ایجادیدلوسبب ګرځي په همدې شکل باید نرس حد اقل هرو څلورو ساعتونو کې باید د ظاهری پوست معاینات اود مرض علایم د نږدې څخه چک کړي ترڅو پوري دعفونت دایجادیدو څخه مخنیوي شوي وي.

**دلېچ تر اپي څخه وروسته اعمال اوکړنې**

معمولا لېچ د بدن څخه خپله جدا کېږي ولې د تغذیې مقدار د هغې متفاوت دي تحقیق کوونکو دا زمان ۲۰-۱۲۰ دقیقې ښودلي دي. لېچ تقریبا د ۵-۱۵ ملي لیترپوري وینه دهراتصال په جریان کې ځښي د تداوي ترسره کولوڅخه وروسته باید لېچ د ۷۰% الکولوپواسطه له منځه یوړل شي چې اکثره وخت د لسو دقیقو په جریان کې مړ کېږي چې معمولا لېچ د مرګ څخه وروسته ډیرخطرناک کېږي ځکه چې پدې وخت کې لېچ دعفوني وینې څخه حاوي وي باید ددې لېچ څخه بیا استفاده ونشي.

همدارنګه د پوستکې ناروغیو کې د لېچ تراپي موفقیت د نسج د تغیررنګ پواسطه د ا رغواني څخه په عادي رنګ تبدیل کېدل اوپه سریع شکل د وینې د رګونوډکېدل د وینې څخه په نورمال شکل د ۱-۲ ثانیو کې مشخص کېږي چې ددې څخه وروسته نور تداوي ته ضرورت نشته اما ترهغه وخت پوري باید لیچ تراپي ته ادامه ورکړل شي ترڅو د وریدونو سپږم وجود ولري.

**دلېچ تر اپي جانبي عوارض**

**کم خوني :** لیچ تراپي ممکن د کمخوني باعث شي ځکه یولوي جسامت لرونکې لېچ کولي شي تر۱۵ میلي لیتر وینه استخراج کړي پدې توګه د زیاتي خونخواري له کبله ممکن د لیچ تراپي په جریان کې د حد څخه زیاته خونریزي صورت ونیسي چې ددې خونریزي د مخنیوی لپاره کولای شوچې د مستقیم فشار اویا په موضعي شکل خونریزی کنترول کړواما کچیري د حد څخه زیاته خونریزي ادامه پیدا کړي باید نوموړي مریض ته وینه انتقال شي.

**دالرژي ایجادیدل :** هیرودوتراپي کې شایع ترین الرژیکې واکنش په هغه محل کې چې لېچ د بدن سره وصل شوی دي خفیف خارش پیدا کوي همدارنګه ممکن نوموړي محل کې د قرمزي لکو د پیداکېدوسبب شي، لکن بعضې افرادوکې د تنفسي مشکلاتوسبب هم کېداي شي.

**عفونت :** ممکن لېچ د موضعي ککړتیا د ایجادیدلوسبب شي. ایروموناس هایدروفیلا چې ګرام منفي باکتریا ده چې ممکن په بعضې افرادوکې دعفونت سبب شي نوموړي باکتریا دهیرادومیډیسینالیز نوعه لېچ په کلموکې په عادي شکل قرارلري چې د بلعیده شوي وینې د تجزیې کولوقدرت لرونکې دي نوموړي عفونت د جدي ترینو

جانبي عوارضوڅخه شمېرل کېږي چې ممکن دا عفونت د11-2 ورځوڅخه وروسته ایجاد شي او د ابسي یا مسمومیت سبب کېږي.

Sartor اوهمکارانو چې کوم تحقیق ترسره کړي، دې نتیجې ته رسیدلي چې عفونت ۱-۴% مریضانوکې منځته راځي، نو باید دهیرودوتراپي په حالت کې انتي بیوتیکونه لکه سفالوسپرین، فلوروکواینولون، تتراسیکلین د امینوګلایکوزیدونوسره یوځای توصیه شي.

**د لېچ مهاجرت:** ممکن لېچ خپل ځان د تداوي د محل څخه جداکړي او د بدن په نورو حفر کې لکه غوږ، پزه، خوله کې داخل شي او هلته د زخمونود ایجادیدو سبب شي. لېچ باید ترنظارت لاندي ونیول شي ترڅومهاجرت ونکړي.

**دمطلوب لېچ تشخیص**

څنګه چې نن ورځ د لېچ د ۷۰۰ نوعو څخه زیاتي نوعې پېژندل شوي دي چې ددې له جملي څخه ۵۰ نوعې یې طبي ارزښت لري اونوري پاتي نوعې یې زهري اومضرې دي. هغه ډولونه چې د تداوي ترسره کولو په منظور استعمال کېږي یو د هغو د جملي څخه د Hirudo medicinalis نوعه ده چې د دي لېچ رنګ اکثره تور وي. اما د کوم لېچ رنګ چې شین وي یا هغه لېچ چې بدن باندي لاجوردي خطوط و لري ددې داستعمال څخه باید استفاده ونشي. مطلوب لېچ باید لاندي خواصودرلودونکې وي.

- جګر رنګ درلودونکی وي.
- هغه لېچ چې د موږک د لکې سره اویا د وړوکوملخانو سره شباهت ولري.
- هغه لېچ چې سرېې باریک اوکوچنی وي او د ګیدي برخه یې قرمزی رنګه وي.
- هغه لېچ چې تور رنګ ولري او بدن کې د زیږوخطوطو لرونکې وي.

**هغه حالتونه چې په هغوکې باید د لېچ څخه استفاده ونشي**

✓ لېچ تراپي باید د همدي مسلک د تخصص لرونکېو داکترانوترنظارت لاندي انجام شي ځکه د مسلکې متخصص د نه موجودیت په صورت کې ممکن د زیاتوعوارضوسبب شي کوم محل کې چې د لېچ څخه استفاده کېږي باید د مکروبونو څخه کاملا استریل او پاک وی. کوم چې د لېچ استعمال د بعضو ناروغانو لپاره خطرناک وي چې نوموړي کسان ددې درمان څخه منع دي.

✓ کوم ناروغان چې دوینې انعقادي مشکلات یا Hemophilia Disease لري باید د لېچ څخه استفاده ونکړي.

✓ حمل لرونکې ښځې او یا هغه ښځې چې شیدي ورکوي یا هغه ښځې چې د میاشتني عدت په دوران کې قرارلري، په هیڅ صورت باید هیرودوتراپي استعمال نکړي چې ممکن دعفونت د ایجادیدوسبب وګرځي.

- ✓ هغه افراد کوم چې د پخوا څخه شديده الرژی درلودونکې وي .
- ✓ هغه کسان کوم چې هضمي سيستم کې خونريزی لري.
- ✓ هغه افراد کوم چې د معدي په نفخ او دي ته ورته مشکلاتوباندی مبتلا وي.
- ✓ هغه افراد کوم چې معافيتي سيستم يې ضعيف ويي يا هغه افراد چې اوږد مهاله شکل سره کورتيزوني درمل استعمال کوي.
- ✓ هغه کسان چې د پرن ضد درمل لکه اسپرين او وارفارين استعمال کوي.
- ✓ شديده کمخونی لرونکې مريضان هم بايد لېچ تراپي استعمال نکړي.
- ✓ دتيټ فشارلرونکې ناروغان هم بايد د لېچ تراپي څخه پرهيزوکړي.
- ✓ د Erythrocyte transfusion په وخت کې هم بايد ليچ تراپي استعمال نشي

## Reference

1. Khelifa E, Kaya G, Laffi tte E. Cutaneous pseudolymphomas after leech therapy. J Dermatol.2013;40:674-5.
2. Pietrzak A, Kanitakis J, Tomasiewicz K, Wawrzycki B, KozłowskaŁój J, Dybiec E, Chodorowska G. Cutaneous complications of improper leech application. Ann Agric Environ Med. 2012;19: 790- 3. Blaise S, Le Brun V, Sparsa A, Delrous JL, Bonnetblanc JM. Contact dermatitis with Hirudo medicinalis. Ann Dermatol Venereol. 2002;129:1380-2.
4. Karadag AS, Calka O, Akdeniz N, Cecen I. A case of irritant contact dermatitis with leech. Cutan Ocul Toxicol. 2011;30:234-5.
5. Siddall ME, Trontelj P, Utevsky SY, Nkamany M, Macdonald KS. Diverse molecular data demonstrate that commercially available medicinal leeches are not Hirudo medicinalis. Proc Royal Soc B. 2007;274:1481–7.
6. Shankar KM, Rao SD, Umar SN, Gopalakrishnaiah V. A clinical trial for evaluation of leech application in the management of Vicarcikā (Eczema). Anc Sci Life. 2014;33:236-41.
7. Rastogi S, Chaudhari P. Pigment reduction in nevus of Ota following leech therapy. J Ayurveda Integr Med. 2014;5:125-8.
8. Haycox CL, Odland PB, Coltrera MD, Raugi GJ. Indications and complications of medicinal leech therapy. J Am Acad Dermatol. 1995;33:1053-5.
9. Zengin S, Yarbil P, Kilic H, Al B. Prolonged bleeding due to a medicinal leech bite: another treatment method, primary suture. BMJ Case Rep. 2012;2012. pii: bcr0220125759.
10. Whitaker IS, Maltz M, Siddall ME, Graf J. Characterization of the digestive tract microbiota of Hirudo orientalis (medicinal leech) and antibiotic resistance profi le. Plast Reconstr Surg. 2014; 133:408e-18e.
11. Kruer RM, Barton CA, Roberti G, Gilbert B, McMillian WD. Antimicrobial prophylaxis during Hirudo medicinalis therapy: a multicenter study. J Reconstr Microsurg. 2015;31:205-9.
12. O'Dempsey T. Leeches - the good, the bad and the wiggly. Paediatr Int Child Health. 2012; 32 Suppl 2:16-20.

13. Mory RN, Mindell D, Bloom DA. The leech and the physician: biology, etymology, and medical practice with Hirudinea medicinalis. World J Surg. 2000; 24(7) : 83-878.
14. Papavramidou N, Christopoulou-Aletra H. Medicinal use of leeches in the texts of ancient Greek, Roman and early Byzantine writers. Intern Med J. 2009; 39(9): 7-624.
15. Nazar PS, Doroshenko BH. The leech therapy of infectious myocarditis. Lik Sprava. 1998 ; (6):8-146.
16. Whitaker IS, Rao J, Izadi D, Butler PE. Historical Article: Hirudo medicinalis: ancient origins of, and trends in the use of medicinal leeches throughout history. Br J Oral Maxillofac Surg. 2004; 42(2):133-7.
17. Adams SL. The medicinal leech: historical perspectives. Semin Thromb Hemost. 1989; 15(3):261-4.
18. Sawyer RT. Johann Friedrich Dieffenbach: successful use of leeches in plastic surgery in the 1820s. Br J Plast Surg. 2000; 53(3):245-7.
19. Payton BW. An historical survey of illustrations of the medicinal leech. J Audiov Media Med. 1984; 7(3):105-12.
20. Sawyer RT. The trade in medicinal leeches in the southern Indian Ocean in the nineteenth century. Med Hist. 1999; 43(2):241-5.
21. Riede F, Koenen W, Goerdt S, Ehmke H, Faulhaber J. Medicinal leeches for the treatment of venous congestion and hematoma after plastic reconstructive surgery. J Dtsch Dermatol Ges. 2010;8: 881-8.
22. Goessl C, Steffen-Wilke K, Miller K. Leech therapy for massive scrotal hematoma following percutaneous transluminal angioplasty. J Urol. 1997;158:545
23. Koeppen D, Aurich M, Rampp T. Medicinal leech therapy in pain syndromes: a narrative review. Wien Med Wochenschr. 2014;164:95-102.
24. Kalender ME, Comez G, Sevinc A, Dirier A, Camci C. Leech therapy for symptomatic relief of cancer pain. Pain Med. 2010;11:443-5.
25. Nouri M, Karimi-Yarandi K, Etezadi F, Amirjamshidi A. Leech therapy for pain relief: Rational behind a notion. Surg Neurol Int. 2012;3:159.
26. Stange R, Moser C, Hopfenmueller W, Mansmann U, Buehring M, Uehleke B. Randomised controlled trial with medical leeches for osteoarthritis of the knee. Complement Ther Med. 2012;20:1-7.
27. Lauche R, Cramer H, Langhorst J, Dobos G. A systematic review and meta-analysis of medical leech therapy for osteoarthritis of the knee. Clin J Pain. 2014;30:63-72
28. Utley DS, Koch RJ, Goode RL. The failing flap in facial plastic and reconstructive surgery: role of the medicinal leech. Laryngoscope. 1998; 108(8 Pt 1): 35-1129.
29. Michalsen A, Klotz S, Lüdtke R, Moebus S, Spahn G, Dobos GJ. Effectiveness of leech therapy in osteoarthritis of the knee: a randomized, controlled trial. Ann Intern Med. 2003; 139(9): 30-724.
30. Hyson JM. Leech therapy: a history. J Hist Dent. 2005; 53(1): 7-25.

# د رحمان بابا په کلیاتو کې د خیر ښېګڼې او امن غوښتنې روحیه

لیکونکی: پوهنیار سیدمرجان سروري، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو ژبې او ادب څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی میاولي شاه میاخېل د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو ژبې او ادب څانګې استاد

**لنډيز**

رحمان بابا د ژوند د هرې دورې یو نماینده شاعر دی، په دې مانا چې دده اشعار په هره زمانه کې د انسانانو فکري لارښوونه کوي. که موږ دده دیوان مطالعه کړو او کلام ته یې متوجه شو، نو د ټولنیز ژوند ډېر ارزښت لرونکي موضوعات پکې موندلی شو. دا څېړنه د رحمان بابا په دیوان کې د خیرښېګڼې او امن غوښتنې روحیې ته ځانګړې شوې ده. رحمان بابا د انسان پالنې یو داسې مبلغ شاعر تېرشوی دی، چې کلام یې د هر وخت د ټولنیزو ارزښتنونو په ساتلو کې بنستیز رول لوبولی شي. پر دغه موضوع د مقالې لیکلو یوه موخه د اوسنیو شرایطو غوښتنه ده، چې د رحمان بابا کلام او پیغام خور کړل شي او د هغه له پیغام نه په الهام اخیستو سره د هغه فکر او نظر په پراخوالي کې په ولسي او دولتي کچه کار واخیستل شي. د دغې مقالې ارزښت ډېر دی، لوستونکي به د رحمان بابا د کلام نمونو په لوستلو سره په ټولنه کې د واقعي ژوند کولو او د ژوند مقصد باندې پوه شي، نورو ته به پیغام ورکړي، چې انسانان باید په ټولنه کې داسې د مینې او محبت ګډ ژوند غوره کړي، چې له خپل ژوند کولو څخه خوند واخلي؛ د ژوند کولو دغه طریقه رحمان بابا په ډېره هنرمندانه توګه په خپل دیوان کې را وړې ده. په دغه څېړنه کې له کتابتوني کړنلارې او توضیحي میتود ګټه اخیستل شوې ده. د رحمان بابا په دیوان کې د موضوع اړوند بیتونو پلټلو سره د تر لاسه شوو بیتونو په اړه پوره وضاحت شته. د موضوع څېړلوکې دې پایلې ته ورسېدم، چې رحمان بابا د واقعي ژوند تېرولو لپاره بهترینې لارښوونې کړې دي که څوک پرې عمل وکړي، ژوند به یې په پوره امن او ډاډ منه توګه روان وي.

**کلیدي ویيونه**: رحمان بابا، انسانیت، خېرښېګڼه، امن، ټولنیز ژوند.

**سریزه**

د پښتو شاعرۍ د مطالعې له مخې څومره شهر ت او مقبولیت چې د رحمان بابا په برخه رسېدلی دی، د بل چا نه دی نصیب شوی. حقیقت دادی چې د درې درې نیم سوه کاله تېرېدو سره د رحمان بابا شاعري په فکري او فني لحاظ نن هم تازه، توانا او د عصري غوښتنومطابق ده.

که د رحمان بابا شاعرۍ ته متوجه شو او د ده په شاعرۍ کې د نورو بېلابېلو موضوعاتو تر څنګ انسانیت ته پکې په ژوره توګه وګورو، نو پوهېږو چې رحمان بابا د شاعرۍ یوه اساسي نکته انسان دوستي ده. هغه د

امن مساوات، انصاف او انسانیت درس ورکوي. د ظلم، جبر او طبقاتي امتیاز مخالفت کوي او په ټولنیز ژوند کې خلک انساني ارزښتونو ته رابولي. لکه چې د سړیتوب په باره کې وایي:

له سړیه غرض واړه سړیتوب دی

نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس

د دغې مقالې پیل کې مې د رحمان بابا پېژندنه کړې، که څه هم رحمان بابا د زیات شهرت له مخې چې دی یې په پښتني ټولنه کې لري، زموږ ټول لوستي او نالوستي لوی او واړه هغه پېژني، خو ما په لنډ ډول دده پېژندنه راخیستې ده. ورپسې مې انسان او د انساني ځانګړنو په اړه د ځینو فیلسوفانو او پوهانو نظرونه را وړي دي، دا ځکه چې زما موضوع د رحمان بابا په دیوان کې د انساني خیرښېګڼې او امن غوښتنې روحیه ده او ډېره توجه مې په لیکنه کې همدغې برخې ته کړې ده په دې برخه کې مې پراخ بحث کړی دی. د رحمان بابا کلیات مې مطالعه کړي وروسته مې هغه بیتونه، چې په هغه کې زما موضوع اړوند موضوعات شته، په خپله مقاله کې د باوري ماخذونو په ګټې اخېستنې هغه بیتونه تشریح کړې دي.

په دې مقاله کې هڅه شوې له ډېرو ګټورو او باوري سرچینو څخه ګټه واخېستل شي. رحماني خُم، د رحمان بابا فکري مطالعه د رحمان بابا کلیات او نور هغه اثار دي، چې په دې مقاله کې مې ورڅخه پوره پوره ګټه پورته کړې ده.

**د څېړنې موخې**

**اصلي موخه**

د رحمان بابا په کلیاتو کې د انساني خیر ښېګڼې او امن غوښتنې روحیې څېړل او پلټل.

**فرعي موخې**

۱. د رحمان بابا په کلیاتو کې د ټولنیز ژوند د مثبت بدلون روحیې پیدا کول.

۲. د رحمان بابا په کلیاتوکې انساني ارزښتونوته د درناوي پیغام پیدا کول.

۳. د رحمان بابا په کلیاتو کې د امن غوښتنې روحیې پیدا کول.

**د څېړنې پوښتنې**

**د څېړنې اصلي پوښتنه**

۱. آیا رحمان بابا په خپل کلام کې خیر ښېګڼې او امن غوښتنې روحیې ته پاملرنه کړې ده؟

**فرعي پوښتنې**

۱. آیا د رحمان بابا په کلیاتوکې د ټولنیز ژوند د مثبت بدلونه روحیه شته؟

۲. آیا د رحمان بابا په کلیاتوکې د انساني ارزښتونو د درناوي پیغام شته؟

۳. آیا د رحمان بابا په کلیاتوکې د امن غوښتنې روحیه موندلی شو؟

**د څېړنې کړنلاره او میتود**

یو څېړونکی چې پر یوه موضوع څېړنه کوي، خامخا به د ځان لپاره د څېړنې یو مېتود ټاکي، تر څو څېړنه یې په بشپړډول سرته ورسېږي. مېتود ټاکل څېړونکي ته لاره ښيي له خطا او ښویدنې څخه یې ژغوري. په همدي اساس ما هم ددې مقالې د بشپړلو لپاره له کتابتوني کړنلارې د تشریحي او توضیحي میتود څخه ګټه اخیستې ده. په دې برخه کې د رحمان بابا کلیات چې د حنیف خلیل لخوا پرې سریزه لیکل شوې ده، تر ټولو اساسي رول لري، ځکه چې زما د څېړنې عملي کار د رحمان بابا په کلیاتو ولاړ دی.

**د څېړنې ارزښت**

د دغې څېړنې ارزښت دا دی، چې لوستونکو ته به په ټولنیزژوند کې د انساني لوړو اخلاقو پیغام ورکړي. همدا رنګه به لوستونکي په ټولنیز ژوند کې د انساني حقوقو په درناوي پوه شي. لوستونکي به د دغې مقالې په لوستلو سره دا معلومه کړي، چې رحمان بابا خپل شعر د انساني ارزښتونو د تبلیغ لپاره په کار اچولی دی د رحمان بابا غږ یو انساني غږدی، یو داسې غږ دی چې د ژوند کولو یو لوی درس پکې شته، چې عملي کول یې انسان د معنویت سپېڅلی مقام ته رسوي.

**د څېړنې فرضیه**

د رحمان بابا د زمانې په اړه دده فکر د اوسني وخت شرایطو د غوښتنو سره هم سمون لري.

**د رحمان بابا لنډه پېژندنه**

رحمان بابا دعبدالستار زوی په قوم مومند او د پېښور په بهادر کلي کې یې ژوند کاوه. د رحمان بابا د زېږیدو په نېټه کې د پښتو ژبې لیکوالانو ترمنځ اختلاف شته، خو په پټه خزانه کې دده د زیږدو کال (۱۰۴۲) هجري ښودل شوی دی. رحمان بابا دملا محمد یوسف یوسفزي څخه د فقې او تصوف زده کړې کړې دي. بیا کوهاټ ته تللی دی، هلته یې هم زده کړې کړې دي، خو کره معلومات نشته چې هلته به دده استادان څوک وي. د رحمان بابا په هکله ویل شوي دي، چې ده په ځوانۍ کې دنیاوي کارونه پرېښودل او د خدای تعالی په عبادت مشغول شو. رحمان بابا په (۱۱۸۱) هجري کال کې وفات شوی دی پېښور کې دده هدیرې ته اوس هم خلک د زیارت لپاره ورځي. (۹۴:۷).

**انسان**

که څه هم انسان د هر علم خاوند په خپله قرینه کې تعریف کړی دی او د انسان ځانګړنې یې څېړلې دي. د انسان پیدایښت او د هغه جوړښت او د ژوند کولو هدف په باره کې د هر علم خاوند د هماغه علم له مخې

څېړلې دی. دا چې زما موضوع د رحمان بابا کلیاتوکې د خیرښېګڼې او امن غوښتنې روحیه ده، دغه د خیر ښېګڼې روحیه انساني ځانګړنه ده، چې انسانیت پکې د همدغې موضوع په ارتباط ډېر ښه تشریح شوی دی.
حضرت شیخ نصرابادي د انسان د فطري جوړښت په باره کې وایي: « بشر له یو لورې انسان او له بل لورې د رحماني صفتونو د اړخونو په منځ کې واقع شوی دی، دی وایي انساني خوایې د حضرت آدم ( ع) سره نسبت او رحماني خوایې د حق تعالی سره رابطه لري. حضرت شیخ زیاتوي چې بشري خوا په شهوتو او آفتوکې د لوېدلوخوا ده اما د حق تعالی خوا د (کشف) دلیل، سپېڅلتیا او د ولایت د مقاماتو خوا ده، چې لومړۍ یې د شریعت څخه ( عدول) او دوهم یې د حق لپاره عبودیت دی ( معنا دا چې که په انسان کې د نفس، هوا او ناروا غوښتنو میل زیات شي د شریعت لاره ورڅخه پاته کېږي او په ګناهونو کې لوېږي او که په انسان کې روحاني خوا زیاته شي په هغه کې سپېڅلتیا عصمت د الله تعالی سره مینه اود شریعت د احکامو د پرځای کولو او نواهیو څخه د ډډې کولو صفتونه پیدا کېږي، چې د همدې لارې څخه د کشف شهود او د عرفان مقام ته رسېږي.»
(۳: ۳۶۲).

د انسان په هکله د اسلامي نړۍ او غیر اسلامي فیلسوفانو هم بېلابېل نظرونه وړاندې کړي دي چې دغه یوه اوږده موضوع ده او حتی کتابونه پرې لیکل کیدای شي. نو د انسان د بشپړې پېژندګلوۍ په اړه زیات بحث او څېړنې ته اړتیا ده، مګر زما موضوع د رحمان بابا په کلیاتو کې د خیرښېګڼې او امن غوښتنې روحیه ده، غواړم چې همدغې موضوع ته دا خل شم او د رحمان بابا هغه اشعار چې یاده موضوع پکې انعکاس کوي راټول کړم او د خپلې پوهې مطابق پرې خبرې وکړم.

## د رحمان بابا په کلیاتو کې د خیر ښېګڼې او امن غوښتنې روحیه

رحمان بابا بې رویه بې ریا شاعر دی او هر چاته په خپل شکل څرګند شوی دی، چې د دې خبرې ثبوت نن سبا موږ ګورو چې په کور، په حجره، پر ممبر او په ګودر یې شعرونو خپل ځان هر چاته تسلیم کړی، هر شعر یې بې مثاله مثالونه ګرځیدلي او وینا یې د حکم درجه موندلې او مصرعې یې قولونه متلونه شول. عالم، خطیب، واعظ، عاشق، صوفي، درویش، رند، مبارزاو د ژوند د هر مسلک خاوندانو یې شعرونه د خپل ذوق او فکر مطابق په کار راوستل خوند یې ترې واخېست او ژوند یې پرې ښکلی کړی دی. له ډېرې عقیدې او مینې او احترام له کبله یې دیوان د تقدس او یقین هغه حد ته ورسید چې خلکو ترې فالونه وېستل او الهامونه اخستل د ښه شګون یو روایت وګرځید.

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي
ازغي مه کره په پښو کې به دې خار شي
کوهـي مه کنه د بل سرې په لار کې

چـېرې ستا به د کوهې په غاړه لارشي (۳۵۹:۴).

د رحمان بابا په شاعرۍ کې د هر انسان د زړه آواز پروت دی په بنیادي ډول د مینې، محبت او انسانیت شاعر دی، په ټولنه کې د ښه ژوند کولو مدارس دی. د ځینو شاعرانو په شان یې په شاعرۍ کې پېچلتیا او د نورو ژبو غیرمانوس الفاظ نشته د ولس په ژبه او لهجه کې یې شاعري کړې ده، نو هر څوک دده شاعري خوښوي او د شعر په لوستلو او اوریدلو باندې په اسانۍ سره پوهیدلی شي؛ شاعري یې عام فهمه روانه او اسانه ده. د رحمان بابا دغه پورته بیتونو ته که ځیرشو د ښه ژوند کولو یو لوی درس پکې پروت دی او د انسان دوستۍ او ښه ژوند په اړه یې په دې دوو بیتونو په تحلیل کې یې کتابونه درس شته.

دا غږ یو انساني غږدی، یو داسې غږدی چې انسان د معنویت سپیڅلي مقام ته رسوي رحمان بابا خپل شعر د انساني ارزښتونو د تبلیغ لپاره په کار اچولی دی.

د سـړي غرض واړه سړیتـوب دی

نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس (۱۶۷:۴).

رحمان بابا له انسان نه غواړي چې د دیوالونو د آبادۍ پر ځای زړونه ودان کړي، د مسلمان انسان د زړه ساتنه یې د کعبې تر ساتلو لوی کار بللی دی:

د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لـویه

که آباد کا څوک ویران حرم د زړه (۳۲۲:۴).

ده په دې برخه کې تشې خبرې نه منلې عملي ګام او اقدام یې غوښت، رحمان بابا انسانان د ویرانۍ نه ودانۍ ته را بلل او د زړونو د ودانۍ تر څنګ یې د ټولنې د بیا رغاونې توصیه او لارښوونه کوله.

وداني په یوه دم کې شي ویرانه

مرد هغه چې کړي ودانې ویرانۍ (۳۴۱:۴).

دی داسې انسان چې هغه انساني زړونه مات کړي وي له زړونو پرېوتلی او د عمومي نفرت ور ګڼي چې په دې هکله وایي:

چې له غرونو پرېوتلی وي بیا پاڅي

پاڅېدای نه شي له زړونو پرېوتلی (۴۰۴:۴).

د عرفان له مخې د انسان خدمت عبادت دی، انساني مینه پیاوړي کول طاعت دی، معنویت ته مخه کول سعادت دی، انسانیت ته وده ورکول د دنیا د مخ جنت دی او د انساني ارزښتونو ارزونه د عرفاني ادب شعري قوت دی، چې رحمان بابا دغه موضوعات په خپلو اشعارو کې په ډېره هنرمندانه توګه راوړي او ټول انسانیت ته پکې لوی درس پروت دی. د رحمان بابا ټول کلیات له همدې عرفاني خوځښتونو او انساني ارزښتونو ډک دی، انسان خاکسارۍ او خدمتګارۍ ته رابولي، له نفس پرستۍ او د خود خواهۍ څخه یې ژغوري. د رحمان

بابا په نظر همدا د انسان معراج او د انسانیت تاج دی او ده ددې ټولو انساني ارزښتونو د ارزونې او بیا نولو له پاره د ادب خواږه، پسته او دده په اصطلاح د بلبلوژبه کارولې ده.

اې رحمانه د بلبلـــو ژبـه زده کـــړه

پس له هغې په صفت د ګل اندام شه (۲۸۹:۴).

په همدې ژبه خپلو اوریدونکوته مخاطب دی، له انساني ارزښتونو ډک درسونه او پندونه ورکوي. رحمان بابا د انسان دوست او ملنګ مزاجه شاعر په خپل حال کې مست، له شاهانو بې پروا، د درویشۍ په ژوند کې خوشحاله او رضاوه. دا په انسان او انسان مین شاعر د انساني شرف او عظمت ته قایل دی ځکه خو وایي:

ادمیت خـــــه په دولت نه دی رحمانه

بت که جوړشو د سروزرو نه انسان دی (۱۵۷:۶).

رحمان بابا دولت ته ارزښت نه ورکوي او انسانیت ته ترجیع ورکوي؛ مانا دا چې که څوک دولت مند ته د دولت په سترګه ګوري او که انسانیت پکې نه دی داسې دی لکه بت، مګر هغه څوک چې د انسانیت له ښېګڼو ډک وي او ټولې انساني ځانګړنې ولري نو بیا هغه د هرچا په زړه کې یو ځانګړی د مینې ځای لري. بل ځای رحمان بابا همدغې موضوع ته داسې اشاره کړې ده:

د سړي نه غرض واړه سرېتوب دی

نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس (۱۶۷:۴).

دغه خوږ ژبی شاعر انسانیت ته په پوره درناوي او د خلکو خدمت په اړه وایي:

هغه زړه به له طـــــوفانه په آمان وي

چې کشتۍ غوندې د خلقو بار بردارشي (۳۶۰:۴).

که پورته بیت ته په دقیق ډول وکتل شي نویو ډېر ژور او له انساني خواخوږۍ ډک تصویر وړاندې کولی شي. انسان ته یو لوی درس ورکوي، چې که چېرې غواړې له هر راز طوفان وېرې څخه ځان په امن کې وساتې نو له نورو سره همدردي وپاله او د نورو په غمونو او دردونو کې شریک واوسه. که د رحمان بابا دغه پورته بیت انسانان په خپل ژوند کې عملي کړي، نو بویه چې په ټولنه کې به د یوه خوږ ژوند درلودونکي واوسو او د هر مشکل را تلل به دومره ستونزمن نه تماميږي.

دست په دست که د خپل کار په درستول یې

لا تر ځان وړومبی ولاړ د بل په کار شـه (۲۸۸:۴).

ګورو چې د رحمان بابا د شاعرۍ بنسټيزه نکته انسان او انسانیت دی. د خپل کار څخه لومړی د بل کار ترسره کول چې ده په پورته بیت کې دغې موضوع یادونه کړې ده، د انسان پالنې یوه داسې بېلګه ده، چې په نوې انساني ټولنه کې هم داسې د بشرپالنې قوانین نشو موندلی. رحمان بابا یو داسې شاعر دی چې د ځمکې په اوسیدونکو په خوږ خوږمن دی، هغه انسان دی په انسان مین دی، د ده اخري تجزیه او حاصل یې انسان

او له انسانیت سره مینه او یووالی دی. د انسانانوترمنځ د تعلقاتو او د رشتو د محکم ساتلو او د مسایلو په حل کولو کې مخلصانه کردار ادا کوي، خلکوته د جګو سترګو ژوند تېرولو د کار روزګار کولو هنرښودلو او دپرمختګ په لار د مخکې تللو نظر ورکولو صلاحیت، خصوصیت او قوت لري، چې بنستیزه وجه یې رحمان بابا د خپلې شاعرۍ په وسیله خلکوته د خیر ښېګڼې او د خلکو خدمت او لوړترینو اخلاقو درس ورکړی دی. لکه چې وایي:

نېک کردار، هم نېک عمل، هم نېک خویونه
هم جنـــــــت دی هــم رحت پــه دا دنیـا
که مشکل دي خـو د زړونـــــــو رغـول دي
ســهل کار دی سود و زیـان د دې دنیا (۹۶:۴).

رحمان بابا تلقین کوي چې د چا زړه مه ازاروئ، چاته درد، تکلیف مه رسوئ او له چا نفرت مه کوئ... لکه چې وایي:

ادم زاد په معنی واړه یـــو صورت دي
هر چې بل ازروي هـــغه ازار شي (۳۶۰:۴).
د امن، نېکی، ښه سلوک وروولۍ په هکله وایي:
ودانـــــــــــــي په یو دم کې شي ویرانه
مرد هغه دی چې ودانې کا ورانۍ (۳۴۱:۴).

د بابا شاعري د تحمل او برداشت درس ورکوي هغه د هر قسم ظلم، جبر، امتیاز، جهل او توکم پرستۍ خلاف وه، ځکه په شعر او فکر کې یې د عمل پسندۍ، انسان دوستۍ، وروروولۍ او امن انصاف عناصر ډېر مضبوط او څرګند دي. تل یې انسانانو سره د مینې همدردۍ او د هغوی د حقوقو د ساتلو غږ پورته کړی دی، دی وایي:

که بل بد کاندي ته ښه کړه مه رنځېږه
هر یو نخل چې مېوه لري سنګسار شي (۳۶۰:۴).

د رحمان بابا په کلام کې پر نوور خلکو ځان لوړ ګڼل او هم د لویۍ او کبر څخه نفرت شوی دی. انسان ته د کمېنۍ یو بهترین درس ورکوي، چې که ته رښتیا غواړې په ټولنه کې د مقام لوړ شي، باید خاکساري غوره وګڼې. دی د دغې موضوع داسې یوه په زړه پورې ببلګه وړاندې کوي:

ژوندی ځان په ځمکه ښخ کړه لکه تخم
که لویي غواړې د خاور په مقام شه (۲۸۹:۴).

رحمان بابا د پند په ژبه وايي؛ چې هېچاته بايد په خوارو سترګو و نه کتل شي او د هرچا انسانيت او شخصيت ته درناوی وشي په دې مانا چې د وجود او هغه دبدبه چې ته يې لرې کيدای شي له لاسه يې ورکړې او يا دغه خپل ژوند زر له لاسه ورکړې او له هغه چا څخه چې ورته په خوارو سترګو ګورې ته مخکې خوار شې دی وايي:

ته چې هر چاته په خـــــوارو سترګو ګورې

لا ړومبی به ستا صورت تر خاورو خوار شي (۳۶۰:۴).

د رحمان بابا په کلياتو کې داسې ملغلرې شته، چې پر لوستلو سره يې زموږ د ژوند غلط مسير ته پر سمه لاره د تللو بدلون ورکولی شي. هغه د انساني خواخوږۍ دومره مبلغ او لوړ پيغام رسوونکی شاعر دی، چې خلک د انساني حقوقو هرې برخې ته متوجې کوي. دده پيغام د اسلامي نصوصو سره برابردی، که دده لاندې بيت ته پام وکړو، د نورو موضوعاتو سربېره يې دګاونډي حقوق هم په پام کې نيولې دي، چې د ګاونډې حقوقوته پام او د هغوی ساتلو په اړه په قران پاک او د نبوي مبارکو احاديثو کې زياته پاملرنه شوې ده.

ښه خواړه چې يو يې خوري بل ورته ګوري

خـــواړه نه دي لکه زهر دي ګويا (۶۰:۴).

رحمان بابا د دې لپاره چې په ټولنه کې د بېچاره خلکو لاسنيوی شوی وي، بدايه او شتمنو ته د سخاوت توصيه کوي او دا پيغام ورکوي، چې په صدقه او ذکات سره مال نه کمېږي بلکې لا نور زياتېږي، لکه چې وايي:

خزانه په سخاوت سره زياتېږي

د کوهي اوبه چې وکاږې بسيارشي (۳۶۱:۴).

د دې خبرې ذکر کول هم اړين معلومېږي چې رحمان بابا د هغو پاچاهانو او واکمنانو د ظلم پر وړاندې هم غلی نه دی پاتې شوی او د خپل زړه درد يې د انساني کرامت او انسان پالنې په طرز وړاندې کړی دی که څه هم دغه آواز د هغه وخت حاکمو مشرانو ته متوجه دی مګر په عموم کې د هر چا لپاره دی که هغه په يو قوم حاکم وي او که هغه په يوه ټولنه، خو دی په عموم کې له داسې ظالم انسان څخه د ظلم اعمال کوي پنا وړي لکه چې وايي:

الغياث دی الغياث دی الغياث

چې انسان کا هسې ظلم په انسان (۲۳۸:۴).

دی بيا له داسې پېښو عامل او علت ته متوجه کېږي او وايي چې د دنيا سود او زيان را زېږدلې پيښې د خپلې انساني او معنوي عقيدې په رڼا کې غندي او د کرکې په توګه وايي:

هزار حيف دی چې دا هسې رنګه چارې

واقــع کېږي د دنيا په سود او زيان (۲۳۹:۴).

د رحمان بابا وينا ته که ځير شو نو دی په اصل کې د بې عاطفې انسانانو د عاطفې ويښولو له پاره د پېښې انځور او تصوير وړاندې کوي. دی نصيحت کوي چې د هر چا سره ښه کوه چې تاسره ښه وشي او له هيچا

سره بد مه کوه چې ته له بدو سره مخامخ نه شې چې دده دغه وینا په ټولنه کې د انسان د ښه ژوند د تېرولو لپاره یو ښه درس دی ځکه که چېرې ښه کوې نه څوک درته بده ورځ نه ګوري او نه درته بد رسوي او که بیا بد کوې نو خامخا چې موږ وایو هر عمل عکس العمل لري نو رحمان بابا هم وایي چې بیا ته هم له همدغو بد خبرو بدو پېښو سره مخامخ ګېدای شې دی وایي:

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه

چې همدا غشي به ستا په لور ګوزارشي (۳۵۹:۴).

بابا همداسې په چل او فریب سره هم د چا تېر ایستل د انسانیت سره پټه دوکه بولي او دغه عمل یې هم له پورته موضوع سره ورته معلومېږي، یعنې دی وایي که څوک په چل او فرېب سره غواړې دوکه کړې نو کیدای شي چې په همدغه لومه کې خپله ښکېل شې نو دی هم په ښکاره د بل چاسره بدچلند او هم په پټه هغه ته چل جوړل دواړه داسې بیان کړي که موږ دغه موضوع په اوسني ټولنیز ژوند کې وګورو داسې ډېرې تجربې را مخې ته کېږي چې یو څوک چاته چل جوړوي او بیا دی خپله پکې ګیرېږي، چې دغه موضوع رحمان بابا په څومره هنریت سره بیان کړې ده، چې وایي:

کوهې مه کنه د بل سړي په لار کې

چېرې ستابه د کوهي په غاړه لار شي (۳۵۹:۴).

رحمان بابا په ټولنه کې د سولې او امن نعمت له ټولنیز ژوند یو له مهمو ارزښتونو څخه بولي. دی پر سوله او امن مین او له جګړې څخه متنفر د انسانانو ترمنځ د مینې اوخوا خوږی پرګڼ ژوند ډېر ټینګار کوي. انسانان په ټولنیز ژوند کې سولې او مشورې ته را بولي د سولې ترچتر لاندې ژوند ته پر هرڅه ترجیح ورکوي:

زهر ښه دي که په سوله په صلاح وي

نه شکرې په فتنه او په غوغا (۵۹:۴).

**پایله**

د رحمان بابا شاعري په پښتو ژبه کې تر ټولو مقبوله شاعري ده، دا ځکه چې ده په ولسی ژبه شعر ویلی او ټول خلک دده په شعر پوهېږي او په اسانۍ سره ترې مطلب اخیستی شي. د رحمان بابا د شاعرۍ کوم مقام او منزلت چې په ټولنه کې محسوسیږي د قدر وړ او هر چاته معلوم او منل شوی دی. درحمان بابا د شاعرۍ لوړ مقام یو علت دا هم دی، چې ده د انسان د زړه په تار خپله نغمه غږولې ده او د انسان د درد کیسه یې بیان کړې ده، د انسان د مینې رشته یې قایمه ساتلې ده. که دده کلیات مطالعه شي نو د نورو موضوعاتو تر څنګ انسان او انسانیت پکې مرکزي حیثیت لري او دغې موضوع ( انسان او انسانیت) رحمان بابا ته نه یوازې په ادبي نړۍ بلکې په عوامو کې هم لوړ مقام او دوام بخښلی دی.

د رحمان بابا د شاعرۍ محور انسان دی، هغه انسان چې هر څوک دی، د هرې قبیلې، هرقوم، هرې طبقې، هر وطن، هر رنګ، هر نسل، هرې ژبې هرې فرقې، هر مذهب او هر ثقافت دی، رحمان بابا ورته مخاطب

دی، په انساني رشته د رحمان بابا په نظر کې یودی، د رحمان بابا شعر د هغه له پاره دی او د هغه د جذباتو، احساساتو او تصوراتو ترجمان، نماینده او عکاس دی، چې همدغې نظرېې او جذبې د رحمان بابا پېغام او مقام ته مقبولیت بخښلی دی.

لنډه دا چې د رحمان بابا د شاعرۍ عمومي فضا د انساني حسن او انساني مینې څخه جوړه ده. انساني عزت پکې په بنسټیزه توګه پالل شوی دی، چې همدغه ځانګړنه د هغه ( رحمان بابا) د کردار یوه داسې ځانګړنه ده، چې د شاعرۍ څخه یې هرڅوک خوند اخلي د هغه شاعري د هر چا ده، هر چاته پند دی او هر څوک یې خوښوي.

**وړاندیزونه**

۱. د رحمان بابا په کلیاتو کې د انساني خوا خوږۍ زیات شمېر نمونې شته، که را تلونکي کې دغه برخه کې کار وشي، دده کلیات وپلټل شي او شته نمونې یې تحلیل او تشریح شي؛ باور شته چې په ټولنه کې به د انسانانو تر منځ د ژوند تېرولو په برخه کې ډېر ګټور تمام شي.

۲. د رحمان بابا په کلیاتوکې د انسانانو د فکري لارښوونې ډېرې نمونې شته، خوکه څوک یې کلیات په ژوره توګه مطالعه کړي.

۳. که څوک غواړي، چې په واقعي توګه ژوند وکړي، او له ژوند څخه په تېښته نه وي، نو دغه برخه کې دې د رحمان بابا لارښوونې عملي کړي.

۴. د اوسنیو شرایطو او حالاتو غوښتنه ده، چې د رحمان بابا کلام او پیغام په دولتي او اولسي کچه خورکړل شي.

**اخځلیکونه**

۱. الفت، ګل پاچا. (۱۳۸۴). د ټولنې په جوړښت کې د اسلام نقش. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۲. الفت. ګل پاچا. (۱۳۹۴). اسلام او د اسلام نقش د فرد او جامعې په جوړولو کې. پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.

۳. ایوبي، محمد نادر. (۱۳۴۴). عرفان.کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه.

۴. بخاري، سید طاهر. (۲۰۱۶). تنقید او ادبي مفردات. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

۵. رحمان بابا. (۱۳۸۴). د رحمان باباکلیات. سریزه: خلیل، حنیف. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۶. رحمان بابا. ( ۱۳۹۶). د عبدالرحمن بابا دیون. سریزه: رسا، سیدرسول: پېښور: یونیورسیټي بک اجنسي.

۷. پښتو- پښتوتشریحي قاموس. (۲۰۱۲). ( لومړی- دویم- درېیم ټوک). میهن خپرندویه ټولنه.

۸. محمد، هوتک. (۱۱۴۱-۱۱۴۲). پټه خزانه. کندهار.

۹. راز، سلیم. (۲۰۱۳). رحمان بابا یوه فکري مطالعه. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

۱۰. رفیع، حبیب الله. (۱۳۸۸). رحماني خم. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۱. روهي، محمد صدیق. (۱۳۹۷). د ځېړنې لارښود.کابل: سروش کتابپلورنځی.

۱۲ . زیور، زیورالدین. (۱۳۸۹). د پښتوادبیاتو تاریخ( منځنۍ دوره). پېښور: میهن خپرندیه ټولنه.

۱۳. صمیم، محمد آصف. ( ۱۳۹۵). د رحمان بابا نومښود. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۱۴. ناګار، فضل ولي. (۱۳۹۷). رحمان پوهنه ( ماسټرۍ لیکچرنوټ). ننګرهار پوهنتون.

۱۵. نړیوال، رازقي. (۱۳۹۳). په پښتو ادب کې عرفاني پلوشې او مذهبي څرکونه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

# د څو رسنيز رپوټ جوړونې اصول

ليکونکی: پوهنيار عزيزالله صديق، شيخ زايد پوهنتون، ژورناليزم او عامه اړيکو پوهنځی، ژورناليزم څانګې استاد
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی محمد خان نيازی د ژورناليزم او عامه اړيکو پوهنځي استاد

**لنډيز:**

څو رسنيز رپوټ، د دوديز ژورناليزم په نسبت، نوی خپرنيز ژانر دی.څو رسنيز رپوټران، د يوې سوژې د پوښښ په موخه، بېلابېل خپرنيز توکي چمتو کوي. په دې سربېره، د دوديز ژورناليزم معيارونو، لکه رښتينولی، ځيرکتيا، توازن، باوري سرچينو او... ته په کتو پېښې رپوټوي. خو دوی د پېښو په پوښښ کې، له بېلابېلو خپرنيزو توکوڅخه لکه متن، انځور، غږ، ويډيو، ګرافيک او... کار اخلي. دې خپرنيزې بڼې، د رسنيزې ټکنالوژۍ او ټولنيزو رسنيو له چټکې ودې او د ټکنالوژۍ د دورې مخاطبانو له ذوقي ميلان سره سم پام وړ پرمختګ وکړ. د دې تر څنګ، ټکنالوژۍ ته، په اسانه او ارزانه توګه لاسرسی هم، د څو رسنيز رپوټ د پراختيا سبب شو. پورتني عوامل، د يادې خپرنيزې بڼې د توليد او خپراوي، اهميت په ډاګه کوي. همدارنګه، د دې څېړنيزې ليکنې موخه داده، چې په افغانستان کې د دوديز ژورناليزم پر ځای، څو رسنيز رپوټ د يوه غوره او اغېزمن بديل په توګه د ژرونالېزم لارويانو ته وروپېژني. په دې رساله کې، د څېړنې کتابتوني مېتود کارېدلی دی. د تېرو اړونداثارو، د هر اړخيزې مطالعې او ارزونې په پايله کې، هڅه شوې څو نوې تحليلي پايله لوستونکو ته په واک کې ورکړل شي او د افغانستان د ژورناليزم کريکولوم ته،څورسنيز رپوټ، د څرګندو دلايلو له مخې د يوه مضمون په توګه ورانديز شي.

**کليدي ټکي:** څو رسنيز رپوټ، دوديز ژورناليزم، د ټکنالوژۍ پېر، د مخاطب ذوق، د پيغام اغېز.

**سريزه**

وينو، چې ژورناليزم هم زموږ د ژوند او چاپېريال د نورو پديدو په شان په پوره چټکتيا او تېزۍ سره د ودې او پرمختګ پړاوونه وهلي او لا هم دا لړۍ همداسې روانه ده، که پرون يوازې اخبار ، راډيو او تلويزيون د خلکو د کنجکاوۍ حس مشبوع کولو؛ مګر نن سبا، چې.د اينټرنېټ او تخنيک عصر دی، دا ستونزه نه يوازې ذکر شوي توکي حل کولای نه شي؛ بلکې خلکو ته خسته کُن او د ستومانۍ لامل هم ګرځي دا ځکه، چې له يوې خوا چټک تخنيکي بدلونونه او مينوالو ته د پيغام د لېږد د لنډې او آسانې لارې لټول او له بلې خوا د مقابل لورې د بې ساري مصروفيت او د دوی له ذوق او علاقې سره په مطابقت کې د رسنيو اوړد او دوامدار بدلونونه

هغه لاملونه دي، چې موږ دې ته اړباسي څو د رسنیو په ډګر کې لازمې لارې چارې ولټول شي؛ څو دغې ستونزې ته مناسبه د حل لار پیدا شي؛ خو له نیکه مرغه یاد لاملونه ددې سبب شول، چې تر یوه حده پورې د انسان دې غوښتنو د څو رسنیز رپوټ په منځته راتګ سره یوه مناسبه لار پیداکړي.

د ژورنالیزم د غه ژانر د رواجي رپوټ پرخلاف د مخاطبانو د ژر او ښې پوهېدنې په موخه له ګرافیک، متن، غږ، انځوراو وېډیو څخه رامنځته شوی یو نوی ترکیب دی، چې مخاطبان له یوې پېښې څخه، ښه او په اغېزمنه توګه خبرولا شي.

په دې مقاله کې هڅه شوې ده، چې یاد مسایل د وخت او شرایطو مطابق تشریح کړو؛ اګرکه دغه لنډې څو کرښې لکه څنګه، چې په کار ده په هغه ډول ستاسې قناعت نه شي حاصلولای؛ ولې بیا هم که تاسې یې په زغم او حوصلې سره ترآخر پورې ولولئ له شک پرته، چې یوه اندازه تنده به مو پرې ماته شي.

## موخې

زموږ د مقالې د لیکلو بنسټیزې موخې دادي:

- په ژورنالیستیک ډګرکې د څو رسنیز رپوټ له ترویجولو سره آشناکېدل.
- په یاده برخه کې د وخت سپما او د تخنیکونو پېژندنه.
- له مخاطبانو سره د اغېزمنې مفاهمې په تګلارو پوهېدل.
- له خپلو تجربو،وړتیاوو او د نوي عصر له تکنالوژۍ څخه د مؤثرې استفادې بلدتیا.
- د ټولنې له هر ډول قشر سره اړیکه او د هغوی ستونزې په پام کې نیول.
- په یاده برخه کې ګرانو محصلانو ته د علمي موادو برابرول.
- د ټولنې د هر ډول قشر اود هغوی او د هغوی د ستونزو پېژندنه.

### میتود او مواد

په دې موخه ،چې د (څورسنیز رپوټ) ترعنوان لاندې دغه مقاله مو په سمه توګه بشپړه کړې وي، د خپلوعلمي او عملي تجربو ترڅنګ مو له بېلابېلو معتبرو کتابونوڅخه استفاده کړې ده، همدارنګه د مقالې د جوړښت او عنوان په اړه مو تر دقیق فکر وروسته د کتابخانه یي میتود پربنسټ د ضرورت وړ مواد را ټول او د مقالې په اوږدو کې مو ورڅخه په خپل خپل ځای کې ګټه پورته کړې ده.

**څورسنيز رپوټ**

څو رسنيز رپوټ د خبري رپوټ پراخه شوې بڼه ده، چې د پېښې د جزياتو په اړه مخاطبانو ته ترخبر ډېر معلومات وړاندې کوي، يا په بله وينا له متن، تصويرونو، کيپچرشويو وېډيوګانو، غږيزو ټوټو، جغرافيوي نقشو اوګرافيکي طرحو څخه جوړشوي رپوټ ته څو رسنيز رپوټ ويل کېږي.

که د پيغام په لېږد کې يوازې سترګې اوغوږونه په کار واچوو دا به د پيغام يوه ناتکميله محاوره وي. بهتره ده چې د بدن ټول حواس اوغړي مو د پيغام پرانتقال کې مصروف وي.

د پيغام انتقال په هغه صورت کې ښه ترسره کېدلای شي، چې هره رسنۍ په خپل ځای او نوبت سره خپله دنده په ښه ډول سره تر سره کړي، همدارنګه وايو چې تر ټولو ښه او په زړه پورې رپوټ څو اړخيز رپوټ دی کوم چې په هغه کې له متن، ويډيو، انيمېشن، نقشې سر بېره مناسبه ګرافيکي استفاد هم شوې وي. د خلکو مهم اوارين غږونه، اغېزناکه موسيقي اومربوط تصويرونه په کې په داسې توګه ځای پرځای شوي وي چې هريو يې بېل بېل پيغام ولري.پوهېږو، چې په دې ډول رپوټ کې د معمولي رپوټ له ټولو مؤثرو قوتونو څخه ګټه پورته کېږي له دغه ډول رپوټونوڅخه ډېری وخت د بحران پرمهال د هغو سازمانونو له خوانه استفاده کېږي،چې آزاد اوخپلواک وي.(۹:۴)

**د څو رسنيز رپوټ ځانګړتياوې**

په لنډه توګه د څو رسنيز رپوټ ارزښت، ګټې اوځانګړتياوې په لاندې ډول په ګوته کولی شو:

- څو رسنيز رپوټ د رواجي رپوټ په پرتله خوځله لنډ، اغېزمن او له ډېرو ګټورو صفتونو څخه برخمن دی، دا ځکه چې په رواجی رپوټ کې مينوال يوازې متن لولي، د پوهې د ټيټې کچې خاوندان يې صرف له غبرڅخه ګټه پورته کوي خو په څورسنيز رپوټ کې خلک، هم متن لوستلای شي هم يې وېډيو ويني او هم يې غږ اورېدلای شي، يا په بل عبارت د ړندو،کڼو او ګونګيانو ټولې ستونزې به کې په نظرکې نيول کېږي، د ړندو له پاره غږ، د کڼو له پاره وېډيو او دګونګيانو له پاره نقشې او نورې ګرافيکي طرحې اوحرکتونه هغه څه دي چې د رپوټ دغه ډول له نورو هغو نه بېلوي.
- مخاطبانو ته دا اختيار په لاس ورکوي چې کومه برخه يې انتخاب او له کومې برخې څخه يې ډډه وکړي.
- له کليشه يې توب او يو نواختۍ نه په کې ډډه کېږي، هره برخه له خپل ځان سره بېل پيغام لېږدوي بل دا چې مخاطب په ياد رپوټ کې د ستړيا احساس نه کوي او هرپاراګراف يې متنوع او زړه را ښکونې لري.
- بله ځانګړنه يې په (يوخطي) بڼه نه، ليکل دي، په داسې توګه بايد په رپوټ کې اړين توکي ځای پرځای شي ،چې هره برخه يې بېل بېل پيغام ولري.
- د رپوټ د (اولې برخې) او(دوهمې برخې ) پرځای د (هغې برخې) او(دغې برخې) په اساس ليکل کېږي چې د متن په اوږدوکې بايد په دې اړه وضاحت ورکړل شي.(۷۴:۱۹)

د څورسنیز رپوټ ډولونه

الف: خبریال محوره

ب: مسؤل مدیر محوره

په خبریال محوره څو رسنیز رپوټ کې خبریال په خپله له پېښې څخه انځور ترلاسه کوي، لازم غږونه له اړینو ګرافیکي توکو سره ګډوي او د اغېزمنتیا په موخه موسیقي ورسره مل کوي. په دې توګه وینو، چې دلته یوازې یو خبریال خپل خام خپرنیز توکي تر ټولو وروسته را ټولوي او د ځانګړیو ژورنالیستیکي مهارتونو نه په ګټې اخیستنې سره له یادو توکو څخه یو نوي ترکیب ترلاسه او په دې توګه څو رسنیز رپوټ برابروي.(۵۸:۳)

نو ویلای شوچې په دې ډول رپوټ کې د خبریال وړتیا اومسلکي پوهه هغه څه دي، کوم چې د یاد رپوټ په ښه او اغېزناکه توګه د تهیه کولو ضمانت کوي، له دې پرته شاید هغه څه په لاس را نه شي کوم ،چې زموږ موخه ده، په کار ده چې دا ډول رپوټ هغه کسان جوړ کړي چې له کافي پوهې او مسلکي وړتیانه برخمن وي.

په مسوول مدیرمحوره رپوټ کې د مسؤل مدیر له خوا موضوع د څو بېلا بېلو خبریالانو ترمنځ وېشل کېږي، د انځور له پاره عکاس د فلم له پاره فلم اخیستونکی او بل خبریال د مرکو(Interview) برابرولو له پاره ګومارل کېږي.(۱۲۲:۸)

د ګرافیک په برخه کې د نقشو او نورو ګرافیکي توکو د برابرولو له پاره کار ګومارل کېږي او کېدای شي، چې بل کس د ټیلفون په مټ د نورو اړینو اطلاعاتو راټولولو له پاره په کار وګومارل شي. په دې توګه د څوبېلابېلو ژورنالیستانو په مټ د راټولو شویو خامو موادو څخه بیا هم یو ښه څو رسنیز رپوټ برابرېږي او مسوول مدیر یې د یوه رپوټ په بڼه مینوالو ته وړاندې کوي.(۵۵:۲۱)

کله چې د ورځپانې له پاره رپوټ جوړوئ د رپوټ اړوند اطلاعات او مرکې او نور اړین توکي په لیکلې بڼه وړاندې کوئ که یې د ټلویزیون له پاره برابروئ، طبیعي خبره ده چې ستاسې رپوټ به یوازې د ټلوزیون په پرده وړاندې کېږي. په همدې توګه د رادیو له پاره هم ډېر فوکس په غږیزو اطلاعاتو کېږي؛ خو څو رسنیز رپوټ چې په وېبلاګ کې خپرېږي، ستاسې دا کار په حقیقت کې د راډیو، ټلوزیون، ورځپانې او نورو رسنیو له پاره د رپوټ برابرول دي.(۴۵:۴) اوس چې نړۍ وال جال د نړۍ تر هر ګوټ پورې رسېدلای دی ؛نو له دې فرصت نه په استفادې سره ډېری هغه کسان چې وېبلاګ کاروي، د دوی د وېبلاګونو یوه مهمه برخه څو رسنیز رپوټ جوړوي.

د رپوټ د تولید مرحلې

۱- موضوع انتخاب

د یوه څو رسنیز رپوټ له پاره باید یوه داسې سوژه انتخاب شي، چې څو اړخیزه بڼه ولري، په دې معنا، چې په داسې یوه موضوع باید کار وشي، چې حرکت په کې ځای پرځای شوی وي، داسې یو جریان ولري، چې وکولای

شو له ګرافیکي طرحو څخه په استفادې سره هغې ته لاښه وضاحت ورکړو، داسې شخص یا اشخاص په کې دخیل وي چې د هغوی له نقل قولونو او احساساتو څخه په مؤثره توګه ګټه پورته کړو او د هغوی له مربوطه ثبت شویو غږونو او وېډیو ګانو څخه استفاده وکړلای شو. معلومه خبره ده، چې د دغه ډول رپوټ چمتو کول د میز له شا څخه یوغیرممکن کار دی، نو په کار ده چې د برابرولو له پاره میدان ته ووځو او له سرچینو سره نېغ په نېغه اړیکه ټېنګه کړو.(۸۴:۴) په دې رپوټ کې مخاطب د لوستلو او اورېدلو د انتخاب صلاحیت لري چې له کوم ځای نه یې پیلوي او د خوښې وړ برخه یې کومه ده.(۲۵:۴)

هر یو په خپل ځای کې له پوره استقلالیت څخه برخمن وي، یا په بل عبارت پورتني توکي په خپلو کې د وصل او فصل قاعده ولري. که هر یو په جلا ډول سره ولولو او یا ورته غوږ شو نو له هره یوه بېل بېل اطلاعات ترلاسه کوو؛ خو په دې شرط چې توکي یې یو د بل تکمیلوونکې بڼه ولري.(۶۴:۷)

ددې ډول رپوټونو څرګندې بېلګې موږ په MSBC، C.N.N، Washington Post او NPR وېب سایټونو کې پیدا کړو ؛ مګر اصلي موضوع چې په یاد مو وي هغه داده،چې په یادو سایټونوکې سره له دې چې متن، عکس، ګرافیک، غږ او وېډیو شتون لري ولې د اخبارونو او مجلو په شان یې ترکیب یوشان دی او په غیر خطي (Non-linear) بڼه لوستل کېږي؛ خو یاد توکي هریو له ځان سره لري جلا خپل معنا.(۶۷:۴)

په کار ده،چې په دې وخت کې د (لومړۍ برخې)یا(دوهمې برخې) په فکر کې نه وو باید ( د دغې برخې ) او د (هغې برخې) په فکر کې وو، وروسته د څو رسنیز رپوټ د هرې برخې له پاره مناسبې رسنۍ په نظرکې ونیسو.(۸۹:۶) په دې معنا چې څو رسنیز رپوټ داسې برابرېږي چې هره برخه یې د یوې جلا خو له موضوع سره له اړونده مسایلو سره په تماس کې وي؛ یا په بل عبارت موږ ته په کار ده چې کار مو داسې تنظیم کړای وي چې د پېښې له بېلابېلو برخونه په مختلفو بڼو موضوع ترپوښښ لاندې ونیسو؛ مثلاً: په متن کې وایو چې په سالنګ کې د واورې د شویېدو له کبله څوتنه مړه شوي دي، په وېډیو کې د مړو کسانو جسدونه باید وښوول شي، په انځور کې باید د هغو ورانیو چې د پېښې له کبله را منځته شوي دی خلکو ته څرګند شي.(۳۴:۲)

په اصلي کار له پیلولو مخکې د موضوع په اړه ټول لومړني مواد باید راټول او د یوه ساده رپوټ په چوکاټ کې یې ځای پرځای کړئ، څو د هغوی له اړانې څخه په خپل وخت اوځای کې ضروري مواد انتخاب او د څو رسنیز رپوټ په بڼه یې ترتیب او تنظیم کړئ. یا په بله ژبه تر اصلي کار مخکې لومړنۍ مرکې مو باید ترسره کړې وي، نور اړین مواد مو برابر او په پوره اندازې سره هغه ګرافیکي طرحې چې د رپوټ په پوهاوي کې در سره مرسته کولای شي له ځان سره ولرئ او په دې توګه مو د احتمالي راتلونکو ستونزو او ننګونو له پاره په کافي اندازې چمتووالی نیولای وي. سربېره پردې د موضوع د مخینې په اړه هم باید ضروري مطالعه ولرئ.(۱۲۰:۲)

**۲- د نمونې(Model) جوړول**

له پیل وړاندې باید د کار نمونه (Model) جوړشي، ځکه که دغه کار تر سره نه شي له شک پرته کار به له ستونزو سره مخ شي، ماډل د انسانانو هغه فکري پلان دی، چې د کار له پیلولو مخکې یې په ذهن کې جوړوي، د کار په کولو او تر سره کولو کې آسانتیا راولي.(۱۷:۱۸) یا په بل عبارت دغه انځوریزه طرحه ستاسو سره مرسته کوي چې د خو رسنیز رپوټ برابرولو له پاره ذهني پلان په یو چوکات کې تنظیم کړئ، دا لومړنی پلان جوړونه کولای شي په لاندې برخوکې تاسوته ممده اوګټوره تمامه شي:

- هغو سرچینو ته په کتو چې تاسې یې لرئ عناصر تعریفولای شئ.
- رپوټ مو منظم کولا شئ.
- پوه به شئ ،چې د رپوټ د کومې برخې له پاره څه ډول رسنۍ انتخاب کړئ.
- په رپوټ کې احتمالي ستونزې معلوملا شئ.
- په کارکې مو اړینې سرچینې او ضروري وسایل ځانته معلومولای شئ.(۷۴:۵)

**عناصر تعریف کړئ**

لکه څرنګه چې مخکې مو وویل رپوټ په منظمو(غیرخطي) برخو ووېشئ، له غیرخطي برخو څخه موخه داده ،چې مخاطب مو باید مجبور نشي څو رپوټ داسې لکه څرنګه چې تاسو برابر کړی وي ولولي؛ بلکې مخاطب واک ولري ،چې په رپوټ کې د خپلې خوښې برخې انتخاب او له هغې ګټه پورته کړي؛ نو په دې لحاظ د مینوالو په نظر کې نیولو سره هرې برخې ته فکر وکړئ. دا کار به ستاسو سره له (خطي تفکر) څخه په لرې کېدو کې مرسته وکړي. (۱۱۴:۱۷)

۱) د موضوع ارزښت بیان کړي.
۲) د موضوع د اصلي شخصیت په ژوند رڼا واچوي.
۳) اصلي واقعیت او موقعیت بیان کړي.
۴) د یوه کار د ترسره کولو څرنګوالی وښایي.
۵) موافقان او مخالفان تشخیص کړای شي.
۶) بکرونډ ولري.
۷) اونور هغه مسایل،چې له موضوع څخه را وزي په کې ځای په ځای شوي وي.(۱۴:۴)

**رسنۍ وټاکئ**

په دې مرحله کې معلوم کړئ، چې د څو رسنیز رپوټ کومه برخه د کوم ډول رسنۍ له پاره مناسبه ده او موضوع د رسنیو کوم ډول په ښه توګه ارائه کولای شي، چې په لاندې توګه ورته اشاره کوو:

● **فلم:** د یوې پېښې ارائه کولو له پاره تر ټولو مهمه او مؤثقه وسیله فلم دی، د یوې پېښې د ویډیو په وراندې کولو سره مخاطبان د پېښې ځای او تل ته بیایي او ستاسو دکار مؤثق والی په اثبات رسوي کوښښ وکړئ چې په فلم کې مو په اصلي موضوع باندې تمرکز وشي. له بې ځایه، یو نواخته او خسته کنو صحنو له راوړلو څخه ډډه وکړئ.

● **غږ:** یوښه او اغېزمن غږ ثابتو انځورونو(Still images) او وېډیویي فلمونوته روح ښني، برعکس بد او نامناسب غږ یو فلم له اصلي حالت څخه تېت او بد معرفي کولای شي او په ساکنو انځورونو کې د شته حس د له منځه تللو لامل کېدی شي. غږ باید داسې ونه کارول شي؛ چې ستاسو کار ته زیان وا ړوي. له رواني لحاظه هغه غږونه مثمر اوکټور دي چې له موضوع سره په توافق کې وي له تراژیدوکوصحنو سره غمجنې نغمې ستاسې د کار مزیت ډېروي اوبرعکس له هغو صحنو سره چې د خوښیو له ولولو څخه ډکې وي امید بښونکې نغمې او غږونه د رپوټ اغېزمنتیامو یو پردوه سره زیاتوي.

● **انځور:** د څو رسنیز رپوت د مهمې برخې په توګه ساکن انځور تر ټولو په زړه پورې وسیله ده چې پرمټ یې مخاطبانو ته یو ښه احساس وراندې کېږي. سربېره پردې انځور د موضوع تر ټولو مهمې برخې په اړه ټینګار دی، له غږ سره په همغږی کېدو یې تأثیر یې لاپسې ډېرېږي، د ویډیو په ډول له نظره ژر نه تېرېږي، بلکې؛ په هغې باندې د ډېر وخت له پاره ذهن متمرکز کېدای شي. پوهېږئ چې یو انځور له زرو کلمو بهتردی؛ نوکوښښ وکړئ چې داسې انځور وکاروئ چې د ارزښت له مخې یې له وېډیو او غږ نه مقام ټیټ نه وي اوهمدارنګه باید ومتوجه وئ چې د پیغام او منځپانګې له نظره هم له هغوی سره په ټکرکې نه وي.

**نقشه اوګر افیک**

● دغه وسیله هم په څو رسنیز رپوټ کې خورا مثمره تمامېدای شي،چې په کې د موضوع اړوند ډېرمعلومات له دې لارې وراندې کېږي، هوایي او له سپوږمکۍ نه اخیستل شوي انځورونه هم پدې برخه کې کارول کېدی شي. په دې وسیلې سره کولای شئ چې د یوې پېښې څرنګوالي ته وضاحت ورکړئ.

● له ګرافیک نه په هغو ځایونوکې چې هلته د عکاسۍ د کامرې وړل مجاز نه وي کاراخیستل کېږي، تاسې به د محاکمو رپوټونه لیدلي وي هلته له ګرافیک نه ډېره ګټه پورته کېږي لامل یې دادی چې هلته د عکاسې کامرې ته اجازه نه وي نو همدا ګرفیک دی چې د مقابل طرف د کنجاوئ حس مشبوع کوي ډېرامکان لري چې رسنیو ته انځور ونه رسېږي خو د ضرورت له مخې زموږ دغه ستونزه د ګرافیک په مټ حل کېدای شي ګرافیک ستاسو د کار د ژورنالیستیک اړخ پیاوړتیا په ګوته کوي.(۵:۱۵-۱۶)

**د خامومواد و راټولول**

د څو رسنیز رپوټ دا مرحله ډېره مهمه او له سترپیا څخه ډک کار دی، خبریال اړ دی ،چې د کار ساحې ته لاړ شي او له خلکو سره مرکې ترسره کړي نور اړین مواد را ټول کړي، هغه ابزار او وسایل چې په دې برخه کې د خبریال له پاره ضرور دي دادي ،چې تاسې باید په خپلو وسایلو فکر وکړئ کله چې له چا سره په خپله سیمه او ښارکې مرکه کوئ او یا هم له خپل ښاره مو د بهر سفر تصمیم نیولی وي باید لاندې توکي له ځانه سره ولرئ:

- لپ ټاپ
- عکس اخیستلو کمره
- د فلم اخیستلو کمره
- لینز
- مایکروفو ن
- ریکا رډر
- ترا یپډ
- اضافي بطرۍ
- هیډفون
- مېموري کاردونه

باید خپل د کاربکس مو له ځان سره وي، په الوتکه کې سفرکولو په وخت کې باید د ضروري او اړینو توکیو بکس نه له ځان سره ولرئ.(۴۸:۱)

همدارنګه په دې اړه بل ځای بیا راغلي دي چې :

- که د عکاسی، فلمبرداری او غږ ثبتولو له پاره په یو وخت کې مناسبه موقع په لاس درځي، تاسو پورې اړه لري چې کوم کار لومړی سرته ورسوئ او په حقیقت کې تاسې د مهمې او په زړه پورې رسنۍ د ټاکنې واک لرئ.
- داسې پلان جوړ کړئ چې هم مهاله تاسې د کار ټولو وسایلو ته لاسرسی ولرئ.
- تل دېته آماده اوسئ چې د کار اړوند پېښه له لاسه ورنکړئ.
- د رپوټ اصلي او مرکزي ټکي همېش په یاد ولرئ، تر څو ورڅخه منحرف نه شئ.(۱۳:۱)
- کوښښ وکړئ چې له ټراییډ نه په ګټې اخیستنې سره د ویډیو د ټکانونو مخه ونیسئ
- د کمرې له مایکفرون څخه استفاده مه کوئ
- تل د بصري تنوع په فکر کې اوسئ وېډیو مو باید یو نواخته نه وي.
- له ښو حرکاتوڅخه ګټه پورته کړئ له شاټ نه بل شاټ ته د تګ په موخه باید خپل پروګرام له ځان سره ولرئ

**اېډېټ**

لومړني لاسته راغلي مواد تاسې ته ډېر اهمیت لرونکي دي؛ نو هغوی په لومړۍ، متوسط او په لږ اهمیت لرونکیو کتګوریو ووېشئ.

له سره یې وارزوئ او ځان ډاډه کړئ، چې تیار شوي مواد له لومړنۍ طرحې سره مطابقت لري؟ په دې مرحله کې د څو رسنیز رپوټ د هر عنصر په لاندې توګه فکر وکړئ. (۱۷۰:۱۹)

۱. فلمونه باید له یوې نه تردرې دقیقو پورې د ضرورت پرمهال له دوه څخه ترڅلورو دقیقو پورې.

۲. د یوه فرد څېره باید له څوثانیوڅخه زیات ثابته او یا د مرکې په حالت کې ونه ښودل شي او له ځنډ پرته یې باید موقعیت (بي رول) ته تغییر کړئ.(بي رول) هغو شاټونو ته ویل کېږي،چې د مرکې له موقعیته بهر موضوع موړ ته را ښيي، مثلاً: مرکه کېدونکی د مرکې پرمهال له مرکې نه بهر په یوه کار مصروف دی هغه په کامره کې راځي.(۸۹:۵)

۳. متن، انځور اوغږ باید داسې جوړشي ،چې په خپل منځ کې یې تناقص وجود ونلري.

۴. د پورتنیو مراحلوتربشپړولو وروسته مو خپل رپوټ نشرته وسپارئ.

**پایله**

د یویشتمې پېړۍ د عصر او ایجاباتو مطابق څو رسنیز رپوټ د ټولو ژورنالیستیکو توکو لکه متن، غږ، ویډیو، نقشې او ګرافیک هغه ترکیبي خبري مجموعه ده، چې هره برخه یې مینوالو ته په ډېر کم وخت کې بېل او ځانګړی مفهوم، خو په عین زمان کې واحد پیغام رسوي. منځپانګه یې په غیرخطي بڼه مینوال له خپل ځان سره مصروف ساتي، چې تر ټولو مهم عنصر یې اینټر نېټ دی.په دې رپوټ کې مقابل لوری(لوستونکي، اورېدونکي او لیدونکي) مجبور نه دی، چې له سره تر پایه پورې ټول رپوټ په سلسله واره توګه تعقیب کړي؛ بلکې کولای شي،چې کومه برخه یې په زړه پورې وي هغه ولولي او یایې هم تماشا کړي. موږ کولای شو، چې د اینټرنېټ ،کمپوټر او ځیرکو ګرځنده تیلفونونو په مټ څو رسنیز رپوټ ته په موټر،ریل بېړۍ، دښتې، بیابان، کور او دفتر کې لاسرسی پیدا او ګټه ورڅخه پورته کړو، څو له یوې خوا مو وخت سمپاکړی وي له بل پلوه له یوې پېښې نه په پوره تفصیل سره ځانونه خبر کړو.

**وړاندیزونه**

- د بې ساریو مصروفیتونو اود وخت غوښتنو ته په پام سره باید د ژورنالیزم دې ژانر ته لازمه توجه وشي؛ ځکه چې نن سبا ډېری انسانان هغه څه خوښوي کوم چې دوی ته جالب، لنډ اوپه زړه پورې وي، له خسته کُن او اوږدوکلیشه یي خبرو سره خلک علاقه نه لري.
- په افغانستان کې د ژورنالیزم پوهنځي باید د یوه مستقل مضمون په توګه ذکرشوې موضوع ته خپله توجه واړوي.

- څرنګه ،چې وویل شول، یاد رپوټ د څوبېلابېلوتوکیوڅخه یوه نسبتاً نوې ترکیبي تجربه ده؛ نو په دې خاطر باید د یادې پدیدې ژورنالیستان په تولواړینو وسایلوکې د کافي تجربې لرونکي وي، له دې پرته د دوی کار به هغه مطلوبه پایله ونه لري کومه ،چې دوی له وړاندې د خپل کارموخه ګرځولې وه.
- له نېکه مرغه نن سبا(Smartphone) هم په دې برخه کې د استفادې وړدی؛ خود کیفیت له مخې، د سېیوکار اود پورتنیو اړینووسایلو کارول به ستاسو د کار پایله مطلوب لوري ته سوق کړي؛ نو کوښښ باید وشي چې د څو رسینز رپوټ تولې چارې په مسلکي او د سېیو له وسایلوڅخه په استفادې تر سره شي.

**مأخذونه**

۱. استین، بانیک.(۱۳۸۹). روزنامه نگاری پس از اینترنیت. ترجمه مینوخان.

۲. ایوبي، محمود. (۱۳۹۴). تکنیک های تازه خبرنگاری. تهران: مؤسسه جام جم.

۳. ایران نژاد، هوشنگ. (۱۳۸۷). گذری بر روند روزنامه نگاری امروز. تهران: بیکران.

۴. بهبهاني، اسد. (۱۳۹۹). جهان جدید روزنامه نگاري. تهران.

۵. پری، راجر. (۱۳۹۳). تاریخ رسانه ها ازگیلگمش تا گوگل. ترجمه بهروز نوراني. تهران: انتشات ایران.

۶. جیم، جیمزیان. (۲۰۰۸). خبری بر روایت همه. ترجمه سعدآبادی. تهران: انتشارات ایران.

۷. خرمي، محمد امین. (۱۳۹۴). روزنامه نگاري و وبلاگ نویسي. تهران: ثانیه.

۸. خنجی، امین. (۱۳۹۷). سفری به جهانی مجازی. تهران: ثانیه.

۹. درویشیان، ابراهیم. (۱۳۹۸). ازجهان خبرهای مجازی. تهران: ثانیه.

۱۰. دوران، محمد الیاس.(۱۳۹۶). څورسنیز رپوټ.سمون خپرندویه ټولنه

۱۱. سلطان آبادی،محمود.(۱۳۹۰). روزنامه نگاری نوین و وبلاگ نویسي.تهران:ثانیه.

۱۲. شکرخواه،یونس.(۱۳۹۷). روزنامه نگاری سایبری.تهران: ثانیه.

۱۳. شریفي.علی رضا.(۱۳۹۹). ژورنالیسم تازه.تهران:مؤسسه جام جم.

۱۴. ظریفی،محمد شریف.(۱۳۹۸). روزنامه نگاری چند رسانه یی.تهران ثانیه.

۱۵. فوسټ،جیمزی.(۱۳۹۱). آنلاین ژورنالیزم. ترجمه سید باقرحسین.کابل: مطبعه تعلیمي نبراسکا.

۱۶. ون دن هاک،ان ماری.(۱۳۹۷). ارتباطات بحران دررسانه های اجتماعي .ترجمه عباس رضایی ثمرین.تهران:ثانیه.

۱۷. نیازی، محمدخان.(۱۳۹۴). د ارتباط ماډلونه، شیخ زاید پوهنتون (پوهنیزه مجله) اوومه دوره، څوارلسمه ګڼه.

۱۸. نیازی، محمد خان.(۱۳۹۸). رتباط. دانش، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۹. هوشنګ، کاوه.(۱۴۰۰). جهان اطلاعات.تهران: بیکران.

۲۰. یاری، اسماعیل.(۱۳۹۹). جهان امروزی رسانه ها ،تهران:ثانیه.

۲۱. یاوري، مجید.(۱۳۸۸). درآستانه انقلاب رسانه یی.تهران: انتشارات ایران.

۲۲. یزدی، محمد حسین.(۱۳۹۰). تقاضای عصرارتباطات.تهران:ثانیه

۲۳. یونس،کاظمیان.(۱۳۹۹). ازلابلای روزنامه نگاري آنلاین.تهران

# په اسلامي شريعت کې د تألیف حق

ليکونکی: پوهنيار غلام الله احمدي، شيخ زايد پوهنتون، د شرعياتو پوهنځي د اسلامي ثقافت څانګې استاد
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی زرولي صديقي د ټولنيزو علومو پوهنځي استاد

**لنډيز**

دا چې تاليف او تصنيف د هرې ټولنې يو معنوي ارزښت ګڼل کيږي؛ له دې امله يې حقوق هم د ليکوال معنوي او مادي برخه جوړوي ، په اسلامي شريعت کې د تاليف حق د هغه حقوقو څخه عبارت دی چې يو ليکوال ته په ځانګړې او شرعي ډول په خپله ليکنه کې ثابت وي، لکه د دغه ليکنې خپل ځان ته منسوبول، تصرف پکې کول، ليکنې ته د ګواښ متوجه کيدو پر مهال ترې دفاع کول او مالي منفعت يې اخيستل... پدې اساس اسلامي شريعت د نورو حقوقو تر څنګ د تاليف د حقوقو هم ساتنه او حفاظت کړيدی، چې د تيري کوونکي د تيري څخه يې ساتنه وکړي، چې له مخې يې هر مؤلف وکولای شي د خپلې ليکنې څخه د هر ګواښ په وړاندې دفاع وکړي، ياده موضوع يوه کتابتوني څېړنه ده چې له مخې به يې لوستونکي د شريعت له نظره د تاليف او مؤلف حقوق په تفصيل سره و پيژني، ياده ليکنه په اثبات رسوي، چې هره ليکنه د ليکوال معنوي حق دی او لکه د مادي حقوقو يې پر هغې تيری منع کړی دی، پدې کې هر ډول تصرف او د هغې څخه ګټه اخيستل د ليکوال له ثابتو حقوقو ګڼل کيږي چې هيڅ ډول زماني او مکاني محدوديت نه لري، د بل چا لخوا د يو ليکوال په ليکنه کې تصرف کول ادبي غلا ده او شرعا حرام ګڼل کيږي.

**کليدي ټکي**: اسلامي شريعت، تاليف، شرعي حق، د مؤلف حقوق، ادبي غلا.

**سريزه**

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلَّ له، ومن يضلل فلا هاديّ له، وأشهد أن لّا إله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.
اسلامي شريعت يواځينی اسماني دين دی چې د ژوند ټولو چارو ته زرګونه کلونه پخوا او هم د نن عصر ټولو پيښو ته شامل دی، او دهر دور او زمانی سره مطابقت لري، داسلام د دراتګ دلومړۍ ورځې نه تر ننه پورې داسې يوه قضيه نشته چې په اسلامي شريعت کې ورته جواب او دحل لاره نوي؛ اګر که دوخت په تيريدو سره په حالاتو او ظروفو کې تغير راځي، اسلامي شريعت چې چاته کوم حقوق ورکړيدي هغه يې محفوظ کړي او په هغې يې تيری او تجاوز منع کړيدی.

ددغه حقوقو څخه چې شریعت پرې اقرار کړیدی یو د تالیف حق دی، تالیف او حقوق یې د هغه موضوعاتو څخه دي چې داسلامي امت لپاره ډیر اړین او خورا مهم دي ځکه چې، داسلامي شریعت حفاظت او ساتنه د تصنیف او تالیف پورې اړه لري، د تالیف حق دچا لپاره ثابت دی؟ او څه ډول حق دي او په نورو کومو حقوقو مشتمل دی؟ داموضوعات به پدې لیکنه کې ان شاء الله دځیړنې لاندې ونیول شي، البته پدې اړه په پښتو ژبه مستقله لیکنه شتون نه لري خو په عمومي لحاظ دا موضوع د معنوي ملکیتونو اړوند لیکل شوي کتابونو کې شتون لري،لکه: حماية المقررة لحقوق المؤلفين الادبية د عبد الله المبروک لیکنه،حق الابتکار د فتحی دریني لیکنه، حقوق الاختراع والتالیف فی الفقه الاسلامي د حسين ابن معلوي الشهراني ليكنه، فقه النوازل د بكر بن عبدالله لیکنه،دغه لیکنې په عربي ژبه دي او زما لیکنه به په پښتو ژبه وي، الله رب العزت دی ماته توفيق راکړي چې په احسنه طريقه دخپل وس او توان مطابق دموضوع اړوند اړين مسائل وڅیړم.

**دلیکنې موخې**

ددې لیکنې اهداف په لاندې ډول دي:

۱ ـ د تالیف او حق لغوي او اصطلاحي معنی پیژندل.

۲ ـ په اسلامي شریعت کې د مؤلف د حقوقو اثبات.

۳ ـ د تالیف دحقوقو انواع پیژندل.

۴ ـ د یو مؤلف په حقوقو د تجاوز شرعي حکم.

**دځیړنې دټاکل کیدو څخه دستونزو حل**

څیړونکی به په دغه بحث کې لاندې پوښتنو ته ځواب ووایې:

۱: حق څه ته وایی؟

۲: دتالیف حق څه شی دی ؟

۳: مؤلف ته په خپل تالیف کې کوم ډول حقوق ثابت دی؟

۴: د تالیف ادبي حق څه ته وایي او د ثبوت دلایل یې څه شی دي؟

۵: د تالیف مالي حق څه ته وایي او په کومو دلایلو ثابت دی؟

**د تالیف پیژندنه**

**د تالیف لغوي پیژندنه**

د (تالیف) په کلمه کې همزه، لام او فاء توري د صیغې اصلي توري دي چې مجموعه یې (اَلَفَ) جوړیږي د یوځایوالي او انضمام په معنی سره راځي، یعنی دیو شي یوځای کیدل دبل شي سره، یا د ډیرو شیانو د یوبل سره جمع کیدل او یوځای کیدل دي.

او (تالیف) د تفعیل په وزن سره د اَلَفَ مصدر دی دیو ځایوالي په معنی سره دی، عرب وایی: (اَلِفَ الطائر الوکر) اذا انضمَّ الیه. ژباړه: مرغه د خپلې ځالې سره یو ځای شو او که اَلَفَ د باب تفعُّل څخه شي بیا یې هم معنی یوځای کیدل دي، لکه عرب وایې: تألف القوم، خلک راجمع شول او د یو بل سره یې مینه وکړه؛ نو هرهغه شیان چې بعض د بعضو سره یو ځای شي تالیف بلل کیږي، د همدې پر أساس دکتابونو لیکلوته هم تالیف ویل کیږي؛ ځکه د کتاب په لیکنه کې هم بعض لیکل د بعضوسره یو ځای او جمع کیږي.(۲۸: ۱۸۰)

### د تالیف اصطلاحي پیژندنه

د تالیف اصطلاحي معنی د لغوي معنی څخه لرې نده؛ بلکې یو بل ته ورته والی لري، کله چې د لغت علماء د تالیف کلمې د معنی وضاحت کوي؛ نو وایی چې په دغه معنی کې د کتاب لیکل او راجمع کول هم داخل دي لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول؛ نو تالیف یا مؤلَف کتاب ته ویل کیږي چې د مختلفو علومو څخه پکې مسائل راجمع شوي وي.( ۸۲:۱۱)

د کتاب تالیف داسې تعریف شویدی: بعض لیکل د بعض نورو سره په حروفو،کلماتو او أحکامو سره یوځای کول تالیف بلل کیږي. (۹۲:۱۴)

او ځینې علماء تالیف داسې تعریفوي: د ډیرو شیانو پداسې شان سره یو ځای کول چې د یو نوم اطلاق وربانديې وشي برابره خبره ده چې د عبارتونو تر منځ یې په تقدیم او تاخیر کې د مناسبت لحاظ ساتل شوی وي اوکه نه تالیف بلل کیږي. ابو البقاء وایې چې د دوه یا زیاتو شیانو په مناسبت اوترتیب سره یو ځای کولوته تالیف وایی. (۸۹:۲۶)

د بحث او کتاب په لیکلو هم د تالیف اطلاق کیږي؛ ځکه چې لیکوال او مؤلف مختلف معلومات په تناسب او ترتیب سره را جمع کوي، او کتاب ته مؤلَّف ځکه وایې چې په کتاب کې داسې معلومات راجمع وي چې د یو معین علم سره تعلق او رابطه لري. ( ۹۴:۱۰)

### د حق پیژندنه

### د حق کلمې لغوي پیژندنه

په عربي ژبدود کې د حق کلمه د حقوق او حِقاق څخه مفرد دی، په مختلفو معنی ګانو سره راځي چې مونږ دنمونې په شکل یو څو مشهوري معنا ګانې ذکر کوو.

۱ـ حق د باطل ضد ته ویل کیږي لکه په تلبیه کې ویل کیږي (لبیک حقاً حقاً ) ژباړه: تا ته حاضر یم ای ربه ته حق ذات یې باطل نه یې.

۲ـ همدارنګه حق اسلامي شریعت ته ویل کیږي کوم چې د الله تعالی له لورې په رسول الله صلی الله علیه وسلم را نازل شویدی، الله تعالی فرمایي: (بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْباطِلِ).(الانبیاء: ۱۸)

ژباړه: بلکې ویښتل کوو مونږ په حق سره په باطل باندې.(۱۳۷:۱۳).

۳ـ د ثبوت او وجوب په معنی سره هم راځي لکه عرب وایې:( حَقَّ الأَمرُ حَقّاً وحُقوقاً: صَارَ حَقّاً وثَبت)

ژباړه: دغه کار ثابت شو، ای: واجب شو،الله تعالی فرمایی:( قالَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ)( القصص: ۶۳)

ژباړه: وبه وایې هغه کسان چې حقه ثابته شوی ده پر دوی خبره(دعذاب) اور ته په داخلیدو سره. (۵۲۱:۱۳)

۴ـ حق د رښتیا په معنی سره هم را ځي لکه عرب وایې (صدَّق قائلَه) یعنی ددغه قول ویونکی رښتونی دی، همداراز دیقن په معنی سره هم راځي، اودیته ورته نورې معناوې هم دلسان العرب مصنف ذکر کړیدي.(۴۹:۲۹)

او د مقاییس اللغة کتاب مصنف وایې: چې د حاء او قاف تورو اصل یو دی، دیو شي د صحت او کلکوالي معنی پکی پرته ده او حق د باطل ضد ته وایې. (۱۵:۱۸)

او د قاموس المحیط مصنف وایې: چې حق د الله تعالی د نومونو څخه یو نوم یا صفت دی او د باطل ضد ته وایې،همدارنګه هغه کار ته چې فیصله یې شوي وي همدرانګه د عدل، اسلام، مال، ،ملکیت، موجود، ثابت، رښتیا، او مرګ په معنی سره هم راځي.(۲۶۴:۲۱)

**د حق کلمی اصطلاحي پیژندنه**

فقهاو د حق کلمه په مختلفو تعبیراتو سره استعمال کړیده؛ ځکه دا کلمه هرډول حق ته شامله ده لکه عیني حق، دَین، منفعت، ولایت، اوداسې نور،په همدې وجه فقهاو دحق کلمې مختلف تعریفونه کړیدي د دغه تعریفاتوڅخه مونږ یو څو تعریفونه رانقلوو او بیا غوره تعریف په نښه کوو.

۱ـ بدر الدین عیني رحمه الله وایې: هغه څه چې یو سړی یې حقدار ګڼل کیږي د حق څخه عبارت دی.(۳۸۶:۱۷)

۲ـ حق د انسان او یو شي تر منځ د شرعي اتصال او تعلق څخه عبارت دی چې دا شخص پکې په تصرف کولو کې ازاد وي، او بل د تصرف کولو څخه منع کوي.(۹۶:۱۵)

۳ـ حق د هغه مصلحت څخه عبارت دی چې شارع د فرد او ټولنې یا د دواړو لپاره ثابت کړی وي.(۲۱۱:۲۵)

۴ـ هغه څه چې په اسلامي شریعت کې د الله تعالی لپاره په بندګانو ثابت دي او د یو انسان لپاره په بل باندې ثابت وي حق بلل کیږي .(۹۸:۱۶)

په ذکر شوو تعریفاتو کې دومره توپیر نشته هریو د حق تعریف دی؛ ځکه چې د حق معنی ورته شامله ده، خو کوم فرق چې لیدل کیږي سبب یې دا دی چې بعض علماؤ حق د مو ضوع له مخې تعریف کړیدی؛ نو ویلي یې دي چې دا مصلحت او ثابت دی، چا صاحب دحق ته کتلي دي نو ویلي یې دي چې حق تسلط او اختصاص دی او بعضو دحق ارکانو ته کتلي دي؛ نو ویلي یې دي چې حق د انسان اومال ترمنځ علاقه ده؛ خو په دغه تعریفاتو کې غوره تعریف د شیخ ابو سنة دی چې ویلي دي: هغه څه چې د الله لپاره په بندګانو ثابت دي اویا

د یو بنده په بل ثابت دي حق بلل کیږي، دا تعریف؛ ځکه غوره دی چې د حق د لغوي معنی سره یې تعلق دی؛ځکه حق په لغت کې د ثبوت او وجوب په معنی سره راځي.(۱۱: ۲۶.۲۵)

**د تالیف حق پیژندنه**

اګر که مخکې د تالیف اوحق تعریفونه جدا ګانه ذکر شول چې دیته ترکیبي تعریف ویل کیږي؛ لیکن اوس یې لقبي تعریف هم کوو تر څو موضوع ښه روښانه شي.

د تالیف حق عبارت دی د هغه حقوقو څخه چې یو عالم او لیکوال ته په ځانګړې او شرعي ډول په خپله لیکنه کې ثابت وي، لکه د دغه لیکنې خپل ځان ته نسبت کول ، که کوم ګواښ ورته متوجه وي هغه ترې دفع کول، او تصرف پکې کول، او مالي منفعت یې خپل ځان ته خاص کول چې د ده د روا کړنو په پایله کې ده ته رسیږي.

د تالیف حق د معنوي حقوقو د جملې څخه دی، او دا ډول حقوق خپل مالک ته چې مؤلف دی دا حق ورکوي چې د خپل فکري هڅو او کوششونو ساتنه او حفاظت وکړي، او همدا رنګه خپل ځان ته یې منسوب کړي، او هغه ګټه چې د کتاب په نشر ولو کې پلاس راځي د ځان لپاره وګرځوي. (۵۵:۱۰)

**د تالیف ادبي حق پیژندنه او حکم**

**د تالیف ادبي حق پیژندنه**

د تالیف ادبي حق د تالیف د معنوي حقوقو له جملې څخه ګڼل کیږي او هغه مسائلو ته شامل دی چې لیکونکې پورې رابطه لري، دا به د مؤلف شخصي امتیاز وي؛ ځکه چې دده د ذهني او فکري هڅو او کوششونو نتیجه ده، دا حق د خپل مالک پورې متصل وي په ژوند اومرګ ترې نه جدا کیږي؛ ځکه هغه څه چې ده په خپل فکر اوسوچ سره راجمع کړل ده ته به یې دخپل بچي په څیر نسبت کیږي، که دا شخص مړ وي که ژوندی؛ خو دبچی نسبت ورته کیږي؛ نو همدغه رنګه به د دغه تالیف نسبت هم ده ته کیږي.(۱۱:۱۱۰)

د تالیف دادبي حق لپاره مختلف تعریفونه علماؤ کړي دي خو جامع او مانع ندي؛ بلکې هغه تعریف چې د تالیف ادبي حق راپیژني هغه د دکتور عبد الله مبروک تعریف دی نو موړی وایې:

هغه ادبي ځانګړتیاوي چې د تصنیف په برخه کې د یو عالم او لیکوال په کوششونو او هڅو باندې مرتب کیږي، دا لازموي چې د دې نسبت دې خپل مصنف ته وشي او هغه څه چې یې لیکلي دي د هغې قدر او احترام کول، په تعدیل او تهذیب کې د هغې د حقوقو ساتنه کول (۲۸:۳۰)

پدې تعریف باندې دانیوکه شویده، چې په تعریف کې دعالم لفظ ذکر دي او دا یوائې د شرعي علومو لیکنو ته شامل شو، که چیرې دعالم پرځای د مؤلف لفظ راوړل شوی وی؛ نو د عصري علومو لیکنوته به هم شامل شوی وی.

که مونږ وغواړو چې نوموړی تعریف تصفیه او تهذیب کړو؛ نو دتالیف ادبي حق په لاندې ډول تعریفوو: د لیکنې هغه غیر مالي اختصاصات او ځانګړ تیاوې چې د مصنف په هڅه اوکوښښ مرتب کیږي، دا ایجابوي چې د دې نسبت دې خپل لیکونکې ته وشي او هغه څه چې پکې لیکل شوي دي د هغې دې احترام وشي او په تعدیل او تهذیب کې دې دده د حق ساتنه او حفاظت وشي. (۱۱۲:۱۱)

**د تالیف ادبي حق حکم**

په مخکې مطلب کې د تالیف ادبي حق تعریف شو، چې د یوې لیکنې په وجه مؤلف یا مصنف ته ثابت دي؛ ځکه چې دغه لیکنه دده دافکارو او ذهن نوښت دی او دده په هڅه منځ ته راغلی ده او دده شخصیت په ډاګه کوي همدارنګه دده د ذهن ثمره ده، په همدې وجه مؤلف کولی شي چې هر ډول تصرف پکې وکړي او ضرر ترې دفع کړي، دغه تصرف او حفاظت د خپلې لیکنې په اړه دده شرعي حق دی ګڼه او تاوان یې دواړه دده دي (۱۰۲:۱۵)

دکتور یوسف القرضاوي رحمه الله د تالیف په اړه وایي: تالیف او کتاب د مؤلف ملکیت دی، په همدې وجه یې مؤلف ته نسبت کیږي او پدې باندې ورسره دخطاء په صورت کې حساب کیږي، او دا د ده علمي او ادبي ملکیت دی، دا خو یو داسې شی دی چې ټول امت پرې په مدني قوانینو کې اقرار کړیدی. (۸۳:۲۳)

هرکله چې تالیف د مؤلف لپاره شرعي حق ګڼل کیږي؛ نو اسلامي شریعت د خلکو د حقوقو ساتنه او حفاظت کړیدی د مؤلف لپاره په خپل تالیف کې تصرف کول روادې، او د ده په دغه حق باندې تیری کول جائز نه دي، د دې ډول حقوقو ساتنه په اسلامي شریعت کې په لاندې اعتباراتو سره شویده.

۱ـ انسان د خپل قول او عمل په وړاندې شرعا مسؤل ګڼل کیږي او د اقوالو او اعمالو په وجه په دنیا او آخرت کې د ثواب او عقاب مستحق ګڼل کیږي؛ نو همدارنګه تالیف هم اقوال او اعمال دي او نسبت یې مؤلف ته کیږي او د ده د شخصیت ښکارندویې کوي، او دی یې مسؤلیت په غاړه لري؛ نو ځکه یې فایده او ضرر هم دده دی. (۱۱۹:۱۱)

کله چې ثابته شوه انسان د خپلو اقوالو او افعالو مسؤل دی پدې باندې ډیر دلایل شتون لري چې د نمونې په طور یو څو ذکر کوو.

۱ـ الله تعالی فرمایی: {وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا}. ( الاسراء: ۳۶)

ژباړه: او د هغه کار پیروي مه کوه چې تاته پرې پوهه نوي، هغه قول وي او که فعل، بیشکه چې د غوږ، سترګه او زړه ددغه دریواړو څخه به په قیامت کې پوښتنه کیږي، چې تا په دنیا کې ولې ګناه کوله. (۱۶۲۴:۲)

آیت پدې باندې دلالت کوي چې هرهغه څه چې انسان یې تر سره کوي او دده څخه صادریږي دا یې مسؤلیت په غاړه لري.

۲ـ {مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ }. (ق: ۱۸)

ژباړه: نه وایې دغه بنده هیڅ خبره مګر دده سره ساتونکې حاضر او تیار وي چې ژر یې ولیکی. (۱۲۲۵:۱۳)

دا آیت هم پدې دلالت کوي کوم څه چې د انسان څخه صادریږي خبره وي که عمل د ده پسې لیکل کیږي او ده ته یې نسبت کیږي چې بیا به ورته پرې ثواب او عذاب ورکول کیږي. (۳۷۱:۲۴)

۳ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (إِنَّ العَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللَّهِ، لاَ يُلْقِي لَهَا بَالًا، يَرْفَعُهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَاتٍ، وَإِنَّ العَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ، لاَ يُلْقِي لَهَا بَالًا، يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ) (۱۰۱:۳)

ژباړه: د ابو هريرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: یقیناً یو بنده به داسې یوه خبره وکړي چې الله ته به خوښه وي او دی به پرې باک نه کوي (یعنی معمولی به ورته ښکاري)خو الله به پرې ده ته لوړې درجې ورکړي، او یو بنده به داسې یوه خبره وکړي چې الله به پرې په قهر او غصه کیږي، دی به پرې باک نکوي (معمولي به یی ګڼي)؛ نو الله به یې پرې جهنم ته ګوزارکړي.

دغه حدیث پدې دلالت کوي چې کوم انسان کومه خبره وکړي نسبت یې همده ته کیږي نفع او ضرر یې دواړه د ته متوجه دي، په حدیث کې خبره مطلق ذکرده سوچ او فکر ورسره وي او که نوي خو ویونکي ته یې منسوبه ده او دغه یې جزاء ده،که چیرته دغه خبره په سوچ فکرسره وشی او په عقل سره ډیره زمانه تلل شوي وي نو بیا خو یې په طریق اولی سره نسبت خپل ویونکې ته کیږي.(۳۱۱:۷)

پدې اړه ډیرزیات دلایل شتون لري؛ خو پدې لیکنه کې همدومره بسنه کوي.

۲ـ اسلامي شریعت مؤلف ته د تالیف ادبی حق ثابت کړی؛ څکه چې دا دده د کوښښ او هڅو ثمره ده او د انسان پداسې حقوقو اقرارکوي او دده کامل حق یې ګڼي ، لکه څرنګه چې د ده په نورو حقوقو کې ده ته د تصرف اجازه ده نو پدې حق کې یې هم لري،

کله چې تالیف د انسان د هڅو او کوښښ ثمره ده؛ نو دا دده شرعي خالص حق ګڼل کیږي دی به یې ساتنه او حفاظت کوي، همدارنګه کله چې په لاس سره د جوړ شوي شي نسبت خپل مالک ته کیږي او د مالک ملکیت او حق ګڼل کیږي؛ نو د ذهنی هڅو په نتیجه کې حاصل شوی تالیف وغیره خو په طریق اولی سره د مؤلف حق دی.(۱۷۰:۴).

۳ـ اسلامي شریعت د ځانګړې ملکیتونو ساتنه ،احترام او پدې د تیري څخه د منعي ذمه واري په غاړه اخیستلی ده، نتیجه داشوه چې هرڅوک دخپل حق څخه ددفاع حق هم لري، پدې سلسله کې د تالیف حق هم شرعاً شامل دی، چې نسبت به یې مالک ته کیږي او هم به د دې ساتنه کیږي او دفاع به ترې کیږي. (۱۲۶:۱۱)

**د تالیف ادبي حق لاندې شیانو ته شامل دی**

**الف: د نسبت حق**

هرهغه څه چې یو مؤلف په خپل فکر او سوچ سره راجمع کړي وي باید نسبت یې یوازې هم ده ته وشي او د چاپ او نشر پر مهال پرې د ده نوم او شهرت ولیکل شي، همدارنګه هغه وخت چې د ده له کتاب څخه اقتباس او استفاده کیږي هم د دغه عباراتو نسبت به د ده لیکنې ته کیږي؛ ځکه چې دا د ده حق دی. (۱۶۴:۴)
او د نسبت حق په وجه مؤلف ته د لیکنې نورادبي اومالي حقوق هم ثابتیږي او دې حق ته معاصر علماء د پلارولۍ حق وایې، د دې وجه داده لکه څرنګه چې دبچي نسبت پلار ته دیو قوي علاقې په وجه کیږي؛ نو همدارنګه مؤلف ته هم د دغه تالیف نسبت کیږي؛ ځکه داهم د ده د ذهن او فکر لاسته راوړنه ده. (۱۵۷:۱۱)

**ب: د نشر د اجازې حق**

د یو مؤلف لپاره په خپله لیکنه کې د نشرولو د اجازې حق ثابت دی، چې نشر شي او که نه؟ یا په کومه طریقه او کوم وخت کې نشر شي؟ او دا د ادبي حقوقو څخه مهم حق دی؛ ځکه مؤلف د خپلې لیکنې په اړه ښه پوهیږي چې مناسب نشر یې څه ډول دی.(۱۶۴:۴)

**ج: حق السمعة**

د لیکنې د نشر نه وروسته د مؤلف لپاره دا حق شته که چیرې په یوه مسئله کې دی خطاشوی وي چې رجوع ترې وکړي.
که چیرې مؤلف د خپلې لیکنې په اړه دا حق ونلري؛ نو دخلکو رجوع دغه لیکنې ته کمیږي او دا مالي منفعت د ده او د ناشر د لاسه وځي او د تاوان سره مخ کیږي. ( ۱۶۴:۴)

**د: د تعدیل حق**

کله چې یو مؤلف دخپلې لیکنې په اړه هغه څه ووینی چې خطاء وی یا مناسب نوي؛ نو دهغې په اړه د تصحیح یا دلری کولو حق لري.
استاد فتحی دریني پدې اړه داسې وایې: د مؤلف لپاره د تالیف په چارو کې د تصرف حق شته چې په خپله لیکنه کې تعدیل وکړی، هغه تصحیح د بعض عبارتونو وي او که لغوه کول د بعض مسائلو او عبارتونو وي، چې ده ته یې خطاء څرګنده شوي وي، دا کار د ده پر شخصیت او علمیت دلالت کوي؛ ځکه که خطاء عبارتونه تعدیل نکړي؛ نو په راتلونکې کې د ده شخصیت او علمیت د سوال لاندې راځي. (۸۸:۲۰)
د تعدیل حق مؤلف ته د لیکنې د نشر څخه وروسته ثابتیږي، کله چې مؤلف خپله یا د بل چا په واسطه په لیکنه کې د خطاء څخه خبر شي؛ ځکه که دغه خطاوي په خپله لیکنه کې په غیر د تصحیح څخه پریږدي؛ نو دده په شخصیت منفي تاثیر لري او په خلکو کې غلط مشهوریږي.(۱۷۲:۱۱)

**و: پرلیکنه د تیري د دفع کولو حق**

د مؤلف د لیکنې په وړاندې چې هر ډول ګواښ متوجه وي دی یې د دفع کولو حق لري برابره خبره ده دغه ګواښ اوس متوجه وي او که وروسته پیدا کیږي، همداراز دغه ګواښ د ده د تالیف ادبي حق ته متوجه وي اوکه مالي حق ته؛ خو ده ته یې دفع کول اوملنځه وړل روا دي اود دي دفاع په جواز ډېر دلایل شتون لري او په اسلامي شریعت کې روا ده؛ ځکه مؤلف حق لري چې د خپل تالیف ساتنه او حفاظت د عبثیاتو ، لاسو هنې وغیره څخه وکړي، ترڅو د لیکنې ارزښت او قدر په خپل ځای خوندي پاتی شي. (۱۶۷:۴)

**په اسلامي شریعت کې د تالیف ادبي حق ساتنه په لاندې طریقه شویده**

۱ـ په پوره امانت دارۍ سره دآراؤ رانقلول او پدې اړه د هر ډول خیانت، کمي او زیاتي څخه ځان ساتل هر عالم ته د هغه قول منسوبول.

۲ـ د دروغو او تدلیس څخه ځان ساتل ځکه دا کار حرام دی.

۳ـ د بل چا د تالیف څخه غلا نه کول، چې د بل رایې او نظر یا د بل چا عبارت خپل ځان ته منسوب کړي.

۴ـ د هغه مصادرو او مراجعو یادونه کول چې یو مؤلف ترې په لیکنه کې استفاده کوي. (۱۶۵:۴)

**د تالیف مالي حق**

**د مؤلف د مالي حق تعریف**

د تالیف مالي حق عبارت دی د هغه شرعي ځانګړتیاو او اختصاصاتو نه چې د ذهني نوښت په وجه مؤلف ته ثابت وي، چې د دی ځانګړتیاو په وجه ده ته د تصرف حق ورکول کیږي او هغه مالي ګټه چې د ده لپاره د دغه تالیف په وجه راځی.(۲۱۵:۱۱)

یا په بل عبارت: دا هغه مالي امتیازات دي چې مؤلف ته د تالیف په وجه ثابت دي، همداراز دا اصلي، عیني، مالي او منقول حق دی او دا د تالیف د ادبي حقوقو یو قسم دی، داحق هغه تار دی چې د دې په واسطه د مؤلف حقوق تړل کیږي. (۱۶۶:۴)

**د مالي او ادبي حق تر منځ تو پیر**

۱ـ د مؤلف لپاره جائز دي چې د مالي حق څخه د عوض په مقابل کې تېر شي، په خلاف د ادبي حق باندې چې د دې څخه تېریدل جائز نه دی؛ ځکه دا حق همیش مؤلف پورې تړلی وي او که د دې حق څخه څوک بل چاته تیر شي؛ نو په لیکنه کې د جعل،تزویر او لاسوهني موقع پیداکیږي.

۲ـ ادبي حق همیشنی وي د کوم وخت او زمانې پورې محدود نه وي او نه د کوم معین وخت په تېریدلو سره پای مومي چې بیا بل چاته انتقال شی، هرچې مالي حق دی، دا د ځیني علماؤ په اند مؤقت هم کیدلی شي.(۱۶۸:۴)

۳ـ ادبي حق په میراث سره نه وړل کیږي؛ بلکې دا د خپل اصلي مالک د شخصیت پورې اړه لري او د ده د ذات پورې تړلی وي؛ خو دومره ده چې د ورثه و لپاره یې د ساتنې حق شته او هر چې مالي حقوق دي، دا د نورو مالونو په څېر په میراث سره وړل کیږي، دلته په مطلق ډول دا خبره کول چې د تالیف ادبي حق په میراث سره نه وړل کیږي سمه نده؛ بلکې ځینې شیان داسې دي چې هغه په میراث سره وړل کیږي لکه د نشر د اجازې حق، د تجاوز د دفع حق او داسې نور. (۲۱۶:۱۱)

**د تالیف د مالي حق حکم**

د تالیف په مالي حق کې د فقهاو ترمنځ اختلاف دي چې د تالیف لپاره مالي حق شته او که نه؟پدې مسئله کې د فقهاو درې قوله دي.

**لومړی قول:** اکثر فقهاء پدې نظر دي چې د مؤلف لپاره په خپل تالیف کې مالي حق شته چې هغه په مشروع ډول سره د لیکنې قیمت دی، دا قول د دکتور فتحی درینی،دکتورمصطفی زرقاء،دکتورمحمد رمضان، دکتور وهبة الزحیلي،محمد تقی عثماني....دی.

**دویم قول:** د مؤلف لپاره په خپل تالیف کې مالي حق نشته، د مؤلف لپاره روا نه ده چې د خپل تالیف قیمت واخلی یا یې عوض واخلی، دا قول د ځینو معاصرو علماؤ دی، پدوی کې ځینې وایې: د شرعي علومو په تالیفاتو عوض اخیستل منع دي، دا قول د دکتور احمد الحجي،مفتي محمد شفیع ... دی.

**دریم قول:** یوائې د مؤلف لپاره د تالیف عوض اخیستل روا دي او یا د هغه شرکت لپاره چې مؤلف ورسره شریک دی، البته د دغه حق خرڅول یایې په اجاره ورکول روا ندي دا قول د محمد نعیم یاسین دی. ( ۲۱۶:۱۱)

**د لومړي قول والاو دلایل**

۱ـ د تالیف مالي حق عیني، اصلي او مقرر حق دی، مؤلف یې په خلقي(پیدایشي) ډول مستحق دی، ځکه دا استعداد ده ته الله ورکړیدی، دا شخص د دې حق داسې مستحق دی لکه څرنګه چې دی د خپل بدن په هغه حقوقو کې دتصرف حق لري چې کومو سره الله دی پیداکړی دی لکه د ده د بدن حواس او د پوهی وسایل یا یې داسې حق دی لکه د ده نسل یا د ده د څارویو نسل او یا د ده د باغ او کروندې محصول؛نو د تالیف مالي حق هم د ده د نورو حقوقو په څېر دی. (۱۷۰:۴)

۲ـ وعن ابْنُ عَبَّاسٍ ـ رضی الله عنه ـ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَحَقُّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللَّهِ». (۹۳:۲)

ژباړه: عبد الله ابن عباس رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي (چې هغه فرمایلي دي) هغه اجوره او مزدوري چې تاسوېې ډېر حقدار یاست هغه د الله په کتاب د مزدورۍ اخیستل دي.

**د استدلال طریقه:** کله چې په قران کریم سره اجوره اخیستل روا شو نو په سنتو په طریق اولی سره روا ده او چې دوحی په دواړه ډولونو(قران اوسنت) اجوره اخیستل راوشول نو هغه چې پدې دواړو تفریع(استخراج) کیږي په هغې په طریق اولی اجوره اخیستل روا دي، او دا حکم دباقي غیر شرعي علومو هم دی؛ نو حدیث پدې دلالت کوي چې په تالیف عوض اخیستل روا دي. (۱۷۱:۴)

۳. عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي قَدْ وَهَبْتُ لَكَ مِنْ نَفْسِي، فَقَالَ رَجُلٌ: زَوِّجْنِيهَا، قَالَ: «قَدْ زَوَّجْنَاكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ القُرْآنِ».(۲:۱۰۰)

ژباړه: سهل بن سعد رضی الله عنه وایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوه ښځه راغله، او ورته وېې ویل: ای دالله رسوله! ما تاته خپل ځان هبه(بخشش) درکړ، یو سړي وویل: ماته یې په نکاح راکړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل دا ښځه مې تاته د هغه قران په عوض کې درکړه چې له تا سره دی،(دغه به ورته یادوي).

**د استدلال طریقه:** کله چې د قران کریم تعلیم عوض اومهر جوړیدلای شي چې د ښځې نه فائده اخیستل پرې روا کیږي او د مهر قائم مقام ګرځی نو ددی په تعلیم،تالیف، اونشر خو عوض اخیستل په اولی طریقی سره روا دي(۲۱۴:۲۲).

همدا رنګه هغه کتابونه چې د قران کریم څخه په مرتبه کې ټیټ دي او مفاهیم یې د کتاب اوسنت څخه اخستل شوي وي په هغی هم اجوره اخیستل روادي؛ نو حدیث پدې دلالت کوي چې په تالیف اجوره اخیستل روادي .(۲۴۳:۱۱)

۴ـ تالیف د لاس او فکر عمل دی او دلاس کار اوکسب ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ترغیب ورکړیدی(عَنْ سَعِيدِ بْنِ عُمَيْرٍ ، قَالَ : سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ ؟ قَالَ : عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ ، وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُورٍ). (۵:۱۶۰)

ژباړه: سعید ابن عمیر رضی الله عنه فرمایي: چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه، په کسبونو کې کوم یو ښه او غوره دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ښه کار اوکسب د انسان دلاس عمل دی او هغه بیع چې دروغ اوخیانت پکې نوي.

حدیث پدې دلالت کوي چې د لاس عمل بهترین کسب دی او هر هغه روا کسب او کار چې انسان یې په خپل لاس سره کوي ښه اوبهتر دی او تالیف هم دلاس او فکر عمل دی.(۱۷۲:۴)

۵ ـ د متقدمینو اهل علمو کړنه پدی دلالت کوي چی دهغوی تصنیفات دهغوی ملکیت وه، او خپل ملکیت به یی دخلکو فائدی لپاره بهر راویسته، اوس که دا ددوی ملکیت نوی نو ددغه تصنیفاتو په مقابل کې به یی عوض نه قبلولي.

۶ ـ دشرعي علومو هغه کتابونه چی تصنیف او تالیف شویدي مال ګڼل کیږي، او دمال نسبت جوړونکې او کسب کونکې ته کیږي نوپدی اصل او دلیل کې تخصیص نه راځی مګر په صریح نص سره. ( ۱۷۳:۴)

پدی اړه نور دلایل هم شتون لري خو د دی لپاره همدا کفایت کوي.

**ددویم قول والا دلایل**

دویم قول والا وایې: د تالیف لپاره مالي حق نشته اود دې خبرې د ثبوت لپاره په لاندې دلایلو استدلال کوي.

۱ـ د تالیف حق مال ندی ویل کیږي، چې دا مجرّد[3] حق دی، دمال سره کومه رابطه نه لري او مجرّد حقونه په مال سره نه قیمت کیږي یعنی د مال په مقابل کې نوي او پداسې حقوقو د عوض اخیستل روا ندي او د شفعي په څېر د دی ډول حقوقو څخه د مال په مقابل کې تیریدل رواندي؛ نو همدرانکه د تالیف حق هم دی چې د دی اخیستل او خرخول شرعا روا ندي؛ ځکه په مبیعه کې دا شرط دی چی مال به وي او خالص یا مجرد حقونه مال ندی، اګر که د دې صلاحیت ولري چې د مال د ګټلو وسیله جوړیدلای هم شی. (۱۷۲:۴)

۲ـ علم الله ته نزدیکت او عبادت دی تجارت اوکاروبار ندی او په خاصه توګه شرعي علوم؛ نو ددې علومو په تالیف عوض اخیستل جائزندي؛ ځکه چې په عبادت سره عوض اخسیتل روا نه دي (۱۷۲:۴)

۳ـ که مونږ ووایو چې د تالیف حق په مقابل کې مال اخیستل روادي؛ نو دا کار به ددې سبب شي چې مصنفین به خپل تالیفات او تصنیفات بند کړي نه به چاپ کیږي، مګر د مال په مقابل کې او دا د علم په کتمان او پټولو کې راځي کوم چې په اسلام کې حرام دي؛ ځکه پدې اړه په کتاب او سنت کې دلایل شتون لري.

الف ـ (إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ). (البقرة: ۱۹۵)

ژباړه: بیشکه هغه کسان چې دوی(دخلکو څخه) هغه شی پټوي چې مونږ نازل کړی دی له ښکاره ؤ (احکامو او واضحه دلایلو) او دهدایت(خبرې) پس له چی هغه مونږ دخلکو (یعنی بنی اسرائلو) لپاره بیان کړی دی په کتاب (تورات) کې دغه کسان الله د خپل رحمت څخه لرې کوي او لعنت پرې وایې لعنت ویونکې (له پریښتو، انسانانو، پیریانو اونورو مخلوقاتو). (۱۲: ۱۰۹.۱۰۸)

ب ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ أُلْجِمَ يَوْمَ القِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ). (۶: ۳۰۶)

ژباړه: ابو هریرة رضی الله عنه فرمایې: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دچا څخه چی دیوي شرعي مسئلې په اړه پوښتنه وشوه او دغه مسئله ده ته معلومه وي خو دی یې پټه کړی؛ نو د قیامت په ورځ به ده ته د اور واګې واچول شي.

[3] ـ مجرد حق دیته و ایی چی په خپل ځای ثابت نوي او په حواسوسره نه درک کیږي که مالک تری تیرشی کوم اثرپه هغه شی نه غورزوي چی دا حق ورپوری اړه لري او مالک ته پکې دنفع اخیستلو اختیاروي چی فائده تری اخلی اوکه نه لکه دشفع حق. حقوق الاختراع والتالیف فی الفقه الاسلامي ص ۳۹.

**د استدلال طریقه**

مؤلف چې خپل تالیف طبع او نشر یوائې د مال په مقابل کې کوي او که مال نوي تالیف نکوي نو داهم په کتمان د علم کې داخلیږي او دغه مذکور وعید او جزاء ورته شامله ده. (۲۰:۱۰۰)

۴ـ ویل کیږي چې د تالیف حق د معنوي حقوقو څخه ښکاره حق دی او د اسلام په تاریخ کې تالیفات د پخوا څخه موجود و؛ نو پخوانو فقهاو د تالیف په مالي حق کې ولې څه ندي ویلي؟او ولې یې د دې حق د خرڅ په اړه څه ندې ویلي؟ نو د هغوی پدې اړه څه نه ویل پدې دلالت کوي چې د تالیف لپاره مالي حق نشته. (۲۶۷:۱۱)

**د دریم قول والا دلایل**

دوی وایې چې د تالیف عوض اخیستل یوائې د مؤلف لپاره جائز دي او د هغه شرکت لپاره چې تالیف چاپوي او مصارف پرې کوي د دوی څخه علاوه بل چاته ندې جائز یعنی د مؤلف ورثه وغیره وته داحق نه انتقالیږي، ددې خبرې لپاره په لاندې دلائلو استدلال کوي.

۱ـ یو شی چې خرڅ شي د خرڅلاو غوښتنه یې داده چې د دغه مبیعي ملکیت د بائع څخه مشتري ته په کلي توګه انتقالیږي پداسې شان سره چې مشتري ته یې نسبت وشي او داخبره عقلا اوشرعا درسته نده چې دیو شي ملکیت دې دیو چاسره وي او د دغه شي نسبت دې بل چاته وشي او د تالیف نسبت خو بل چاته شرعا جائز ندی؛ ځکه دا په دروغو او تزویرکې داخل دی او دا کارونه په شریعت کې حرام دي. (۱۸۳:۲۷)

۲ـ د دې حق خرڅول یایې چاته په اجاره ورکول په دوکه باندې مشتمل وي د ګټې د زیادت، کموالي او نشتوالي د احتمال په صورت کې؛ نو پدې وجه یې خرڅول یا په اجاره ورکول روا ندي ( ۲۷:۵۷۰)

**ترجیح**

د هر قول د دلایلو د ذکر کولو نه وروسته دا په ډاګه ویلی شو چې اول قول درست او سم دی؛ ځکه د تالیف حق د شرعي حقوقو څخه معتبر حق دی او د مؤلف لپاره په مالي ارزښت او قیمت باندې مشتمل دی او مؤلف ته پکې دتصرف حق شته چې دعوض په مقابل کې وي او که بغیر دعوض څخه وي، که چیرې یو مسلمان عوض اخستلو ته ضرورت نه لري نو پکار نده چې عوض واخلي خصوصا د شرعي علومو په تالیف باندې؛ ځکه دشرعي علومو په تالیف کې اولی او بهتره داده چې عوض وانخلي تر څو نیت یې خالص شي او کوم فرق پکې رانشی او که څوک عوض اخستلو ته محتاج وي؛ نو عوض به دضرورت مطابق اخلي.(۹:۱۲۱)

**د ترجیح دلایل**

۱ـ که د تالیف لپاره مالي حق باندې اقرار ونکړو؛ نو د تالیف چارې به په ټپه ودریږي؛ ځکه چې مؤلف به بیا مالي چارې په خپله سمبالوي او دی به یې توان نه لري.

۲ـ دلومړني قول والا دلایل نسبت نورو اقوالو دلایلو ته قوي دي.

۳ـ شرعي نصوص پدې دلالت کوي چې د قران کریم په تعلیم عوض او اجوره اخیستل روا دي نو؛ هغه چې د قران کریم څخه په ټیټه مرتبه کې دي په هغې خو په طریق اولی سره عوض اخیستل روا دي.

۴ـ د دویم قول والا په هغه دلیل استدلال کړیدی چې د علم د کتمان وعید پکې بیان شویدی او دلته خو د کتمان موضوع نده مطرح بلکې دلته دعوض موضوع ده؛ نو معلومه شوه په دغه دلایلو د دوی لپاره استدلال صحیح ندی.

۵ـ مؤلف په تالیف ډیر وخت مصرفوي او د دې ترڅنګ مال پرې هم مصرفوي او کله کله د یو کتاب لیکنه ډیرو کلونو کې تکمیل شي تر دې چې د استفادې وړ شي؛ نو دا مؤلف دخپلو کوششونو او اجتهاد په مقابل کې عوض اخلي همدارنګه د هغه وخت او مال په مقابل کې چې ده په دې تالیف مصرف کړیدي. والله اعلم.

**د تالیف مالي حق لاندې شیانو ته شامل دی**

**نشر او توزیع**

د نشر تعریف: په خلکو کې د یو کار خپرول پداسې طریقې سره چې په هغې سره علم تحقق مومي. (۶۴:۳۰) یا په بل عبارت،د خرڅ په قصد او اراده د کتاب د یو څو نسخو ایښودل چې ټول خلک ورته لاس رسی ولري. (۱۸۴:۴)

د توزیع تعریف: د تجارت په مناسبو وسائلو سره عامو خلکو ته د کتاب نسخې وړاندې کولو ته توزیع وایې. (۱۸۴:۴)

د نشر او توزیع عقد تعریف: په لازمي توګه د مؤلف او ناشر تر منځ اتفاق ته ویل کیږي چې په نتیجه کې یې د کتاب چاړي بشپړیږي او خلکو ته خپریږي (۲۷۹:۱۱)

د مؤلف، ناشر او توزیع کونکې ترمنځ دعقد مختلف حالات دي، پدې ټولو حالاتوکې به عقد یا د اجارې وي او یا به د بیع وي.

**لومړی حالت:** چې مؤلف په خپلو مصارفو کتاب ولیکې بیا یې چاپ، نشر او توزیع کړي، پدې صورت کې د مؤلف په ناشر کوم حق نشته؛ بلکې د تالیف لپاره نرخ ټاکل د ده کار دي او د ده په واک او اختیار کې دي، همداراز هیڅ چاته دا حق نشته چې دغه تالیف بیا ولیکې او نشر او توزیع یې کړي مګر د مؤلف په اجازه باندې؛ ځکه دا د ده شخصي ملکیت دی او هیڅ څوک ورسره نفع او تجارت کې شریک نه دي. (۲۱۷:۸)

**دویم حالت:** چې مؤلف خپل تالیف پداسې حال کې چې چاپ ته اماده وي او فائده اخیستل ترې ممکن وي په ناشر باندې دیو معلوم عوض په مقابل کې خرڅ کړي، پدې حالت کې مؤلف خپل مالي حق په ناشر خرڅ کړو او دغه د ملکیت حق داصلي مالک څخه ناشر ته انتقال شو اوس یې ناشر د ذات او منافعو څښتن وګرځیدو؛ نو په مالي جانب کې به د دغه منفعت مستحق ناشر وي البته د چاپ، نشر او توزیع په مقابل

کې، لدې وروسته مؤلف په مادي منفعت کې د تصرف حق نه لري،دا تړون د ناشر او مؤلف تر منځ ترسره شو د بیع تړون دي او په هغه صورت کې جواز لري، چې د بیع شروط پکې بشپړ وي. البته دا تړون چې د مؤلف او ناشر تر منځ ترسره شو صرف د مالي منفعت پورې اړه لري، ناشر په لیکنه کې د تصرف حق نه لري د لیکنې په مضمون،ادبیاتو،عباراتو اونور هغه حقوق چې د مؤلف پورې خاص دي دیکې به لاسوهنه نه کوي؛ ځکه دا حقوق بل چاته نه منتقل کیږي. (۲۸۳: ۱۱)

**دریم حالت:** چې مؤلف خپل چاپ ته تیار تالیف ناشر ته وسپاري چې ناشر یې د نشر او توزیع کارونه ترسره کړي خو مالي حق به د مؤلف ملکیت وي د دې حالت لپاره یو څو صورتونه دی.

۱ـ چې مؤلف خپل تالیف په ابتدایي لیکنه کې ناشر ته وسپاري چې د چاپ، لیکلو، نشر او توزیع چارې یې د معین عوض په مقابل کې ترسره کړي، پدې صورت کې دا عقد داجارې دی او روا دی،په دواړو طرفونو باندې یې پوره کول لازم دي.

۲ـ چې مؤلف خپل تالیف په ابتدایي (مخطوط او مسودة) حالت کې ناشر ته وسپاري چې چاپ یې کړي او د تو زیع اجازه ورنه کړي.

۳ـ چې مؤلف خپل تالیف ناشرته د تیاریدلو، چاپ، لیکلو او نشرته د تیاریدلو وروسته وسپاري چې چاپ یې کړي بیاېې په بازار کې د یو معین مقدرا عوض په مقابل کې نشر او توزیع کړي او پدې سره متفق شي؛ نو د دویم او دریم صورت حکم هم داول صورت په څېر دي؛ خو دومره ده چې د دویم صورت اجوره به نسبت اول ته کمه وي او د دریم صورت به نسبت دویم ته کمه وي.

۴ـ چې مؤلف د خپل تالیف د چاپ،لیکلو، او نشر ته د تیارولو ټولې چارې په خپله غاړه واخلي او بیا په ناشر یو څو عدد نسخې خرڅې کړي او ناشرېې په خپل اختیار بازار ته په هغه قیمت توزیع او عرض کړي چې دی یې مناسب بولي؛ نو دا صورت هم جائز دي کله چې د دوکې څخه خالي وي او دا د بیع تړون دي، په دواړو طرفینو یې پوره کول لازم دي کله چې پکې دبیع شرائط بشپړ وو، کومې نسخې چې یې ناشر ته سپارلي دي هغه دناشر ملکیت دی په خپله خوښه پکې دتصرف حق لري. (۲۸۵:۱۱)

والله اعلم

**دبحث مهم نتائج**

د بحث مهم نتائج په لاندې ډول دي

۱ـ هغه څه چې په شریعت کې د الله تعالی لپاره پر بنده ګانو ثابت دي او د یو بنده پربل ثابت وي حق بلل کیږي.

۲ـ د ټولو معتبرو حقوقو یواځنی مصدر اسلامي شریعت دی، هغه څه چې په شریعت مطهره کې حق بلل شوی وي حق دی او که په شریعت کې ورته حق نوي ویل شوی حق ندی.

۳ـ هغه ځانګړتیاوې او اختصاصات چې یو عالم او مؤلف ته دتالیف په وجه شرعاً ثابت وي، چې د تالیف نسبت ځان ته وکړي، دتصرف حق پکې ولري اوتجاوز ترې دفع کړي د تالیف حق بلل کیږي.

۴ـ هغه شرعي غیر مالي ځانګړتیاوې او اختصاصات چې مؤلف ته ثابت وي او د دغه اختصاصاتو په وجه د تالیف ځان ته منسوبول، تصرف پکې کول او دفاع ترې کول دتالیف ادبي حق دی.

۵ ـ د تالیف ادبي حق شرعاً ثابت دی او د دې ساتنه او حفاظت شرعاً شویدی.

۶ ـ د یو مؤلف لپاره روا نه دې چې دخپلې لیکنې نسبت بل چاته وکړي همدا رنګه هیڅ څوک حق نه لري چې د بل تالیف ځانته منسوب کړي یا یې رایې او نظر ځانته منسوب کړي.

۷ ـ د تالیف د نشرولو وخت تعینول د مؤلف حق دی، کوم وخت چې د ده په اند مناسب وي هغه وخت به یې نشروي.

۸ ـ د تالیف د تعدیل حق هم یواځې مؤلف ته ثابت دی بل څوک د چا په تالیف کې د تعدیل حق نه لري.

۹ ـ هغه مشروع مالي منفعت چې مؤلف ته دلیکنې په وجه رسیږي د تالیف مالي حق بلل کیږي.

۱۰ـ راجح قول دادی چې د تالیف حقوق شرعاً معتبر دي اودخپلو مالکانو لپاره په مالي قیمت مشتمل دي چې د دې حق له امله پکې هر ډول روا تصرف کولی شي.

۱۱ ـ هغه تړون چې د ناشر او مؤلف تر منځ ترسره کیږي مختلف حالات لري کله به بیع او کله اجاره وي.

۱۲ ـ کله چې د ناشر او مؤلف تر منځ تړون تر سره شي په جانبینو یې پوره کول لازم دي؛ ځکه دا لازم عقدونه دي.

۱۳ ـ د تالیف مالي حقوق د کوم وخت پوري محدود نه دي؛ بلکې د خپلو څښتنانو لپاره دائما ثابت دي، د مؤلف د وفات وروسته دا حق د ده وارثانو ته منتقل کیږي.

۱۴ ـ د مؤلفینو لپاره روا دي اوهمدا راز هغه چاته چې د تالیف حق ورته منتقل شویدی، چې پدې حقوقو کې هر ډول روا تصرف وکړي، برابره خبره ده چې د عوض په مقابل کې وي او که نه.

۱۵ ـ د تالیف په وړاندې هر ډول تجاوز او تیری ممنو ع دي لکه: غلا، غصب او لمنځه یې وړل.

**وړاندیزونه**

۱- په علماؤ او لیکوالانو لازمه ده چې د تالیف د حقوقو په اړه خلکو ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړي تر څو په غیر شعوري طور په حرامو کې ښکیل نشي.

۲- لیکوالانو ته وړاندیز دی چې د لیکنې پر مهال ټول شرعي اصول په پام کې ونیسي او هیڅ نوع ادبي غلا کې ښکیل نشي بلکې د هر عالم قول خپل وینا وال ته منسوب کړي او په خپل نوم یې نه کړي چې دا کار شرعا حرام دی.

۳- د دولتي چارواکو څخه مې غوښتنه داده چې په ادبي غلا کې ښکیلو وګړو سره قانوني چلند وکړي تر څو نور خلک ترې عبرت واخلي.

**مأخذونه**

1. القران الكريم.

2. البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري. (1422ه). صحيح البخاري. ج۱. (ط.۱).المحقق: محمد زهيرناصر.دار طوق النجات.

3. البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري. (1422ه). صحيح البخاري. ج۸. (ط.۱).المحقق: محمد زهيرناصر.دار طوق النجات. الطبعة الأولى.

4. أبو زيد، بكر بن عبد الله.( 1416 هـ). فقه النوازل. ج.۲.(ط ۱). لبنان – بيروت. مؤسسة الرسالة.

5. البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين.( ۱۴۱۰هـ ). شعب الإيمان.ج۲. ( ط ۱). تحقيق: محمد السعيد بسيوني زغلول. لبنان – بيروت. دار الكتب العلمية.

6. الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة الترمذي.( 1998 م). سنن الترمذي.ج۴. المحقق: بشار عواد. لبنان – بيروت. دار الغرب الإسلامي.

7. ابن حجر، أحمد بن علي بن حجرالعسقلاني. (1379ه). فتح الباري شرح صحيح البخاري. ج۱۱. (ب.ط). لبنان. بيروت. دارالمعرفة.

8. ابن الخوجه، محمد الخطيب. حقوق التاليف، ط۲، الصادر عن المجمع الفقهي برابطة العالم الاسلامي،(۱۴۰۸)،ص۲۱۷.

9. ابن رشد، محمد بن احمد بن محمد. (۱۴۰۳ه). بداية المجتهد ونهاية المقتصد. ج۲.( ط۳). مصر. قاهرة. دارالكتب الاسلامية.

10. شبير، محمد عثمان شبير.(۱۴۱۶).المعاملات المالية المعاصرة فى الفقه الاسلامي. (ط الأولى). عمان. اردن. دار النفائس.

11. الشهراني، حسين بن معلوي الشهراني. (۲۰۰۴م.۱۴۲۵ه). حقوق الاختراع والتاليف فى الفقه الاسلامي. (ط الأولى).سعودى عربستان. رياض. مكتبة ملك فهد الوطنية.

12. شيخ الهند، ديوبندى محمود الحسن اوعثماني شبير احمد. (ب.ت). ژباړه: دافغانستان دستروعلماوبو ټولګى. كابلى تفسير.ج۱. (ب.ط). ناشر: مجمع خادم الحرمين الشريفين .سعودى عربستان .مدينه منوره.

13. شيخ الهند، ديوبندى محمود الحسن اوعثماني شبير احمد. (ب.ت) .ژباړه: دافغانستان دستروعلماوبو ټولګى. كابلى تفسير.ج۲.(ب.ط). ناشر: مجمع خادم الحرمين الشريفين .سعودى عربستان .مدينه منوره.

14. الطوفي، سليمان بن عبد القوي بن الكريم. (1407 هـ / 1987 م). شرح مختصر الروضة. ج۱. (ط الأولى). المحقق : عبد الله بن عبد المحسن التركي. لبنان. بيروت. مؤسسة الرسالة.

15. العبادى، عبد السلام العبادى. (۱۴۰۷ه). الملكية فى الشريعة الاسلامية. (ط الأولى). عمان. اردن. الأقصيص.

16. على الخفيف (۱۹۹۰م). الملكية فى الشريعة الاسلامية نقلا عن النظريات العامة للمعاملات لأحمد فهمي ابوسنة ج ١. (ط الاولى). لبنان. بيروت. دار النهضة.

17. العينى، أبو محمد محمود بن أحمد بدر الدين . (١٤١١ه). البناية شرح الهداية. ج٧. (ط ٢). لبنان. بيروت. دارالفكر.

18. ابن فارس، أحمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي. (1399هـ - 1979م). معجم مقاييس اللغة. ج٢. (ب.ط). محقق:عبد السلام محمد هارون. لبنان. بيروت. دارالفكر.

19. فتحى دريني وآخرون، (١٤٠٤ه). حق الابتكار فى الفقه الاسلامي المقارن. (ط٣). لبنان. بيروت. مؤسسة الرسالة.

20. فيروزآبادي، مجد الدين أبو طاهر محمد بن يعقوب. (1426 هـ - 2005 م). القاموس المحيط. (ط ٨ ). لبنان. بيروت. مؤسسة الرسالة للنشروالتوزيع.

21. ابن قدامة، موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة . (1388هـ - 1968م). المغني لابن قدامة. ج٧ . (ب.ط). مصر . قاهرة. مكتبة القاهرة.

22. القرضاوي، يوسف. (١٤٠٦ه). الرسول والعلم. (ط ٢). لبنان. بيروت. مؤسسة الرسالة.

23. ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير . (1420هـ - 1999 م). تفسيرالقرآن العظيم.ج٧. (ط٢). المحقق: محمد حسين شمس الدين. لبنان. بيروت. دار الكتب العلمية.

24. محمد يوسف موسى، (١٣٧٧ه). الفقه الاسلامي. ( ط٣). مصر. قاهرة. دار الكتب الحديثة.

25. المناوي، زين الدين محمد عبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي . (1410هـ-1990م). التوقيف على مهمات التعاريف. (ط الأولى). مصر. قاهرة. عالم الكتب.

26. منذر قحف، (١٤٢١ه). الوقف الاسلامي. تطوره، ادارته، تنميته. (ط الأولى). سورية. دمشق. دار الفكر.

27. ابن منظور، محمد بن مكرم بن على جمال الدين ابن منظورالإفريقى. (1414 ه). لسان العرب. ج ١. (الطبعةالثالثة). لبنان. بيروت. دارصادر.

28. ابن منظور، محمد بن مكرم بن على جمال الدين ابن منظورالإفريقى. (1414 ه). لسان العرب. ج ١٠. (الطبعةالثالثة). لبنان. بيروت. دارصادر.

29. نجار، عبد الله مبروك نجار. (١٤١١ه). حماية المقررة لحقوق المؤلفين الأدبية. (ط الأولى). مصر . القاهرة. دار النهضة العربية.

# د خوشحال خان خټک په دستارنامه کې د سربلونو او اوستربلونو څېړنه او سپړنه

لیکونکی: پوهنیار شریف الله ملال، فراه د لوړو زده کړو موسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی زرولي صدیقي د ننګرهار پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي استاد

**لنډیز**

دا څېړنیزه مقاله د خوشحال خان خټک په دستار نامه کې د سربلونو او اوستربلونو څېړنې ته ځانګړې شوې ده او زما موخه له دې څېړنې څخه دا ده، چې خوشحال خان خټک په دستارنامه کې سربلونه او اوستربلونه څه ډول کارولي او د ده کارونه د اوسني ګرامري جوړښت سره په کوم ځای کې توپیر او کوم ځای کې ورته والی لري. د دې څېړنیزې موضوع ارزښت په دې کې دی، چې د پښتو ژبې زده کوونکي او لیکوونکي به له یوې خوا د خوشحال خان خټک په دستارنامه کې د سربلونو او اوستربلونو کارونه په عملي ډول د دستارنامې څخه په راخیستل شویو بیلګو کې وګوري او له بل پلوه به یې د اوسنۍ کارونې سره په توپیر او ګډو ټکو وپوهیږي. ددې لپاره چې د موضوع څېړنه په ښه ډول سره پر مخ لاړه شي، د څېړنې ډول کتابتوني دی، چې د تشریحي میتود په مرسته بشپړه شوې ده او پایله یې ښایي، چې د خوشحال خان خټک په خپله دستارنامه کې تر ډېره بریده ناخپلواک مورفیمونه د اوسني ګرامري جوړښت سره سم کارولي دي؛ خو ولې ځېنې ځایونو کې دغه کارونه د اوسني ګرامري جوړښت سره هم په ټکر کې لیدل کېږي.

**کلیدي وییونه:** خوشحال خان خټک، دستار نامه، سربلونه، اوستربلونه

**سریز**

دا څرګنده خبره ده، چې د هرې ژبې په لیکدود، ګرامري جوړښت او کارونه کې د وخت په تېرېدو سره هرومرو تغیرات رامنځته کېږي؛ چې دغه تغیرات نه یوازې د کلمو په کارونه بلکې په لیکدود، لغاتو او نورو ګرامري برخو کې هم له ورایه ښکاري. په ژبه کې د ناخپلواکو مورفیمونو د کارولو په برخه کې له پخوا څخه ځینې ستونزې شته هر لیکوال په یو بڼه کارولي په ځانګړې ډول سربلونه، اوستربلونه او تاړي، چې په ناسمې کارونې سره د مورفیم او جملې په مانا کې بدلون رامنځته کوي.

په دغه څېړنیزه مقاله کې لومړی په سربلونو او اوستربلونو لنډ بحث شوی او ورسته یې د خوشحال په دستارنامه کې په کارونه او سپړنه بحث شوی، چې خوشحال خان له نن څخه درې سوه اوه شپېته کاله وراندې پښتو سربلونه او اوستربلونه څه ډول کارولي او د اوسنیو ګرامري جوړښتونو سره څه توپیر لري. د

دې مقالې په مرسته به لوستونکي وکولای شي چې له يوې خوا د خوشحال په دستارنامه کې د سربلونو او اوستربلونو له کارونې سره بلد شي او له بلې خوا به په اسانه وپوهيږي چې خوشحال خان خټک د سربلونو او اوسترلونو په سمه کارونه کې څومره بريالی و. د دې څېړنې څخه زما هدف دا و چې لوستونکي او څېړونکي په دې وپوهيږي، چې له نن څخه درې سوه اوه شپېته کاله پخوا په دستارنامه کې د سربلونو او اوستربلونو کارونه څه ډول شوې ده. د دې څېړنې په پايله کې دې ته رسېږو چې خوشحال خان خټک په عمومي توګه د ناخپلواکو مورفيمونو کارونه سمه کړې، خو ځينې ځايونه داسې هم مخې ته راځي، چې ځينې سربلونه يې د يو او بل پر ځای کارولي، چې د نومورې دغه کارونې د ګرامر اوسنی کارونې سره ښکاره توپير لري.

**د څېړنې موخې**

**اصلي موخه**

- د خوشحال خان خټک په دستار نامه کې د سربلونو او اوستربلونو څېړنه او سپړنه

**فرعي موخې**

- په دستار نامه کې د سربلونو او اوستربلونو کارونې سره د لوستونکو بلدتيا
- په دستار نامه کې د سربلونو او اوستربلونو کارونه د اوسني ګرامري جوړښت سره پرتله کول

**د څېړنې پوښتنې**

**اصلي پوښتنه**

- خوشحال خان خټک په دستارنامه کې سربلونه او اوستربلونه څه ډول کارولي دي؟

**فرعي پوښتنې**

- په دستارنا مه کې د سربلونو او اوستربلونو کارونه څومره سمه شوې ده؟
- په ژبه کې د ترلو مورفيمونه ناسمه کارونه کومې ستونزې رامنځته کوي؟

**د څېړنې روش او ميتود**

د ښې څېړنې يوه ځانګړنه دا ده، چې څېړونکی مخکې تر څېړنې د ځان لپاره د څېړنې ډول او ميتود وټاکي تر څو د څېړنې په جريان کې د زياتو ستونزو سره مخ نه شي، نو ما هم دې اصل ته په کتو سره خپله روانه څېړنه د کتابتوني ډول او تشريحي ميتود څخه په ګټې اخيستنې پيل او پای ته ورسوله.

**د موضوع اهمیت**

ددې څېړنې اهمیت به په دې کې وي، چې په دې څېړنه کې ناخپلواکو مورفیمونه په ځانګړې ډول سربلونه او اوستربلونه او د هغې د کارونې ځایونه د خوشحال خان په دستارنامه کې تر بحث لاندې نیول شوي دي، تر څو د ژبې لوستونکي یې په سمې کارونې پوه شي. او دا هم ورته څرګنده شي، چې له اوسنی نثر سره یې د ناخپلواکو مورفیمونو په کارونه کې توپیر څه دی؟

**د څېړنې فرضیه**

د دې اماکان شته چې خوشحال خان خټک په دستارنامه کې سربلونه او اوستربلونه د اوسني ګرامري معیار سره سم کارولي وي.

**د مسلی بیان**

د دې لپاره چې لوستونکي په دې وپوهیږي، چې خوشحال خان د دستارنامې نثر کې د سربلونو او اوستربلونو کارونه څه ډول کړې ده او د ده کارونه د اوسني ګرامري جوړښت سره په کومو ځایونو کې ورته والی او په کومو کې بیلتون لري؟

**تېرو لیکنو ته کتنه**

داسي کوم اثر یا مقاله تر اوسه پورې نه ده لیکل شوې، چې د خوشحال خان په نثرې لیکونو کې یې ناخپلواک مورفیمونه څېړلي وي، خو د اشعارو په برخه کې یو اثر مجاور احمد زیار (د خوشحال ادبي پښتو) په نامه لیکلی، چې د نوموړي اثر دوې برخې سربلونو+وستربلونو او اداتو ته ځانګړې شوې دي.

**د خوشحال خان خټک په دستارنامه کې د سربلونو او اوستربلونو څېړنه**

خوشحال خان خټک د (۱۰۲۲هـ ق) کال د ربیع الثاني په میاشت کې جهانګیري ته نږدې په اکوړه خټک کې زیږیدلی دی، چې د ده زوکړه د میلادي سنې له مخې د (۱۶۱۳ع) کال د می یا جون سره سمون خوري؛ چې خان په خپله یوه قصیده کې د خپلې زوکړې کال داسې ښودلی دی.

د هجرت زر دوه ویشت سن و

چې زه راغلـم په جـهان (۱۳ : ۱۲م)

حبیبي لیکلي، چې خوشحال خان په کوچینوالي کې د خپلې زمانې مروجه علوم ټول ویلي و، د ده له کلامه ښکاري چې نوموړي اسلامي علوم لکه فقه، حدیث، تفسیر او نور عقلي او فلسفي علوم لکه منطق، حکمت او ادبي علوم د فصاحت او بلاغت اصول لکه: معاني، بیان، عروض، قافیه او نور ټول ویلي وو.(۱ : ۱۸م)

په دستارنامه کې راغلي دي :((زمونږ استاد شاه اویس صدیقي ملتاني ډېر بزرګ متبرک سړی و. د علوم ظاهري او باطني بهره ور و... ( ۱۳ :۱۴م)

د خوشحال له دغه یادونې سړی دومره پوهیږي، چې نوموړي له شاه اویس ملتاني نه زده کړه کړې وه. خوشحال خان خټک په ډنبره نومې ځاي کې تر پناه اخیستلو وروسته ډېره موده ژوندی پاتې نه شو او د روه د هېواد دا ستر ویاړ او د توري او قلم خاوند تر حیرانوونکو بریالیتوبونو وروسته په (۱۱۰۰هـ ق) کال د کب د میاشتې په لومړۍ نېټه د جمعې په ورځ د لسګونو نا امیدیو سره د (۷۸) کالو په عمر له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د ارمانونو څخه ډک او د پښتنو څخه ګیله من لاړ.(۸ : ۱۲۶ م)

**سربلونه او اوستربلونه**

په پښتو ژبه کې د مانا د څرګندولو له مخې دوه ډوله مورفیمونه موجود دي، چې یو ډول ناخپلواک یا مقید مورفیمونه دي، چې د یوې ژبې په عبارت او وینا کې په ځانګړي او خپلواک ډول د استعمال وړ نه دي، یعنې که په ځانګړي ډول استعمال شي؛ نو هیڅکله مانا نه ورکوي چې یوه برخه یې تاړي او وندونه دي او بله برخه یې سربلونه او اوستربلونه؛ دویم ډول یې خپلواک مورفیمونه دي، چې خپله مستقله مانا لري او ناخپلواک مورفیمونه په ځان پورې نښلولای شي.(۹ :۴۹م)

په پښتو لیکنۍ برخه کې یوه ستره ستونزه همدا د سربلونو او اوستربلونو ناسمه کارونه ده. سره له دې چې د لیکدود له مخې سربلونه او اوستربلونه لکه څنګه چې دي هماغسې لیکل کیږي، خو د کارونې پر وخت یې ځینې کسان له ستونزو سره مخ کیږي او د کارونې سم ځایونه یې ترې غلطیږي او یو د بل پر ځای یې کاروي. نو د دې لپاره چې دغه برخه مو د خوشحال خان خټک په دستارنامه کې سمه څېړلې او سپړلې وي په لا ندې ډول هر یو د مثال سره راوړو، چې ستر خوشحال دغه ناخپلواک مورفیمونه څه ډول کارولي دي. سربلونه هغه ادات دي چې تر یو نوم د مخه راځي او په جمله کې د هغه حالت او دریځ څرګندوي لکه په کور کې یم. له ښوونځي راغلم.(۳: ۲۶م)

محمد قاسم هیله من د (په) په اړه وایي چې د اوسني معیار سره سم باید دغه سربل په هر ځای کې د ظرفي او الې سربل په توګه ومنل شي.(۱۱: ۵۶م)

**په – کې:** څرنګه چې د (په) سربل د (کې) اوستربل سره د اړوند نوم، تون یا ظرفي حالت څرګندوي د خوشحال په دستارنامه کې یې کارونه په داسې کړې ده.(۱۲: ۱۰۲م)

خوشحال بابا د (کې) اوستربل سره د (په) سربل د اوسني معیار سره سم کارولی دی لکه: ظاهر باطن نعمتونه چې واړه د وجود دي تعریف به یې په دفترونو کې ځای نه شي.(۲: ۱۸م)

خوشحال خان د (په) سر بل د خپل اوستر سره په سمه توګه کارولی او د اوسني معیار سره یې کوم توپیر نه ښکاري.

**په – سره:** (په) د (سره) اوستربل سره د الی حالت رانښي. لکه: په چړې سره، په بیاتي سره، په خوښي سره. (۱۴:۱۰۳م)

یا داسې ویلی شو چې د (سره) اوستربل تر نامه وروسته لیکل کېږي.لکه: له تا سره مې کار نشته. باید یادونه وکړو که چیرې د (سره) په مانا کارول کېږي بیا نو د مخه راځي. لکه:سره له ستومانۍ پلی لاړم.(۱۱:۵۷م)

د (سره) اوستربل خوشحال خان بابا د اوسني معیار سره سم د (له) او (په) سربلونو سره په ښه ډول کارولی دی، چې د ستارنامې په لاندې متن کې کتلی شو:

د شوهر سره دې په طاعت مددګاره اوسي چې په وخت سره یې و عبادت ته ویښوي او ابدست و غسل و هر کار دې ورته تیار لري.(۲: ۱۰۱م)

پورته یادونه وشوه چې د (سره) اوستر بل د اوسني معیار سره سم د (له) سره هم په معیاري ډول کارولی دی، چې په لاندې ډول په دستارنامه کې تر بحث لاندې نیول کېږي:

د (له) سربل هم د (په) سربل په څیر تر یوه نامه د مخه راځي او په جمله یا فقره کې د هغه نوم پیر او دریځ ښيي. لکه: له کوره راغلم . له ښونځي څخه راغلم.(۱۱: ۵۶م)

د (له) سربل خوشحال خان د (سره) (نه) پس (صفر) اوستربلونو سره ډېر کارولی دی. له نورو اوستربلونو، لکه: وروسته، راهیسې، څخه، سره سره، پرته، سره یې نه دی همغاړې کړی. (له) د (سره) اوستربل سره د ملګرتیا (معیت) جاج ښندي. لکه پدې جمله کې: له ځلمي سره تر هراته پورې ملګری وم.(۱۴: ۱۰۷م)

حسد په هیڅ کار کې له چا سره نه بویه.(۲: ۳۳ م)

په دا کې هم بیا فرخ دی چې هوشیاره عاقله وي له هغې سره دې کښېني که کم عقله وي که خپله وي هم ورکه دې شي.(۲: ۱۰۹م)

خوشحال خان په خپل لیکدود کې کله کله د (سره) اوستربل پر ځای (څخه) اوستربل هم کارولی دی. دلته به د (سره) او (څخه) اوستربلونو په توپیر لږ وغږېږو او بیا به اړوند بېلګې هم راوړو.

**سره. څخه:** سره د یو اوستربل په توګه تر نوم وروسته لیکل کېږي. لکه: له تا سره مې کار دی.خو په داسې جملو کې چې (سره) د (سره) یعنې که د تاکید لپاره راشي بیا د مخه راځي. لکه: سره له ستومانۍ ښوونځي ته ولاړم. دا چې د (څخه) او (سره) دواړه اوستربلونه په جمله کې د نوم څخه وروسته راځي، نو د یو بل پر ځای کارونه یې له ستونزو خالي نه ده. لکه: (زه له میوند سره له کندهاره راغلم) دا په دې مانا چې زه او میوند له کندهاره راغلو؛ خو که په دې جمله کې د سره پر ځای (څخه) ولیکل شي، نو بیا یې مانا دا راوځي، چې زه د میوند په وجه له کندهاره راغلم، نو په داسې جملو کې باید د (سره) او (څخه) اوستربلونو د ناسم استعمال مخه ونیول شي او هیڅکله د (زه له میوند سره) او (زه له میوند څخه) په یوه مانا ونه کارول شي.که څه هم په دغه مانا د (سره) اوستربل پر (څخه) راوړل له کره لیکنې پښتو څخه چپ بریښي، خو بیاهم، په ځینو ګړدودونو او د خوشحال او رحمان بابا په وینا کې د (سره) پر ځای د (څخه) اوستربل کارول شوی دی.

چې ادب ورڅخه وي صحبت هغه کا
بې ادب له مجالسه وي ایستلی
(۹: ۴۴م)

همدارنګه کله چې خوشحال بابا د خپل نثري کتاب خاتمه بیانوي، دلته هم د (سره) پر ځای (څخه) اوسترېل استعمالوي لکه: کتابونه راڅخه نه وو او که نه ښې ټکي به مې په دا کتاب کړې وای.(۱۰: ۲۳۹-۲۴۰م)

یا هم په دې جمله کې، چې د (سره) پر ځای یې (څخه) اوسترېل کارولی دی لکه: د دستار لیاقت ورڅخه نشته (۲: ۶م)

بل هغه دی چې خپله نه پوهه ورته پوهه وي، له ځانه خوښ وي چې پوهه هم داده چې ما څخه ده.(۲: ۱۹۳م)

**په – پسې**: د (پسې) اوسترېل یو بل راز تونپیر یا پرله پسیوالی څرګندوي.لکه: په تا پسې راغلم. په سختي پسې اساني راځي.(۱۴:۱۰۳م)

پوځونه دې په غلیم پسې حکم کا.(۲: ۷۰م)

په دا هسې دنیا پسې مټ بویه.(۲: ۱۲۵م) په زیاتره ختیځو ګړدودونو کې د(پسې) اوسترېل لپاره د(په) پر ځای (د) سربل کارول شوی، چې دا یوه ناکره کارونه ده.(۶: ۱۸م)

خوشحال بابا بیا د اوسني معیار سره سم د (په) سربل څخه کار اخیستی او دغه قاعده یې په ښه شان مراعات کړې ده.لکه:هسې به په هغو پسې نور لښکر تر ځان تېر شي.(۲: ۷۳م)

د خوشحال خان خټک په دستار نامه کې له (پورې) اوسترېل سره د (په) په جوړه کولو کې هم ډېرې بیلګې شته چې دا کارونه یې هم له اوسنۍ کره پښتو سره سمه ده، چې د معیت او ارتباطي حالت د څرګندونې لپاره راځي.(۸: ۹۲م)

چې و لښکرو وته نږدې شي هغه پوستونه د غویو په لکۍ پورې محکم وتړي.(۲: ۶۸م)

**په - باندې:** دا اوسترېل د لویدیزو ګړدودو پرته نورو ګړدودونو کې زیاتره پر(په) اړول کیږي.(۶: ۱۶م)

خوشحال خان هم د نورو غوندې د (باندې) اوسترېل په ملتیا هم هغه د (په) سربل کارولی دی؛ خو حال دا چې د معیار له مخې باید د (پر) سربل سره راشي.لکه: په محمد رسول الله علیه وسلم باندې آیت راغی چې منت لره دما چې ستا خلق مې ښه کړه. (۲: ۱۵۱م)

په دې جمله کې ګورو چې د (باندې) وسترېل سره یې د (په) سربل راوړی، چې په اصل کې (پر) د یو استعلایي سربل په توګه د ( باندې ) اوستر بل سره استعمالیږي لکه: پر بام باندې ولاړه وه. یوه یادونه باید وکړم چې د پر سربل له کندهاري او تاریخي ادبي پښتو پرته زیاتره ګړدودونه له (په) سره ګډوي او د دواړو پر ځای د (په) سربل استعمالوي نو په یوه کره لیکنۍ ادبي پښتو کې د ددې دواړو سربلونو توپیر اړین دی.(۱۵ :۵۶ م)

**په او پر:** په پښتو کې د (په او پر) تر منځ ډېر توپیر شته او د یو بل پر ځای کارولو سره د جملې مانا ته تغیر ورکوي. د (پر) سربل په جمله کې اصلاً د فاعلي حالت لپاره راځي، یعني په یوه جمله کې چې شخص یو فاعل

وي يا فاعلي حالت ولري په داسي حالت کې د (په) ادات راوړل کیږي، خو د دې تر څنګ (پر) بیا د مفعولي حالت لپاره راوړل کیږي، لکه:(زه په احمد درس وایم) مانا دا چې، احمد مې د درس لپاره د یو فاعل په توګه ګومارلی دی او احمد خپله د درس ویونکی دی، خو په دې جمله کې (زه پر احمد تجربه کوم) مانا دا چې زه غواړم پر احمد تجربه وکړم، یعنې احمد دلته کوم کار نه کوي، بلکې د (زه) یعنې فاعل د تجربې لپاره انتخاب شوی دی، او کار پر اجرا کیږي. یا په دې جمله کې (زه څم چې په ښوونځي کې درس ووایم) یانې زه غواړم، د ښوونځي په چاپېریال کې دننه درس ووایم، خو که داسي ووایو (زه څم چې پر ښوونځي درس ووایم) نو دا بیا بیخي سرچپه مانا لري، یعنې دا مانا لري، چې زه غواړم پر ښوونځي درس ووایم. یعنې ښونځی درس ویونکی دی.

د (پر) سربل پر ځای خوشحال خان د (په) سربل کارولی. له دې سربل نه یې هېڅ ځاي کار نه دی اخیستی. په اوسني وخت کې هم ډېر کسان د دې دوو سربلونو په سمه کارونه کې تېروځي او د یو بل پر ځای یې کاروي، چې په پورته ډول مو توپیر روښانه کړ، اوس یې د خوشحال دستارنامې څخه ځینې بیلګې راخلو، چې نوموړي دغه سربلونه څه ډول کارولي دي. په محمد رسول الله علیه وسلم باندې آیت راغی چې منت لره دما چې ستا خلق مې ښه کړه.(۲: ۱۵۱م)

زموږ د پیغمبر شبیه په حریر سیاه باندې تصویر و.(۲: ۱۳۹م)

باید یادونه وکړم چې د (پر) سربل له کندهاري او تاریخي پښتو پرته زیاتره کړدودونه له (په) سره ګډوډې او د دواړو پر ځای (په) راوړي، یعنې په لویدیځه لهجه کې (پر) په خپل ځای کاروي، خو په ختیځه لهجه کې بیا د پر (پر) ځای د (په) سربل راوړي.

**له – نه:** د (نه) اوستربل سره له اره د یو نوم وتون پېر یا منشايي حالت څرګندیږي همدا رنګه د (له) سربل تر یو نامه د مخه راځي په غونډله او فقره کې د هغه نوم پیر او دریځ ښيي لکه: له کوره یا له ښوونځي څخه.( ۱۱: ۶۵ م)

د خوشحال په دستار نامه کې بیا داسې کارول شوی دی. له سیستان نه.(۱۴: ۱۰۶م)

له تا نه خو هم دا هومره غواړي چې ته یې وپېژنې.(۲: ۱۹م)

بیا ورپسې نور کسبونه فنونه حرفتونه وغیره مې چې یاد په هنر کړل مراد مې دادی چې هر چې له چا نه زده کیږي او په تعلیم حاصلیږی.(۲: ۱۰م)

د اوستربلونو په برخه کې بله تېروتنه چې زموږ لیکوال ورسره مخ دي، هغه د (څخه) او (نه) کارونه ده، چې ډېر ځله یې د یو او بل پر ځای کاروي چې هم یې په سمه کارونه او هم یې د دستار نامې په متن کې تر بحث لاندې نیسو.

**نه – څخه:** د محمد قاسم هیله من د وینا له مخې باید د (څخه) اوستربل د (نه، څه او ځینې) په وړاندې معیار وګڼل شي.( ۱۱: ۵۷م)

دا ځکه که داسې ونه شي نو په ځینو جملو کې، ګډوډي رامنځته کیږي. لکه (له خدای نه غواړم) که چیرې په داسې جملو کې د (خدای) کلمې څخه وروسته لږ وقفه راشي نو معنا یې دا راوځي، چې (له خدای یې نه غواړم) یا په دې جمله کې (زما نه پوښتنه مه کوه) په داسې جملو کې یو څوک چې نوی په لوست راغلی وي، هرومرو ترې دا مانا اخلي چې د (وخت یا زمانه پوښتنه مه کوه) نو د دې دواړو (نه) او (څخه) د استعمال ځایونو پېژندل ضروري دي.( ۱۰: ۲۳۹-۲۴۰م)

خوشحال خان په خپلو لیکونو کې (څخه) ډېر کم کارولی دی، د (سره) په ځای یې کارولی دی. د (څخه) پر ځای یې (نه) او (ځینې) اوستربلونه ډېر کارولي دي.که چېرې لر بر شي میاشت په میاشت دې ورځینې معافي غواړي. (۲: ۱۸۸م)

کره بنه یې موږ داسې لیکو:که چېرې لر بر شي میاشت په میاشت دې ورځخه معافي غواړي، اما که هغه غمی مهر د هغه **نه** واخیست شي. (۲: ۱۶۹م) کره بنه یې: اما که هغه غمی مهر د هغه څخه واخیست شي.

**له – هـ:** دا اوستربل هم د (نه) په شان د یو نوم منشایي حالت څرګندوي. کولای شو د (صفر) اوستربل پر ځای د (نه) اوستربل راوړو یا د (نه) پر ځای صفر راوړو، کومه ستونزه نه لري. \د توپک ښکار له فرنګستانه اوس په دا اخر پیدا شو.(۲: ۴۷م)

**له – پس:** له (پس) اوستربل سره چې د تولي اړتیا له کبله یې ترې مخکې کړی هم دی.(۶: ۸۳م)

خوشحال خان په دستارنامه کې (پس) د (له) څخه مخکې راوړی. لکه: پس له دې کارونو چې مسطور شول.(۲: ۵۶)

پس له اصحابو تابعین مېړني و بیا تبع تابعین. (۲: ۵۷م)

پس له مدت عیاران راغلل سلطان یې د ترمذ له کوټه ویوست.(۲: ۱۵۸م)

**تر:** د محمد قاسم هیله من د وینا له مخې باید (تر) د پرتلیز استعلایې او ارتباطي اوستربل په توګه ومنل شي.لکه: تر تا هغه ښه دی. تر دام لاندې دانه ده.(۱۱: ۵۶م)

خوشحال خان د (تر) سربل د (نه،پورې ،صفراو لاندې) اوستربلونو سره ډېر کارولی چې په لاندې ډول یې تر بحث لاندې نیول کېږي.

**تر – پورې:** تر د پورې اوستربل سره واټن ښیي. لکه: تر لاهور پورې یې تسخیر د ملک کړی و.(۲: ۱۸۸م)

تر اویا کالو پورې مرد کړلی نه دی.(۲: ۱۹۶م)

محمد عربي (ص) مبعوث شو تر هغه پورې دا ملک د دوی مستقر و.(۲: ۱۳۰)

تر اووه کاله پورې به سواد خوان شي.(۲: ۱۰۵م)

**تر . نه:** تر چې د (پر) مقابل سر بل دی هغه دا چې (تر) تر هغه څه له مخه د (پر) غوندې د (باندې) نه چې د لاندې مانا ښندي له دې کبله یې لومړی اوستربل لاندې دی هېڅکله غورځیدنه نه مني. لکه: تر مېز لاندې پروت دی.(۱۲: ۱۰۵م)

واړه پیغمبران مېرني وو تر واړو نه مېړنی محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم و.(۲: ۵۷م)

د خپل کار د خپل لښکر د جاسوس لاره بند کول چې خبر تر غلیم نه رسېږي.(۲: ۷۸م)

تر شجاعت نه هم دا هنر افضل دی.(۲: ۷۹م)

**تر– صفر:** دا حال به یې تر غلیمه ورسوي.(۲: ۷۰م)

جوانمر دی ډېره وفا یې تر" حده تېره ده.(۲: ۳۱م)

تر حساب تر شماره هم تېر دي.(۲: ۲م)

تر قیامته به پیدا کېږي چې رواج د دین متین محمدي (ص) پرې کېږي.(۲: ۶م)

**تر– لاندې:** خپل بت د زړو یې ساز کړی و راپې واخیست تر پردې یې لاندې کړ.(۲: ۱۴۸م)

جنت د تورو تر سایه لاندې دی.(۲: ۵۷م)

ښه هغه اسونه چې تر دا هسې ځوانانو لاندې وي.(۲: ۴۴م).

باید ووایم که د (له) او (تر) سربلونه که د یو بل پر ځای وکارول شي، نو جمله خپله اصلي مانا هغه چې د لکیوال موخه وي له لاسه ورکوي.

**له – تر:** د پښتو په ځینو لهجو کې د (له) او (پر) د اداتو تر منځ ګډوډي او التباس (یوشان والی) لیدل کیږي؛ مثلاً ویل کیږي پلانی له ځانه تېر دی. په پښتو کې د دوو نومونو یا دوو صفتونو د پرتله کولو لپاره اصلاً د (تر) تکی کارېږي؛ خو په ځینو لهجو کې د (تر) پر ځای د (له) تکی کاروي. لکه: احمد له محموده کوښنې دی. دغه راز په دې دوو جملو کې: سور رنګ تر تور رنګ ښایسته دی. لومړی جمله د فصاحت او بلاغت له پلوه خوند وره او غوره ګڼل کېږي. په ځینو جملو کې د (له) او (تر) ادات په ګډه د ځای، وخت، وګړو او شیانو تر منځ د جلاوالي ځرګندولو لپاره کارېږی: له کابله تر کندهاره، له کلي تر ښاره، له احمده تر محموده، له مېږه تر چوکۍ، له سهاره تر ماښامه او داسې نور.

په دې جملو کې (له) د دوو ځایونو، دوو کسانو، دوو زمانو واټنونو، د دوو شیانو تر منځ د بېلووالي پیل او (تر) یې وروستۍ پوله ښیي.(۱۱: ۱۵۹م)

خوشحال خان د دغه دوو سربلونو کارونې ته متوجه او د اوسنۍ معیار سره یې سم کارولي. زه په داسې کوم ځای کې ورسره مخ نه شوم، چې یو یې د بل پر ځای کارولی وي.

**د – کره:** کره چې له اره د کور اوښتي بڼه برېښي (د) یوازینی ساده او یووستوی اضافي اوستربل دی. (۶: ۱۸م)

د زوی برخه د پلار کره همیشه وي.(۲: ۱۱۰م)

یا یې د چا کره توري اوبه څښلې وي، هغه دې په یاد لري.(۲: ۱۵۴م)

چې ژوندون د پلار کره په جل والي په دا طریق کا.(۲: ۱۰۹م)

**د – غوندې:** د تشبیهی اوستربل ښکارندوی کوي.لکه: د سلیمان غوندې سرې هم ګوته له لاسه لاړه وه بیا ورغله.(۲: ۱۷۸م)

ورځ شپه دې سکاره په هغه ځای کې دوبي چې د حمام غوندې ګرم وي. (۲: ۵۴م)

مرغونه ډېر دي د باز د شاهین غوندې چې اموخته کیږي.(۲: ۲۷م)

**د – لپاره:** لپاره یو داسې بېلښتي (اشتقاقي) اوستربل دی،چې ترهر څه له مخه د اړوندی ځانګړنې لري او ډېر د (ته) غوندې لرکړی پېر (مفعول له حالت) رامنځته کیږي.(۸: ۱۸م)

د تلافي لپاره که تلافي وکړی شي تېښته کا، روا دی لکه چې ووایه شو.(۲: ۷۱م)

تېښته چې د غلیم لپاره وي جایزه ده.(۲: ۷۱م)

د پشکال د نم لپاره هره دانه نیمایي کا.(۲: ۱۱۸م)

کله کله یې د (د) پر ځای (و) کارولی او قاعده یې ماته کړې ده. لکه: و خپل مطلب لپاره سل دروغ رښتیا وایي.(۲: ۱۵۸م)

**د - له پاسه:** خوشحال خان په خپل نثر کې د (له پاسه) اوستربل سره د (تر) سربل کارولی، او هم یې (له پاسه) په (د پاسه) لیکلی دی. لکه: تر خاموشی د پاسه بل بهتر خصلت نشته.(۲: ۱۴۵م)

ابو مسلم مروزي د توري بې همتا تېر شوی دی مبارز، مدبر تر ده د پاسه بل یو تېر شوی نه دی.(۲: ۱۵۲م)

خوشحال خان په خپل لیکدود کې د (د) او (له) سربلونه ډېر ځله د یو او بل پر ځای کارولي دي. په اوسنۍ وخت کې یې هم زیات لیکوال په سمه کارونه کې پاتې راغلي.

**د – له:** زموږ یو شمېر ویونکي او لیکونکي د (له او د) سربلونو تر منځ په لیکنه او وینا کې توپیر نه کوي، حال دا چې دغه سربلونه د یو بل پر ځای کارول د جملې مانا ته تغیر ورکوي، او نحوي جوړښت یې بدلوي، چې په پښتو لیکدود کې دا ډول تیروتنې ناسمه املا ګڼل کیږي.(۱۱ :۳۳م) د (له) سربل چې له (څخه، نه، ځینې) اوستربلونو سره منشایي حالت څرګندوي، د خاطر افریدي په لاندې بیت کې یې د (له) پر ځای د (د) ناسمه کارونه ښه مثال دی.

ته خو به د زلفو کمځۍ جوړې کړې
زه په دې شلیدلي ګریوان څه وکړم
(۷: ۵۵م)

د دغه بیت په لومړۍ مسره (ته خو به د زلفو کمځۍ جوړې کړې) کې د (د) ناسم استعمال له مسرې څخه مطلوبه معنا معکوسه کړې ده. یعنې د شاعر هدف دادی، چې له زلفو کوځۍ جوړې شي نه د زلفو کوځۍ، چې د مسرې سمه بڼه داسې ده: (ته خو به له زلفو کمځۍ جوړې کړې). (۱۰: ۲۴۱م)

خوشحال خان هم په ځینو برخو کې داسې سربلونه کارولي دي، چې د اوسني لیکدود سره توپیر لري، یا به مخکې د هغه وخت لیکدود همداسې وو، خو د اوسنۍ لیکدود له مخې یې د یو او بل پر ځای کارولي دي.

د (سره) اوستربل د (له) سربل سره راځي، خو خوشحال خان ډېر ځله د (د) سربل سره راوړی چې دا د (سره) لپاره یو ناکره سربل دی. لکه: ولې توري مو د چا سره وهلي. (۲: ۷۲م)

کره بنه یې: ولې تورې مو له چا سره وهلې. د شعر پایه لویه ده. د حکمت سره یاد شوی دی. (۲: ۳۶م)

د زمري سره څه دلاوري.(۲: ۴۱م)

کله کله یې د (نه) اوستربل سره د (د) سربل راوړی، چې دا یوه ناکره کارونه ده. لکه: اما د حماقت نه ابوعلي غونډې سړی خلاص نه و.(۲: ۱۹۴م)

هغه ملوک د هغې معشوقې نه ازرده شو مصلحت یې د نېکخواهانو سره وکړ. (۲: ۱۹۵)

همدارنګه د له پاسه ترکیب په دپاسه لیکي، چې مخکې په دې برخه کې بېلګې ورکړل شوي دي او دا هم یو ناکره کارونه ده.

**بې:** چې زیاتره د نا غونډې یو ستاینومېز (صفتي) مختاړی دی. لکه: بې کوره، خو لږ و ډېره سربلي ځانګړتیا هم لري او هغه هم زیاتره د (له) په ملګرتیا او د یواځینې وستربل (څخه، نه یا ځینې) په درلودلو کاروي. لکه: بې له تا څخه.(۶: ۲۰۹م)

په دستارنامه کې یې د (بې) سربل سره یوازې د نه اوستربل کارولی د نورو سره یې زه مخ نه شوم.

دا کسب بې نفع بې فایدې بې ثوابه نه دی.(۲: ۱۲۷م)

بویه چې په همت کې د دوستی چاڼ چېن بې همتي دې نه کا.(۲: ۱۷۸م)

د مړوند قوت بې غتېه قلم نه شي.(۲: ۳۴م)

بې دمه یې تبه نه شي او د غرونو په ستغ په څوړ، په لوړ، په ژور ښه وخوت.(۲: ۴۶م)

**و:** یو پخوانی سربل دی چې له (ته) اوستربل سره کړی پېر (Dative) څرګندوي. پخوانی څرک یې په لویدیځو (کندهاري) کړدودو کې پاتې دی او نورو تولو ګړدودونو له لاسه ورکړی.(۷: ۲۰۹م)

چې اصل نسب د چا و بل ته وشوریږي.(۲: ۶۰م)

ډاډ د مردانه ګۍ دې سردارانو بلکې و هر چا ته ورکا.(۲: ۷۰م)

د طعام ډېر تکلف هم نه بویه، خو ډېر بویه چې وهر چا وته ورسېږي.(۲: ۱۲۰م)

**لکه:** له دغه تولي سربل سره ډېر درغلي اوستربلونه رامنځته کوي، د یووستوي سربل په توګه هم له ځان سره یو لږ بېلابېل ساده ویيکي، لکه: غونډې، هومره، هسې هم ملګري کوي.(۱۶: ۱۰۹م)

که په دا میان کې ومري، لکه غازي چې شهید شي هومره ثواب بیا مومي.(۲: ۱۰۴م)

هر برکت چې دی په همت کې دی لکه سر هومره یې درد سر.(۲: ۱۷۶م)

دوستان، خویښان دا په کور شمارلي دي، لکه ځان هسې دوی.(۲: ۸۱م)

لکه د ده خدمتګار دی هسې د میرمنو خدمتګار دی.(۲: ۹۳م)

د هلک زړه لکه سپین کوره کاغذ هسې دی.(۲: ۱۰۶م)

**پایله**

د سربلونو او اوستربلونو څېړنه او سپړنه یو ګرامري بحث دی، چې ناسمه کارونه یې ډېرې ستونزې رامنځته کولای شي. دا مورفیمونه په بېلابېلو ډولونو ویشل کېږي او هر یو یې ځانته د کارونې ځانګړی ځای لري، که چېرې یو سربل د بل پر ځای او یا هم د اړوند سربل سره خپل اوستربل رانشي نو د جملې مانا ورسره تغیر کوي او د جملې نحوي جوړښت ورسره ګډوډېږي.

څه چې د دې موضوع له څېړنې په ډاګه شول هغه دا دي، چې خوشحال خان خټک له نن څخه درې سوه اوه شپېته کاله وړاندې په دستارنامه کې تاریخ تر ډېره په سم ډول کارولي او د اوسني ګرامري معیار سره سم دي؛ خو د سربلونو اوستربلونو په برخه کې باید وویل شي، چې کله کله یې یو سربل د بل پر ځای کارولی چې دې ناسمې کارونې ځینې ځایونه په دغه نثر کې د روانیت مخه نیولې ده او هم ورسره د جملې ماناوې تغیر شوې دي.

**وړاندیزونه**

۱. د پښتو ژبې د سربلونو او اوستربلونو په اړه دې یو ځانګړی اثر ولیکل شي.

۲. د خوشحال خان خټک پرته د کلاسیکې دورې د نورو لیکوالانو په نثرونو کې دې هم سربلونه او اوستربلونه وڅېړل شي تر څو زموږ دغه برخه نوره هم غني شي.

۳. د خوشحال خان خټک د نثر سربېره دې په نظم کې هم د پښتو سربلونو او اوستربلونو د کارونې په برخه کې مقالې ولیکل شي.

۴. د پښتو ژبې لیکوالان دې د خوشحال خان خټک په آثارو کې د ګرامر د نورو برخو څېړنه او سپړنه هم ترسره کړي، ځکه زمونږ د ګرامر برخې ته دومره توجه نه ده شوې او که دا کار وشي د ګرامر برخه به مو نوره هم غني شي.

**اخځلیکونه**

۱- حبيبي، عبدالحی. (۱۳۷۱ل). د خوشحال ختک ملغلرې. قندهار: د طلوع افغان مطبعه.

۲- ختک، خوشحال. (۱۳۹۴ ش).دستارنامه..پیښور: مېهن خپرندویه ټولنه.

۳- خویشکي، محمد صابر. (۱۳۹۳ ش). پښتو غږ پوهنه او وېيپوهنه. جلاآباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۴- خپل شعشی،محمد هارون. (۱۳۸۹ش). د پشتو ژبې ننۍ مسالې. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۵- زیار، مجاور احمد. (۱۳۸۴ش). د خوشحال ادبي پشتو،(یوه ژبپوهنیزه شننه). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۶-زیار،مجاوراحمد. (۱۳۸۵ش). لیکلارښود(یوه پښتو کره پښتو). کابل: ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

۷- زیار، مجاوراحمد. (۱۳۸۴ ش). پشتو پښویه. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۸- شېرزاد، پښتون آقا. (۱۳۹۳ل). خوشحال پېژندنه (دویم چاپ). کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

۹- شیرزاد، محمد اقا. ( ۱۳۹۷ ش ). پښتو گرامر(مورفولوژي). کابل: نویساخپرندویه ټولنه.

۱۰- ملال، شریف الله. (۱۳۹۷ش). پښتولیکدود تاریخي تحول څېړنه(ماسترۍ تیزس).ننګرهار: ناچاپ.

۱۱- هیله من، محمد قاسم. (۱۳۹۱ش). د کره (معیاري) لیکنۍ پښتو بشپړتیایي بهیر. کابل: عازم مطبعه.

۱۲-هېواد مل، زلمی. (۱۳۸۰ ش). ننګیالی د زمانې. جرمني: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

۱۳- هاشمي سید محی الدین. ( ۱۳۸۲ ش ) . د پښتو ژبې لنډ ګرامر. پیښور : الاذهر خپرندویه ټولنه.

۱۴- یون، اسماعیل. (۱۳۸۷ش). پښتو لیکنۍ سمون. کابل: یون کلتوري یون.

۱۵- یوسفزی، مشتاق مجروح. (۲۰۱۶ م). ساهو پښتو. پیښور: قلندر مومند ریسرچ سیل.

# نیرنگ درحماسه

نو یسنده: پوهنیار فضل احمد حماد، پهنتون شیخ زاید، پوهنحی زبان و ادبیات، دیپارتمنت دری
تقریظ دهنده: پوهندوی میاولی شاه میاخیل استاد پوهنحی زبان و ادبیات

**چکیده**

حماسه، اسطوره و تاریخ این سه پدیده، در تمام پهنهٔ زنده‌گی بشر، در خور اهمیت است؛ زیرا اگر این سه پدیده نباشد انسان نمی‌تواند سرنوشت خود را رقم زند؛ پس برای این‌که انسان بتواند توانایی‌های خویش را بنابر باورهای انسان‌های گذشته استوار سازد، ناچار از این گزینه‌ها استفاده باید برد، که دست‌وپنجه نرم کردن با سرنوشت زنده‌گی گره‌گشا باشد، بنابرین برای رسیدن برهرکاری به طرح لازم می‌افتد؛ تابه پیروزی نیل یابیم. ترفندها و نیرنگ‌ها یکی از این شاخصه در حماسه‌های ملت‌ها می‌باشد، که نمونهٔ بارزآن در ملت آریایی شاهنامه فردوسی در زبان پارسی دری شایان اهمیت است و از چهار دسته نیرنگ که در حماسه‌های بیش‌تر ملت‌ها معمول است مانند:1 - نیرنگ شاهان و شاهزاده‌گان 2 – نیرنگ پهلوانان و جنگ- جویان 3 – نیرنگ زنان 4 – نیرنگ دیوان و شیطان‌ها کاربرد فعال و گسترده داشته و هم‌چنان نقش‌های مانند: حسادت، به هیئت دیگر درآمدن، تحریک نیروی جنسی، تظاهر به بی‌خبری، دروغ، اغفال و تهمت، پنهان داشتن حقیقیت نیز در این موارد از اهمیت خاص برخوردار است وشاخ وبرگ این همه، در رگه‌های حماسه‌های مردمی توسط این مشخصه‌ها آبتنی گردیده‌است.

**واژه‌گان کلیدی**:«*اسطوره، حماسه، تاریخ، نیرنگ‌ها، نقش‌ها*».

**مقدمه**

حماسه، اسطوره و تاریخ این سه پدیده، در تمام پهنهٔ زنده‌گی بشر، در خوراهمیت است؛ زیرا اگر حماسه وتاریخ نباشد انسان نمی‌تواند سرنوشت خود را رقم زند؛ حتا خداوند در قرآن عظیم شان می‌فرماید: « يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ»( الحجرات آیت- 13 )

ترجمه: ای مردم! ما، شما را از مرد و زنی آفریده‌ایم و شما را تیره‌ها و قبیله‌های قرار داده‌ایم تا یک‌دیگر را بشناسید. بی‌گمان گرامی‌ترین شما نزد الله با تقواترین شماست. همان الله دانای آگاه است.

از ارشادآیهٔ مبارکه چنین استنباط می‌شود،که همین فرقه‌ها به اساس بهتر بودن شان در هرکاری می‌باشد، و شجاعت ودلاوری‌شان باعث قهرمانی‌شان می‌شود، و افتخارهای شان سبب زنده نگه‌داشتن غرورشان

می‌گردد. همین است، که اسطوره، حماسه و تاریخ ملت‌ها پدید می‌آید و یک ملت در مقابل ملت دیگر، که اساس‌اش به جبر و ظلم باشد، با یک‌دیگر درگیر می‌شود و از خود شجاعت نشان می‌دهند؛ تا بتوانند دست ظالم را در برابر ملت مظلوم‌اش قطع نمایند، این پهلوان که از خود جان‌فشانی نشان داده است، حماسهٔ ملت‌شان را به جوش می‌آورد، و ملت در طول عمر جاویدان می‌ماند، نیرنگ و ترفند نیز گاهی در کارهای قهرمانانه به‌کار می‌رود، این کار نه که کار خوب نیست؛ بلکه پسندیده هم می‌نماید. به‌گفتهٔ بزرگان« دروغ مصلحت آمیز، به از راست فتنه انگیز» و همیشه در حماسهٔ ملت‌ها، این گونه کار در خور اهمیت است، و یکی از تاکتیک‌های‌ست، که دشمن را در دام می‌اندازد و بدون کدام خون ریزی می‌توان بالایش غلبه حاصل نمود، این کار شاخصهٔ هر شخص نیست؛ بلکه تنها قهرمانان از خود این شایسته‌گی را نشان می‌دهد، وهمیشه نیرنگ در حماسه وجود داشته و در زمرهٔ جوهر حماسه می‌باشد، که بدون این نمی‌توان به حماسهٔ ملت‌ها پیرنگ دهیم، همین است که ترفندها و نیرنگ‌ها در حماسه‌های ملی، به‌شکل خاص‌اش به‌کار می‌رود و آثار هنری را ارزش قایل می‌شود.

**هدف تحقیق**

براساس این تحقیق می‌توان اهداف زیر را مشخص کرد:

1 -) چگونگی کاربرد ترفند نیرنگ در حماسه.

2 - ) نیرنگ‌بازی سرشت پهلوانان و شاهان می‌باشد.

3 -) شناخت ترفند نیرنگ درتمام حماسه‌های ملی.

4 -) نقش ترفند نیرنگ در حماسه‌های مشهور جهان.

**روش تحقیق**

در نگاشتن این مقاله از روش تحقیق کتاب‌خانه‌یی و کیفی استفاده برده شده است، چون اطلاعات جمع آوری شده تابع تنها تحلیل یا جمع آوری آمار نباشد بلکه بر اساس تحلیلی فراتر از اعداد باشد،که از جمله منابع دست اول و معتبر در سطح ادبیات شناسی و ادب شناسان اندیشمند بوده، مطمح نظر ما قرار گرفته است.

**حماسه و اسطوره**

حماسه به معنی شجاعت، دلاوری، جنگ، قهرمانی و مبارزه در مقابل حق می‌باشد. در تعریف کلی می‌توان حماسه را همان:« روایتِ احوال و دورانِ مردمانِ بزرگ و جدی» بدانیم(10: 72 ).

هر ملت بزرگ باستانی، برای دوران تکوین خود حماسهٔ دارد که باید به دست شاعر زبردستی زاyانده و پرورده شود. تاریخِ مضبوط از روح و آب و رنگ بی‌بهره است، گرد وخاک قرن‌ها بر خود دارد، به عالم مرده‌گان متعلق است؛ اما حماسه، تاریخ زنده است، نمایندهٔ روح ملتی است که هنوز نه‌مرده است(2: 29 ). نخستین نوع شعری که بشر ابداع کرده حماسه است که درآن داستان‌های رزمی و پهلوانی، جنگ‌ها و دلاوری‌های قهرمانِ ملی برای خواندن و نقل کردن شرح داده شده است. گویند بشر پیش از این‌که به مراحلی از کمال ذوقی و معنوی، ترقی و پیشرفت فرهنگی رسیده باشد آثار حماسی خود را به‌وجود آورده است(3 : 73 ).

پس بنابر روایت بالا حماسه را چنین تعریف می‌کنیم: «حماسه نقل و روایتی از رویدادها وخبرهای بزرگ و جديِ کردار نخستین پهلوانان، دورانِ پهلوانی و پادشاهی، و روزگار جنگ‌آوری اقوام پیش از تاریخ و دوران تاریخی، با ارایه و بیان ادبی خاصی است، که با پیرنگ معرفت اساطیری ارایه می‌شود و در آن تاریخ، اساطیر، خیال و حقیقت بهم می‌آمیزد، و سرگذشتی قومی را از تاریخ، تا پیش از تاریخ، به پیش می‌برد به نوعی قوم دارای روح حماسی می شود، که می‌تواند باعث عظمت و نبوغ معرفت قومی در روح خودآگاه و ناخودآگاه و فکر مردم یک قوم یا یک کشور شود»(10 : 73 ).

به اسطوره از چشم اندازهای متفاوتی نگه شده است« اسطوره، نقل کنندهٔ سرگذشت قُدسی و مینوی-ست، راوی واقعهٔ است که در زمان نخست زمان شگرف بدایت همه چیز رخ داده است (همان : 75 ).

تعریف دیگر مانند:« اسطوره بازتابی خلاق از چگونه‌گی تحول فکری و روحی انسان در ارتباط با واقعیت دانست»(7: 7).

**نیرنگ وترفند**

یکی از ابزار جنگ فریب است، مکار بودن در معنی مثبت از صفات پهلوانان است و حیله و چاره به معنای اندیشه هم هست. پس پهلوان حماسه باید دل پرکیمیا داشته باشد و از همین جاست که گفته اند: « الحرب خدعه»( 5 : 8 ).رستم با فریب دادن سهراب، خود را از مرگ رها می‌کند. فریدون افسون‌گر است و در قرآن مجید خداوند به خود نسبت مکر داده است: «ومکَروا و مکَر الله واللهُ خیر الماکرین»( قرآن، العمران آیت- 54 ).

ترجمه: و مکر ورزیدند و خداوند[ نیز در برابر مکرآنان] مکر ورزید و خداوند بهترین مکر انگیزان ( چاره اندیش) است.

یا« اَ فَأَمِنوا مَکرَ اللهِ فَلا یَأمَنُ مَکرَاللهِ اِلّا القَومُ الخاسِرونَ»( قرآن،الأعراف آیت- 99).

ترجمه: آیا از مکر خدا ایمن شده‌اند؟پس جز گروه زیان‌کاران[کسی] از مکر خدا ایمن نمی‌شود!.

نه به لا تَأمَن از تــو سیر شـوم　　نه به لاتَقنَطــُوا دلیـرشـــــــوم
ازمکر خداوند همی هیچ نترسی　　زانست که با بنده پر از مکرو شکنجی
ورنـــــداری باور از مــن روببــین　　در نُبی وَاَللّهُ خَیـــرُالـماکـــــــرین
ماکـــــــران بسیار لـکن بازبـین　　در نُبی وَاَللّهُ خَــــــیرُالماکـــــرین

(76 : 9)

در ایلیاد یونانیان با خدعه به جا نهادن اسپ چوبی دروازهٔ تروا را می‌گشایند، اسفندیار نیز رویین‌دژ را با خدعه تسخیر می‌کند. افسون، نیرنگ و حیله در جنگ نه تنها شرم آور نیست، بلکه پسندیده هم هست، دروغ‌گویی به خودی خود در جنگ عیب نیست؛تا حدی آمیخته با سیاست است(8 : 17 ).

در داستان‌هاي حماسی نیرنگ و حیله به دو دسته تقسیم می‌گردد: **الف)** حیله و نیرنگ‌های که منفی هستند و علت آن نیز ضعف و زبونی انسان است. **ب)** حیله و نیرنگ‌های که مثبت هستند؛ حیله و تدبیر اکثر پهلوانان خراسانی در این بخش جا می‌گیرد. نکته‌های که در داستان‌های حماسی نمایان است عمر طولانی قهرمانان است. دلیل طول عمر پهلوانان نامی نیز استفاده آن‌ها از تدبیر، نیرنگ و چاره‌گری چه در میدان جنگ و چه در زنده‌گی روزمره است، جلوه‌گري می‌کند( همان : 5 ). در داستان‌های حماسی علاوه بر حیله، نیرنگ و تدبیر عنصر دیگری به نام جادو و جادوگري، ساحری و ساحران وجود دارد و در منظومه-های حماسی‌عالم مقام و مرتبتی دارند. وقتی سروکار دشمنان با پهلوانان بزرگ باشد؛ که با ایشان به نیروی شمشیر و بازو برابری نمی‌توانند، ناچار چاره‌گری و چاره‌جویی آنان را به سحر و ساحری متوسل می‌سازد، تمام حیله‌ها، مکرها و استفاده از زنان رامش‌گر و جاسوس نیز به همین قصد صورت می‌گیرد، در شاهنامه بزرگترین جادوان از دیوانند. این موجودات چنان در جادو چیره دستند، که قوای طبیعت نیز رام آنان است، دیوِ سپید به آسانی گرد، خاك و باد بر پاکرد، و ابرسیاه را درآسمان پدید آورد و از سپهر سنگ و خشت برسر سپاهیان کاوس باراند. اِکوان دیو رستم را به جادویی بر زمین زد و از سرآن گرفت و به آسمان برد و به دریا افگند، ساحري تنها کار دیوان نیست وآدمیان نیز گاه بدین کار زشت دست می‌زنند. یکی از وظایف شاهان و پهلوانان ایران جنگ با ساحران و ساحریست و این سنخ فکر نتیجه نفوذ مذهب زردتشت است، که جادوی را ممنوع و جادوان را مطرود کرده است. خداوند نیز در این رابطه می‌فرمایند: « وَاتَّبَعُواْ مَا تَتْلُواْ الشَّيَاطِينُ عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ الشَّيْاطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّى يَقُولاَ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلاَ تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُواْ لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْاْ بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ»( قرآن، البقره آیت 102 ).

ترجمه: و از آنچه شیاطین در[عهد] فرمانروایی سلیمان می‌خواندند، پیروی کردند. سلیمان کفری نورزید؛ بلکه شیاطین کفر ورزیدند. به مردم جادو می‌آموختند. و [نیز از] آنچه در بابل بر دو فرشته، هاروت و ماروت فرو فرستاده شد. و[ آن دو فرشته] به هیچ کسی [جادو] نمی آموختند مگر آنکه می‌گفتند: ما تنها [مایهٔ] آزمون هستیم. پس[با به‌کارگیری جادو] کافرمشو. آن‌گاه[مردم] از آن دو چیز می آموزند که با آن بین شخص و همسرش جدایی می‌اندازد و آنان با آن،به‌کسی زیان رسان نبودن؛ مگر به ارادهٔ خداوند. و آنچه را که می‌آموختند به آنان زیان می‌رساند و به آنان سود نمی‌بخشید و به راستی دانسته‌اند که هر کس خریدارش باشد در آخرت هیچ بهرهٔ ندارد و اگر می‌دانستند، بد چیزی است آنچه خود شان را به [بهای] آن فروختند.

جادو نیز همانند حیله و نیرنگ انواعی دارد. دسته‌های از جادو، جادوها و افسون‌های اهورایی هستند، که نمونهٔ بارز آن جنگ کی‌خسرو با ساکنان دژبهمن و تصرف آن است و یا استفادهٔ زال از پر سیمرغ به هنگام تولد رستم است. در مقابل جادوهاي اهورایی، جادوهاي اهریمنی هستند،که از طرف دیوان یا انسان‌های ضعیف انجام می‌شود. مانند جادوی دیوِسپید و نابینا شدن کیکاوس و برف باراندن دیو و...( 4 : 12 ).

**ترفند و نیرنگ در حماسه**

حماسه مولد اسطوره است، تاریخ پیشین از تاریخ و:«شعرملل» است. ملتی حماسه داردکه از پیشینهٔ باستانی برخوردارست و در پهنهٔ زنده‌گی خود در دوره‌های متمادی که عنصر زمان ومکان درآن‌ها رنگ باخته، حماسهٔ ملی در دل اساطیر آن قوم شکل گرفته است از این رو نمی‌توان سرایندهٔ آثار حماسی را آفرینندهٔ آن دانست؛ بلکه یک قوم و تبار به صورت ناخودآگاه و نادانسته آن را پدید آورده‌اند. ذبیح الله صفا می-گوید:« چون به نخستین ادوار حیات ملل نظر کنیم می‌بینیم هیچ ملتی به وجود نیامده و به تحصیل استقلال و تحکیم مبانی ملیت توفیق نیافته است؛ مگر آن‌که اعصار و دوره‌های خطر را گذرانده و به اعمال پهلوانی دست زده باشد، بزرگان و پهلوانی از او پدید آمده باشند که در ذهن وی اثری بزرگ بر جای گذارند»( 8 : 10 ).

استاد توس نیز در شاهنامه از تعبیرهای مختلفی برای بیان گفتار و کردار فریب‌کارانه استفاده کرده، که از آن میان می‌توان به بند، جادو، فریب، نیرنگ و دستان اشاره کرد. این ویژه‌گی از خصایص دوسویه و دو مفهومی در شاهنامه است؛ یعنی در اغلب موارد دارای بارمعنایی مثبت، نیکو و پسندیدهٔ است که هر پهلوانی باید به این خصلت به عنوانی نوعی از سلاح‌های قهرمانان و جنگ‌جویان تجهیز باشد و در مواردی چند، با روح معنایی نکوهش‌آمیزی به عنوان آخرین حربهٔ آنان جهت فرار از میدان، مردانه جنگیدن ونجات یافتن از مرگ به کارگرفته شده‌است. فرار افراسیاب از چنگ رستم در نخستین جنگ آن دو، وعده شکنیِ پیروان‌ویسه در برابر پهلوانان ایران، و عدم تسلیمی وی پس از مهلتی که از ایرانیان یافته بود، و نیز مهلت

گرفتن رستم از سهراب در نبرد، نخستین از این دست موارد است(5 : 17). رنگ و نیرنگ اگر چه در مواردی محدودی در معنای جادوگری زنانه نیز استعمال شده؛ اما عمدۀ موارد آن دارای بارمعنایِ حماسی و پهلوانی‌ست، که در جوهرۀ وجود هر قهرمان و شاه سرشته شده‌است. چیزی‌ست که همین امروز هم در امر حکومت‌داری و سیاست‌بازی توسط حاکمان به‌کار گرفته می‌شود. و نمی‌توان جنگ وتقابلی را پیدا کرد، که در آن فریب و چاره‌گری به‌کار نرفته باشد؛ حتا اکنون جزء تاکتیک‌ها و فنون ناگزیرانِ جنگ هاست، و نمی‌شود از آن چشم پوشی کرد. این عنصر حماسی و جنگ‌جویانه در شاهنامه در هرسه بخش اساطیری، پهلوانی و تاریخی آن به‌کار رفته است و نگارنده‌گان برآنند که عمده‌ترین موارد آن را مورد تجزیه و تحلیل قرار دهند.( 4: 13 ).

هرگاه سخن از پیشنۀ قومی به میان می‌آید هر خراسانی بی‌درنگ برخود می‌بالد، که از آزادگان است و فرزند اجداد نامداری‌ست که پیشینۀ دیرینۀ درخشانی دارند. خراسانیان گویا که دو تاریخ دارند، یکی تاریخ واقعی- که در کتاب‌های تاریخی مضبوط است و از حدود دو قرن پیش آن را اروپایان از روی اسناد معتبر کشف و ضبط کردند و دیگری تاریخ داستانی و اساطیری که در شاهنامۀ فردوسی مندرج است. هنوز هم بیش‌تر ملت خراسان بزرگ داستانی خود را بهتر از تاریخ واقعی می‌دانند و می‌خوانند(5 : 7 ).

شاهنامه کهن‌ترین اثر بزرگ ادب فارسی‌ست، که در آن پهلوانانِ نژاد خراسانی مهم‌ترین نقش را ایفا می‌کنند، تاریخ شاهنشاهی خراسان است آن طور که ملت خراسان تصور کرده، نه آن طور که واقعاً اتفاق افتاده عمده‌ترین اشخاص آن از بین مردان انتخات شده و در مواردی اندک زنان نقش مهمی را به عهده دارند. نقش سیندخت جفت مهراب در پیوند زال و رودابه، نقش سودابه در آگاهانیدن کی‌کاووس از نیت فریب‌کاری شاهِ هاماوران، نیز حضور سودابه در ماجرای سیاوش و احیای جنگ‌های ایرانی و تورانی، نقش گُردآفرید در دفاع از دژ سپید و کتایون به عنوان عنصر هشدار دهندۀ خردگرا در تاج خواهی و فزون خواهی‌های اسفندیار از زمرۀ این موارد است که در مراحل متعددی مایه و عنصر پیروزی قهرمانان این اثر بزرگ شمشیر وسلاح معمولی نیست؛ بلکه سلاحی بنام نیرنگ است که چون حربۀ تسخیر ناشدنی، در وجود هر قهرمان سترگی دیده می‌شود. نیرنگ و جادو مجموعۀ گستردۀ رفتارهای غیر صادقانه و مبتنی برفریب است، که در غالب داستان‌های حماسی دنیای شاهنامه نقشی محوری دارد؛ اما در همین کتاب فریب و نیرنگ و بند و جادو از ابزار جنگی قهرمانان و جنگ جویان به ویژه در جبهۀ دشمن است. مزیت بزرگ شاهنامه در پرداخت داستان‌های خود چنان است که پهلوانان و جنگ جویان از این ابزار جنگی به عنوان آخرین چاره، که تمام راه‌های دیگر نبرد آزموده و تجربه شده باشد و نتیجۀ حاصل نشده باشد استفاده می‌شود؛ یعنی قهرمان شاهنامه کید و خدعه را هیچ گاه در ابتدای نبرد به کار نبرده است، مثلاً رستم هنگامی که در برابر اسفندیار زخم بر داشته‌است و شکست را نزدیک می‌بیند آن هم از سرناچاری به سلاح نیرنگ و جادوگری و دستان پناه می‌برد، که عقل‌ومنطقِ مبارزه هم همین را حکم می‌کند؛ زیرا در جبهۀ مقابل

اسفندیار نیز حالت عادی ندارد، او قبلاً توسط نیروهای ماوراء الطبیعه اداره می‌شد مانند: زردشت با خوردن انار رویین‌تن شده و هیچ سلاحی بر او کارگر نیست چه بسا او در خانِ سوم از هفت خانِ خود که خون اژدها سراپایش را گرفته بود رویین تن شده‌است و بدیهی‌ست که همواره او از راه معمولی نمی‌تواند بر وی غلبه کند. استفاده از خصیصهٔ نیرنگ و فریب در همهٔ حماسه‌های دنیا دیده می‌شود اولیس درحماسهٔ یونانی خود را در سیمای گدایی به پنلوپ همسرش نشان داد و تمام تیرها را از حلقهٔ انگشتری گذراند؛ تا این حال این گونه نیست که تمام شخصیت‌های شاهنامه از این سلاح بهره گرفته باشند؛ اگر چه بسامد اشخاصی‌که از این عنصر در دورهٔ حضور خود در جریان داستان استفاده کرده‌اند بیش‌تر از اشخاصی‌ست، که اعتنایی به این عنصر نداشته‌اند، یکی از این جنگ‌جویان فرود پسر سیاوش و دیگری سیاوش است، این پدر و پسر از افراد آرمانی ونیک سرشت دنیای شاهنامه اند(5: 22).

رمز موفقیت فردوسی در آفرینش اثر سترگ خود استفادهٔ هنری از خصایص حماسی‌ست، که آن را بر پایه‌های مستحکم بنا کرده‌است. نیرنگ یکی از اصلی‌ترین خصایص پهلوانی‌ست، که در سراسر شاهنامه اثری آشکارا و روشن دارد این مختصه در موقعیت‌های مختلف و به شیوه‌های متعددی به وسیله چهار گروه از اشخاص داستان‌ها به کار رفته‌است: 1 . شاهان و شهزاده‌گان، 2 . پهلوانان و جنگ جویان، 3 . زنان 4 . شیطان‌ها و دیوان( 4 : 19).

